د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د علمی چارو معینیت

سلام پوهنتون
د شرعیاتو او قانون پوهنځی
د فقه او قانون ماسټری پروګرام

# د پښتنو عُرفِي قَضاء او د اسلامي شریعت سره یې پرتلیزه څېړنه

## (لوګر، وردګ او غزني ولایتونه د بیلګې په دول)

(د ماسټری رساله)

محصل : نصیراحمد " یوسفزی "

لارښود : پوهندوی دکتور رفیع الله " عطاء "

تعلیمي کال : (۱۴۰۱ هـ ش) - (۱۴۴۴ هـ ق)

د افغانستان اسلامي امارت

د لـــوړو زده کـــړوزارت

د علمی چــارو مـعـيـنـيـت

ســـــلام پــــوهـــنـــــتـون

د شـرعــيـاتــو او قـانـو ن پـوهـنـځی

د فـقـه او قـانـون ماسـترۍ پـروگـرام

# د پَښتـنوعُرفِي قَضاء او د اسلامي شریعت سره يې پرتليزه څيړنه

## (لُوګر، وردګ او غزني ولايتونه د بيلګي په ډول)

(د مــاســترۍ رســالــه)


مـحـصـل : نـصـيراحـمـد " يـوسـفزی "

لار ښـود : پوهندوی دکتور رفيع الله " عطاء "


تعليمي کال : (۱۴۰۱ هـ ش) - (۱۴۴۴ هـ ق)

بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

### د فقه اوقانون دیپارتمنټ

### د ماستری بورډ

# تـــصدیق نـــامـــه

ښاغلـــی نصیر احمد د نور احمد زوی د ID: SH-MSF-s1400-833 نمبر لـــرونکی، د فقـــه اوقانـــون د نهمي دورې محـــصل د ماســـتری مرحلې رســـاله چې عنـــوان یـــې: د پښتنو عرفـــي قضا او د اســـلامي شـــریعت سـره یـــې پرتلیزه څیړنه (لوګر، وردک او غـــزنی) ولایتونه د بېلګې په ډول د سه‌شنبه ورځ په ۲۲/ ۱۲/ ۱۴۰۲هـ ل نېټه یې په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونې پر اساس د ۹۰ (نمرو په عدد) نوي پوره (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتي بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي اعضاء :

| شماره | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | سرمحقق سید حبیب شاکر | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | دکتور محمد ابراهیم صافی | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | دکتور رفیع الله عطاء | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

دماستری د بورډ آمر..................  علمي مرستیال ..................

## ډالـــــــــــــــــــــــــــــــــــی:

پـلار او مـور تـه چې زما د تعلیم او تربیت اهـم منـابع دي.

زمـا مـېرمنې تـــه، چې د ژونـد پـه ډګـر کې زمـا مرستندویه ده.

زمـا اولادونـو تـــه، کـوم چې زمـا زړه یې د محـبت چـینه ګـرځولې.

زمـا ګـرانو اسـتادانـــو تــه، چې نه سـتړي کېدونکي زحـمتونه یې ګاللي.

هغو کسـانـو ته چې زمـا سره یې د زده کـړې په هـــر ډګر کې مـرسـته کـړې.

د هـغو کسـانو لـپاره چـې زمـا ســره یې د رسـالې د لیکلو په برخـه مرسـته کړې.

د ټــولـو مـړوو ارواحـــو تـــه چې مـونـږ څخه مخکی تللي دي او مونږ هم ور روان یو.

**نصیر احمد «یوسفزی»**

# مـنـن لـیـک

اللهم انصر من نصر دين نبيّنا محمدٍ صلى الله عليه و سلم واجعلنا منهم
وَاخذُل من خَذَل دين نبيّنا محمدٍ صلى الله عليه و سلم و لا تجعلنا منهم.

له هر څه وړاندې د خپل رب جل جلاله شکر ادا کوم چې زه يې د اسلام په دين مشرف کړی یم او تر هغې وروسته ماته يې د تعليم او تحصيل زمينه برابره کړه او د دې رسالې د ليکلو توفيق يې را په برخه کړ، او په دويم قدم کې د خپل متديّن او د توحيد په زيور پوښلي کورنۍ څخه او په خاصه توګه د خپلې ګرانې ميرمنې څخه چه تل يې زما خدمت کړی، او زه يې د علم د حاصلولو په برخه کې تشويق کړی یم او په څلورم قدم کې زما د سر تاج قدرمنو استادانو څخه چې د خپل ژوند يوه لويه برخه يې د شرعي علومو د خدمت او د ګران هيواد د راتلونکې لپاره د وړ کادرونو د روزنې لپاره وقف کړې او تل د شمع په شان سوځيدلي دي او موږ ته يې رڼا رابښلې ده په ځانګړې توګه د خپل لارښود استاد محترم دوکتور رفيع الله (عطاء) صاحب څخه د زړه له تله مننداوی یم چې له خپلو بوختياوو سره سره يې زما د رسالې د علمي کېدو او بډاینه کې خپلې علمي لارښوونې دريغ نکړې چې د همدې همکاريو له برکته زما د تحصيلي دورې رساله بشپړه شوه د لوی الله جل جلاله له دربار څخه يې په دنيا او اخرت کې سرلوړی غواړم. همداشان له خپلو قدرمنو مناقشينو استادانو څخه نړۍ مننه کوم چې زما د رسالې په اصلاح کې يې راته لازمې سپارښتنې کړي په پنځم قدم کې د سلام پوهنتون څخه مننه کوم، چې په افغانستان کې بی ساری پوهنتون دی، په ځانګړي توګه د اسلامي شريعت زدکړې په برخه کې او همدارنګه د افغانستان د اسلامې دولت څخه چې د علم کسب او لوړو زدکړو زمينه ساز دی، مننه کوم د دوئ د هريو احسانمند یم چې احسان يې کله هم نشم أدا کولی د الله متعال څخه ددې ټولو لپاره اجر جزيل غواړم او د ځان لپاره د الله څخه توفيق او خپل ګران استادانو څخه د دعا غوښتونکئ یم تر څو د دوئ د ارمانونو او توقعاتو سره سم د خدمت جوګه شم او د دوی په قدر پوه او عزت يې وکړم.

**و من الله التوفيق**

# د څېړنې لنډیز

د قضاء مشروعیت یو له خورا مهمو مسائلو څخه دی چې د فقهې قانون لخوا د (پنځه ګونې ضروري مصالحو) او ګټو د توازن او ساتلو لپاره رامینځته شوی البته د وحی له اصولو او د آسماني قواعدو سره سم کوم چې اسلامي شریعت ته یې له دې امله امتیاز ورکړی او ځانګړتیا یې ورپه برخه کړی ده قضايي کړنې او طرزالعمل د شعوري حکومتدارۍ عناصر لیږدوي قضاء د جرم او مجرم مخنیوي کوي د حقوقو ساتنه کوي په ټولنه کې عدالت راولي خلکو ته د ښه ژوند اسانتیاوي برابروي.

اوس د دې ترڅنګ عرفي قضاء او عرفي قوانین په اکثرو ټولنو او ملتونو کې هم چلښت لري دغه څېړنه ځکه ترسره شوې ده چې آیا عرفي قضاء مشروعیت لري او که نه ؟ د عرفي قضاء کومې کړنې أحکام او پریکړې د شرعي قضاء سره موافق دي ؟

په دې رساله کې دغه لاندې موضوعات تر بحث لاندې نیول شوی دی لکه : د قضاء حقیقت د قاضي ډولونه او د قاضي شرطونه په قضاء کې د پېښو د اثبات دلیلونه قضائي کړنلارې او طرزالعملونه عرفي شوراګانې بیا په ټولنه کې د تعدیٰ او تجاوز مسائل لکه قتل د قتل قصاص او دیت وهل ټکول د وهلو ټکټولو ډولونه او د هغه په اړه احکام او پریکړې د عزت او ابرو مسائل لکه د ښځې تښتونه زنا او قذف یعني په زنا سره تورن کول د دې مسایلو په اړه أحکام او پریکړې.

تر څو خلک د عرفي قضاء په شرائطو باندي پوهه او همدارنګـه د عرفي قضاء اړوند موضوعاتو د مطابقت کچه له اسلامي شریعت سره وپېژني، د دې رسالې مسائل په څلورو فصلونو کې ترتیب شوي :

لومړی فصل کې : د شرعي او عرفي قضاء پېژندنه او حقیقت د شرعي قضاء او عرفي قضاء حکم د شرعي او عرفي قضاء ډولونه دي او د دوي ترمنځ پرتلیزه څیړنه. دویم فصل کې : د شرعي او عرفي قضاء د اثبات دلایل لکه : شهادت قسم اقرار او قرائن دي او د دوي ترمنځ پرتلیزه څېړنه.

دریـیـم فصل کې : په شریعت او عرف کې قضايي طرزالعملونه او د هغه په اړه شرعي حکم لکه د متعدي او د متعدی علیه لومړنی کړنې او اقدامات قضائې جلسات (ناسته) او د حکم صادرول چې په دې برخه کې هم له اسلامي شرعي اصولو او قوانینو سره کوم تضاد او توپیر نه لیدل کېږي او ترمنځ یې پرتلیزه څېړنه. څلورم فصل کې : په ټولنه کې تر ټولو مهمو مسایلو کې د لوګر میدان وردګ او غزني ولایتونو عرفي قضاء لکه : د قتل قضیه، وهل ټکول د قصاص او دیت موضوع او همدارنګه د عِرض (عزت او ناموس) مسأیل لکه تجاوز تښتونه د تښتونې ډولونه قـذف (تور لګونه) غـلا او بیا د شریعت اسلامي سره یې پرتله کول، د عرفي قضاء او شرعي قضاء تر منځ د موافقې او اختلاف اړخونو په اړه خبرې شوې دي.

د څیړنې په پای کې مې هغه پایلې او سپارښتنې ثبت کړي دي چې هغې ته مې رسیده ګې کړې ده.

# د مـــوضـــوعـــاتـــو لـــړ لـيـک


ډالـــــــــــــــــــــــــــی: .............................................أ

مـنـن لـيـک ..............................................ب

د څــېـړنـې لـــنـډيـــز .............................................ج

د مـــوضـــوعـــاتـــو لـــړ لـيـک .............................................د

مقـــــــــــــــدمــــــــــــــــــة .............................................١

د موضوع ارزښت : .............................................٢

د موضوع د ټاکنې اسباب : .............................................٣

أصلي پوښــتنې : .............................................٤

د موضوع په اړه پخوانی څېړنې : .............................................٤

د څېړنې أهداف : .............................................٥

د څېړنې ستونزې ( خنډونه ) : .............................................٦

د څېړنې خطه او پلان : .............................................٦

لومړی فصل .............................................٩

د شرعي او عرفي قضاء مفهوم، حقيقت او حکم  يې، چې دري مبحثه لري : .............................................٩

لومړی مبحث : د شرعي قضا او عرفي قضا مخکنی تاريخ او حقيقت : .............................................١٠

لومړی مـطـلـــب : د عـــرف پـــېـژنـــدنـــه .............................................١٠

دريـــيـــم مطلب : د شـرعـي قـضـاء پېژنده .............................................١٣

د قضاء په هکله د متأخرينو او معاصرو علماؤو تعريفونه : .............................................١٥

څلورم مطلب : د عرفي قضاء اړوند ټکي او ا صطلاحات .............................................١٧

پـنـځـم مطلب : د شرعي قضاء اړوند ټکي .............................................١٩

لومړی : التحکيم .............................................١٩

صـــــــــــلـــح : .............................................٢١

الـحِـسْــــبَـة : .............................................٢٣

دويـــم مـبـحــث : د شـــرعـي قــضـاء او عـــرفـي قــضـاء حـکـم .............................................٢٦

لـــومـــړی مـــطـلـــب : د شــــرعـي قــــضـاء حـــکـم .............................................٢٦

د نفقې د حصول لپاره د قضاء طلب: .............................................٢٧

د عِلم د شهرت په خاطر د قضاء غوښتنه: .............................................٢٨

د وياړ، وقار او شهرت لپاره د قضاء غوښتنه: .............................................٢٨

د مال په لګښت سره د قضاء غوښتنه: .............................................٢٨

دويم مطلب : د عرفي قضاء حكم ........................................................ ۲۹
لومړى خبره : العرف (دود) ........................................................ ۲۹
دويمه خبره : أثر اختلاف الدارين في الأحكام : (د وطن د توپير أثر په أحكامو کې ) ........................ ۳۱
دريمه خبره : الاکراه ( جبر او زور ) : ........................................................ ۳۳
د عرفي قضاء په اړه شرعي حكم : ........................................................ ۳٤
دريم مبحث ........................................................ ۳۷
په شريعت او عرف کې د قضاء دَولونه دا مبحث څلور مطلبه لري: ........................ ۳۷
لومړى مطلب : د قاضيانو ډولونه په شريعت کې ........................................................ ۳۷
دويم مطلب : په عرف کې د قاضيانو دَولونه ........................................................ ۳۹
دريم مطلب : د شرعي او عرفي قاضي شرطونه ........................................................ ٤۱
څلورم مطلب : د شرعي قضاء او عرفي قضاء ترمنځ مقارنه ........................................................ ٤۷
دويم فصل ........................................................ ٤۹
د شرعي او عرفي قضاء د اِثبات دليلونه ........................................................ ٤۹
لومړى مبحث : شهادت ( گواهي ) ........................................................ ۵۰
لومړى مطلب : د شهادت تعريف ........................................................ ۵۰
دويم مطلب : شهادت په عرف کې ........................................................ ۵۲
دريم مطلب : د شرعي شهادت او عرفي شهادت تر منځ پرتله ........................................................ ۵۵
شهادت د مال په بدل کې : ........................................................ ۵۵
په عرفي قضاء کې د شاهدانو عدالت: ........................................................ ۵۷
په عرفي قضاء کې د ښځو شهادت: ........................................................ ٦۰
په شرعي قضاء کې د ښځو شهادت: ........................................................ ٦۱
په عرفي قضاء کې د ماشومانو شهادت : ........................................................ ٦۱
شرعي قضاء کې د ماشومانو شهادت : ........................................................ ٦۲
دويم مبحث : يمين (قَسَم) : ........................................................ ٦٤
لومړى مطلب : د يمين (قَسَم) تعريف ........................................................ ٦٤
دويم مطلب : يمين ( قَسم ) په عرف کې ........................................................ ٦٦
د يمين طرزالعملونه : ........................................................ ٦٦
دريم مطلب : د عرفي قسم او شرعي قسم تر منځ پرتليزه څېړنه ........................................................ ٦۸
دريم مبحث : اقرار ........................................................ ۷۱
لومړى مطلب : د اقرار پېژندنه ........................................................ ۷۱
دويم مطلب : په عرفي قضاء کې اقرار ........................................................ ۷۲

درېیم مطلب: د عرفي قضاء اقرار او شرعي قضاء اقرار تر منځ مقارنه ........................................ ۷۴
دويم مبحث : قرينه (نښې او نښانې) ........................................................ ۷۹
لومړی مطلب : قرائن ........................................................................ ۷۹
دويم مطلب : په عرفي قضاء کې قرائن ........................................................ ۸۱
د قرائنو ډولونه : ........................................................................... ۸۱
درېیم مطلب : د عرفي قرائنو او شرعي قرائنو تر منځ پرتله .................................... ۸۲
درېیم فصل ................................................................................. ۸۷
په عرف کې قضائي کړنلاري (طرزالعملونه)، ..................................................... ۸۷
لومړی مبحث : لومړنی کړنې .................................................................. ۸۸
لومړی مطلب : د يرغلگر يا يرغل کونکي کړني ................................................... ۸۸
دويم مطلب : د تيري کونکي (تجاوزگر) عرفي کړنې، د اسلامی شريعت په پرتله ...................... ۹۰
لومړی : د وجهاوو (مخه ورو کسانو لېږد) مشروعيت : ............................................ ۹۰
دويم ـ مهلت ورکول : ......................................................................... ۹۱
درېیم : صلح او د هغې مشروعيت : .............................................................. ۹۳
درېیم مطلب : د متعدي عليه کړنې ............................................................ ۹۴
څلورم مطلب : د متعدي عليه عرفي کړنې پرتله له اسلامي شريعت سره ............................... ۹۴
لومړی : تېري کونکي څخه د ناستي غوښتنه، او د جرگې ليږلو مشروعيت : ............................. ۹۴
دويم : د بالمثل عمل مشروعيت : ............................................................... ۹۵
دويم مبحث : تقاضي يا فيصلو ته ناسته دا مبحث دوه مطلبونه لري: ................................ ۹۸
لومړی مطلب : د پريکړي لپاره د ناستي عرفی کړنلاري .......................................... ۹۸
دويم مطلب: په عرف کې قضايې کړنې د اسلامي قانون په پرتله .................................. ۱۰۱
لومړی : تضمين او مشروعيت يې ............................................................... ۱۰۱
دويم : د قضاء په بدل کې پيسې ورکول او د هغې مشروعيت ....................................... ۱۰۲
درېیم: مدافع وکيل او د هغه مشروعيت .......................................................... ۱۰۳
درېیم مبحث: د پريکړي صادرول ................................................................ ۱۰۴
لومړی مطلب :په عرفي محکمو کې د پرېکړو کړنلارې .............................................. ۱۰۴
دويم مطلب: د حکم صادرولو په اړه دعرفي قضاء او شرعي قضاء تر منځ پرتله ...................... ۱۰۵
څلورم فصل ................................................................................ ۱۰۹
په ټولنه کې د مهمو مسائلو په اړه عرفي أحکام ................................................... ۱۰۹
لومړی مبحث : د قتل پېښې (قضيې) ............................................................ ۱۱۰
لومړی مطلب : په عرف کې د قتل ډولونه او اسلامي شريعت سره يې پرتله .......................... ۱۱۰

دويم مطلب : په عرف کې د قتل مُرتبه آثار او د هغې پرتليزه څېړنه له اسلامی شريعت سره ............................ ١١٤
درېيم مطلب : په عرف کې د ديت ډولونه او اسلامي شريعت سره يې پرتله ......................... ....................... ١٢٣
په خون کې د جينکو ورکړه: ........................ ........................ ........................ ..................... ١٢٣
دويم : د يو خون د ديت له اندازې څخه زيات اخستل : ......................... ........................ ................... ١٢٥
درېيم : عادي ديت (شرعي ديت) ......................... ........................ ........................ ..................... ١٢٥
ديت پر چا واجب دی؟ ........................ ........................ ........................ ........................ ......... ١٢٩
دويم مبحث: د وژلو څخه ټيټ جرم (د وهلو او ټپي کولو) قضيې ........................ ......................... ١٣٠
لومړی مطلب : په عرف کې وهل ټکول او له اسلامي شريعت سره پرتله ........................ ...................... ١٣٠
لومړی : عرف کې د وهلو او ټکولو پر بناء تيری ........................ ........................ ....................... ١٣٠
دويم : د حادثې د ځای په لحاظ : ........................ ........................ ........................ ................. ١٣١
درېيم : په بدن باندې د أثر له مخې : ........................ ........................ ........................ ........... ١٣٢
عرفي قضاء کې د وهلو ټکولو او ټپونو د قصاص څرنګوالی : ........................ ........................ ......... ١٣٢
دويم مطلب : عرف کې د ټپونو او پرهرونو أحکام او اسلامي شريعت سره يې پرتله ........................ ........ ١٣٣
لومړی : په عنعنوي قضاء کې پرهر (زخم) ........................ ........................ ........................ ........ ١٣٣
دويم : د ديت معامله (چلند) : ........................ ........................ ........................ ...................... ١٣٥
درېيم مطلب : عرف کې د اعضاوو تخريب او ماتېدل، او له اسلامي شريعت سره يې پرتله ......................... ١٣٧
عرفي قضاء کې د ماتيدلو او تلف کېدلو د جزا د أټکل څرنګوالې : ........................ ........................ ... ١٣٧
درېيم مبحث: د ښځو مسائل دا درې مطلبونه لري ........................ ........................ ..................... ١٤١
لومړی مطلب : عرف کې د جنسي تېري ( فحشا کولو ) أحکام او پرتله يې له اسلامي شريعت سره .................. ١٤١
لومړی : فحشاء د رضاء (خوښي) په دائره کې ........................ ........................ ........................ ... ١٤١
دويم : د تاوتريخوالي او جبر دائره ........................ ........................ ........................ .............. ١٤٢
دويم مطلب : عرف کې د ښځې د بې عزتی أحکام ( پرته له زنا څخه ) او شريعت سره يې پرتله ........................ ١٤٨
عرف کې د غلا أحکام : ........................ ........................ ........................ ........................ .... ١٥٠
دويم مطلب : په عرف کې د ودونو ډولونه او اسلامي شريعت سره يې پرتله ........................ ................. ١٥١
په عرف کې د نکاح ډولونه، د اسلامي شريعت په پرتله ........................ ........................ ............... ١٥٢
پـــــوښـــتـن پـــانـــه ........................ ........................ ........................ ....................... ١٥٤
پـــايــــلـه ........................ ........................ ........................ ........................ ............. ١٧٨
ســپـارښـــتـنې ........................ ........................ ........................ ........................ .......... ١٨٠
Abstract ........................ ........................ ........................ ........................ ................ ك

# مقــــــــــــــدمــــــــــــــــة

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف المرسلين سيدنا محمد وعلى آله وصحبه ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين.

أما بعد : دغـه كـتاب مې د (پښتنو عرفي قضاء او د اسلامي شريعت سره يئ پرتليزه څيړنه (لوگر وردگ او غزني ولايتونه د بيلگي په ډول) په اړه ليکلی دی.

قضاء په ټولنه کې د ملا د تير حيثيت لري د بشري او انساني ټولنې له پيله تر دي دمه جرم شتون لري او همدارنگه د جرم د مخنيوي لپاره قضاء ورسره اوږه په اوږه روان او دوام لري، داسی ټولنه نه ده ليدل شوې او نه ليدل کيږي چې د جرم او قضاء له موضوع څخه خالي او مبرا وي، قضاء له هغه اموراتو څخه ده چې په هره ټولنه کې هغه اسلامی ټولنه وي او که غير اسلامي ټولنه خلک ورته اړتيا لري، ځکه چې ظلم او تيری د هر انسان په طبيعيت کې شتون لري، او هيڅ انسان له تيری او معصيت څخه معصوم ندی، نو بايد د ظلم او تيري د رفع او دفع کولو پخاطر قضاء شتون ولري او همدارنگه د قضاء د نفاذ او عملي کولو لپاره قاضي او حاکم بايد شتون ولري.

قضاء په اسلامي دين کې يو أصل او شرط دی ځکه چې قضاء اختلافات له منځه وړي، شخړي حل کوي، روغه جوړه راولي، له قضاء پرته بشري ټولنه کې أمن او أمنيت ناشوني دی.

اسلامي دين يو جامع، کامل او د انسان د ژوند هرې برخې ته شامل دين دی، د انسان د ژوند هره برخه لکه : فردي، ټولنيز، سياسي، اقتصادي، تعليمي، نظامي او..... حقوق او همدارنگه د جرايمو په مقابل کې احکام، قضاوتونه او سزاگانې په سَـمه او دقيقه توگه رانغاړي، تر څو ټولنه کې (عدالت) او په پايله کې وحدت او ورورولي په ډيره ښه توگه تأمين شي.

د قرانکريم احکام او د نبی کريم صلی الله عليه و سلم سنت، شرعي او فقهي قوانين دي، همدا شرعي قوانين زمونږ د ژوند په ټولو اموراتو کې قضاء او فيصلې کوي، د خلکو اړيکې ترتيب او تنظيموي، ټولنې او فرد ته يې مناسب حقوق ټاکلي دی، لکن په ټولنه کې اړينه خبره او د خلکو څخه غوښتنه هم داده، چې د اسلامي قوانينو په اړه پوهه پيدا کړي، حدود ئی وپيژني، له نورو وضعي او عرفي قوانين او قضاء سره ئې پرتله او مقايسه وکولای شي، پرته له مخالفت پخپله خوښه او رضايت سره عمل پرې وکړي، ځکه اسلاميت مو په رضايت منلې نو اړينه ده چې قوانين او أصول ئې هم ومنو، په رضايت او ورين تندي ئې پر ځان او ټولنه کې نافذ او عملی کړو.

د پښتنو عرفي قضاء له ډير پخوا څخه د تطبيق او عملي کېدلو پراخه ساحه درلوده او اوس يې هم لري، او اکثراً په دې کې فساد نشته، د مسايلو پريکړه ژر کېږی او همدارنگه ژرترژره عملي کېږي، نو ځکه خلک جرگو او مرکو ته ترجيح ورکوي، په اړه مې ډير حِرص او کوښښ وکړ تر څو د عرفي قضاء مهم موضوعات

له مشهورو جرگه مارو او مشهورو قومي مشرانو رانقل او څېړنه پکښې وکړم او له هغه ورسته د شريعت اسلامي د فقهې احــکامو سره يې مقارنــه ( پرتليزه څېړنه ) وکړم تر څو مسلمانو ته دا جوته او څرگنده شي چې عرفي قوانين او قضاوتونه تر کومه بريده د اسلامي شرعت سره برابر او تر کومه بريده د اسلامي شريعت سره په ټکر کې دي او د دې په گټه اخيستلو سره خلک وکولای شي، د هغه قضاوتونو څخه چې د اسلامي فقهې مخالف او متضاد دي او الله پرى ناراضه کېږي ځان وژغوري.

د دې بحث په ليکلو کې له داسې اختصار څخه مې کار آخيستى چې موضوع خلکو ته مهمل او گونگ پاتې نشي، او له داسې طوالت څخه چې ويونکې ستړى او گيچ کړي ځان ساتنه کړي ده، په دې رساله کې مي داسې جزئيات اختيار کړي دي چې لوستونکي له سردرگومى څخه ژغوري او موضوع ورته په سمه او واضح توگه بيانوي.

لنډه دا چې د خپل وس او توان مطابق مې کوښښ کړى، او د خپل عمل د کمال مدعي نه يم، ځکه چې انسان طبيعتاً خَاطِي نَاسِي او سَاهِي دى نو د انسان په قلم کې د خطاء او د انسان په قدم کې د ښوېدو امکان شتون لري الاّ ما شاءالله. لکه څنگه چې الله پاک په خپل کتاب کې د حضرت يوسف عليه السلام د ويناوو نقل فرمايي: { وَمَا أُبَرِّئُ نَفْسِي إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّي }. (١)

**ژباړه :** زه خپل نفس ته برأة نه ورکوم، بې له شکه نفس (انسان ته) په بدو أمر کونکى دى مگر داچې په چا باندې زما د رب رحمت وي.

د الله متعال څخه شکر گزار يم چې ماته يې په اسلامي دين کې لږه او پوهه راکړې، او بيايې لوى احسان وکړ چې د دين د تعليم او ترويج خدمتگار يې وگرځولم، په آخره کې له الله څخه غواړم چې دغه هلې ځلې او تکليفونه د خپل د رضاء په خاطر وگرځوي او په بدل کې يې أجر او ثواب راکړي او د هر لوستونکي څخه د دعا غوښتونکى يم. **(إنه هوالکريم الجوّاد )**

## د موضوع ارزښت :

انسان يو ټولنيز مخلوق دى د ټولنې څخه پرته يواځې ژوند کول ډېره او بې کچه ستونزمنه ده کله چې انسان ټولنه کې ژوند کوي نو د خپل فطرت او طبيعت د غوښــتنو پر بنسټ غواړي له خپل هم ډول سره راکړه ورکړه او تعامل ولري دا ښکاره خبره ده چې په انسان فطري او طبعي غرايز لکه : شهوت، حب تمليک او زورواکى شتون لري چې د دې شته غرايزو پر بناء د انسانانو تر منځ ظلمونه تيرې شخړې او

١- سورة : يوسف (٥٣)

جنگونه را منځته کېږي نو د دې پېښو لپاره قضاء او فیصلې اړینې دي تر څو د خلکو تر منځ دغه ستونزې حَل او حق حقدار ته وسپاري.

دغه موضوع زمونږ د ورځني ژوند یو مهمه او با أرزښته برخه رانغاړي هر انسان د ستونزو شخړو او جنګ جګړو له پېښېدو سره سم، عرفي قضاء ته چې د شخړو د حل او فصل نږدې مرجع ده مخه کوي او خپلې ستونزې جنګ جګړه او مخاصمات د همدغې عرفي قضاء په مرسته حَل کوي، خو ډیری خلک په دې پوهه نلري چه آیا دغه عرفي قضاوتونه جایز دي او کنه؟ دغه عرفي قضاء له شرعي قضاء سره په کوم انډول کې قرار لري ؟ آیا یوبل سره مخالف دي او که موافق ؟ که په هغه عرفي قضاء باندې چې د شرعي قضاء سره مخالفت لري عمل وشي، پایله یې څه ده ؟

دې اړتیا ته په کتولو سره مې دا قصد او اړده وکړه چې په دې اړه یوه رساله ولیکم ترڅو خلک بالخصوص هغه عرفي قاضیان او حاکمان ( جرګه ماران او مرکچیان ) د عرفي قضاء او شرعي قضاء په اړه پوهه او معرفت حاصل کړي او د دواړو قضاءګانو تر منځ پرتله وکولای شي هغه عرفي قضاوتونه چې شرعي قضاء سره موافق وي په جرأت سره عمل پرې وکړي او هغه قصاوتونه چې شرعي قضاء سره مخالف وي ترې ډډه وکړي.

## د موضوع د ټاکني اسباب :

١. د ټولنې د ستونزو په حل کې د دودیزو شوراګانو رول او د همدې ستونزو په حل کې د دوی چټکتیا.
٢. ځینې خلک چې په فقهي مسائلو کې پوهه نه لري داسې وایي چې دا رنګه مجلسونه او جرګې حرام دي، آن تر دې چې داسي جرګوته ورتګ نا جایزه او ناروا بولي، د دوی قضاء او حکم ته تحاکم الی الطاغوت وایې، نو د دې رسالې په مرستې سره دا جوتیږي چې د جرګې ټولې فیصلې او قضاوتونه د شرعي قضاء مخالف نه بلکه ځیني یې موافق دي.
٣. د قضاء، منځګړی توب، روغې جوړې او پخلاینې د طرزالعملونو تر منځ توپیر نکول، چې د حکمونو د صادریدولو لامل کېږي.
٤. د ځینو مصلحینو ( جرګه مارانو او مرکچیانو ) ناپوهي د شرعي أحکامو په اړه، چې له ( دودیزو ) یا عرفي قضاء سره تعلق او تطابق لري، چې دوی باید د دې رسالې په مرسته پوه شي او په دې اړه معرفت حاصل کړي.

زه غواړم چې دا لیک دوی ته وړاندې کړم تر څو د اسلامي شریعت سره سم د ستونزو په حل کې له دوی سره مرسته وکړي.

## أصلي پوښــتنې :

۱. عرفي (دوديزه) قضاء څه ته وايې ؟
۲. عرفي قضاوتونه مشروعيت لري او که نه ؟
۳. په کومو حالاتو کې د عرفي قضاء څخه ګټه اخستلاى شو؟

## فرعي پوښتنې :

۱. د عرفي قضا مخکني تاريخ څه ده او څه وخت منځته راغلى ؟
۲. عرفي قضا، شرعي قضا سره تر کومه کچه توپير او تر کومه کچه يو بل سره ورته والى او مطابقت لري ؟
۳. خلک ولې عرفي قضاء ته ليوال دي ؟

## د موضوع په اړه پخوانى څېړنې :

دا رساله چې د (پښتنو عرفي قضاء او د اسلامي شريعت سره يئ پرتليزه څيړنه (لوگر وردگ او غزني ولايتونه د بيلګې په ډول) تر سرليک لاندې په څلورو فصلونو کې ليکل شوى ده ما چې کومه پلټنه کړې او د دې موضوع په اړه مې له ډيرو پوهانو، کتابتونونو او دعلومو أکادمى څخه وپوښتل، چې آيا په دى اړه چا کتاب ليکلى دى ؟ آيا د دې موضوع په هکله کوم کتاب شتون لري ؟ نو د ټولو ځواب نه وو، نو زما د معلوماتو پربناء په دي اړه هيڅ چا کتاب ندى ليکلى، خو يو وړوکئ او مختصره رساله د (احمدزيو د ځلي او نرخونو) په اړه ليکل شوي، نو ځکه مې دا اراده وکړه چې خپل تحقيقى أثر د (پښتنو عرفي قضاء او د اسلامي شريعت سره يئ پرتليزه څيړنه (لوګر وردګ او غزني ولايتونه د بيلګي په ډول) تر عنوان لاندې په پښتو ژبــه وليکم، تر څو د خپل علمي مسئوليت يوه وړه برخه أدا کړم او د الله متعال څخه د دې رسالې د پاى توفيق غواړم.

دڅيړني تګلاره :

د څېړنې طبيعيت دادى، چې بايد يوه معينه او ټاکلي تګلاره او ځانګړې طريقه ولري، نو بايد وويل شي چې د دې څېړنې تګلاره وصفي، تحليلي ميداني او مثالي ده، چې په لاندې ډول ليکل شوي ده :

۱. د دې څېړني په اړه دري ولايتونوته مې سفر وکړ، په کلي او باندو کې د جرګه مارو او قومي مشرانو د لټولو او پيدا کولو په موخه وګرځېدم، تر څو په دي اړه پوه او أهل خبره کسانو سره ناسته وکړم او د عرفي قضا او پريکړو په اړه مې له مشرانو څخه پوښتنې وکړي او د وسع مطابق مسايل مې را ټول کړ.

۲. بیا مې هغه راټول شوي عرفي ( دودیز ) مسایل، قوانین او قضاوتونو ته چې په کلي او بانډو کې رواج لري او خلک تر دې دمه په هغو فیصلو باوري دي او د قناعت وړ یې گڼې رجوع او راغـُـونډ کړي دي.

۳. په درېـیم قدم کې مې قضیه یا مسأله د ویونکي مخې ته ایښې تر څو په قضیه پوه شي

۴. په څلورم قدم کې د دې قضې په هکله عرفي قضاء یا فیصله وړاندې شوې ده.

۵. په پنځم قدم کې د همدې قضې په هکله د قرآنکریم او أحادیثو په رڼا کې شرعي حکم، شرعي قضاء او د مذاهبو د علماؤو أقوال (ویناوې) لیکل شوي.

٦. په شپږم قدم کې د دواړو قضاګانو پرتلیزه څېړنه شوې ده.

۷. بیا د دې أقوالو (ویناوو) د ترجیح دلایل لیکل شوي.

۸. که کومه مسأله یا موضوع د معاصروو قضایاو څخه وي، نو هغې ته مواجتهادي حکم پیدا کړی.

۹. د شرعي او عرفي قضاء تر منځ د اړیکو جوتول او روښانه کول، او د توافق او اختلاف سببونه او علتونه بیانول.

## د څېړنې أهداف :

هره موضوع د ګڼ شمېر هدفونو لاسته راوړلو په پار ترتیب او تنظیمېږي  د دې موضوع ( د پښتنو عرفي قضاء او د اسلامي شریعت سره یې پرتلیزه څیړنه ، لوګر ، وردګ او غزني ولایتونه د بېلګې په توګه) د لیکنې أهداف په لاندې ډول دي :

۱. په ټولنه کې ځیني خلک په عرفي قضاء باوري دي او د درناوي وړ یې بولي او خپلی ټولي قضایاوي د عرفي قضاء په مرسته فیصله کوي، دا خبره باید څرګند شي چې عرفي قضا د باور او درناوی وړ دی او که نه ؟

۲. په ټولنه کې ځیني خلک په عرفي قضاء باندې عمل او هغه ته درناوی حرام او کفر بولي آن تر دې چې هغه غونډې یا مجلس ته ورتګ حرام بولي ، غواړم چې عرفي قضا له شرعي قضا سره پرتله شي ، او دا خبره باید څرګند کړم چې د عرفي قضا کومې پریکړې له شریعت سره مخالف دی ، چې خلک پرې د کفر فتوی ورکوي .

۳. د دې موضوع په اړه هیڅ داسي کومه څیړه نه ده شوي تر څو خلکو ته د عرفي قضاء په أحکامو باندې د عمل کولو حرمت او حلت څرګند او ښکاره شي  تر څو خلک په دې اړه ډاډ حاصل کړي، له شکونو خلاص او مطمئن شي، او له غلطو أفکارو او غلطو فتواګانو څخه ځان وساتي.

## د څېړنې ستونزې ( خنډونه ) :

هره موضوع ځانته د ځانګړې ستونزو لرونکي وي خو د دې څېړنې ستونزې دا وې چې: په افغانستان کې عرفي قضاء او عرفي أحکام ځانګړې کتابونه نه لري تر څو د هغې په مرسته مو موضوعات او أحکام را غونډ کړی وای او عامو خلکو هم په دې اړه پوره او کامل معلومات نه لرل نو د عرفي أحکامو او پریکړو پیدا کولو په خاطر او همدارنګه د هغې حقیقت څرګندولو لپاره په کلي او باندو کې ګرځیدل او د داسې متخصصو کسانو او کارپوهانو پیدا کول چې د عرفي احکامو او پرېکړو په اړه پوره معلومات ولري ستونزمن کار دی.

## د څېړنې خطه او پلان :

د دې څېړنې خطة په لاندې ډَول تنظیم شوې ده :

دا څېړنه د مقدمې او څلورو فصلونو درلونکې دی، او هر فصل يې په فرعي مبحثونو ويشل شوی دی، او بیا هر مبحث يې د متعددو مطلبونو لرونکي دي، چی په لاندې ډول ترتیب شوي ده. **لومړی فصل يې:** د شرعي او عرفي قضاء مفهوم، حقیقت او حکم يې، تنظیم شوي دي چې دري مبحثونه لري، **لومړی مبحث يې:** د عرف پيژندنه، د عرفي قضاء مخکني تاریخ، شرعي او عرفي قضاء د فیصلو حقیقت تر عنوان لاندې دی، چې دا مبحث پنځه مطلبونه لري، لومړی مطلب: د عرف پيژنده، دويم مطلب: د عرفي قضا مخکني تاريخ، دريم مطلب: د شرعي قضاء پيژنده. څلورم مطلب: د عرفي قضاء اړوند ټکي. پنځم مطلب: د شرعي قضا اړوند ټکي. د عرفي قضاء تعريف. هغه ألفاظ چې قضاء او فیصلو پورې اړوند دي. **دويم مبحث:** د شرعي او عرفی قضاء حکم، دا مبحث دوه مطلبه لري، لومړی مطلب: د شرعي قضاء حکم. دويم مطلب: د عرفی قضاء حکم، دا مطلب دوه فقري لري : لومړۍ فقره : د اسلامي شريعت سره موافق أحکام. دويمه فقره: د اسلامي شريعت سره مخالف أحکام. **دریـیـم مبحث :** د شرعي او عرفی قضاء ډولونه، چې دا څلور مطلبونه لري: لومړی مطلب: د اسلامي شريعت د قضاء ډولونه. دويم مطلب : د عرفي قضاء یا فيصلو ډولونه. دریـیـم مطلب : د شرعي او عرفي قاضي شرطونه. څلورم مطلب : د شرعي او عرفي قضا تر منځ مقارنه.

**دويم فصل يې :** د شرعي او عرفي قضاء د اثبات دلائل، تر عنوان لاندې ليکل شوي دي، چې دا فصل څلور مبحثونه لري: **لومړی مبحث :** د شهادة ( شاهدي ورکول )، په اړه ليکل شوی دی چې دا مبحث درې مطلبونه لري. لومړی مطلب : د شهادة پېژندنه. دويم مطلب : په عرف کې شهادت. دریـیـم مطلب : د شرعي او عرفي شهادتونو تر منځ مقارنه. **دويم مبحث يې :** د قَسَم ( لوَړه ) تر سرليک لاندې ليکل شوی، چې دا مبحث د دري مطلبونه لري : لومړی مطلب : د قَسَم (لوَړې) پېژندنه. دويم مطلب : په عرف کې قَـسَم (لوَړه). دریـیـم مطلب : د شرعي او عرفي قَـسَم (لوَړې) تر منځ مقارنه. **دریـیـم مبحث**

**يې:** د إقرار ( إعتراف )، تر عنوان لاندې ليكل شوى، چې درې مطلبونه لري: لومړى مطلب : د إقرار پېژندنه. دويم مطلب : په عرفى قضاء كى إقرار. درېيـم مطلب : د شرعي او عرفي إقرار تر منځ مقارنه. **څلورم مبحث:** د قرائن ( ظاهري نسبتونو يا نښې نښانې )، تر عنوان لاندې ليكل شوى چې دا مبحث درې مطلبه لري: لومړى مطلب : د قريـنو پيژندنه. دويم مطلب : په عرفي كې قضاء قرائن. درېـيـم مطلب : د شرعي او عرفي قرائنو تر منځ مقارنه ده

**درېـيـم فصل :** د عرفي قضاء د كړنې (اجراءاتو) په اړه، او د هغې شرعي حكم، تر عنوان لاندې تنظيم شوي دي، چې دا فصل په دريو مبحثو لري. **لومړى مبحث يې :** د لمړنى كړنې (ابتدائى إجراءات)، په اړه لكيل شوى، چې دا مبحث څلور مطلبونه لري: لومړى مطلب : د تجاوزگر (تيري كونكۍ) كړنه (إقدامات). دويم مطلب : د تجاوز گر عرفي إقدامات د اسلامي شريعت سره يې پرتله. درېـيـم مطلب : متجاوز عليه له خوا كړنه (إقدامات). څلورم مطلب : د هغې عرفي كړني پرتله له اسلامي شريعت سره چې متجاوز عليه له خوا ترسره كېږي. **دويم مبحث :** د قضائي جلساتو (ناسـته)، تر عنوان لاندې ليكل شوي، چې دا مبحث دوه مطلبونه لري: لومړى مطلب : دعرفى قضاء د جلسې يا ناستې ته إقدام (هڅه). دويم مطلب : دعرفى قضاء د جلسې يا ناستې د إقداماتو مقارنه له اسلامي شريعت سره. **درېـيـم مبحث :** د حكم صادرول، تر سرليك لاندي ليكل شوي، چې دا مبحث دوه مطلبه لري: لومړى مطلب : په عرفى قضاء كې د حكم إصدار (صادرول). دويم مطلب : د عرفي قضاء د حكم صادرولو مقارنه د اسلامي شريعت د حكم د إصدار سره.

**څلورم فصل :** په غټو او مهمو قضاياوو او مسائلو كې د عرفى قضاء حكم او د هغه مقارنة د اسلامي شريعت سره، تر عنوان لاندې ليكل شوى، چې دا فصل درې مبحثونه لري: **لومړى مبحث يې:** د قتل او ديت مسائل او قضايا، تر عنوان لاندې ليكل شوى، چې دا مبحث درې مطلبونه لري: لومړى مطلب : په عرف كې د قتل ډولونه او مقارنة يې له اسلامي شريعت سره. دويم مطلب : عرف كې د قتل مُرتبـه أثار او دهغې مقارنه يې له اسلامي شريعت سره. درېـيـم مطلب : عرف كې د دِيّت ډولونه او مقارنة يې له اسلامي شريعت سره. **دويم مبحث يې:** د دون النفس مسألى او موضوعات، لكه : تجاوزاتو (تيرې)، پَرهَر، ماتېدل، تر عنوان لاندې ليكل شوي دي، چې دا مبحث درې مطلبونه لري. لومړى مطلب : په عرف كې ضَرب (وهل) او د مقارنه يې له اسلامي شريعت سره. دويم مطلب : په عرف كې جُرُوج (زخمونه) او مقارنه يې له اسلامي شريعت سره. درېـيـم مطلب : په عرف كې د اندامونو ماتېدل او تلف (له منځه تلل) او مقارنه يې له اسلامي شريعت سره. **درېـيـم مبحث يې:** د عرض يا نوامِيسو او ښځو مسائل او قضاياء، تر عنوان لاندې ليكل شوي دي دا مبحث درې مطلبه لري : لومړى مطلب: د چا په عزت او آبرو باندى تيرَى تجاوز (فاحش كار ترسره كول) په عرف كې او مقارنه يې له

اسلامي شريعت سره. دويم مطلب: په عرف کې د چا په عزت او آبرو باندې تيرَی تجاوز، دون الفحش(چی فحش ته نوي رسيدلای) او مقارنه يې له اسلامي شريعت سره. درېـيـم مطلب : په عرف کې د ودونو ډولونه، او مقارنه يې له اسلامي شريعت سره.

# لومړی فصل

**د شرعي او عرفي قضاء مفهوم، حقیقت او حکم یې، چې دري مبحثه لري :**

**لومړی مبحث :** د شرعي او عرفي قضاء د فیصلو حقیقت :

لومړی مطلب : د شرعي قضاء تعریف .

دویم مطلب : د عرفي قضاء تعریف .

دریـیم مطلب هغه ألفاظ چې قضاء او فیصلو پورې اړوند دي .

**دویم مبحث :** د شرعي او عرفی قضاء حکم :

لومړی مطلب : د شرعي قضاء حکم .

دویم مطلب : د عرفی قضاء حکم .

**دریـیـم مبحث :** د شرعي او عرفی قضاء ډولونه او شرطونه :

لومړی مطلب : د اسلامي شریعت د قضاء ډولونه .

دویم مطلب : د عرفي قضاء یا فیصلو ډولونه .

دریـیـم مطلب : د شرعي او عرفي قاضي شرطونه .

څلورم مطلب : د شرعي او عرفي قضا تر منځ مقارنه .

## لومړی مبحث : د شرعي قضا او عرفي قضا مخکنی تاريخ او حقیقت :

داچې انسانان په اجتماع کې ژوند کوي، او اجتماعی ژوند د خلکو ترمنځ پر تبادلې او معاملې ولاړ وي، کله کله د دوي تبادلې او معاملې په شخړو اوړي، نو دلته داسې یو ځواک ته اړتیا شته، تر څو د دوی ترمنځ دا شخړې حل کړي، ګډوډي لرې کړي، آفتونه له منځه یوسي او عدالت رامنځته کړي، او دا ځواک (قضا) دی، قضاء د ټولنې د جوړولو لپاره اړینه ده، ځکه چې د اسلامي شريعت له اساسي هدفونو څخه یو هم د ټولنې د غړو ترمنځ د أمن او أمنیت او همدارنګه د عدل او انصاف رامنځته کول دي، نو د دې لپاره چې عرفي او شرعي قضا وپېژندل شي، نوموړي موضوع په لاندې پينځو مطلبونو کې څېړل کېږي.

## لومړی مـطـلـــب : د عـــرف پـــېـژنـــدنـــه

**لومړی: عرف په لغت کې :** عرف د منکر ضد دی، یعنی هر هغه شئ چې یو نفس ئې ښه بولي اطمنان او باور پرې لري هغه عرف دی، عرف په ډيرو معنی ګانو راغلي دي چې په لاندې ډول بيانېږي.

1. **د علم پوهه او شناخت په معنیٰ :** لکه چې وايي : ( عَرَفَ فلانٌ فلاناً ) فلاني فلانی وپیژاند، ( وهذا أمرٌ مَعروفٌ أی مَعلومٌ ) دا کار پېژندل شوی دی. ([1])
2. **د اقرار او اعتراف په معنیٰ:** لکه چې وايي (اِعتَرَفَ و أقرَّ) یعنی اعتراف او اقرار يې وکړ. ([2])
3. **رِيحٌ (بوی) :** که ښه بوی وي یا بد بوی، ( ما أطيب عَرْفُه أی ما أطيب ريحه ) یعنی څومره ښه بوی لري.([3])
4. **د تتابع ( پرله پسي ) په معنیٰ :** لکه چې وايي ( تَتَابَعَ القَوْمُ عُرفاً )، یعنی خلک پرله پسې راغلل.([4])
5. **د أعلی ( لوړ یا جګ ) شئ په معنیٰ:** لکه چې وايي ( و عَلَى الأَعْرافِ رِجَالٌ ) ([5]) یعنی یو لوړ ځای دی د جنتیانو او دوزخیانو تر منځ. بناء پر دې چې عرف ډېرې معناګانې لري، خو د یوې معنی په شا او خوا کې راڅرخي، هغه دا چې : معروف د هر هغه شي نوم دی چې د عقل په واسطه پيژ ندل کېږي.

**دويم : عرفي قضاء په اصطلاح کې** علماء کرامو د عرفي قضاء ګڼ تعریفونه کړي دي، خو د ټولو تعریفونه څخه یو عمده تعریف جوړ کړی، او ټول تعریفونه په همدې یوه معنی راڅرخيږي.

[1] - ابن منظور : لسان العرب (٩ / ٢٨٦ - ٢٨٧).
[2] - ابن منظور : لسان العرب (٩ / ٢٨٦ - ٢٨٧).
[3] - نفس المصادر.
[4] - نفس المصادر.
[5] - سورة : الاعراف (٤٦).

۱. عرف عبارت له هغه خبرې او عمل څخه دی چې د عامو خلکو له خوا د خپل طبیعت دخوښې او غوښتنې سره سم تپاکل شوی، او خلک ځان پرې پابند بولي، کله د عقل او شرع سره موافق او کله مخالف وي، کله مقبول وي او کله مردود. (۱)

۲. « عبارة عما يستقر فى النفوس من الامور المتكررة المقبولة عندالطبايع السليمة » (۲)

**ژباړه :** عبارت له هغه منل شوي او تکراري اموراتو څخه دی، چي د سالم الطبيعة انسان په نفس کي تقرُر پيدا کوي.

۳. « ما استقرت النفوس عليه بشهادة العقول و تلقته الطبائع السليمة بالقبول ». (۳)

**ژباړه :** هر هغه شی چې د خلکو د نفسونو له خوا ايجاديږي، عقل پرې شهادت ورکوي او انساني طبيعت ئې ورسره مني.

۴. « هو ما ألفه المجتمع و اعتاده و سار عليه في حياته من قولٍ او فعلٍ » (٤)

**ژباړه :** هغه شی چې د يوې ټولنې له خوا جوړ شوی او ايجاد شوی وي او په ژوند کې غالبه شوي وي، که قول وي او که عمل.

له دي تعريفونو څخه چې پورته ذکر شو، يو تعريف په لاندې ډول سره تشريح کوو: « ما استقر في النفوس من جهة العقول و تلقته الطباع السليمة بالقبول » (۵)

**« ما » :** ما عام دی، قولي عرف او فعلي عرف دواړو ته.

**« استقر في النفوس » :** په دې کلماتو سره دا جوتيږي چې : هر هغه دود او رواج چي په نُدرت او کمښت سره لاسته راځي عرف ندی، بلکه عرف هغه دی چې د ډيرې خلکو رواج او عادت گرځيدلی وي او تکراريږي.

**« من جهة العقول » :** يعنی د عقل سليم لاسته راوړنه وي، او هر هغه شی چې د خواهشات نفساني پر بناء ايجاد شوی وي عرف نه بلل کيږي.

**« تلقته الطباع السليمة بالقبول » :** په دې کلماتو سره هغه دودونه او عادتونه خارجيږي چې ځيني انساني طبيعت يې نه مني او نه يې قبلوي.

---

۱ - څېړونکی نصيراحمد : د حاجي نوراحمد زوی لوگر ولايت محمدآغه ولسوالی د شيرازې کلئ د پيدايښت کال (۱۱ / ۱ / ۱۳۴۵) .

۲ - الاشباه و النظائر : جلال الدين عبد الرحمن السيوطي، ( تولد ۹۱۱هـ ) کال الأشباه والنظائر في قواعد وفـروع الـشافعية تحقيق او تعليق د محمـــد محمـــد تـــامر او حافظ عاشور له خوا، دويم چاپ : په (۱٤۲٤هـ - ۲۰۰٤م) نېټه د چاپ ځای: دار السلام مصر. ص (۷٦).

۳ - الجرجاني : التعريفات (۱۸۸).

٤ - زيدان : الوجيز في أصول الفقه : الوجيز في أصول الفقه : دكتور عبد الكريم زيدان، د چاپ ځای، مؤسسة الرسالة، لومړی چاپ، (۱٤۱۷ هـ - م). صفحه: (۲۵۲).

۵ - ابن عابدين , في شرح الأشباه و النظائر عن النسفي : (۲/ ۱۲).

د شرعي قضاء او عرفي قضاء د تعريفونو له وضاحت څخه وروسته، په دې پوه شو چې عرفي قضاء د کلي او ښارونو د اوسیدونکو د راپېښیدونکي قضایاوو د فیصلو په اړه د ( دودیا حکم ) له اِخبار څخه عبارت دی.

## دویــــم مطلب : د پښتنو د عرفي قضا مخکینی تاریخ

د پښتنو د عرفی قضا مخکنی تاریخ :

زرګونه کلونه وړاندې (پشتون) د آریایي ټولنې په غېږه کښې سترګې وغړولې، ده خپلې ژبې ته هم د (پښتو) نوم ورکړ، او خپل قانون ته یې هم د (پښتو) یا (پښتونولی) نوم وکړ، په خپله ژبه کې د (ویدي) او (اوستایي) په پل پراخه اولسي ادبیات او سندرې را منځ ته کړل، او پخپل قانون کې یې هم هغه ټولې تجربې چې آریایانو د خپلې ټولنې د نظم د ټینګښت او د خپل ټولنیز ژوند د سمبالښت له پاره کړې وې را خپلې کړې، د (پښتونولی) قانون شفاهي وو خو په عین حال کې عملي بڼه یې درلوده، داسې عملي بڼه چې سرغړونه ترې د سر له وهلو سره برابر وو، د پښتنو ملي قوانین د پېړیو په اوږدو کې له تو پانونو سره مقابله کړې او تر اوسه یې پرته له دې چې کتابي او یا لیکل شوې بڼه ولري د خلکو په سینو کې خپل اصالت او قدامت ساتلی او خپل رسالت یې تر سره کړی دی. (۱)

دغه (پښتونولی) یعني د پښتو شفاهي اصول او قانون په پښتني ټولنه کې یو داسې پولادي نظم ټینګ کړی وو چې د هر چا مال، سر او ناموس پکې خوندي وو، پښتونولي قوانین تر استثنایي حالاتو پرته، د تطبیق له پاره پولیس او قهریه قوه نه درلوده، خو قضاییه قوه یې دومره له عیني شرایطو سره سمه وه چې ټولو خواوو ته د منلو وړ وو، پړ او اوړ (ملامت او سلامت) دواړه پرې قانع کېدل.

(پښتونولی) په اولسوالي ولاړه وه، د اولس له غوښتنو او تجربو څخه یې ریښې را زرغونې شوې وې او د ژوند پر ټولو اجتماعي، اقتصادي، کلتوري او اخلاقي اړخونو یې سیوری غوړولی وو، (پښتونولی) د افرادو شخصي او د ټولنې ډله ایز ژوند دواړه تنظیم کړی وو، د ټولنې له پاره یې د امنیتي ګارد کار ورکاوه، چا به چې د پشتونولی خلاف کار وکړ په سترګو سترګو کې به خوړل کېده او پیغور به ورکول کېده چې (پلانکی ډیر بې پښتو دی). (۲)

په پښتني ټولنه کې جرګې او مرکې د ستونزو او لانجو د حل یوازینی او ترټولو غوره او اغیزمنه لاره ده که تاریخ ته نظر وکړو زموږ په هیواد کې د جرګو او مرکو تاریخچه د پخوانیو آریایانو تر زمانې رسیږي او یا په بل عبارت په اوسني افغانستان کې د جرګو او مرکود سیستم لومړني بسنټ ایښودونکي پخواني آریایان دي چې د **( سیمیتی - Simite ) او ( سبها - Sabha)** په نومونو یې دوې جرګې درلودې، چې په سیمتی کې سپین ږیري او دقبیلې مشران سره غونډېدل، خو(سبها) کلیواله بڼه درلوده، یا په بله ژبه (سیمتی) د مشرانو د جرګې رول درلود او سبها د کلیوالو شخړو د فیصله کولو د پاره د یوې کلیوالې مرکې وظیفه سرته رسوله،

---

[1] - عبدالجلیل وجدي : د عنعنوی جرګو نن او پرون ، (۳۷) . لومړی چاپ، پېښور پاکستان، د چاپ کال (۱۳٦٥) .

[2] - سناتور عبدالله : څلی او نرخونه په احمدزیو کې، (۲۳) . مرحوم وکیل او سناتور عبدالله خان د حاجي بهرام زوي، لوګر ولایت دمحمد آغي ولسوالی د سُرخاو کلی کې په (۱۳۰۸- هـ ش) کال زیږدلی او په (۱۳۵۴ – هـ ش) کال کې وفات شو، د کتاب د چاپ وار (۲) ، د چاپ کال (۱۳۹۳) ، مطبعه کمپیوتري دو ستاره د اړیکې شمېره (۰۷۰۰۰۹۸۵۳۵) .

په سيمتی کې پاچا هم شامليده او د پاچا او مشر د ټاکلو حق(لکه چې د کتور زيمر وايي) همدې جرگې درلود. [1]

د افغاني ټولنې فطري ولسواکي د جرگو سره ژوره رابطه لري، همدا جرگې دي چې حتی که حکومت يا دولت هم نه وي، په پښتنو کې د اجتماعي ژوندانه دوه مهم ضرورتونه (امنيت او عدالت) تامينوي، چرگو لکه چې د مخه وويل شول له زرگونو کلونو راهيسې له افغانانو سره ملگرتيا او وفا کړې ده.

په دنيا کی هر قوم او هر ملت ځانته خپل ځانگړي دودونه، رسمونه او رواجونه لري، افغانان او په ځانگړي توگه پښتانه پخپلو دودونو او رواجونو کی د ځانگړو موازينو، مقرراتو او د پښتونولی له ټاکلو أصولو او بنسټونو برخمن دي، دا أصول آن قبل القانون (د قانون تر رسمي تدوين څخه وړاندي) شتون درلود، او ښه ثبوت يې همدا د پښتنو نرخونه او څلي دي چې د اسلام د مبارک دين تر راتللو وړاندې هم موجود او تر اوسه هم له کوچني توپير سره موجود دي، دې ملی قوانينو پخوا هم د تطبيق او عملي کېدلو پراخه ساحه درلوده او اوس يې هم لري، پخوا هم له ملی او ولسي ملاتړه برخمن وو او اوس هم دي.

د پښتونولی څلي او نرخونه دومره انساني او عادلانه وو چې افغانستان ته د اسلام د سپيڅلي دين تر راتلو وروسته يې هم ډېر لږ ضايعات ورکړل او پښتونولی د اسلامي احکامو تر څنگ ژوندی پاتې شوه. [2]

## درېيــم مطلب : د شـرعـي قـضـاء پېژنده

قضاء عربی کلمه ده، قضاء په لغت کې حکم او پريکړې ته وائې، لکه چې داسې ويل کيږي « قضی يقضي قضاءً فهو قاضي » [3] قضاء په اصل کې « قضایٌ » وو، خو د عربی ژبې د يوې قاعدې پر بناء کله چې د الف څخه وروسته «يا» راشی نو «يا» په همزه بدليږي، نو قضاء په لغت کې ډيري معـناگـانې لري لکه : (حکم او فيصله کول)، (تيريدنه)، ( اجرا کونه يا سرته رسونه )، (واجبول ) او ( د دوه ډلو تر منځ د شخړې هوارول ). [4]

**قضاء الشئ :** د يو شي په هکله حکم کول، لاسليک کول او هغې څخه ځان خلاصول.

د قضاء کلمه په قرآنکريم کې هم په څو متعددو معنی گانو راغلي ده :

١. **د بيان په معنی :** «...... وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْآنِ مِنْ قَبْلِ أَنْ يُقْضَى إِلَيْكَ وَحْيُهُ...»[5]

**ژباړه :** او تلوار مه کوه ته (أئ محمده!) په (لوستلو) د قرآن مخکې له دې چې تاته بيان شي.

٢. **د حکم او أمر په معنی :** « فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَى مَوْتِهِ إِلَّا .....» [6]

---

[1] - عبدالجليل وجدي : د عنعنوی جرگو نن او پرون ، (٣٧) .

[2] - عبدالجليل وجدي : د عنعنوی جرگو نن او پرون ، (٣٧) .

[3] - ابن منظور: جمال الدين أبي الفضل محمد د مکرم د منظور الأنصاري الأفريقي المصري ځوی، تولد (٧٧١هـ) کال، لسان العرب تحقيق او تعليق د عامر احمد حيدر له خوا، لومړی چاپ: په ( ١٤٢٤ هـ ٢٥٥٣ م ) د چاپ ځای: دار الکتب العلمية – بيروت لبنان.(١٥ - ، ١٨٦).

[4] - غياث اللغات : پاڼه (٦٧٢).

[5] - طه (١١٤).

[6] - سباء (١٤).

**ژباړه :** پس کله چې مونږ حکم وکړ په ده (سليمان) باندې د مرگ هيچا خبر کړي نه وو (دغه پيريان) د سليمان له مرگ څخه مگر چونجي د ځمکې....

۳. **د خلقت او صنعت په معنی :**« فَقَضَاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ فِي يَوْمَيْنِ وَأَوْحَى فِي كُلِّ سَمَاءٍ أَمْرَهَا » (۱)

**ژباړه :** نو جوړې کړل په دوو ورځو کې اووه آسمانونه، او هر آسمان ته يې اړوند نظام (مناسب تدبير) وحی کړ.

۴. **د پای ته رسولو (پوره کولو) په معنی :** «.... فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ...» (۲)

**ژباړه :**... پس ځينې له دوئ هغه دي چې پای ته ورسول او پوره يي کړه خپله وعده او نذرانه (شهيد شو) او ځينې له دوی انتظار کوي (د شهادت).

۵. **د کار سپارل په معنی :** «... إِذْ قَضَيْنَا إِلَى مُوسَى الْأَمْرَ وَمَا كُنْتَ مِنَ الشَّاهِدِينَ » (۳)

**ژباړه** : کله چې مونږ له موسی ته کار ورو‌سپارل، د رسالت أمور مو پرې لازم وگرځول، نو ته د دې خبرې ته شاهد او حاضر نه وې.

٦. **د يو کار ترسره کولو په معنی :** «... فَاقْضِ مَا أَنْتَ قَاضٍ إِنَّمَا تَقْضِي هَذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا » (۴)

**ژباړه :**... نو وکړه او ترسره کړه ته هغه کار چې ته يې کونکی يئ، بې شکه چې ته به حکم ورکړې (د قتل او نورو تعزيراتو) په دې دنيا کې.

کله چی پورتني تعريفونو ته گورو د لفظي اشتراک له امله ډيرې معنی گاني رانغاړي، خو که چېرې ورته ځير شو نو د دې معنی گانو تر منځ يوه مشترکه وجه شتون لري، چې عبارت ده له پرېکړې او پای ته رسولو څخه، نو کله چې حکم وشي نو خبره ختمه شي او کار يې پای ته ورسيږي، اجمال او (پټ) شئ شکاره شي، پرېکړه ترسره شي او مشغولتيا ختمه شي.

**قضاء په اصطلاح کې :** فقهاوو د قضاء په تعريف کې مختلف او رنگارنگ ليدلوري لري او په لاندې ډول داسي تعريفونه کوي:

۱. **امام کاساني وايي :** القضاء « الحكم بين الناس بالحق الحكم بما أنزل االله ». (۵)

**ژباړه :** د خلکو ترمنځ د حق پر اساس پرېکړه کول، د الله ﷻ د راليږل شوي قانون پر اساس پرېکړه کول.

۲. **شيخ ابن فرحون وايي :** القضاء « الاخبار عن حكم الشرعي على سبيل الالزام ». (٦)

۱- حم (۱۲).

۲ - الاحزاب (۳۷).

۳ - القصص (۴۴).

٤ - طه (۷۲).

٥ - الكاسائي : بدائع الصنائع (۳/۷) .

٦ - ابن فرحون : تبصرة الحكام (۱۳/۱.

**ژباړه :** د شرعي پرېکړې آوړول په دي توگه چې د هغې نافذول لازمي شي.

دې تعريفاتو ته په کتنې سره، مونږ گورو چې د ځينو ملاحظاتو په پام کې نيولو سره لکه : (نفوذ) او (الزام)، قضاء له فتوىٰ، صلحې او تحکيم سره توپير لري.س

**لومړی توپير :** قاضي سره د خپلی پريکړې د نافذولو واک او قوت موجود وي، خو مفتی او مصلح يواځې د شرعي حکم بيانونکی دی، د هغه سره د پرېکړې د نافذولو قوت او طاقت نشته.

**دويم توپير :** د قاضې پرېکړه د هر چا لپاره نه وي، بلکه يواځې د همغې ورسپارل شوې معاملې په هکله وي.

قاضي تر بحث لاندې د قضې نوع او ډول معلوموي ، د دعوا د دواړو اړخونو خبرې او همدارنگه د شاهدانو خبرې آوري او تر هغه وروسته د شرعي حکم مطابق پرېکړه کوي، قاضي يواځې د مسائلو بيان نه کوي، خو د مفتي فتوا عام وي يوازې د مستفتي د فتوا تر غوښتنې پورې تړلي نه وي، بلکه په هر ځای او هره برخه کې فتوا ورکوي.

له دې لاندې ليکل شوي دوه تعريفونو څخه د قضاء مفهوم په ښه توگه جوت او روښانه کېږي، او د دې دوو تعريفونو تر منځ څه توپير هم نه ليدل کيږي.

**لومړی تعريف :** قضاء د شخړو او دعوو فيصله کول او خلاصول دي، چې د قاضي له خوا صادرېږي. (١)

**دويم تعريف :** د حقيقت بيان، چې قاضي د شرعي حکم سره سم د فيصلې په صادرولو خبر ورکوي، (٢) چې د هغه په واسطه د شخړې حل راځي، قاضي د حکم د صادرولو ولايت او صلاحيت لري، او دا صلاحيت د امام يا خليفه لخوا ورکړل شوي وي، نو ځکه حکم او فيصله يې لازمي ده.

## د قضاء په هکله د متأخرينو او معاصرو علماؤو تعريفونه :

١. **د امام ابن العابدين :** القضاء بأنه « فصل الخصومات و قطع المنازعات على نحو مخصوص » (٣).

**ژباړه :** قضاء د شخړو او دعواگانو فيصله کولو او خلاصولو ته وائی، په خاصه او ځانگړې توگه.

٢. **د الشيخ زيدان :**القضاء بأنه « الحکم بين الخصوم بالقانون الاسلامی بکيفية مخصوصة » (٤).

**ژباړه :( په اسلامي قانون سره په ځانکړي طريقه د خصومو ترمنځ فيصلې کولو ته وايې )** قضاء د شخړو او دعوا گانو تر منځ پريکړې کولو ته وايې، په اسلامي قانون سره په ځانگړې توگه.

١ - ١ابن عابدين : رد المحتار على الدر المختار (٢٧٢/٥).

٢ - ٢ابن فرحون : تبصرة الحکام (١٣/١.

٣ - ابن عابدين : رد المحتار على الدر المختار (٢٧٢/٥).

٤ - زيدان : نظام القضاء في الشريعة الإسلامية ( ١٣).

٣. **د الشيخ قرعانة :** القضاء بأنه « فصل الخصومات و قطع المنازعات على نحو مخصوص صادر عن ولاية عامة » ([1]).

**ژباړه :** قضاء د شخړو خلاصول او د عواګانو پريکړې ته وايي، په هغه ځانګړې توګه چې د حکومت له لوري صادر شوی وي.

دا تعريفونه چې د مخکنيو تعريفونو سره يو ځای شي دغه تعريفونه چې اضافت يې قديمي يا مخکني علماؤو ته شوي، چې (نحو مخصوص) او (کيفية مخصوصة) يې په تعريف کې اضافه کړي دي، نو په دې قيد کې د دعوا پورته کول او خلاصول، د قاضي اجراأت (کړنه)، د اثبات وسائل، د دعوا دفع او ډولونه ئې، او هغه څه چې د قاضي د حکم د صادرولو موجب ګرځي شامليږي.

که د سلفو او متأخرينو علماؤو تعريفونو ته ځير شو، نو په لاندې أموراتو کې سره متفق او يو شانتي والی لري.

د قاضي د قدرت او طاقت تکيه ګآه او استناد، الولاية العامه (د ملک زعيم) دی.

د قاضي د حکم استناد بايد پر شرعي احکامو وشي.

د قاضي حکم بايد الزامي وي.

د قاضي په حکم سره دعوا پرې کيږي او خصومات له منځه ولاړ شي.

**د قضاء غوره تعريف :** پورته تعريفونو ته په کتنې سره، کولای شو قضاء داسې تعريف کړو چې د پخواني علماؤو تعريفونه او د عصري پوهانو تعريفونه پکښې را ونغاړي او يو ځای کړي : « الاِخْبَـارُ عن حُـكمٍ شَـرعِيٍ عَلى سَـبيلِ الاِلزام بِـكيـفِـيَـةٍ مَـخـصُوصَـة ». ([2])

**ژباړه** : قضاء په الزامي توګه د شرعي حکم له خبر ورکولو څخه عبارت دی چې په ځانګړې طريقې سره وي، يا د متخاصمو تر منځ د هغه فيصلې څخه عبارت دی، چې په اسلامي قانون برابر او په خاصه طريقه وي.

**د تعريف شرح : « الاخبار » ، « حکم شرعي » ، « على سبيل الالزام » ، « بکيفية مخصوصة ».**

**« الاخبار » :** يعنې د شرعي احکامو خَـبر ورکونکی، که د خصوماتو (د جنګ جګړو) د اِخبار قاضي وي، که د حِسبة قاضي وي او همدارنګه که د مظالمو قاضي وی، ځکه دا ټول د شرعي احکامو خبر ورکونکي دي.

**« حکم شرعي » :** په دې شرط سره، هغه ټول وضعي او غير شرعي أحکام بَهَر کيږي.

[1] - قرعانة : ملخص کتاب الأصول القضائية في المرافعات الشرعية (٢٣٠).

[2] - ابن فرحون : برهان الدين أبي الوفاء إبراهيم د الامام شمس الدين أبي عبد الله محمد د فرحون ځوی، تبـصرة الحکام في أصول الأقضية ومناهج الأحکام ، لومړی چاپ: په (١٣٥١هـ) نيټه د چاپ ځای: دار الکتب العلمية لبنان. (١٣/١).

**« على سبيل الالزام »** : په دې شرط سره، فتوا ورکول، مصالحه کول او د عامو خلکو حکم کول بَهَر کېږي.

**« بکیفیة مخصوصة »** : یعنی هغه کړنې را نغاړي چي په قضایاوو کې د قاضي له خوا ترسره کېږي که حکم یا فیصله د کړنې او طرزالعملونو سره سم نه وي، ملزم ندي (پابندې نلري).

**د لغوي تعریف او اصطلاحي تعریف تر منځ اړیکې :** د قضاء د لغوی معنی او اصطلاحي تعریف اړیکي ښکاره او روښانه دي، دا چي قضاء په لغت کې د پرې شوې شي او پائ ته رسیدلی شي په معنی ده، کله چي قاضي ملزم ته په خاصه طریقه د شرعي حکم اخبار ورکوي، نو د جانبیـنو خصومت قطع کیږې او د تحاکم اجراأت پای ته رسیږي او ختمیږي.

## څلورم مطلب : د عرفي قضاء اړوند ټکي او ا صطلاحات

عرفي قضاء ځانته خپل اصطلاحات، مقررات، ضوابط او مفاهیم لري، د بیلگی په توگه :

« نرخ، جرگه، څلی، تیره، پـور، روغه جوړه، مچلگه، بدوپور، ننواتې، پخلا کیدل، ناغه شرم، برمته، بدرگه او مرئه ». ([1])

کومې فیصلې او پرکړې چي په پښتنی مرکو کې منځ ته راځي د قانوني او رسمي ادارو له خوا هم د منلو وړ گرځي او ښه درناوی یې کیږي.

عرفي قضاء ځانته خپل اصطلاحات، مقررات، ضوابط او مفاهیم لري، د بیلگی په توگه :

« جرگه، تیره، بدوپور، سپین، تور، کرښنده، ننواتې، نـه گون، سورلاسئ، بدرگه، روغه جوړه، مچلگه، پخلا کیدل، ناغه شرم، برمته او مرئه ». ([2])

**۱. نــــــرخ :** دقبیلوي حقوقي او جزائي تعاملاتو قانون ته نــــرخ ویل کیږي. نـــرخ یو عام مفهوم افاده کوي چې د هغه په چوکات کې د ټولو جرایمو حدود او د مجـازاتو أنـواع او دودونه مـعلوم دي، نـــرخ د قبیلې قانون دی، او د قبیلې ټول خلک د هغه په منلو مکلف دي، هغه څوک چې له دغه قانون څخه ووزي نو د قبیلې څخه باید ووځي، لکه چې وایې : ( له ښاره ووزه له نـــرخه مه وځـــه.

په پښتو کې دوه مشـهور نـــرخـــونـــه دي : **الف :** د احـمدزیـو نـرخ **ب :** د رزمـک نـرخ.

---

[1] - سناتور عبدالله : څلی او نرخونه په احمدزیو کې، (۲۳) ، مرحوم وکیل او سناتور عبدالله خان د حاجي بهرام زوي، لوگر ولایت دمحمد آغي ولسوالی د سُرخاو کلی کې په (۱۳۰۸- هـ ش) کال زیږیدلی او په (۱۳۵۴ – هـ ش) کال کې وفات شو، د کتاب د چاپ وار (۲)، د چاپ کال (۱۳۹۳) ، مطبعه کمپیوتري دو ستاره د اړیکې شمېره (۰۷۰۰۰۹۸۵۳۵) .

[2] - عبدالجلیل وجدي : د عنعنوی جرگو نن او پرون ، (۴۲) . لومړی چاپ، پېښور پاکستان، د چاپ کال (۱۳۶۵) .

**الف : د احـمدزیــو نــــرخ :** دا نـــرخ د غزني څخه تر لوګر، پکتیا، بامیان، پکتیکا، مـــیدان وردګ، کابــل، تر ننګرهار پوري د رواج ســـاحـــه لــري.

**ب : د رزمــــک نــــرخ :** د رزمک نرخ یواځې په وزیرستان او د هغه په شاوخوا کې رواج لـــري.

دغــه دوه معتبره نرخونه د پښتني قبیلې عـــرفـــي قـــضائـــي په حقوقي او جزائي تعاملاتو کې اوچت ځای لـــــــــري.

**۲. تـــیـره :** په عرفي قضايي مسايلو کې: د «نرخ» یا «بار» په مانا هم استعمالیږي، ځکه د پښتو هر لوی قوم لکه احمدزي، اپریدي، مومند او داسې نور... خپلې خپلې تیرې لري چې ځینې یې درنې او ځینې یې سپکې دي، یعنې ځینو ته «درنه تیره» او ځینو ته «سپکه تیره» وایي، هر قوم خپل ځانګړي دودیز قوانین لري چې د هر قوم جزایي نرخونه او بارونه د ګناه په تناسب فرق کوي. ([1])

**۳. بـــدوپـــور:** پور د لغوي مانا په لحاظ هغه شي ته وایي چې په عاریت اخیستل شوي وي او بېرته ورکول کیږي، لکه قرض او دین ، لیکن د پښتو په حقوقي او جزایي مسایلو کې د «تاوان» معنا ورکوي، او په ځینو نورو مواردو کې همدغه کلمه د «دیت» او د«خونبها» په مانا هم راځي.

**۴. ســپـیـن:** د سفید په مانا دی، لیکن د پښتو په حقوقي او جزایي مسایلو کې د بدن هغو ښکاره برخو ته ویل کیږي چې د جامو څخه وتلې وي، لکه سترګې، پوزه، غوږونه، ژبه، شونډې، لاسونه تر څنګلو پورې، پښې تر ښنګرو پورې، شکاره غاښونه او داسې نور، لکن په ځینو نورو مواردو کې چې د سپین لغت د کوم شخص لپاره په تور والي نه وي ککړ شوی نو «سپین» یې بولي.

**۵. تـــور:** د سپین ضد چې د سیاه په مانا دی، د پښتو په حقوقي مسایلو کې، د زخم په موضوع کې د بدن هغو برخو ته چې په کالو پټ وي «تور» وایي او د اشخاصو په مورد کې هم هغه چې په ګناه کې داخل وي تور یې بولي. هغه ښځې چې د بدنامی داغ وربانديې ولګیږي تورې ګڼل کیږي. ([2])

**۶. کــرښـــنـده Karsanda :** کرښه په پښتو کې خط او لیکې ته وایي دا لغت د همدې لفظ او مانا په مناسبت جوړ شوی دی، په دې کلمه کې د اکراه او جبر معنی پرته ده، مثلاً: هغه څوک چې بې له

---

[1] - عبدالجلیل وجدي : د عنعنوی جرګو نن او پرون ، (۴۲) .

[2] - سناتور عبدالله : څلې او نرخونه په احمدزیو کې، (۲۳) .

رضا او خوشحالی څخه په چا پسې په زوره او جبر سره بېول کېږي، ګویا جابر یې په ځان پسې راکاږي چې په لاره کې ترې په راښکلو سره لیکه جوړېږي، نو په داسې حالت کې وایي په «کرښنده» یې بوتله.

**۷. نـــنـــواتـــې= Nanawate:** دا د پښتو یو خاص لغت دی چې د لویو ګناهونو د عفو غوښتلو د عملې معنی لري، عفوه غوښتونکي او عذر کوونکي د هغه چا کور ته ځي چې غواړي د هغه عذر وکړي او هلته عجز و انکسار ښکاره کوي، دا تګ کله یوازې او کله د یو جمعیت سره وي، چې هر یو یې علیحده اصول لري.

**۸.نـــه ګـــونـــه = Naguna:** د نه چنده په مانا ده او عموماً د حیواناتو، د غلا د تاوان په وخت کې استعمالیږي.

**۹. ســـــور لاسۍ :** کوم وخت چې څو تنه په شریکه سره یو سړی ووژني نو د جزا په وخت کې قاتل او معاون سره بېلېږي، سور لاسی هغه څوک دی چې خپل لاسونه یې د مقتول په وینو سره کړي وي یعنې قتل د ده په لاس سرته رسېدلی وي او حقیقي قاتل وي.

**۱۰. (۹) بـــدرګـــه = Badraga:** هغه کسان چې د قافلې یا یو سړي د جمعیت د ساتنې له پاره مقررېږي چې د خطر له ځایه یې تېر کړي او خپل منزل ته یې ورسوي. (۱) .

## پــنــځــم مطلب : د شرعي قضاء اړوند ټکي

**لومړی : التحکیم** تحکیم په لغت کې ډېرې معناوې لري لکه :

**منع کول :** ( حَکَمْتُ علیه ) یعنی ترې منع مې کړه، د هغه حد او پولې څخه چې ورته ټاکل شوي.

**منځګړتوب :** ( حَکَمْتُ بین القَوم ) یعنې د قوم تر منځ مو منځګړیتوب او فیصله وکړه.

**بل چاته کار سپارل :** (حَکَمتُ الأمرَ أی فَوَضْتُ الأمرَ اِلی الغَیر) یعنی کار مې بل چاته وسپاره (ځان مې ترې خلاص کړ). (۲)

همدارنګه د قضاء، اتقان، حکمت او حلم په معنی هم راغلي دي. (۳)

**دویم : تحکیم په اصطلاح کې** تحکیم په اصطلاح کې له لغوي معنی څخه نه بَهَر کېږي.

**تحکیم :** د مسألې یا قضې سپارل یو یا څو کسانو ته تر څو د متخاصمو او دعوا کونکو تر منځ فیصله وکړي. په دې اړه علماؤو ډېر تعریفونه کړي دي، چې په لاندې ډول د یو څو تعریفونو په لیکلو سره بسنه کوو:

---

۱ - عبدالجلیل وجدي : د عنعنوی جرګو نن او پرون ، (۴۸) .

۲ - ابن منظور : لسان العرب (۱۲ / ۱۴۰).

۳ - نفس المصدر.

**ابن نجیم او ابن عابدین :** « تولیة الخصمین حکماً یحکم بینهما ».(۱)

**ژباړه :** د دوو مخالفینو له خوا د منځګړي ټاکنه، تر څو د دوئ تر منځ فیصله وکړي.

**البــــاز :** « اتخاذ الخصمین آخر حاکماً برضاهما لیفصل في خصومتهما و دعواهما » (۲).

**ژباړه :** د دوو مخالفینو له خوا د خپل اختلاف او دعوا د فیصلې لپاره پخپل رضایت سره منځګړي نیول.

**غوره تعریف :** د علماؤو تعریفونو ته په کتو سره، دا جوتېږي چې ټول تعریفونه په یوه نقطه راڅرخېږي، چې عبارت ده له : « تولیة الخصمین فرداً أو أکثراً حکما لیحکم بینهما » یعنې د دوو مدعیانو له خوا د یو یا ډېرو منځګړو یا مُصلِحینو ټاکل تر څو د دوئ تر منځ فیصله وکړي.

## د تــــعـریـف شـــــرح :

**تــولـــیـة :** د دوو دعوا کونکیو په اتفاق سره د یو کس یا ډېرو مُصلحینو ټاکل دي، ترڅو د را پیښې شخړې فیصله وکړي.

**الـخـصمــین :** د شخړې اړخونو څخه عبارت دي چې منځګړي ټاکي، او اړینه ده چې د منځګړتوب په ټاکنه کې اتفاق ولري، که چېري اتفاق ونلري منځګړتوب ته د حکم صفت نشو ورکولای.

**حــکمـاً :** دا هغه قید دی، چې د حکم شروط په کې داخلېږي، او دا د قاضي له شروطو څخه دي.

**یـحکـــم بیـنهـما :** برابره ده چې دا فیصله په شرعي قضاء سره وشي او یا په عرفي قضاء سره.

## درېـیـم : د شرعي قضاء او تحکیم توپیر:

۱. **د قضاء ټاکنه:** د امام یا د امام نائب پورې اړه لري او د هغه له خوا ټاکل کېږي، پرته له هغه هېڅ څوک د قاضي د ټاکلو حق نلري. (۳)

خو د التحکیم (درېـیـم ګړي) ټاکنه ټاکنه د دعـوا کونکو د دواړو خواوو په رضایت ټـاکل کېږي، امام په هغه ټاکنه کې کومه ونډه او دخالت نلري.

۲. **ټولې قضیې اوریدل:** قاضي حق لري چې د هغې په وړاندې راوړل شوې ټولې قضیې واوري، یعنې له حدودو، جنایاتو او د مالي مسائلو په شمول،خو حکم (درېـیـم ګړي) لپاره د حدودو په برخه کې د مداخلې جواز نشته، د حکم جرګه مار (د درېـیـم ګړي) د حکم صلاحیت محدود دی.

۳. **د قاضي عزل :** د قاضي د عزل صلاحیت امام لري، او د هغه د قضائي منصب د بقاء او استمرار صلاحیت امام پورې اړه لري، خو د حکم د عزل صلاحیت دعواکونکې پورې اړه لري. (٤)

---

۱ - زین الدین د نجیم الحنفي څوی ( تولد ۹۷۰ هـ ) کال، البحر الرائق شرح کنـز الـدقائق، دویم چاپ : د چاپ ځای، دار إحیاء التراث العربـي بیروت – لبنان. (۱۸ / ۲۹). ابن عابدین : رد المحتار علی الدر مختار (۵ / ۴۵۳).

۲ - الباز : شرح المجلة (۱۱۶۳).

۳ - الکاساني : عـلاء الـدین أبـو بکر مسعود الکاساني الحنفـي ( تولد ۵۸۷ هـ ) بـدائع الصنائع في ترتیب الشرائع لومړی چاپ: په ( ۱٤۱۷هـ ) کال، د چاپ ځای: دار الفکر. (۷ / ۵) , بدایة المجتهد لابن رشد (۲ / ۴۶۱).

٤ - الکاساني : بدائع الصنائع (۷ / ۲۲) , مغني المحتاج (۴ - ۴۸۲).

۴. **د حکم نقض :** که چیرې د کوم قاضي حکم بل قاضي ته رفع او وړاندې شي، قاضي د هغه حکم د فسخې حق نلري تر څو د نص یا د اجماع خلاف نه وي، که چېرې د حکمینو له خوا رفع او وړاندې شي، کولای شي هغه لغوه یا لاسلیک کړي، په ځاګړې توګه هغه مسأله چې د اجتهادي أموراتو له جملې څخه وي. (۱)

۵. **ځانګړې ځاي :** قاضي ځانګړې ځای لري، خو حکم ځانګړې ځای پورې اړوند نه وي.

۶. **د منصب درجه یا لوړوالی :** د قضاء رتبه او درجـه له تحکیم څخه لوړه او پـورتـه ده، او د قضاء صلاحیت هم له حکم څه ډیر دی.

۷. **د قاضي یواځې توب :** په یــوه قضیه کې د یوه څخه تر زیاتـو حَکَمانو ټاکل جایز دي، خو په قضاء کې داسی نه دي. (۲)

## څلورم : د عرفي قضاء او تحکیم تر منځ مقارنة :

### اتفاقي وجوهات :

د تحکیم عقد او تړون د خوښی او رضایت عقد دی، او د عرفي قضاء عقد هم همدا رنګه دی.

تحکیم ځانګړې ځای پورې تړاو نه لري، عرفي قضاء هم ځانګړې ځای پورې تړاو نه لري.

د حَکم د ولایت پابنبت د قضیي دحکم تر پایه پوري وي، عرفي قضاء هم همدا رنګه ده.

په تحکیم او عرفي قضاء یعني دواړو کې د حکم مصدر یا شریعت وي یا عرف، یا هم نور قوانین.

عـرفـي قاضي کـیدلی شي حَـکَم شي، او همدارنګه حَکَم کیـدلائ شي عرفي قاضي وي خو د شرطونو سره.

### اختلافي وجوهات :

د حَکم عزل یا لرې کول مدعیانو پورې اړه لري، په داسې حال کې چې په عرفي قضاء کې له حُکم یا د قضې له سرته رسولو وروسته دا حق نه لري. (۳)

ښځینه کیدای شي مُحَکَّمَه مقرره شي، خو عرفي قاضي نشي کېدلای. لنډه دا چې د تحکیم او عرفي قضاء تر منځ اختلافي وجوهات کم او اتفاقي وجوهات یې ډیر دي.

**صـــــــلـــــح :** صلح په لغت کې د فساد ضد او د صلاح، موافقت، ثواب او خیر په معنی ده، یا (صالح للولایة) یعنی د صلح د راوستلو أهل په معنی هم راغلی دی. (۴)

---

۱ - الکاساني : بدائع الصنائع (۷ / ۲۲).

۲ - السرطاوي: التحکیم في الشریعة الإسلامیة صفحه (۱۳).

۳ - السرطاوي: التحکیم في الشریعة الإسلامیة ص (۵۳).

۴ - ابن منظور لسان العرف (۲ / ۵۱۶).

**صـلـح په اصطلاح کې :** علماؤو د صلح په اړه ډېر تعريفونه کړي دي، چې په لاندې ډول د يو څو تعريفو په يادولو بسنه کوو:

صلح هغه عـقد او تړون څـخه عـبارت ده چې شـخړه لـه منځـه وړي. [1]

صلح داسې يوه معاهده او تړون دی، چې د هغې په واسطه مخالفين پخلاينې ته رسېږي. [2]

صلح يو تړون دی د دواړو خواوو په رضايت سره، چې د شخړو د رفع او دفع په خاطر تړاکل شوي. که د دې تعريفونو په اړه لږ څه غَور وکړو دا ټول تعريفونه په يوه معنی او مفهوم را څرخېږي، چې د شخړې له پرې کولو او د عوا د ختمولو څخه عبارت دی.

**د تعريفونو په اړه تبصره :** تعريفونوته په کتنې سره، په ښکاره توگه ليدل کېږي چې د لغوي معنی له مفهوم څخه نه بهر کېږي، چې د نزاع د پرې کولو او د خصومت د لرې کولو څخه عبارت دی.

د صلح (د سولې) عقد د رضايت او خوښې عقد څخه عبارت دی.

د صلح (د سولې) عقد هغه عقد دی، چې د صلح د انعقاد څخه وروسته الزامي کېږي. [3]

د ( عقد )کلمه په تعريف کې دغه لاندې موضوعات افاده کوي.

د صلحِ په تړون کې، هر اړخ حاضر وي او پدې پوهېږي چې کوم شي څخه تېرېږي او تنازل کوي، او د دې په گټه يا تاوان باندې څه پريکړه کيږي.

صلح (سوله) صحيح کېږي په هر هغه شي کې چې د هغه په مقابل کې بدله يا عوض آخستل جائز وي. [4]

صلح د حقوق العبد په اړه کيدای شي، مگر د حقوق الله په اړه مجال نه لري.

**غُـــوره تـعــريـف :** دا تعريف ټول تعريفونه را نغاړي **الـصلح :** « عـــقـدٌ وُضِــعَ لِـرَفْــعِ الـــمُـنازِعَـــــة بِــتــراضٍ » [5].

**ژباړه :** صلح (سوله) عبارت له هغه عقد څخه دی، چې د شخړې له منځه وړلو لپاره په خوښه ترسره کېږي.

---

[1] - ابن نجيم : البحر الرائق (۷ / ۲۷۸).

[2] - ابن قدامة : موفق الدين أبي محمد عبد الله د أحمد د قدامة المقدسي ځوی، ( ت ٦٢٠ هـ ) المغني ، او ورسره ، الشرح الكبير لإبن قدامة المقدسي، دويم چاپ: ( ١٤١٧ هـ ) كال، د چاپ ځای: دار الفكر بيروت - لبنان. (٥ / ٣).

[3] - الكاساني : بدايع الصنائع (٥٣/٦).

[4] - ابن قدامة : المغني (٢٧/٥).

[5] - لفتاوى الهندية (٤ /٢٢٨).

## پنځم : د صلحِ (د سولې) او شرعي قضاء تر منځ توپير:

د صلح (د سولې) تړون د خوښې او رضايت تړون دی، مګر د شرعي قضاء عقد الزامی دی.

په قضاء کې ډېر شرطونه شتون لري، خو مګر په صلح کې داسې شرطونه نشته.

صلح يواځې په حقوق العبد کې ترسره کيدای شي، نه په حقوق الله کې، خو قضاء په دواړو کې کيدائ شي ترسره شي.

صلح د متعاقدينو په ارادې سره نافذ او عملي کېږي، مګر په دې شرط چې د اسلامي شريعت سره مخالف نه وي، **د بيلګې په توګه :** که چېرې د ديت په کموالې او ډېر والي اتفاق وکړي جايز دی، خو په شرعي قضاء کې د کموالي او ډير والي مجال نشته.

د قاضي لپاره جايز دي چې مصلح شي، خو د مصلح لپاره جايز نه دي چې قاضي شي، مګر دا چې د قضاء شرطونه په کښې شتون ولري او قضاء د امام لخوا ورته ورسپارل شي.

## څلورم : د صلحِ (د سولې) او عرفي قضاء تر منځ مقارنه

د سولې عقد او تړون د خوښی او رضايت تړون دی، همدا رنګه عرفي قضاء هم د رضايت تړون دی.

په هر هغه اموراتو کې چې بدله يا تاوان اخيستل جايز وي، صلح  سمه او جايز ده، همدارنګه په هر هغه څه کې چې د هغه بدله يا عوض اخيستل جايز وي، عرفی قضاء هم جايز ده.

د صلح عقد د پخلاينې او صلح وروسته پابند او لازمي ګرځي، عرفي قضاء هم د ضمانت په صورت کې پر مدعيانو باندې لازمي ګرځي. ([1])

دصلح  په تړون کې، دواړه خواوي حاضر وي او په دې پوهېږي چې کوم شي څخه تېرېږي او تنازل کوي، او د دې په ګټه يا تاوان باندې څه پريکړه کېږي، نو په عرفي قضاء کې هم د حکم د صادرلو څخه مخکې هم همداسې ده.

**اختلافي محل :** صلح د بندګانو په حقوقو کې وي، د الله متعال په حقوقو کې د هغه لپاره ځای نشته، مګر عرفي قضاء کې په ټولو حقوقو کې کيدای شي.

**الـحِـسْـبَـة :** حِسبة په لغت کې (طلب الأجر) أجر غوښتل دي، لکه چې وايي : (حِسبَةً أی أجراً)، والاحتِسابُ يعنی طلب الأجرِ من الله تعالی. ([2])

**حِسبة په اصطلاح کې :** فقهاؤو د حِسبة په اړه ډېر تعريفونه کړي دي، چې په لاندې ډول د يو څو تعريفونو  په ذِکر کولو بسنه کوو :

---

[1] - الکاساني : بدائع الصنائع (٦ / ٥٣).

[2] - ابن منظور : لسان العرب (١ / ٣١٠).

**حسبه :** عبارت له امر بالمعروف څخه ده، کله چې ترک يې ښکاره شي، او همدارنګه الـنهی عن المنکر څخه دی، کله چې سرته رسول يې ښکاره شي. ([1])

**حسبه :** عبارت له امر بالمعروف څخه دی، کله چې ترک يې ښکاره شي، او همدارنګه النهی عن المنکر څخه دی، کله چې سرته رسول يې ښکاره شي، او د خلکو تر منځ اصلاح راوستل دي.

**حسبه :** د الله متعال په حق کې له منکراتو څخه منع کول دي، او د ممنوع او منکراتو له نږديوالي څخه ساتـنه ده. ([2])

که د دې ليکل شوي تعريفونو په اړه لږ څه غَور وکړو، دا ټول تعريفونه په يوه معنی او مفهوم را څرخېږي، چې هغه أمر بالمعروف او نهي عن المنکر څخه عبارت دی.

**غــوره تـعــريــف : الـحِسـبة : « هی الأمر بالمعروف، اذا ظهر ترکه، و نهي عن المنکر اذا ظهر فعله ».**

**ژباړه :** عبارت له امر بالمعروف څخه دی، کله چې ترک يې ښکاره شي، او همدارنګه الـنهی عن المنکر څخه دی، کله چې سرته رسول يې ښکاره شي. په دې تعريف کې ډير کارونه رانغښتې او شامل دي.

## دريـيـم : د حِسـبه اړيکه له شرعي قضاء سره :

حِسبه د قضاء له ډولونو څخه يو ډَول قضاء ده، مُحتَسِب هغه قاضي ته ويل کېږي چې د خلکو هغه عامه قضاياوو څېړنه او رسېدنه کوي چې په هغه کې مدعي شتون نه لري، او همدارنګه حدود او جنايات پکښې شامل نه وي، د دوئ تر منځ له اتفاق او اختلاف څخه پرته جرمونه او جزاګانې شاملې نه وي. ([3])

په دې ځای کې د اتفاق محل او ځای هم شتون لري او د اختلاف هم چې په لاندې توګه بيانېږي :

**اتفاق وجوهات :** دلته محتسب داسې قضاياؤو سره مخ کېږي چې ادعا په کښې جايزوي، خو مګر د انکار څخه خالي، او د قاضي مخې ته هم همداسې قضاياء پېښيږي.

هغه قضاياء چې په تله او پيمانې کې دکموالې او نقصان پورې اړه لري.

هغه مسايل چې د پېر او پلور يا د ثمن (پيسو) په درغلی، تقلب او عيب پورې اړه لري.

کوم قرضونه چې د ورکړې وړتيا سره سره د بندولو يا ځنډولو پورې اړه لري. ([4])

**اختلاف وجوهات :**

قاضي حق لري هغه ټولې قضې و څېړي چې د تېرو دريو قضيو له دايرې څخه بهر وي.

---

[1] - الماوردي : أبي الحسن على د محمد د حبيب الماوردي ځوی ( ت ٤٥٠ هـ ) کال ، الأحکام السلطانية لومړی چاپ: په (١٤٢٢هـ - ٢٠٠٢ م) کال د چاپ ځای: دار الفکر لطباعـة والنـشر والتوزيـع بيروت – لبنان. (٢٤٠).

[2] - الغزالي : احياء علوم الدين : محمـد بـن أجمـد أبـي حامـد الغزالــي (ت ٥٠٥ هـ )، دويم چاپ، په (١٤٢٨هـ - ٢٠٠٧م) کال، د چاپ ځای: دار الـــسلام للطباعـــة والنشر والتوزيع والترجمة. (٢ / ٣٢٧).

[3] - الماوردي : الاحکام السلطانية (٣٤١).

[4] - زيدان : عبـد الكـريم زيـدان ، نظـام القـضاء فـي الإسـلام ، دويم چاپ، په (٢٠٠٠م) د چاپ ځای: مؤسسة الرسالة ، بيروت – لبنان. (٢٧٠).

محتسب په هغه درې مسائلو کې چې وړاندې ذکر شو مداخله کولای شي، خو په دې شرط چې حقوق معترف بها وي (په حق او حقوق باندې اقرار وکړي)، او که انکار په کښې پیدا شو، نو بیا یواځې د قاضي لخوا آورېدل کېږي او څېړل کېږي.

قاضي د ټولو قضیو د څیړلو حق نه لري، مګر هغه قضې چې هغه ته راجع شوې وي، خو د محتسب لپار پرته له وړاندیزه أمر بالمعروف او نهی عن المنکر جایز دی، او د هغو مسائلو اورېدل او څېړل جائز دي چې د قاضي په دنده کې شامل نه وي. ([1])

**څلورم : د حِســبه اړیکه له عرفی قضاء سره** په ټولنه کې د شرعې قضاء د نشتوالي، او د خلکو تر منځ د فساد، جنګ جګړه او دعواګاني د خپریدو د مخنوي په خاطر، اړینه ده چې د شخړو د ختمولو په خاطر د شته وسایلو او ممکنو لارو چارو څخه کار واخستل شي.

په دې موضوع کې هم د اتفاق او هم د اختلاف محل او ځای شتون لري :

**داتفاق محل :**

شوني ده چې عرفي قاضي د اصلاح لپاره لاس په کار شي، لکه څنګه چې الله متعال فرمائي :

(لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا). ([2])

**ژباړه :** هېڅ خیر نشته د هغوی په ډیرو پټو مشورو کې،خو یواځې د هغه چا (په پټو خبرو کې خیر شته) چې أمرکوي په صدقه کولو یا نیکي کولو په اصلاح (روغه جوړه) د خلکو تر منځ او څوک چې دا وړ کار د الله د رضاء لپاره وکړي، نو مو نږ به ژر ورکړو ده ته اجر او ثواب ډیر.

**رسول الله ﷺ داسې فرمايي: «لَيْسَ بِكَذَّابٍ من أصلح بَين اثْنَيْنِ فَقَالَ خيرا أَو نمى خيرا»([3]).**

**ژباړه :** دروغجن نه دی هغه کس چې د خلکو تر منځ د سولې راوستلو په خاطر (مصلحتاً دروغ ووایې)، د خیر خبري کوي او خیر ته وده ورکوي.

**د اختلاف محل :**

د محتسب دنده داده چې خلک له منکراتو څخه منع کړي، مګر دا د عرفي قاضي دنده نده.

د محتسب متطوع (رضاکار) لپاره نه ښائي چې د خپلې کړنې په بدل کې حق الزحمة واخلي، که چیرې د دولت لخوا مؤظف شوی وي آخستلای یې شي، مګر عرفي قاضي کولاي شي چې د خپلې کړنې په بدل کې حق الزحمة واخلي.

---

[1] - الماوردي : الاحكام السلطانية (٣٤١).

[2] - سورة : النساء (١١٤).

[3] - مُتفق عليه : من حديث أم كلثوم بنت عقبة بن أبي معيط.

د حِسبة د قضاياؤو ځايونه معلوم دي، خو د عرفي قضاء مجال او ځای ستر او فراخه دی، د بيلګې په توګه : قاضي د خلکو تر منځ هم اصلاح راوستلی شي او هم حکم کولائ شي.
د محتسب شروط د عرفي قاضي له شرطونو سره توپير لري . (1)

## دويم مبحث : د شرعي قضاء او عرفي قضاء حکم

يو مسلمان د خپل ژوند په ډګر کې چې په کومه مسأله او قضيه باندې عمل کول غواړي، نو دهغه مسألې د مشروعيت او نه مشروعيت حکم پر بنسټ عمل کوي، نو بناءً اړينه ده چې د شرعي او عرفي قضا د مشروعيت او نه مشروعيت څرګندونه وشي، له همدي وجهې نوموړموضوع به په لاندې دوه مطلبونو کې وڅېړل شي.

### لومړی مطلب : د شرعي قضاء حکم

قضاء دوه ډَوله حکم لري : ۱- د قضاء حکم د امام په اړه ، ۲- د قضاء حکم د أفرادو په اړه.

**لومړی : د قضاء حکم د امام په اړه** علماؤو پر دې خبره اتفاق کړی چې قضاء پر امام باندې فرض عين ده، ځکه چې قضاء د عامه ولايت څخه ده، نو ځکه پرې عيني واجب ده چې دي عمل ته پخپله لاس پکار شي او يا خپل نائب وټاکي. (2)

**دويم : د قضاء حکم د أفرادو په اړه** قضاء د أمت په اړه فرض کفايي ده، که چېرې ځيني خلک قضاء ته لاس په کار شي، د نورو خلکو غاړه پرې خلاصيږي. (3)

أما قضاء ته د ننوتلو حکم او د أفرادو لخوا د قضاء د طلب او غوښتنې حکم، د هغو کسانو د شرايطو سره توپير لري چې دوی ته معروض (وړاندي) کېږي.

**۱. : د علماؤو تر منځ اتفاقي ځايونه**

که چېرې د قضاء أهليت او صلاحيت يو کس پورې محدود وي، او وړانديز ورته وشي د هغه منل پرې واجب دي، او د امام له خوا جبراً بايد پرې ومنل شي. (4)

د قضاء چوکاټ ته ننوتل او د قضاء منصب غوښتل حرام دي، د هغه کس لپاره چې أهليت او صلاحيت يې نه لري، ځکه د قضاء لپاره ډير شرطونه شتون لري، که چېرې دغه شرطونه پوره کړي نو قضاء او

---

(1) - الماوردي : الأحكام السلطانية ، شروط المحتسب ، ص (٢٤١).

(2) - الكاساني : بدائع الصنائع (٧ / ٣).

(3) - ابن قدامه : المغني (١١ / ٣٧٧).

(4) - الكاساني : بدائع الصنائع (٧ / ٥).

همدارنګه د قضاء طلب او غوښتنه ورته جایز ده، او د دې شرطونو د شتون څخه پرته ګمارل یې د امام لپاره حرام دي.

او همدارنګه علماؤو پر دې موضوع اتفاق کړی، چې د قضاء سپارل یا د قضاء غوښتل حرام دي، د هغه چا لپاره چې د هغې د سپارلو او غوښتلو تر شا کوم شوم هدف او حرام کار لکه : تکبر او وقار تر لاسه کول شتون ولري. [1]

## ۲. : د علماؤو تر منځ اختلافي ځایونه

د قضاء طلب د هغه کس لپاره چې قضاء پرې لازمي وګرځي او د قضاء له شرایطو سره برابر وي جمهور علماء وایي چې قضاء په داسې حالت کې فرض عین ده، او واجب دي چې قبول یې کړي، د لاندي ذکر شوي آیت شریف په دلیل : « قَالَ اجْعَلْنِي عَلَى خَزَائِنِ الْأَرْضِ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ ». [2]

**ژباړه :** (یوسف علیه السلام) وویل د هیواد خزانې ما ته راوسپاره، زه ښه ساتونکی او پوه یم.

**د حنابله وو مذهب :** حنابله وایي چې د قضاء غوښتنه په هېڅ صورت کې واجب نه ده، که څېرې د قضاء أهلية په یو کس کې هم منحصر شوی وي. [3]

## د نفقې د حصول لپاره د قضاء طلب:

**د احنافو مذهب :** احناف وایې چې د قضاء د منصب څخه امتناع (مخ اړول) بِهتره او اولی دي تر منلو او قبلولو څخه په هغه حالت کې چې تعین او وګمارل شي، پرته له داسې حالاتو څخه، د قضاء طلب او غوښتنه مکروه دي. [4]

**د مالکیانو مذهب:** ځینې وایې د قضاء طلب مباح دي هغه چا لپاره چې فقیر وي او کورنۍ ئې هم ګڼه وي. ځینې وایې چې په داسې حالاتو کې مستحب ده. او پرته له داسې حالاتو مکروه دي. [5]

**د شوافعو مذهب :** د قضاء طلب مندوب دي د هغه چا لپاره چې طلب کونکی یي روزي او نفقې ته محتاج وي. او د غني لپاره مکروه دي. [6]

---

[1] - الکاساني : بدائع الصنائع (۷ / ۵).

[2] - سورة الیوسف : (۵۵).

[3] - ابن قدامة : المغني(۱۱/۳۷۷).

[4] - ابن همام : کمال الدین محمد د عبد الواحد السیواسي ثـم الإسکندري، معروف په ابن همام الحنفـي (تولد ۶۸۱هـ) شرح فـتح القـدیر علـی الهدایـة شـرح بدایـة المبتـدئ، (۴ / ۴۵۸).

[5] - ابن فرحون : برهان الدین أبي الوفاء إبراهیم د الامام شمس الدین أبي عبد الله محمد د فرحون ځوی، تبـصرة الحکام في أصول الأقضیة ومناهج الأحکام ، لومړی چاپ: په (۱۳۵۱هـ) نېټه د چاپ ځای: دار الکتب العلمیة لبنان. (۱ / ۱۹).

[6] - مغني المحتاج : (۴ / ۴۷۳).

**د حنابله وو مذهب :** دوی وايي چې د قضاء طلب مطلق مکروه دی، اګر که د مُنکَر له منځه وړلو لپاره هم وي. (١)

## د عِلم د شهرت په خاطر د قضاء غوښتنه:

**د احنافو او حنابله وو ليد لوری :** احناف او حنابله په دې عقيده دي، چې د قضاء طلب پرته له هغه حالاتو چې قضاوت لازم وي مکروه دي. (٢)

**د مالکيانو او شافعيانو ليد لوری :** د قضاء طلب په داسې حالت کې مندوب دي. (٣)

## د وياړ، وقار او شهرت لپاره د قضاء غوښتنه:

**د جمهورو علماؤو ليد لوری :** د قضاء غوښتنه د وياړ، وقار، شهرت او غرور لپاره مکروه دي. »

**ځينې مالکيان او شافعيان :** وايي چې حرام دي. (٤) لکه چې الله متعال فرمايي :

« تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ » (٥)

**ژباړه :** دغه د آخرت کور (چې جنت دی) د هغه چا لپاره ټاکو (هغه چاته ورکوو) چې په ځمکه کې نه لويي غواړي او نه فساد کوي، او آخرنی برئ د متقيانو په برخه ده.

## د مال په لګښت سره د قضاء غوښتنه:

**د جمهور علماوو نظر :** د قضاء د غوښتنې په اړه، مال ورکول او مال آخيستل مطلق حرام دي. (٦)

**عن ابن عمر رضي الله تعالى عنهما، أنه قال : لعنةُ اللهِ على الرّاشِي والمُرْتَشِي. (٧)**

**ژباړه :** د ابن عمر رضي الله تعالى عنهما څخه روايت دی، هغه وايي چې : رسول الله صلى الله عليه و سلم لعنت ويلی دي پر هغه کسانو چې رشوت ورکوي او رشوت اخلي.

---

١ - المغني لابن القدامة (١١ / ٣٧٧).

٢ - الكاساني : بدائع الصنائع (٧ / ٥).

٣ - مغني المحتاج : مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج : شرح الشيخ شمس الدين محمد د أحمد الخطيب الشربيني ځوي ، (ت٩٧٧هـ)، د چاپ ځای : دار إحياء التراث العربي، بيروت- لبنان. (٤ / ٤٧٣).

٤ - مغني المحتاج : (٤ / ٤٧٣).

٥ - سورة : القصص : (٨٣).

٦ - الكاساني : بدائع الصنائع (٧ / ٥).

٧ - رواه أبو داود : أبو داود سليمان د الأشعث السجستاني ځوی، (٢٧٥هـ) سنن أبي داود لومړی چاپ، په (١٤١٧هـ ) كال، چاپ ځای: مكتبة المعارف للنشر والتوزيع – الرياض، (المحدث : البغوي) المصدر: شرح السنة، الصفحة أو شمېره : (٣٣٠/٥ )، د محدث لنډ حکم : حسن دی، تخريج کړی دی: أبو داود (٣٥٨٠) او الترمذي (١٣٣٧).

➢ **ځينې شافعيانو :** ځينې شافعيانو د باذل او مبذول له (د رشوت قبلونكى)تر منځ توپير كړى، يعني رشوت د رشوت اخستونكي لپاره په هر حالت كې حرام دى او هغه ملعون دى، خو د باذل يا وركونكي په اړه، حالاتو ته بايد وكتل شي، كه چيرې قضاء پر هغه باندي فرض عين وي او يا مندوب وي، نو د مال بذل او خرچ كول هغه ته جايز دي. (1)

## دويــــم مـطـلـــب : د عــــرفـــــي قـــــضاء حـــــكـم

په عرفي قضاء كې د شرعي حكم د وضاحت لپاره څو ملحوظات ( يادښتونه ) شتون لري چې بايد په پام كې ونيول شي :

**لومړى خبره :** العرف (دود).

**دويـــمه خبره :** أثر اختلاف الدارين في الاحكام (د وطن د توپير أثر په أحكامو كې ).

**دريـــمه خبره :** الاكراه ( جبر او زور ).

مونږ هڅه كوو تر څو د دې ملاحظاتو او يادښتونو د وضاحت پر بناء، أغيز يې په عرفي قضاء باندې وښـيـيو.

**لومړى خبره : العرف (دود)** د عرفي قضاء حكم، دا ښكاره خبره ده چې علماوو د عرف (دود) په حجييت كې اختلاف لري.ځينې علماء، عرف د احكامو د ثُبوت دليل گڼـي، او ځينې علماء دا مَرتَبه او اعتبار نه وركوي، هغه ډله چې عرفي قضاء قبلوي، د هغو كسانو په قول باندې استناد كوي چې د عرف په حجييت باندې حكم كوي، او هغه ډله چې عرفي قضاء نه قبلوي، د هغو كسانو په قول باندې استدلال كوي چې د عرف په حجييت باندې حكم نه كوي نو څكه هره ډله ځانته ځانگړي دليلونه لري چې په لاندې ډول بيانېږي :

**لومړى مذهب : جمهور علماء** جمهور علماء د صحيح عرف حجيت ته اعتبار وركوي يعني د استدلال په توگه يى مني، خو په دې شرط چې د شرعي قواعدو سره مخالف نه وي. (2)

هر هغه څه چې د خلكو تر منځ عرف او رواج گرځيدلى وي، د شرعي دلايلو مخالف نه وي، عامه مصلحت له لاسه نه وركوي، مَفْسَدَه نه جلبوي، واجب نه باطلوي او حرام نه حلالوي، نو پر هغه باندې عمل واجب دى.

---

1 - مغني المحتاج : (4 / 474).

2 - ابن نجيم : الأشباه والنظائر (93).

**دويـــم مذهب : ابن حزم** ابن حزم يي حجت نه بولي هغه د قياس د بطلان په اړه داسې وايي : « هيڅوک نه پوهېږي پرته له هغه څه چې: اللهﷻ په يو متن کې بيان کړي او هغه پيژندل شوي دي، او کوم عرف چې د خلکو تر منځ شتون لري د هغه لپاره نه حکم شته نه کومه معنی، او کوم عرف چې د خلکو تر منځ پيدا شوی، د بی عدالتی او ظلم څخه پرته بل څه نشته ». ([1])

د جمهورو له تګلارې څخه دا معلوميږي چې عرف ته اعتبار ورکول ځانته په لاندې ډول شرطونه لري :

١. **له شرعي نص سره مخالف نه وي :** عرف د شريعت مخالف نه وي، که چېرې د عرف په عمل سره، په شرعي نص کې او يا په قطعي أصل کې تعطيل او معطلي راتلله، نو بايد په عرف باندې عمل ونشي. ([2])

٢. **عرف د عمل رامنځته کېدلو پر مهال بايد شتون ولري :** کله چې عمل رامنځته کيږي، دغه عرف بايد د خلکو تر منځ معمول او جاري وي، په همدې توګه مخکنی عرف د نوي عرف په رامنځته کېدلو سره چې جاري وي او تکراريږي متغير کېږي او بدليږي.

٣. **دا چې عرف ثابت، مکرر او غالب (اکثريت) وي :** دا چې په عرف باندې عمل کول په ډېرې پېښو کې جاري، مشهور او روان وي. او که اَحياناً په کومه معامله کې تخلف شتون ولري، پروا نشته. ([3])

۴. **عرف د تصريح سره معارض او مخالف نه وي :** خو دا عمل پرته له معاملاتو په بل ځای کې نه تصور کېږي او نه ليدل کېږي، د دې په خاطر چې فقهي قاعده ده « المعروف عرفاً کالمشروط شرطاً ».

**ژباړه :** کوم شئ چې په عرف کې معروف او مشهور وي داسې ده لکه چې په شرط باندي مشروط شوی وی (په الفاظوېې مشروط کړی وي). که چېرې دوه متعاقدين په خپلو کې د عرف خلاف کوم عقد يې وکړ، نو بيا په عرف باندې عمل نکېږې.

او په دې هکله امام العز بن عبدالسلام وايي : «کل ما ثبت فی العرف اذا صرح المتعاقدان بخلافه بما يوافق مقصود العقد صح ». ([4])

**ژباړه :** هر هغه شی چې په عرف کې ثابت وي او متعاقدان د هغه عرف پر خلاف عقد وکړي نو عقد يي سمه ده.

---

[1] - ابن حزم : الاحکام في أصول الاحکام : أبـو محمد علي د أحمد د سـعيد د حزم الأندلـسي القرطبـي الظـاهري ځوی، (ت٤٥٦هـ) کال الإحکـام فـي أصـول الأحکـام، تحقيـق اوتعليـق د محمـود حامد عثمان له خوا، لومړی چاپ: په ( ١٤١٩ هـ ) کال د چاپ ځای: دار الحديث. (٧ / ١٢٣٤).

[2] - ابن نجيم : الأشباه و النظائر حنفي (٩٥). الزرقاء : المدخل الفقهى العام (٢ / ٨٨٠).

[3] - الزرقاء : أحمد د الـشيخ محمد الزرقـا ځوی، شرح القواعد لومړی چاپ، دويم چاپ: په ، ( ١٤٠٩ هـ ) کال، د چاپ ځای: دار القلم – دمشق. صفحه: (٢٣٣).

[4] - العز بن عبد السلام : قواعد الأحکام (٢/١٥٨).

٥. **دا چې عرف مُلْزَم وي (پابندي ولري) :** يعني د خلكو په نظر، مقتضى الحال سره په عرف باندي عمل حتمي وي.

**غوره رايه :** غوره خبره هغه ده چې جمهورو پرې تگ كړى دى.

**امام ابن العابدين وايي :** هغه مفتي چې په عرف باندې فتوى وركوي، بايد د زماني په اړه پوهه ولري، د اوسيدونكي له حالاتو خبر وي، د عرف له خاص او عام څخه خبر وي، د نص سره له مخالفته پوه وي، د ماهر استاد لاس لاندې تربيه شوى وي، يوازې د مسايلو په حفظ او يادولو دې بسنه نه كوي بلكه د مسايلو تحليل بايد وكولاى شي، ځكه چې د يو مجتهد پوهه د خلكو په عاداتو ضروري او حتمي ده. (١)

## دويـــمه خبره : أثر اختلاف الدارين في الأحكام : (د وطن د توپير أثر په أحكامو كې )

فقهاء د احكامو په اختلاف كې، د أثر په اړه په دوو ډلو ويشل شوي دي :

**لومړۍ ډله : د أحنافو مذهب :** د امام أبو حنيفه رحمه الله تعالى پيروان د اختلاف الدار او د هغه أغيز په ډېرو أحكاماتو كې ويني، لكه :

جواز الصرف (د پيسو بدلول د زيادت سره).

الأجل في دار الحرب، (د پور معامله په دار حرب كې).

منع العقوبات فيها، (د جزاگانو نه اجراء كېدل). (٢)

**دويمه ډله :** دويمه ډله وايي چې د دارالحرب او دارالاسلام تر منځ په أحكامو كې هيڅ ډول توپير نه شته، د دې په چې په أدله وو كې د مكان تخصيص نشته بلكه عام راغلي دي، او عام په خپل عموم كې باقي دي.

**د خلاف ثمره او د عرفي قضاء سره يي اړيكه :** د اختلاف ثمره په هغو أحكامو كې چې له شريعت سره په ټكر كې دي، دا څرگنده ده چې په دارالحرب كې معامله روا ده او كه نه ؟

د أحنافو په نزد متعامل (معامله كونكى) مأخوذ نه دى يعني نه مجازات كيږي نه قضاءً او نه ديانـةً، او ځيني اعمال غير مأخوذ فيها دي چې عامل پرې نه نيول كېږي، لكه : (صرف مع التفاضل) او جمهور ددې رايې خلاف دي.(٣)

كه چېرې عرفي قاضي په دارالحرب كې كومه مسأله د شريعت خلاف حل او فصل كړه، د أحنافو په نزد مؤاخذ (مجرم) ندى، او جمهور علماء د دې خلاف دي.

---

١ - ابن عابدين : رسايل ابن عابدين (٢ / ١٢٧).

٢ - الكاساني : بدائع الصنائع (١٣١/٧).

٣ - الكاساني : بدائع الصنائع (٧ / ١٣١).

**غوره نظريه :** هغه څه چې مونږ يي غوره کوو، د دلايلو د عموميت له أمله، د جمهورو رأيه ده، لکه څنګه چې الله متعال فرمائي :

«....... وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ »، (۴۴) «....... وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ »، (۴۵) «........ وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ » (۴۷). (۱)

**ژباړه :** او هر چا چې په نازلي شوي وحئ پريکړه ونکړه نو همغوي کافران دي. او هر چا چې په نازلو کړو شوو اصولو پريکړه نه وي کړی نو همغوي ظالمان دي. او هرچا چې د الله په نازل کړو اصولو پريکړه نه وي کړی نو همغوي فاسقان دي.

دغه دلايل عام دي تخصيص په کښې نه دی راغلی نو ځکه په خپل عموم پاتې کيږي.خو مګر لاندې ليکل شوي څو شيانو ته بايد پام وکړو :

د اختصاص مرجع ته په کتنې سره، چې أحکام ورسره تړاو لري. مثلاً : د حدود او قصاص اقامه او تنفيذ امام يا د هغې نائب پورې تړاو لرې. (۲)، ځينې أحکام ټولنې سره تړاو لري، لکه : د جمعې لمونځ، ځينې أحکام فرد پورې تړاو لري، لکه : روژه. نو ځکه هيچاته اجازه نه ورکول کيږي چې له خپلو حدودو تير شي، هيڅ يو فرد يا ټولنې ته اجازه نشته چې د ارتداد يا زنا د حد په عملي کولو لاس په کار شي، ځکه چې دغه موضوع امام يا د هغي نائب پوري اړه لري.

د حکم دائره کې، قضاء، منځګړتوب او صلح شامل دي، او د دوی تر منځ توپير بايد په پام کې ونيول شي، نو ځکه د شرعي قاضي رول په غاړه آخيستل روا نه دي، ځکه چې د قاضي تسلط په امام پورې تړلی دی او د هغه د قول أثر او أغيز د امام له واک څخه دي  نو د عرفي قاضيانو دائره د منځګړتوب او مصالحي حلقه او دائره ده.

د فقهاؤو تر منځ د نظرياتو اختلاف له قديمه شتون درلود، يعنی له هغه وخته چې مسلمانانو يو دولت او يو امام درلود، مګر پس له دې چې اسلام او شريعت غَيب شول، خو د اسلامي دولت له ړنګيدلو او د شريعت له کم رنګه کيدلو او د کفارو له خوا د ځينو اسلامي هېوادونو تر اشغال وروسته دا حالت استثـنايي شو. اوس مونږ اړتيا لرو تر څو د دې استثـنايي حالت سره معامله وکړو،ځينو علماؤو د داسې حالاتو يادونه کړې او هم يې د علاج لاره ښودلې، لکه چې فرمايي : که چيرې نه کوم سلطان شتون ولري او نه هغه څوک چې تقليد تري جواز ولري، لکه څنګه چې د مسلمانانو په ځينو ښارونو کې چې کفار واکمني لري، نو پر مسلمانانو باندې لازمه ده چې پر يو کس باندې اتفاق وکړي، او هغه دې والي وګرځوي

۱ - سورة المائده : (۴۴ – ۴۵ - ۴۷).

۲ - القرطبي : أبو عبد االله محمد د أحمـد الأنـصاري القرطبـي ځوی، الجـامع لأحکـام القـرآن د چاپ ځای: دار الشعب – القاهرة الشعب – القاهرة. (۲ / ۲۴۵).

تر څو د خلکو تر منځ قضاوت وکړي، که چېرې دا کار نشي کولای، نو باید یو منځګړی وګماري تر څو د خلکو تر منځ منځګړتوب وکړي. (۱)

## درېیمه خبره : الأكراه ( جبر او زور ) :

**اکراه په لغت کې :** اکراه د رضاء او محبت ضد ته ویل کېږي او د أهلیت له عوارضو څخه بلل کېږي. اکراه عربي کلمه ده، د (کَرَهَ) یعنی کرکې د فعل څخه آخستل شوي، د هر هغه عمل سرته رسولو لپاره چې یو سړی د بل چا لخوا په زوره اړ کړی شي اکراه بلل کېږي، (أَقْهَرُکَ علیه) یعنی تاسو مجبورم هغې ته، او (کُرهَ) عبارت له مشقت څخه دی، لکه چې وایې : (قُمتُ علی کرْهٍ) یعني په مشقت او تکلیف سره لاس پکار شوم.

**د « الکَرهَ » او « الکُرهَ » تر منځ توپیر :** کَرهَ د ناچارۍ فعل دی، او کُرهَ فعل مختار یا غوره شوی عمل دی. (۲)

**اِکــراه پــه اصطلاح کې :** اکراه ګڼ تعریفونه لري چې مرکزي ټکی یې جبر او اجبار دی، او ټول تعریفونه پر همدې مرکزي ټکي پورې راڅرخېږي، یعنی په یو کس باند یو عمل یا قول په زوره سرته رسول، په داسې حال کې چې هیڅ رنګه جزئی یا کلي رضایت او اختیار ونه لري. (۳)

۱. (هُوَ حَمْلُ اِنْسَانٍ عَلَی عَمَلٍ او ترک بغیر رضاه، و لو تُرک بدون اکراه لما قام به ). (٤)

**ژباړه :** اکراه، په یو کس باندې جبراً د یو عمل سرته رسول یا جبراً د یو عمل د سرته رسولو څخه منع کول دي، پرته د ده له خوښې او رضایت څخه، یعني که چېري هغه کس خپل رضایت ته پرېښودلی شي، نو دا عمل هیڅکله نه ترسره کوي

۲. اسم لفعل یفعله المرء بغیره، فینتفي به رضاه، او یفسد به اختیاره. (٥)

**ژباړه :** اکراه د داسې یو فعل نوم دی چې یو کس ئې سرته رسوي د بلچا لپاره، چې رضاء ئې نفی کېږي او اختیار ئې فاسدیږي. د ټولو تعریفونو مفهوم یو دی، سره له دې چې الفاظو کې توپیر لري، یعني د یو کس مجبورل دي د یو معیّن او معلوم عمل یا قول په سرته رسولو سره، په داسې حال کې چې مُکرَه نه راضي وي او نه هم اختیار لري.

---

۱ - ابن العابدین : محمد أمین چې په ابن عابدین مشهور دی> حاشیة رد المحتار علی الدر المختار شرح تنویر الأبصار، دویم چاپ : په ( ۱۳۸٦هـ ) نېټه د چاپ ځای: مطبعة مصطفی البابي الحلبي وأولاده بمصر. (۵ / ۳۹۰).

۲ - ابن منظور : لسان العرب (۱۲ / ۸۰).

۳ - ابن حجر العسقلاني : فتح الباري، ابو الفضل أحمد د علی بن حجر العسقلاني الشافعي څوی د زېږني کال، (۸۵۲ هـ). د چاپ ځای، دار الکتب العلمیة بیروت لبنان. (۱۲ / ٤٤۱).

٤ - ابن عابدین : رد المحتار (٦ / ۱۲۸).

٥ - السرخسي : شمس الدین السرخسي ، المبسوط ، دوزم چاپ، د چاپ ځای: دار المعرفة – لبنان - (۳۸/۲٤).

**علماوو د اکراه لپاره ځيني شرطونه ذکر کړي دي :**

دا چې د هغه له دفاع او تېښتي څخه عاجز وي.

دا چې د أخطار ورکونکې له خوا مطمئن وي، چي د مخالفت په وجه خپل ناشوني عمل ترسره کوي.

دا چي مُکرَه د همدي عمل قصد او اراده ونلري مگر په اکراه سره.

**د مکرَه بِـهِ شرط** : دا چې د وهلو او ضرر رسولو وسايل او اسباب موجود وي.

**د مکرَه عليه شرط** : دا چي مُکرَه ئي مستحق نوي، دا چې د ده د تعذيب او تهديد د خلاصون سبب ونگرځي.

**د اکراه مجال او تأثير** : د اکراه أثر او مجال يواځي د جوارحو (اندامونو) أفعالو پوره اړه لري، نه قلبي أفعالو پوري.

**د عـرفـي قـضاء اړيکې يا تړاو له اِکراه سره :** د عرفي قضاء د أحکامو ناظر او ليدونکی، دلته داسې احکام مومي چې د شرعي أحکامو سره موافق دي، چې په هغه کې د اکراه لپاره مجال نشته، بلکه واجب دي چي جبر پرې وشي، لکه څنگه چي الله متعال فرمائي :

« وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا ». [1]

**ژباړه :** کله الله او رسول الله د کوم کار په هکله پرېکړه وکړي نو بيا هيڅ مؤمن سړي او مؤمنه ښځه حق نه لري چې د خپل همغه کار په هکله اختيارمن واوسي او هرچا چې له الله او رسول څخه يې سر وغړاو يقيناً چې گمراه شو په څرگنده گمراهی سره (ښکاره لاره يې ورکه کړه).

**د عــــرفـــي قـــضـاء پــــه اړه شــــرعـــي حـــکـم :** د عرفي قضاء پيروان او د پښتنو له جرگه مارانو څخه يو کس د ( سناتور عبدالله احمدزی ) داسی وايې: د پښتنو نرخونو او قوانينو څخه داسې ښکاری چي د شريعت له أصولو او قوانينو سره ډير ټکر نلري. [2]

د شخړو په حل او فصل کې د عرفي قضاء ډېرې أحکام د شريعت اسلامي سره توافق لري، دوی د صلح او منځگړتوب په اعتبار سره توافق لري، نه د قضاء په اعتبار، ځکه چې قضاء د شرعي قاضي لخوا ترسره کېږي، او شرعي قاضي هغه کس دی چې د امام يا پادشاه لخوا گمارل شوی وي ، هغه عرفي أحکام چې د شريعت سره مخالف وي، په صلح او منځگړتوب کې شرعاً هيڅ ډَول اعتبار نه لري.

په عرفي أحکامو کې داسې أحکام شتون لري چې شريعت سره موافق دي، او داسې أحکام هم شتون لري چې د شريعت سره مخالف دي، چې په لاندې ډول بيانيږي.

---

[1] - سورة : الأحزاب (٣٦).

[2] - سناتور عبدالله خان : مرکه ، نرخ، اوځلی په احمدزيو کې.

**لومړی : هغه أحکام چې د اسلامي شریعت سره مخالف دي :** دا هغه أحکام دي چې د شرعي نص او شرعي قاعدي سره په ټوپیر کې دي، دا ډَول أحکام مردود دي او د چلش قابلیت نه لري. په داسې أحکامو باندې د حضرت عایشة رضی الله عنها رانقل شوي حدیث د تطبیق وړ دی :

**عن عایشة (رض) قالت : قال ﷺ « من أحدث في أمرنا هذا ما لیس فیه فهو رد ». ([1])**

**ژباړه :** چا چې ایجا هغه شی چې زمونږ په دین کې نشته ، هغه رد او د منلو وړ نه دی .

په حقیقت کې همدا خبره د ټولو علماؤو د اتفاق محل دی، خو أحناف د اختلاف الدار په وجه د ځینې أحکامو په اختلاف او توپیر قائِل دي، او وایی چې دا أمر د دوی په خپل منځ کې د شرعي أدله وو پر بناء دی.

خو سره له دې عمل کول په هغو أحکامو چې د شریعت مخالف وي جائز نه دي، او په لاندې ډَول د هغه کسانو په اړه چې داسې أحکامو باندې عمل کوي شرعي حکم بیانیږي، هغه که قاضي وي که منځګړتوب او که مصلح.

**۱. قـــــاضـــــي :** برابره ده که شرعي قاضي وي او که عرفي قاضي : الله ﷻ حکم کول یې د شریعت مطابق واجب کړی دی، نو د شرعي قاضي او عرفي قاضي لپاره حکم کول جایز نه دي، په هغو أحکامو چې له شریعت سره مخالف وي، لکه چې فرمائي :

«.... وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ »، (۴۴) «.... و وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ » (۴۵) «...... وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ » (۴۷). ([2])

**ژباړه :** او هر چا چې په نازلي شوي وحیَ پریکړه ونکړ نو همغوي کافران دي. او هر چا چې په نازلو کړو شوو اصولو پریکړه نه وي کړی نو همغوي ظالمان دي. او هرچا چې د الله په نازل کړو اصولو پریکړه نه وي کړی نو همغوي فاسقان دي.

**امام ابن تـیـمـیـــه رحمه الله وایي :** بې له شکه هر هغه څوک چې د حکم بما أنزل الله وجوب نه منې کافر دي، او هر هغه څوک چې د خلکو ترمنځ تحاکم د شریعت سره خلاف وینې او هغه حلال بولې کافر دی، نو ځکه پر عرفي قاضي باندې لازم او واجب دی چې په قضاء، منځګړتوب او صلح کې د شریعت د أحکامو تابع وي، لکه څنګه چې مونږ د مخه وویل، په عرفي قضاء کې د صلح جایګاه د قضاء او تحکیم څخه لوړه ده. ([3])

---

[1] - البخاري : الجامع الصحیح , أبـو عبد الله محمد د إسـماعیل ځوي اسماعیل د إبـراهیم د المغیـرة البخـاري ځوی، الجـامع المسند الـصحیح المختصر من أمور رسـول االله ﷺ ، لومړی چاپ، (۱۴۲۲هـ)، چاپ ځای دار طوق النجاة. د حدیث شمېره : (۲۶۹۷). - الـمسلم : صحیح مسلم , أبو الحسین مسلم د الحجاج مسلم القشیري النیسابوري ځوی، صحیح مسلم تحقیـق : محمد فـؤاد عبد الباقي، چاپ ځای: دار إحیاء التراث العربي – بیروت بدون له چاپ. د حدیث شمېره : (۱۷۱۸).

[2] - سورة المائده : ( ۴۴ – ۴۵ – ۴۷ ).

[3] - ابن تیمیة : منهاج السنة النبویة (۵ /۱۳۰).

**۲. الــمــتــحــاكـــم :** په دې کې شک نشته چې د مسلمان لپاره تحاکم په هغه قانون او پر هغه حکم چې د شريعت مخالف وي جواز نه لري. لکه چې فرمايي :

(فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ) ([1]).

**ژباړه :** مګر نه قسم ستا په رب چې دوی به مؤمنان نه شي تر هغو چې د خپلو داخلي شخړو د پريکړو لپاره تا حَکَم نه کړي او بيا ستا د پريکړو په وړاندې په خپلو زړونو کې هيڅ ډول تنګوالئ او خفګان پيدا نکړي او ستا قضاوت ته په بشپړ دول ځانونه وسپاري.

پورته ليکل شوی آيت شريف په ښکاره توګه اعلان کوي چې : الله ﷻ د هغه چا ايمان نفې کړی چې د الله متعال له حکم څخه مخ اړوي او اعراض کوي، نو دا خبره په وجوب تحاکم الى الله دلالت کوي.

**دويم : هغه أحکام چې د اسلامي شريعت سره توافق لري :** دا هغه أحکام دي چې د کتاب الله، سنت رسول الله او د شرعي قواعدو سره موافق وي، دارنګه أحکام ډير دي، خو شرط يي دادی چې د کتاب الله او سنت رسول الله څخه آخيستل شوی وي، که په تفصيلي دلايلو ثابت شوی وي او که په اجمالي دلايلو ثابت شوی وي کومه ستونزه نلري. د مشروعيت دليل يى دادی :

« وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ...... فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلْحَقِّ...... ». ([2])

**ژباړه :** (ای محمده !) مونږ تاته په حقه هغه کتاب ناز کړی دی...... نو د دوي په منځ کې په هغه څه پريکړې وکړه چې الله پاک نازل کړي دي.

الله ﷻ له مونږ څخه د (الاحتکام الى شرعه) يعنى : د دې د شرعت سره سم د حکم کولو غوښتنه کړې ده، نو ( قضاء، تحکيم او صلح ) د شريعت د دايرې تمثيل او آستازيتوب کوي.

او عرفي أحکام د صلح او تحکيم (منځګړتوب) له باب څخه دي، نو شرعاً جايز دي.

---

[1] - سورة النساء : (٦٥).

[2] - سورة المائده : (٤٨).

# دریـــیم مـبحــــث

## پـــه شـــریعـت او عـــرف کـې د قــضاء ډَولـــونـــه دا مبحث څلور مطلبه لري:

د انسانانو ټولنیز ژوند کې چې کومې قضیې او مسایل رامنځته کېږي نو د کمیت او کیفیت له مخې یوبل ته ورته نه وي، او همدارنگه پریکړې کونکي هم معصومین نه دي کیدای شي نیمگړتیاوي ولري نو د دې په خاطر چې پریکړه حقیقت ته ورسېږي یا حقیقت ته نږدي شي او د دعوی کونکو قناعت هم پري حاصل شي، نو دعوی کونکي د عدم قناعت په صورت کې کولی شي، صادر کړي شوي پریکړي د جرگه مارانو یا قاضیانو بلې ډلې ته وړاندې کړی، دې اړتیاوو ته په کتو سره د قاضیانو ډولونه او شرایط اړین دي، چې نوموړی موضوع راتلونکي څلورو مطلبونو کې څیړل کېږي .

## لـــومـــړی مـطـلـب : د قـــاضـــیـانـو ډولـــونـــه پـــه شـــریـعـت کـې

مخکې له دې چې د قاضیانو په تقسیماتو پیل وکړو، اړینه ده چې قاضي تعریف کړو او ویي پېژنو.

**قاضي په لغت کې :** پریکړه کونکي ته وایې د هغه امورو چې د فیصلې په خاطر ورته سپارل شوي وي، (و استُـقْـضِي فلانٌ) یعنی فلانی کس قاضي وگرځول شو تر څو د خلکو تر منځ قضاوت او فیصلې وکړي. (والقاضي) : هغه کس چې د خلکو تر منځ قضاوت او فیصلې کوي. ([1])

د قاضي دنده د عامه دولتي دندو څخه ده، چې د ټولگټې سره تعلق او تړون لري، نو اړینه ده چې د قضاء سیال صالح کس وي، او قدرت ولري تر څو وتوانیږي دغه دنده چې غرض او هدف ئې د شخړو لمنځه وړل او د دعوا پریکول دي په ښه توگه ترسره کړي. د ظالم د تهدید او گواښ، د مظلوم د ملاتړ او د حق حقدار ته سپارلو صلاحیت او توان ولري.

**قاضي په اصطلاح کې :** د هغه کس څخه عبارت دی چې د امام لخوا گمارل شوی وي، تر څو د هغه په واسطه أحکام نافذ او د حق د خلافِ په مقابل کې ودریږي.

**یا عبارت :** د هغه کس څخه دی، چې د سلطان لخوا د خلکو تر منځ په قانوني او مشروع أحکامو سره د دعواو او شخړو حل او فصل لپاره تعین او گمارل شوی وي. ([2])

**شریعت کې د قاضیانو ډولونه :** قاضیان شریعت کې په درې ډَوله ویشل شوي دي :

---

[1] - ابن منظور : لسان العرب (۱۵د/ ۱۸۶).

[2] - مجلة الاحکام : مادة (۱۷۸۵).

۱. **د خصوماتو (د دعوا) قاضي :** هغه قاضي دی چې د امام لخوا د تحقیق او شکایاتو پرته د یوې ځانګړې دندې د ترسره کولو لپاره ټاکل شوی، فقهاء فرمايي عادي محکمې د خلکو د شخړو که مدني وي او که جنايي د حل او فصل لپاره، اصلي او دولتي مرجع دي، دا صلاحيت قضاء ته په یو ځل نه دی سپارل شوی، په لومړي پړاو کې یواځې خلیفه او حاکمان د مهمو چارو، لکه حدود، قصاص او زخمونو په اړه غَور او فیصلې کولې، وروسته بیایې قاضیانو ته ورسپاري. (۱)

**د خصوماتو (د دعواګانو) د قاضي صلاحيت :**

د دعوا د قاضي صلاحيت دادی، چې د زخمونو، وینې، حدودو او تعزیراتو په اړه غَور او کتنه وکړي.

د منازعاتو پریکول، د شخړو هوارول، او د قضې په قضاوت سره پخلاینې ته راستـنول، حق حقدار ته سپارل، له غصب او تعدی څخه د ظالمانو مخه نیول.

د شاهدانو پلټنه او د هغو کسانو ولایت ثابتول چې د تصرف څخه منع شوي دي، لکه لیونی او ماشوم، د یتیمانو د مالونو ساتنه او د وصایاوو نافذول.

د ودانیو او عامه ټولګټو ته پام کول، لکه د جوماتونو ودانول او د لارو جوړول. (۲)

## ۲. شکایاتو ته د رسیدنې قـاضـي :

دا د هغه شکایاتو لپاره ګمارل شوی قاضي دی، چې دولت یې د هر هغه کسانو په وړاندې ترلاسه کوي چې د دولت تر واک لاندې ژوند کوي، دا شکایات که رعیت څخه وي یا د نورو څخه، یا که دغه شکایات د خلیفه څخه شوي وي یا نورو حاکمانو او مؤظفینو پر وړاندې. (۳)

**د شکایاتو د قاضي صلاحیتونه :**

حاکمانو ته شکایتونه د رعیت او د هغه کارګرانو په اړه چې د حاکمانو تر حاکمیت لاندې ژوند کوي.

د مالیاتو د راټولو چارې، او د دې د راټولو د بې انصافی په هکله څیړنه او پام.

د دولتي کارکونکو تعقیب او د هغوی نظارت کول.

د کارمندانو او د اوردو تنظیم، ترتیب، د دوی معیشت او هغه شرایط په پام کې نیول چې دوی ورسره مخ شوي دي.

د قاضیانو د قضاوت او د محتسب د حکمونو اجراء کول، چې هغه یې د تنفیذ او پلي کولو څخه عاجز وي.

---

۱ - ابن القدامة : المغني (۱۱ / ۳۷۵).

۲ - ابن رشد : بداية المجتهد ونهاية المقتصد (۲/۴۶۰) - الماوردي : الآحكام السلطانية (۷۰).

۳ - الماوردي : الأحكام السلطانية (۸۲).

د دولت رئیس په اړه د شکایتونو څېړل، چې له شرعي احکامو څخه يي سرغړونه کړې وي.  د شکایتونو محکمه واک لري چې هر ډَول شکايتونه وڅېړي، که هغه د دولت په جوړښت پورې اړه ولري، يا  د شريعت له احکامو څخه د خليفه له سرغړونې پوري تړاو ولري، يا د نص معنيوې پورې تعلق ولري، يا د اساسي قانون نص او متن پورې اړوند وي، يا د شرعي نورو أحکام پورې متعلق وي کوم چې د رعيت د تنظيم او مصالحو څخه شمېرل کېږي، يا د مالياتو پورې اړوند خبري وي، يا داسي نور. ([1])

**۳. د حِســبه قــاضـي :** د حِسبه بحث وړاندې تير شو دا چې : حسبه عبارت له امر بالمعروف څخه ده کله چې ترک يي ظاهر شي، او نهي له منکر څخه دی کله چې فعل يي ظاهر شي.حسبه د الأمر بالمعروف و النهي عن المنكر له باب څخه يوه ديني دنده ده، چې د مسلمانانو د چارو پر مسئول باندې واجب ده، هغه څوک چې د هغه لپاره وړ گڼي تعين او وگماري، او د هغوی لپاره دي مرستندويان ونيسي، او هغوی ته دنده ورکړي تر څو د منکراتو پلټنه وکړي، د خپل وسعی مطابق خلکو ته تأديب ورکړي، د ښار او ټولني عامه مصالح (ټولگټي کارونو) ته وهڅوي.

**د حِســـبه د قــاضی صلاحيتونــه :** د حسبه د قاضي صلاحيت لکه څنگه چې له تعريف څخه يې آخيستل شوي، لاندې درې مسألې پورې اړوند دي :

**لومړی مسأله :** لومړی مسأله يي أمر بالمعروف او هغه مسايل چې حقوق الله پورې اړه لري، يا حقوق عباد پورې اړه لري، يا د دواړو تر منځ مشترکه حقوق دي.

**دويمه مسأله :** دويمه مسأله يي نهي عن المنکر دی، برابره خبره ده چې منکرات حقوق الله پوري اړوند وي، يا حقوق العباد پوري اړوند وي، يا د دواړو حقوقو پوري اړوند وي.

**درېــيـمه مسأله :** درېــيـمه مسأله تعزير او تأديب دی، څومره چې سرغړونه تري شوي وي. ([2])

## دويـــم مـطـلــب : پـه عـرف کـې د قـــاضـيـانو ډَولـونـه

ما د دې موضوع د څيړنې او سپړنې په دوران کې له ځينو عنعنوي قاضيانو سره د تحقيق او مرکو په ترڅ کې، د قاضيانو دغه لاندې تقسيمات او ډَولونه د دوی د تجربې له مخې په رنگارنگو مسائلو کې ومونده، او دغې تجربې د هغه کار له ماهيته څخه اخيستل شوې ده چې د قاضي له خوا ترسره کېږي، مثلاً : يو عرفي قاضي زميندار يا دهقان وي، او د ځمکې او دهقانی په هکله ډېرې تجربې لري، يا يو قاضي تجار وي او تجارت په اړه تجربه او معلومات لري، يا يو قاضي ټيکه دار وي او د تعميراتو په اړه ډېرې تجربې لري، (دا أهليت او صلاحيت ځينو کې وي او ځينو کې نه وي) که کوم عرفي قاضي په راپېښه شوې قضيه کې

---

[1] - الماوردي : الأحكام السلطانية (۸۲).   زيدان : نظام الفضاء في الشريعة الاسلامي (۴۷۲).

[2] - الغزالي : احياء علوم الدين (۲ / ۳۲۷).

تخصص ونه لري، نو د هغې قضې له متخصص څخه پوښتنه کېږي مثلاً د ټپونو عمق یا د هډوکو د ماتیدلو کیفیت پوښتنه له متخصص ډاکټر څخه کیږي. (۱)

د لوګر ولایت عرفي قضا کې دري ډوله قاضیان یا مرکچیان شتون لري: (۲)

۱. **(کورنی قاضي) یا هغه قاضي چې (پرته له خبر ورکولو په قضیه پوه وي) :** د هغه قاضي څخه عبارت دی چې متخاصمو ډلو تر منځ دې ته په کښیناستلو سره اتفاق راولي، او دنده یي په لاندې موضوعاتو کې خلاصه کېږي.

الف: د دعوا کونکو ډلو د دلایلو محدودول چې د تیرې د ایښودلو په نوم یادېږي یعنی هغوی ته اجازه نه ورکوي چې په خپلو دعواو کې مخکې ولاړ شي، په لنډوو کې یې معامله فیصله کوي.

ب: د مدعیانو د قضې راجع کول اړوند او متخصص قاضي ته.

که د باصلاحیته قاضیانو له خوا په ادعا کې کوم توپیر شتون ولري، نو دوی ته مراجعه او پوښتنه تري کېږي.

دغه قاضي د دعوا په هکله حکم نه کوي، او تر څو چې دعوا چلیږې د چا څخه معاش نه اخلي

۲. **لوړ پوړی قاضي (جرګه ماران) :** هغه قاضي دی چې په ټولو قضیو کې د پریکړې حق لري، د مخالفانو تر منځ هر ډول لانجې هوارولای شي، داسې کسان په هره ټولنه او هر کلی او بانډو کې د خلکو له لوري ټاکل شوي او پېژاندل شوي څېرې شتون لري، چې خلک ورته د قضیو د حل لپاره رجوع کوي. او د دوی امورات په لاندې ډول داسې خلاصه کېږي :

د هغو مسایلو او قضیو حل کول چې دوی ته راوړل کیږي.

د مدعیانو د قضې راجع کول اړوند او متخصص قاضي ته.

دوی هغه کسان دي چې د موجوده شرایطو سره سم د حق او حقیقت کیفیت ټاکي.

۳. **د قومونو په سطحه قـاضـې (جرګه مار) :** دا هغه مشهور او پېژاندل شوي جرګه ماران دي چې کله د غټو او خطرناکو معاملو فیصلې کوي کله چې د کلي او بانډو مشران او جرګه ماران په داسې مسایلو کې پاتې راشي نو خلک دوئ ته مراجعه کوي.

عرفي قضاء کې د دعواو او خصوماتو بنې ته په کتلو سره د هماغه قضیې اړوند قاضي یا جرګه مار ته مراجعه کېږي د بیلګې په توګه : تجارتي مسایل د مالونو او څارویو مسایل د ځمکو او کروندو مسایل د جنګ جګړو او زخمونو مسایل د ښځو او ناموس مسایل.

د میدان وردګ عرف کې هم درې دوله قاضیان شتون لري :

---

۱ - سناتور عبدالله خان : مرکه ځلی او نرخونه په احمدزیو کې. (۸۰) .

۲ - الحاج قومندان عزت الله بُرګئ د حاجي محمد حسین زوي، لوګر ولایت، محمد اغي ولسوالۍ د بُـرګ د کلی قومي مشر او مرکچي د مرکې نېټه (۱۴۰۲/۱/۱۸).

د عرفی پریکړو له پاره په ټوله کې درې ډوله جرگه ماران شتون لري چې یوه ډله یې د کورنی په سطحه وي چې د کورنی مشکلاتو ته رسیدنه کوی. دویمه ډله یې ولسي جرگه ماران دي چې پریوه ساحه پورې اړوند وي او دهماغه ساحې مشکلات حلوي او دریمه ډله جرگه ماران قومي جرگه ماران دي چې خاص قواعد لري او د قومونو او هر ډول ستونزو ته چې په مختلفو ساحو کې منځ ته راغلې وي رسیدنه کوي. [1]

د غزني ولایت د عرفي قضایاو د پرېکړو په اړه دوه ډوله جرگه ماران شته. لومړی: هغه مرکچیان چې په ملي یا قومي کچه جرگې او مرکې کوي. دویم: هغه جرگه وال دي چې په په محلي یا ولسي کچه جرگه کوي.

## درېـــیم مـطـلـــب : د شـرعـي او عـرفـي قـــاضـي شـرطـونـه

**لومړی : د شرعي قاضي شرطونه:**

مکرمو فقهاؤو شرعي قاضي لپاره ګڼ شرطونه ټاکلي دي، چې ځینې شرطونه ئې متفقٌ علیها دي او ځینې یې مختلفٌ فیها، چې په لاندې ډول بیانیږي.

**متفق علیه شرطونه :**

**۱. اسلام :** د مسلمینو د قاضي شرطونو کې یو أهم شرط اسلام دی، غیر مسلم پر مسلمینو باندې قاضي نشي کیدلی، ځکه چې د قضاء مَرجَعیَت ولایت او مسئولت دی، نو د کافر ولایت پر مسلمینو جواز نلري [2]، الله متعال په دې اړه داسې فرمایي :

الَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ........ وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً. [3]

**ژباړه :** منافقان هغه دي چې ستاسې حالاتو ته گوري..... او الله پاک به هیڅکله کافرانو ته پر مؤمنانو بشپړ لاره ورنکړي.

بله دا چې قاضي د شرعي او اسلامي دین أحکام تطبیقوي، نو د دین تطبیق ایمان او د الله ﷻ ویرې ته اړتیا لري، ځکه د صلح په مسایلو کې د الله متعال څخه ویره ډیره ښه او اړین ده.

**۱. بـلـوغ :** د قاضي دنده پوره،کامل او مدرک عقل ته ضرورت لري، د عقل پوخوالی او مدرکه قوه د بلوغ څخه مخکې نه شي راتللی، قاضي باید د صحیح فکر او ښه عقل خاوند وي، ځکه صحیح فکر او ښه عقل انسان له سهوې، خطاء او غفلت څخه ساتي، قاضي باید مکلفیت ولري او نابالغه انسان د الله ﷻ په نزد مکلفیت نه لري.

---

[1] - معلم احمد جان د میزا محمد زوی، میدان وردگ ولایت، دایمیرداد ولسوالی، د گلئ د کلی قومي مشر، د تذکیرې شمېره (۴۸۴۳۰) ټیلیفو شمېره : (۹۳-۰۹-۷۴۴۱۵۹۸۰۹+) د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۲/۱).

[2] - الکاساني : بدایع الصنایع (۷ / ۴).

[3] - سورة : النساء (۱۴۱).

**۲. عـقـل :** د جنون (ليونتوب) ضد دى ليونتوب عقل له منځه وړي، همدارنګه د قاضي دنده پوره،کامل او مدرک عقل ته ضرورت لري، مجنون يا ليونى انسان د خپل ځان ولايت نه لري او ځان نه شي سمبالولى نو بيا د خلکو تر منځ قضاوت او ولايت څنګه وکړي. (۱)

**۳. حـريـة :** د حريت او آزادى په اړه بايد ووايو چې قضاء د ولايت له باب څخه دى، يو غلام چې د خپل ځان هغه ټيټه سطحه ولايت نه لري، نو د خلکو د قضاء ولايت چې ډير غټ مسؤليت څنګه آخيستلاى شي. (۲)

## مختلفٌ فيه شرطونـه :

**۱. عـــــدالــــــة :** د قاضي له شرايطو څخه يو شرط عدالت دى عدالت د فقهاؤ په آند، د کبيره ګناهونو څخه ځان ساتل او پر صغيره ګناهونو باندې اصرار نکولو څخه عبارت دى. همدا رنګه هغه کارونه نه کول چې خلاف مروت (دروند والى) وي. (۳)

يا په حقه لاره کې مقاوت کول او د ديني ممنوعه او حرامو کارونو څخه ځان ساتنې څخه عبارت دى.

**۲. جـتـهـــاد :** د اجتهاد شرط د فقهاؤو تر منځ اختلافي شرط دى :

**جمهور فقها :** يعني امام مالک، امام شافعي او امام حنبل د قاضي له پاره اجتهاد شرط ګڼي. په دې دليل چې : (جايز نه دى چې مفتي عامي او مقلد وي)، او قضاء له فتوى څخه مؤکد دى نو بايد مقلد نه وي بل دليل يې د الله متعال دا قَول دى : (٤)

وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ..... فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ.... (٥)

**ژباړه :** او (اى محمده !) مونږ تاته په حق ولاړ کتاب رانازل کړ،..... نو د دوى تر منځ په هغه څه پريکړه وکړه چې الله نازل کړي دي.

**حديث شريف : عن عمر بن العاص : أنه سمع رسول ﷺ قال : « اذا حَكَم الحاكم فَاجتهدَ ثم أصابَ فله أجرانِ و اذا أخطأ فله أجر ». (٦)**

**ژباړه :** کله چې حاکم په خپل اجتهاد سره حکم وکړ، که حق ته ورسيد هغه ته دوه اجرونه دي، که چېرې پخپل اجتهاد کې خطاء شو هغه لپاره يو أجر دى.

---

۱ - ابن قدامة : المغني(۳۸۱/۱۱).

۲ - الکاساني : بدائع الصنائع (٥/۷).

۳ - السيوطي : الأشباه والنظائر شافعي ص (٦۸۱).

٤ - ابن قدامة : المغني(۳۸۰/۱۱).

٥ - سورة : المائيده (٤۸).

٦ - صحيح بخاري، د حديث شمېره : (۷۳٥۲) .

**امام أبو حنيفه :** د أحنافو په نزد قاضي لپاره اجتهاد شرط نه دی، قاضي چې مجتهد نه وي، کولای شي د بل چا فتوې سره قضاوت وکړي، ځکه دقضاء غرض او مقصد د خصوماتو حل او فصل دی، که چېرې دا کار په تقليد سره شونی وه نو جايز دی، يعنې د علماؤو فتوای او أقوالو ته رسيدنه ممکن وي. (١)

**غوره ليد لوری :** غوره نظريه هغه ده چې امام أبو حنيفه (ح) پرې تگ کړی دی.

**عن ابن عباس قال : بعث النبي ﷺ الى اليمن علياً فقال « علمهم الشرائع و اقض بينهم قال : لا عِلمَ لي بالقضاء فَدَفَع في صدره فقال : اللهم أهدِهِ للقَضَاء ». (٢)**

**ژباړه :** ابن عباس رضى الله عنه فرمايي : چې نبی ﷺ على رضي الله عنه يي يمن ته ولېږل، او ورته وفرمايل چې خلکو ته شريعت وښيه او د دوی تر منځ قضاء وکړه، على (رض) وويل قضاء کې علم نلرم، رسول الله ﷺ د هغه په سينه باندې وټپول، بيا يي وفرمايل اي خدايه د قضاء لاره ورو‌ښيه.

د مجتهد ندرت او کموالی : دا يوه ستونزمنه خبره ده چې هر يوقاضي بايد مجتهد وي، او په ځانگړي توگه په دي زمانه کې.

دقضاء غرض او مقصد د خصوماتو حل او فصل او د شخړو پريکړه ده، او دا کار په تقليد سره شوني دی او کيدلی شي، يعنې چې يواځې د علماؤو فتاوي او أقوالو ته رسيدنه ممکن وي. لکه چې فرمائي :

«..... فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ » (٣).

**ژباړه :** د أهل علم څخه پوښتنه وکړئ که تاسو پخپله نه پوهيږئ.

**٣. ذکـــورة :** فقهاء د دې شرط په اړه په څلورو مذهبو ويشل شوي دي :

**لومړی مذهب : امام أبو حنيفه** د ښځې قاضی توب جواز لري، ښځه کولای شي قضاوت وکړي، پرته له حدود او قصاص څخه، ځکه چې په دغه جناياتو کې د دې لپاره شهادت نشته.

**دليل :** د قضا د مشروعيت دليل دادی چې د قضاء أهليت د شهادت أهليت ته را گرځي، څوک چې شهادت ورکولای شي نو قضاوت هم کولای شي. (٤)

**دويم مذهب : ابن جرير الطبري** د قضاء لپاره ذکورت شرط نه گڼي.

**دليل :** کله چې د ښځو لپاره مفتي کېدل جواز لري چې فتوا ورکړي، نو کولای شي چې قاضي هم پاتې شي، او د هغې لپاره جواز لري چې د خلافت دنده هم په غاړه واخلي. (٥)

---

١ - ابن الهمام : شرح فتح القدير (٧ / ٢٥٣).

٢ - سنن ابن ماجه : د حديث شمېره ، (٢٣١٠). موسوعة أطراف الحديث (ص: ٥٠٦٣٨) دا حديث صحيح د شيخينو په شرط سره . المحدث :شعيب الأرناؤوط : خلاصه حکم يي : صحيح دی.

٣- سورة النحل (٤٣).

٤ - الكاساني : بدائع و الصنايع (٧ / ١٦). ابن الهمام : شرح فتح القدير (٧ / ٢٥٣).

٥ - ابن قدامة : المغني (١١ / ٣٨١).

**دریـیـم مذهب : ابن حزم الظاهري** قضاء د ښځې لپاره جواز لري پرته له استثناء څخه چې هره برخه کې قاضي و اوسي، لکه څنګه چې مفتي توب ورته په هره برخه کې جواز لري، مګر پرته د خلافت او حکم له منصب څخه. ([1])

**څلورم مذهب : د جمهورو فقهاوو دی** د امام مالک، امام شافعي او امام احمد حنبل نظریه داده چې په قضاوت کې ذکورت شرط دی، حجت او دلیل ئې دادی : ([2])

**« لن یفلح قـوم ولـوا أمـرهـم اِمـرأة ». ([3])**

**ژباړه :** هیڅ کله به بریالې نه شې هغه قوم، چې ښځه خپل حاکم وټاکي.

نو ځکه ښځه د امامت العظمی، ریاست الدولة،د ښارونو د ولایت، صلاحیت او أهلیت نه لري، د ښځې د ولایت په اړه، له رسول الله ﷺ، خلفاء راشیدین او صحابه کرامو څخه کوم روایت او نقل نشته، که چېرې جایز وای نو خامخا د یو ځل لپاره به واقع شوې وای. بله خبره دا چې د قاضي مخالطت د نارینه فقهاوو سره او همدارنګه له شاهدانو او دعوا کونکو سره وي، نو د ښځې مخالطت له نارینه سره منعه ده، ځکه چې د ښځو مخالطت د ناریـنه سره سبب د فتـنې کېدلی شي.([4])

**غوره رأیه :**

راجحه خبره داده، چې ښځه پرته له ریاسته او خلافته څخه نور په ټولو اموراتو کې قاضي کیدلی شي .

- له عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چې ( د ده له قوم څخه یوه ښځه (شفاء) ته یې ښار کې صلاحیت ورکړی وو) . نو دغه تولیه او صلاحت په قضاء باندې دلالت کوي .
- او مراد له دغه حدیث څخه **« لن یفلح قـوم ولـوا أمـرهـم اِمـرأة »** خلافت دی ، نه له خلافت څخه ټیټه دنده .
- درسول الله داقول **«المرأة راعیة علی مال زوتجها و هی مسئولة عن رعیتها»** دا حدیث هم د مخکنی حدیث موخه او مقصد روښانه کوي چې د مخکې حدیث مقصد خلافت دي . ([5])
- د فتوی له قضا سره ورته والی لري، او د ښځه مفتـیتوب جوارز، چې مفتي ووسي او فتوی ورکړي په اجماع سره ثابته ده، ځکه چې فتوا او قضا دواړه د شرعي احکامو څرګندونکۍ دی. ([6])

**۴. د غیر مسلم قضاء غیر مسلم ته سپارل :** په دې اړه د فقهاؤ تر منځ اختلاف شتون لري:

---

[1] - ابن رشد : بدایة المجتهد و نهایة المقتصد : أبـو الولید محمد د أحمد بن محمد د أحمد د رشد القرطبي ځوی د زیـږردنې کال (٥٩٥ هـ) بدایة المجتهد ونهایة المقتصد، لسم چاپ: په ( ١٤٠٨ هـ - ١٩٨٨م ) نېټه د چاپ ځای: دار الکتب العلمیة بیروت - لبنان. (٢ / ٤٦١).

[2] - ابن قدامة : المغني ، (١١/٣٨١). ابن فرحون : تبصرة الحکام (١٩/١) .

[3] - البخاري : الجامع الصحیح رقم الحدیث (٤٤٢٥).

[4] - ابن قدامة : المغني (١١ / ٣٨١).

[5] - بن حزم : المحلی ، (٥٢٨/٨) ، (مسالة : ١٨٠٤).

[6] - بن قدامة : المغني، (٣٨١/١١).

**جمهور فقهاء :** په دې آند دي چې : ذِمي ته د قضاء دنده سپارل پر غير مسلمينو باندې جواز نه لري، ځکه چې د قضاء د منصب په تصرف کې اسلام شرط دی، برابره ده چې قضاء پر مسلمينو وي او که پر غير مسلمينو. لکه چې الله متعال فرمائي :

« وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً ». (١)

**ژباړه:** او الله پاک به هيڅکله کافرانو ته پر مؤمنانو بشپړ لاره ورنکړي.

د شهادت د منلو لپاره عدالت شرط دی او فسق د شهادت د قبوليت مانع دی، نو کفر د فسق سرچينه ده، کله چې فسق مانع کيدلی شي نو کفر په طريق اولی سره مانع گرځيدلی شي. (٢)

**د احنافو مذهب :** ذمي کولای شي د قضايي دندې مسئوليت په خپله ذمه باندې واخلي، په دې دليل چې د قضاء أهليت د شهادت أهليت پوري اړوند دی، چې ذمي پر ذمي باندې د شهادت أهل کيدلی شي نو ذمي پر ذمي باندې د قضاوت أهل هم کېدلئ شي (٣)

**غوره رأيه :** داده چې د ځينو قضاء پر ځينو ممانعت نه لري، او دلته پر مسلمينو باندې د لارې څه خبره نشته، خو بالعکس چې کله قاضي د مسلمينو له خوا وټاکل شي، نو دا سبيل المؤمين پر کافرانو راغی، او همدارنگه ذمي د دوو ذميانو تر منځ حکم کوي نه پر مؤمنينو باندې، دلته د کافرانو لاره پر مسلمينو له کومه شوه.

او هرچې عدالت دی، د شهادت د منلو شرط دی او فسق يي مانع دی، که چېرې ذمي پر مسلمان باندې شهادت ورکړي نو د اسلاميت په کې شرط صحيح دی، او که ذمي پر ذمي باندې شهادت وکړي نو سمه ده او اسلاميت په کښې شرط نه دی. (٤)

**د غير مسلم قضاء چې ذمي نه وي غير مسلم ته سپارل :** د غير مسلم قضا ټولو غير مسليمنو ته شامليږي، داچې د فقهې په کتالونو کې يواځې د ذمي ذکر شوي له دې وجهې چې ذمي د ملک دايمي او سېدونکي دي، او نور کفار تر اسلامي ملکونو پورې کوم تړاو نلري که د مستأمن په حيث هم راځي نو د لنډې مودې لپاره دي، خو که چېرته يې قضا متصوره شي ممانعت وجود نلري، ځکه هماغه د ولايت موضوع چې په ذمي کې متصوره ده په نورو کفارو کې هم متصوره ده .

( قال الأحناف يجوز تقليد الكافر القضاء, وإن لم يصح قضاؤه على المسلم حال كفره. وقالوا أيضاً يجوز أن يُولَّى الذمي القضاء على أهل الذمة، وكونه قاضياً خاصاً بهم لا يقدح في ولايته، ولا يضر كما لا يضر تخصيص القاضي المسلم بجماعة معينة من المسلمين ) .

---

١ - سورة النساء (١٤١).

٢ - ابن قدامة : المغني (١١/ ٣٨١).

٣ - ابن الهمام : فتح القدير (٥ / ٤٩٩). ابن عابدين : رد المختار (٤ / ٤١٤ - ٤٨٢).

٤ - الماوردي : الأحكام السلطانية (٦٢).

احناف وایې په قضاء کې د کافر تقلید روا دی، که څه هم د کفر په صورت کې د مسلمان لپاره د هغه قضاء روا نه دي. او همدارنګه وایې چې د ذمي لپاره روا دی چې د ذمي د خلکو قضاوت وکړي، چې په حقیقت کې هغه د دوی لپاره ځانګړی قاضي دی، چې دا قضاوت د مسلمانانو واک ته زیان نه رسوي. (١)

**حـــواســـو روغـتـیا :** قاضي باید أوریدونکی، خبرې کونکی او لیدونکی وي، ځکه څوک چې خبرې نه شي کولی نو د هغه په اشاره باندې هر څوک نه پوهیږي، ړوند مدعي او مدعي علیه نه شي پیژاندلی، او کوڼ د مدعیانو خبرې نه شي آوریدلی، کله چې په یو قاضي کې داسې نیمګړتیاوې ولري نو قضاوت نه شي کولای. (٢)

## د عـــرفـي قـاضي شــرطـونـه :

د میدان وردګ ولایت عرف کې د جرګه مارانو لپاره شرطونه : باید فصاحت، نیک شهرت، د شخړو د حل کاریزما، له ولس سره نېکې اړیکې، د خلکو ترمنځ محبوبیت او سینه (حوصله) ولري او د ولسي روغې جوړې او قومي نرخونو ، اصولو او نزاکتونو پوه وي. (٣)

معلم اجمد جان بیا داسې وایې: یو څوک د عرف له نظره هغه مهال جرګه مار کیدای شي چې د تصمیم نیونې وړتیا ولري او خلکوته د اعتماد وړ وي. (٤)

د غزني ولایت عرفي قضا کې د جرګه مارانو شرطونه :

د عرفي قاضیانو او جرګه مارانو عمده شرط دادی چې: په قومي رواجونو، مسایلو او احکامو پوه وي، فاسد او فاسق نه وي، او د خلکو د اعتماد وړ وي. (٥)

د عرفي قاضي لپاره داسې لیکل شوي شرطونه شتون نه لري، د قاضي شرطونه په عرفي قاضیانو کې پاشلی او پراګنده دي، او دا شرطونه د دوی له کړنې څخه پیژاندل کیږي، نو مونږ دغه شرطونه د دوی أعمالو ته په کتو سره راټول کړي دي، دا شرطونه په سمه او رسمي معنی سره نه دي، بلکه دا یوه مشخصه او ځانګړي عادتونه دي، چې د عرفي قضاء په اړه پام کې نیول کیږي. لـــکــه :

١. عرفي قاضي نارینـه وي، په عرفي قضاء کې ښځینه تل لپاره د قاضي په صفت نه منل کیږي.
٢. عرفي قاضي باید ممتاز کس وي، پراخه تجربه ولري، د خلکو پر حالاتو او قومي قضایاؤ کې پوه وي.
٣. د خلکو په دود او دستور او همدارنګه د خلکو په عاداتو پوه وي.

---

[١] - (شرح العنایة : (ج ٥ ص ٤٩٩)

[٢] - ابن فرحون : تبصرة الحکام (١٩/١).

[٣] - محمد حسن حیران، د ذِکریا زوي، میدان وردګ ولایت، سید آباد ولسوالۍ قومي مشر، ټیلفون شمېره (٧٧٥٩١٠٦٥٥ ٩٣+) د مرکې نیټه (١٤٠٢/١/٣١) .

[٤] - معلم احمد جان : میدان وردګ ولایت، سید آباد ولسوالۍ د ګلئ د کلی قومي مشر، د مرکې نیټه (١٤٠٢/٢/١) .

[٥] - حاجي حمد الله (نوري) د مراد خان زوی، غزني ولایت، قره باغ ولسوالۍ د بهادرګئ د کلی مرکچي، د مرکې نیټه (١٤٠٢/٢/٨) .

۴. عرفي قاضي دعوا کونکو ته باید د باور وړ وي، چې دا صفت په عدالت او پاکۍ سره ترلاسه کیږي.
۵. عرفي قاضي په قضاء کې باید أصلیت او قدامت ولري، یعني د دوي قضاء خانداني وي، اګرچه دغه شرط نن سبا ممنوع او ناچل دی، ځکه نن سبا د قضاء علم لاسته راوړل او ثقـه توب امکان لري انسان عرفي قاضیتوب ته ورسوي.
٦. عرفي قاضي باید ذکي او هوښیار ووسي ترڅو وکولای شي د متخاصمو تر منځ ستونزې حل کړي.
۷. عرفي قاضي باید شخصي قوت ولري، ترڅو قضائي شورا کنټرول کړي، او د چا تر أثر لاندي رانشي.
۸. عرفي قاضي باید حقه او ریښتیا خبره وکړي، او د هېڅ ملامتونکي له ملامتیا ونه وېرېږي. (۱)

**د شرطونو په اړه تبصره :** که چېرې د قضاء شرطونه او د هغه د موجودیت شرایطو ته وګورو، نو په داسې شرایطو سمبال کس پیدا کول ناشوني ده الا ماشاء الله، او که شتون ولري نو ډېر به کم وي، مونږ تهمت نکوو بلکه دایو واقعیت دی.

## څـــلورم مـطـلـــب : د شـرعـي قـضـاء او عـرفـي قـضـاء تـرمـنـځ مـقـارنـه

د عرفي قضاء او شرعي قضاء ته  په کتنې سره داسې ښکاري چې د دوی تر منځ یو څه توپیرونـه شتون لري، چې په لاندې ډول بیانیږي :
۱. **د ګمارنې او لرې کونې له امله :** د شرعي قاضي ګمارل او عزل د امام صلاحیت دی، مګر د عرفی قاضي ګمارنه او عزل د متخاصمو ډلو لخوا وي، خو عزل کول یې مخکې له فیصلې او تحاکم څخه شوني دی، نه پس له تحاکم څخه.
۲. **د ګمارنې ځای له أمله :** شرعي قاضي د قضاء د معیین او ځانګړی ځي څخه تجاوز نه شي کولای، مګر عرفي قضاء د ځانګړي ځای پورې اړوند نه دی، بلکه د متخاصمو لخوا چیرته چې وټاکل شو.

۱ - نصیراحمد « یوسفزی» :د حاجي نوراحمد ځوی، د همدي رسالې څېړوکۍ، د تولد کال ( ۱ / ۱۱ / ۱۳۴۵ ).

۳. **د أحکامو د منبع (سرچينې) له أمله :** د شرعي قضاء منبع د الله ﷻ کتاب، د رسول الله ﷺ سنت، د اسلامي علماؤو اجماع او قياس دی. مګر د عرفي قضاء د أحکامو مصدر او سرچينه اسلامي شريعت، دودونه او رواجونه، مخکني قضائي مثالونه، اجتهاد او د قاضي تجربې دي.

۴. **د تنفيذ او عملي کيدلو له أمله :** د شرعي قاضي حکم پر متخاصمو ډلو باندې نافذ دی او لازماً عملي کيږي،کله چې قاضي ته وړاندې شي او د نص او اجماع سره مخالف نه وي، مګر د عرفي قاضي حکم ملزم نه وي، لکن په هغه صورت کې چې مَـکْـفُـولَـةُ التَـنْـفِـيـذ وي، (متخاصمو ډلو قاضي تـه د تنفيذ اختيار ورکړی وي).

۵. **د دندې د ځانګړتياو له أمله :** شرعي قاضي ټولو وړپيښې شوي قضاياوو ته لاس رسی کولای شي، حدود وي که جنايات، أموال وي که نور داسې قضې، د دې په خاطر چې دنده يې د دعوا پريکړه او د خصومت پايته رسول دي، مګر دا چې د قاضي صلاحيت يې محدود کړی وي، خو عرفي قضاء کې د هري قضِې لپاره ځانګړی قاضي ټاکل کيږي.

٦. **د قاضيانو د ډولونو له أمله :** شرعي قضاء په درې ډولونو ويشل شوي : « قاضي الخصومات »، « قاضي الحِسبة »، « قاضي المظالم »، او عرفي قاضي په ګڼو ډولونو لکه چې مخکي تېر شول ويشل شوي دي.

# دويـــــم فــــصـل

## د شــــــرعـــــي او عـــرفـي قــضاء د اِثـــــبـات دلـيــــــلونــــــه

دا فـــصـل پــه څـلورو مـبحـثـونـو مشتمل دی

لومړی مـبـحـث : شـــــهـادة.

دويـــم مـبحـث: قَـسَـــم يـا لُـــوْړَه.

درېـــيـم مـبحـث: اقـــــرار او اعـــتراف.

څـلورم مـبـحـث: قــــرائــــــن ( نـښې نښـانـې ).

# لومړی مبحث : شـــــهادت ( گواهي )

شهادت د دعواگانو د اثبات لپاره هم په شریعت کې او هم په عرف کې یو مهم او قوي دلیل دی، هر انسان کولی شي چې د خپلې دعوا د ثابتولو په موخه له شهادت څخه مرسته واخلي او گټه ترې پورته کړي، داچې په دعواگانو او شخړو ډیر مهم رول لوبوي، نو اړینه چې په اړه یې لنډه څرگندونه وشي، د نوموړی موضوع وضاحت به په لاندې دریو مطلبونو کې ترسره کېږي.

## لـومـــړی مـطلـــب : د شــــهادت تـعــــریـــف

شهادت ته په عربي ژبه کې (البینة) وایې چې د مدعي د حق ثابتولو لپاره یوه وسیله ده، کله چې د ( البینه) کلمه یادیږي، اطلاق یې پر شهادت باندې کېږي، ځکه چې په دې سره حق ښکاره کېږي او ثابتېږي، ځینې فقهاء وایې چې شهادت د عمل په وجوب باندې کلک او قوي حجت دی، لکه حدود، قصاص او داسې نور.

د البینه توری : په لغت کې گڼې معنی گانې لري، چې ځینې یې په لاندي ډول دي:

**الخبر القاطع : (غوڅه خبره)** لکه چې وایې ( شهد علی کذا ) یعني غوڅه خبره یې وکړه.

**الحضور و المعاینه : (لیدنه او کتنه )**(شهد الموقع أي حضره و عاینه) موقع ته حاضر شو او لیدنه یې ترې وکړه. (۱)

**الحلف : (لوړه او قَسَم)** ( أشهدُ بکذا أي : أحلِفُ )، یعني زه لوړه او قسم کوم.

**العلم : ( پـوهـه )** (شهدالله أنه لا اِله الا هو )(۲) أی علِمَ اللهُ، ( أعلمُ و أُبیّنُ )، یعني پوهیږم او بیان کوم. (۳)

**البینة في القضاء : (په قضاء کې شهادت)** قضاء یا محکمه کې د یوي قضیې په اړه شهادت ورکول، یعنې د هغه څه په اړه چې پوهېږي بیان او معلومات ورکوي.

**د شهادت اصطلاحي تعریف :**

**الف : شهادت په شرعي اصطلاح کې** فقهاؤ د شهادت په اړه د مختلفو اعتباراتو پر بناء رنگارنگ تعریفونه کړي :

---

[۱] - ابن منظور: لسان العرب (۳/۲۳۸).

[۲] - سورة آل عمران : آیت (۱۸).

[۳] - ابن کثیر : تفسیر القرآن العظیم ، عماد الـدین أبـو الفـداء دکثیـر القرشـي الدمـشقي ځوی، (تولد ۷۷٤ هـ ) کال، تفـسیر القـرآن العظیم ، لومړی چاپ په (۱٤۲۳هـ - ۲۰۰۲م) کال ، د چاپ ځای: مکتبة الصفا. (۱٤/۲).

**ابن عابدين وايي :** شهادت د ريښتنې خبر څخه عبارت دی چې د حق د ثابتولو په خاطر د شهادت په لفظ سره د قضاء په مجلس کې ترسره کېږي. (١)

**شيخ زاده وايي:** شهادت د بل چا په هکله د خپلو سترګو ليدلي حال د بيان او خبر ورکولو څخه عبارت دی. (٢)

**ابن فرحون وايي :** شهادت د معيين او ټاکلي شي اړوند خبر ورکولو څخه عبارت دی. (٣)

**الشربيني وايي :** شهادت په ځانګړي الفاظو سره د يو شي په اړه له خبر وکولو څخه عبارت دی.

**مختار (غوره) تعريف :** امام أبو حنيفه (رح) په دې اړه داسې تعريف کوي: دحق د اثبات لپاره د قضاء په مجلس کې دشهادت په لفظ ريښتنې خبر ته وايي. (٤)

**د تعريف شرح : ريښتنی خبر** شهادت بايد ريښتينی او واقعيت ولري، په دې شرط سره کِذب او دروغ له شهادت څخه بَهَر کيږي.

**د حق اثبات :** په دې شرط سره هغه خبري بهر کېږي، چې خلک په عرف کې وايي زه په دغه شي شاهدي وايم.

**د شهادت لفظ :** په علم او يقين سره بسنه نه کوي بلکې د شهادت لفظ بايد وکارول شي.

**د قاضي مجلس :** په دې سره هغه خبرې اعتبار نلري چې د مجلس څخه بَهَر کېږي، يعنې که چېري د قضاء له مجلس څخه خارج شهادت أداء کړي، اګر که د قاضي تر مخ وي خو د محکمې جلسه او ناسته نه وي دا خبره د شهادت اعتبار نلري. (٥)

**ب : په عرفي قضاء کې شهادت:** په حقيقت کې د شرعي شهادت او عرفي شهادت د تعريفونو تر منځ کوم توپير نشته، شرعي شهادت : دحق د اثبات لپاره د قضاء په مجلس کې دشهادت په لفظ ريښتنې خبر ته وايي. د عرفي شهادت تعريف هم همداسې دی، لکن د عرف په اړه ځينې تفصيلات او توضيحات شتون لري، چې په راتلونکي دويم او دريـــم مطلبونو کې بيانېږي تر څو هغه شته توپير واضح شي.

**د شـــهــادت حـــکــم :** شهادت أمانت دی، شهادت د کفايې فرائضو له ډلې څخه دی، ځکه چې الله متعال فرمايي :

«... وَلَا يَأْبَ الشُّهَدَاءُ إِذَا مَا دُعُوا... ». (٦)

**ژباړه :** او شاهدان چې کله هم وغوښتل شي نو بايد له شهادت ورکولو څخه ډډه ونکړي.

---

١ - ابن عابدين : رد المحتار على الدر المختار ( ٦٣/٧).

٢ - شيخ زاده : مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر(١٨٥/٢).

٣ - ابن فرحون : تبصرة الحكام (٢٥٣/١).

٤ - ابن عابدين(محمد علاء الدين ) : تكملة حاشية رد المحتار ( ٦٣/٧).

٥ - ابن عابدين : حاشيه رد المحتار (٧/ ٦٣).

٦ - سورة البقرة : (٢٨٢).

«.... وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ وَمَنْ يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ». [١]

**ژباړه :** او شهادت مه پټوی او څوک چې شهادت پټوي څرګندیږي چې زړه یې ګنهکار دی او الله ستاسې په کړنو ښه پوه دی.

## دویـــم مـطـلـــب : شـــهـادت پـــه عــرف کـــې

د عرفي شهادت په اړه کوم مدون کتاب یا (لیکل شوی) أثر شتون نلري، چې په هغې کې د شهادت د ترسره کېدلو لارې چارې (طرزالعمل) او د شهادت شرطونه بیان شوي وي، خو په عرفي شهادت کې چې کوم عملي کارونه لیدل شوي دي او ترسره شوي، د همدي عملي کارونو او تجربو په مرسته یو څه موضوعات مو په دي اړه را ټول کړي چې په لاندې ډول بیانیږي: [٢]

**الف : د شهادت طرزالعمل** کله چې په یوه قضیه کې دوه کسانو شخړه کوي، نو د شهادت کړنه له لاندې دوو لیکل شوي طرزالعملونو څخه یو طرزالعمل ترسره کیږي : [٣]

**لومړی طرزالعمل :** داسې دی چې جرګه ماران ځیني وخت پخپله د پېښې ځای ته ځي، یا هم ځیني وخت یو یا ډیرو کسانو ته دنده ورکوي، تر څو دوئ ولاړ شي او د خلکو څخه پوښتنه وکړي او د قضیې په اړه د خلکو څخه شهادتونه واوري، د ورلیږل شوي شاهدانو لخوا د شهادت تر لیکلو وروسته د دوئ د شهادت او ځوابونو پر بناء د قضیې په اړه قَرار صادریګې.

**دویـــم طرزالعمل :** داسې دی چې شاهدان مجلس یا د قضاء دیوان ته راغوښتل کیږي، تر څو د دواړو خواوو تر مخ شهادت ورکړي، خو په داسې طرزالعمل کې ډیري وختونه شاهد د مخالف له خوا تعقیب او ګواښل کیږي.

**ب : د شاهد عدالت :** د لوګر عرفي قضاء کې، د شاهد لپاره داسې کوم مدون یا لیکل شوي شروط شتون نلري، خو کوم سړی چې په خلکو کې د عدالت او تقوا او اصلییت صفت ولري، عرفي قضاء کې د هغه شهادت د منلو وړ دی په دې شرط چې مخالفین پرې رضایت ولري، او که چیري یو له مخالفینو څخه پر شاهد باندې د بي عدالتی نیوکه وکړه، نو د تور لګونکي لخوا دغه دعوا اثبات ته اړتیا لري، چې باید د دي د عدالت او بي عدالتی په اړه څېړنه وکړي، او خپله دعوا دې په اثبات ورسوي، که داسې دعوا په اثبات ورسیده شهادت رد کېږي او د منلو وړ ندی. [٤]

---

[١] - سورة البقرة : (٢٨٣).

[٢] - نصیراحمد « یوسفزی» :د حاجي نوراحمد ځوی، د همدي رسالې څېړوکئ، د تولد کال ( ١ / ١١ / ١٣٤٥ ).

[٣] - سناتور عبدالله خان : مرکه، نرخ او څلی په احمدزیو کې. (٧٩)

[٤] - قوماندان عزت الله بُـرګئ، د حاجي محمد حسین زوي، لوګر ولایت، محمد آغې ولسوالی د بُـرګ د کلی قومي مشر او جرګه مار، د مَرکې تاریخ د جمعی ورځ ( ١٨ / ١ /١٤٠٢ ) د بُـرګ په کلي کې .

د څېړنې په بهير کې چې د بل قومي مشر حاجي ټنډکۍ څخه مو پوښتنه وکړه نو هغوی د عادل شاهد لپاره دغه صفتونه را په گوته کړل :

- د گاونډيانو د عزت لوټونکی او بد اخلاقه نه وي.
- خير خواه سړی وی، د شر او ضرر غوښتونکی نه وي.
- هغه شاهد چې د (مشهود له) تر تأثير لاندي وي (د هغه له خبرو څخه نه تېرېدلی).
- دَووس، غـل او خـادس نه وي.
- کم سياله او بې نسبه نه وي. (۱) نو که په هر شاهد کې دغـه شروطونه شتون ونلري شهادت يې مردود او د منلو وړ نه دی، خو دغه ليکل شوي شرطونه محصور نه دي کيداي شي داسې نور شرطونه هم شتون ولري چې د شهادت د رد او نه منلو سبب وگرځي.

**ج : د شـاهـد تـزکيـة (پاکي) :** د تزکيه څخه مقصد د شاهد اصلاح او د هغه د خبرو تصديق کول يا انکار کول دي، او په عرفي قضاوت کې اقرار هغه وخت اقرار کيداي شي چې مدعيان داسې وغواړي.
او که چېرې متخاصمو (مخالفو) ډلو د شهادت غوښتنه و نکړه نو تزکيی ته اړتيا نشته، که دغه شاهدان په عدالت باندې مشهور وو، بيا هم تزکيی ته اړتيا نشته.د تزکيې دالفاظو لپاره دوه صورتونه دي:
الف: داچې تزکيه کونکي له شهادت څخه مخکې ووايې چې دغه سړی عادل دی.
ب: داچې کله شاهد شهادت ورکړي، تزکيه کونکي ووايې چې داسړی په خپلو خبرو کې صادق دی.
مرکچيان واک لري چې شاهدانو ته ووايي (سرپريکی) يعني قسم وکړی، تر څو ريښتيا ووايي. (۲)

**د شاهد لوړه (قَسم) :** د شاهد قسم د مخالف د غوښتنې پر أساس ترسره کيږي، که چېرې مخالف د قسم غوښتنه وکړه، نو شاهد ته قسم ورکول کيږې.

**د ښځې شهادت :** کله مو چې د عرفي قاضيانو او جرگه مارانو څخه د ښځو د شهادت په اړه و پوښتل، داسې وويل شو: چې د قضاياؤو په اړه د ښځو شهادت نشته او له ښځو څخه د قضاياؤو په اړه پوښتنه نه کېږي، که چېرې د کوم شي په اړه ښځې ته لوړه راجع کېږي، دا چې په پښتو کې ښځې ته لوړه ورکول جواز نلري، نو د ښځې پر ځای د هغې مېړه يا نږدې خپلوانو ته لوړه راجع کېږي ځکه چې ښځې په قَسم باندې

---

۱ - حاجي جمعه خان مشهور په حاجي ټنډکی، د اميرجان زوی، لوگر ولايت، محمد آغې ولسوالۍ د سوړيا د کلی قومي مشر او جرگه مار، د مَرکې تاريخ د جمعی ورځ ( ۱۸ / ۱ /۱۴۰۲ ) د بُـرگ کلی. د حاجي عزت الله سره دواړه مرکه يو ځای ترسره وشوه .
۲ - سناتور عبدالله خان : مرکه، نرخ او ځلی په احمدزيو کې. (۷۹) .

بې احتیاطه وي او قسم باندې تیزې ورځې. که چېرې قضایاء او مسائل یواځې د میرمنو تر منځ پېښ شوي وي او یواځې میرمنو پورې اړه ولري، نو بیا داسې شهادت د منلو وړ دی. ([1])

د غزني ولایت د جرګو او عنعناتو له حسابه د ښځو او ماشومانو شهادت او ګواهی د قبول وړ دی او منل کېږي. ([2]).
ځینی جرګه ماران : وائي چې د ښځو د شهادت نصاب دوې دي، (د دوو ښځو شهادت منل کېږي) که چېرې یوه ښځه وي بیا د سړي قَسَم ته اړتیا پیدا کېږي.

**د ماشومانو شهادت :** د لوګر عرفي قضا کې، د ماشومانو حالت د مرکچیانو له لوري څېړل کېږي، که د جرګې قناعت پرې حاصل شي منل کېږي، او په مشکوک حالت کې ردیدلی هم شي. ([3])
**د شهادت نصاب :** په عرفي قضاء کې د شاهدانو په شمیر کې ټاکلی نصاب نشته، بلکه په یوه شاهد باندې هم اعتماد کېدلی شي، خو چې کم اصله او بې نسبه نه وي، لکن د شک په حالت کې شاهد ته قَسَم ورکول کېږي.

د میدان وردګ عرفي قضا کې په عرفي قضا (جرګه) کې د شاهدانو له پاره نصاب شتون نه لري او نه هم کوم تشریفات په نظر کې نیول کیږي مهمه داده چې د جرګې قناعت حاصل کړي. ([4])
عبدالباري په دې اړه اداسې وایې په عرفي کې د شاهدان لپاره ټاکلئ نصاب نشته، د شاهدانو نصاب د قضایاوو د بنې پر بنسټ فرق کوي، په فامیلي حقوقو کې هماغه د شریعت ټاکل شوی نصاب معتبر دی، او په نورو قضایاوو کې د قضیې حالت ته په کتو سره او د جرګه مارانو د ذهني قناعت حاصلولو پوري اړوند دی.([5])
غزني د جرګو له حسابه، د شاهدانو لپاره معین او ټاکلی نصاب شتون نلري، د یو کس شهادت هم د قبول وړ دی، خو چې معمد شخص وي، دروغجن نه وي، او که شاهدان ډیر وي نو د دعوی قوت زیاتوي. ([6])

---

[1] - الحاج تاج محمد ازرکئ، دحاجي ګلان زوي، لوګر ولایت، ازرې ولسوالی د اکبرخیلو کلی قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۱/۱۱) .
[2] - حاجي حمدالله (نوري) د مراد خان زوي، غزني ولایت، قره باغ ولسوالی د بهادرګئ کلئ ، د اړیکې شمېره : (۰۷۰۰۱۸۹۷۸۱) .
[3] - الحاج قوماندان عزت الله بُـرګئ : لوګر ولایت، محمد آغي ولسوالی د بُـرګ د کلی قومي مشر او جرګه مار. د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۱/۱۸) .
[4] - معلم احمد جان د میزا محمد زوی، میدان وردګو ولایت، دایمیرداد ولسوالی، ټیلیفو شمېره : (۹۳-۷۴۴۱۵۹۸۰۹+) د مرکې نیټه (۲۵ / ۱ / ۱۴۰۲) .
[5] - عبدالباري د مولوي محمد انور فیضان زوي، میدان وردګ ولایت د سید آباد ولسوالی د شنیز د کلی قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۱/۳۱) .
[6] - حاجي حمدالله (نوري). د مراد خان زوي، غزني ولایت، قره باغ ولسوالی د بهادرګئ کلئ قومي مشر، د اړیکې شمېره : (۰۷۰۰۱۸۹۷۸۱) . د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۲/۸) .

## دریـــــیـم مـطـلـــب : د شرعي شهادت او عرفي شهادت تر منځ پرتله

د عرفي شهادت له تعریف څخه مونږ ته دا جوته شوه چې دغه لاندې لیکل شوي مسائل شهادت پوري اړوند دي.

دا چې د شرعي او عرفي شهادت اړوند بحثونه ترسره شول، د موضوع د لا روښانه کولو په پار اړینه ده چې شرعي او عرفي شهادتونه سره پرتله کړو، نو دغه لاندې لیکل شوي مسائل چې شهادت پوري اړوند دي، د پرتلې لپاره د بحث وړ دي، لکه :

١. شهادت ورکول د مال په بدل کې.
٢. د شاهدانو عدالت.
٣. د شاهدانو تزکیه.
۴. د شهادت نصاب.
۵. د ښځو شهادت.
٦. د ماشومانو شهادت.

په دې مسائلو کې ځینې اړخونه اتفاقي دي او ځیني یې اختلافي، چې په لاندې ډول بیانېږي :

**شهادت د مال په بدل کې :** که شاهد وغواړي، نو په عرفي شهادت کې د مال آخستل شتون لري. لکن شرعي شهادت کې په دې اړه وضاحت او تفصیل په کار دی :

### د شاهد لپاره د مال نه ټاکلو حکم :

#### که چېري شاهد هغه مجلس ته نږدې وي چې شهادت پکې ورکول کېږي :

په دې صورت کې که څوک د شهادت ورکولو پخاطر پَیسې غواړي نو جایز نه دي، ځکه چې شهادت ورکول په شریعت کې فرض او لازمي دي، نو د پیسو ټاکل او غوښتل داسې معنی لری لکه چې خلک د لمانځه په ادا کولو باندی پیسې واخلي، او که څوک شهادت نه ورکوي نو د دې آیت شریف تر حکم لاندې راځي :

« وَإِنْ كُنْتُمْ عَلَى سَفَرٍ..... وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ وَمَنْ يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ». ([1])

**ژباړه :** او که تاسې په سفر کې واست.......... او شهادت مه پټوی او څوک چې شهادت پټوي څرگندیږي چې زړه یې گنهکار دی او الله ستاسې په کړنو ښه پوه دی.

[1] - ابن الهمام : شرح فتح القدیر (٧ / ٣٦٦). ابن نجیم : البحر الرائق (٧ / ۵٨).

که چېرې شاهد د شهادت په بدل کې مال واخست، نو د هغه شاهد شهادت نه منل کېږي، ځکه چې د شهادت په بدل کې پَیسې اخستل رشوت بلل کېږي، او رشوت اخستل له عدالت سره خلاف دی، نو سړی چې عادل نه وي شهادت یې د منلو وړ نه دی.

**که چېرې شاهد د شهادت له مجلس څخه لیرې وي :** په دې اړه بیا دوې خبرې دي :

**الف :** که چېرې شاهد غني او بډای وي، او دومره پیسې یې واخستې چې د شهادت ځای ته پرې رسیدلی شي، دا هم ناجایز دي، نو د دې شهادت هم د رشوت د اخستلو له امله د قبول وړ نه دی.

**ب :** او که چېرې شاهد فقیر او مسکین وي، کولای شي دومره پیسې واخلي چې د شهادت ځای ته پرې رسیدلی شي، نو شهادت داسې سم او د منلو وړ دی، ځکه چې دا پیسې د شهادت ځای ته د رسیدو خرچه ده نه د شهادت په بدل کې، کله چې شاهد فقیر وي او له خپل جیب څخه خرچه کوي نو شاهد لپاره ضَرَر دی، او شاهد لپاره ضرر رسول ندي پکار. (1)

« وَلَا يُضَارَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ  وَإِنْ تَفْعَلُوا فَإِنَّهُ فُسُوقٌ بِكُمْ  وَاتَّقُوا اللَّهَ..... » (2)

**ژباړه :** او شاهد ته باید ضرر و نه رسول شي  که تاسو لیکونکۍ او شاهد ورَبرَول نو دا مو لوه گناه ده  او له الله څخ وډار شئ.

**د شاهد لپاره أجوره یا د مال نه ټاکلو حکم :** په دي اړه د فقهاوو دوي خبري شتون لري :

**الف :** که چېرې د شاهد لپاره پَیسې نه وي ټاکل شوي، او وروسته مال یا پیسې ورکول کېږي، نو اخستل داسې شاهد ته جایز دی.

**ب :** د پیسو اخستل ورته جایز نه دی ځکه چې تهمت او تور پرې لگول کېږي چې فلانی سړی د شهادت په بدل کې پیسې واخستې. (3)

**غوره او مختاره رأیــه :** هغه کسانان چې د شاهد لپاره أجوره (مُـزد) جایز بولي، هغه که غني وي یا فقیر، که أجوره ورته ټاکل شوي وي او که ټاکل شوي نه وي، خو که د غني د تعطیل (له کار او روزگار څخه پاتي کیدلو) سبب وگرځي، أجوره اخستل جایز دي ځکه چې د کار تعطیل هم ضَرَر دی، او شاهد باید متضرر نه شي، او که د کار د تعطیل سبب ونگرځي بیا جواز نلري، او که فقیر وي د فقیر لپاره د شاهدي ورکولو تر ځایه د رسیدلو خرچه آخستل جایز دي. لکه چې الله متعال فرمایې :

« وَلَا يُضَارَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ  وَإِنْ تَفْعَلُوا فَإِنَّهُ فُسُوقٌ بِكُمْ  وَاتَّقُوا اللَّهَ... » (4)

---

1 - ابن الهمام : شرح فتح القدير (۷ / ۳٦٦).     ابن نجیم : البحر الرائق (۷ / ٥۸).

2 - سورة : البقره (۲۸۲).

3 - ابن الهمام : شرح فتح القدير (۷ / ۳٦٦).     ابن نجیم : البحر الرائق (۷ / ٥۸).

4 - سورة : البقره (۲۸۲).

**لنـړه دا چـې :** عرفي قضاء کې که أجوره ټاکل شوي وي اوکه نه وي ټاکل شوي، اخستل يې جواز لري، که چېرې شاهد د پيسو د اخستلو اراده او غوښتنه وکړه بايد ورکړل شي.
خو په شرعي قضاء کې خبره دا سې ده : که چېرې د شاهد لپاره د ضرر سبب کيده، نو لازمه ده چې أجوره ورکړل شي، ځکه ( الضرر يـزال ) که چېرې د ضرر سبب نګرځيد اخستل يې جواز نلري.

## په عرفي قضاء کې د شاهدانو عدالت:

د شاهدانو څخه د عدالت غوښتـنه نکيږي، (چې عادل دی او که نه) مګر دا چې مخالف لورى نيوکه پرې وکړي او تهمت پري ولګوي او شاهد مستور الحال وي. يعني عيب يې چاته معلوم نه وي.
د شاهد د بد اخلاقۍ د ثابتولو مسئوليت په عدالت کې د ننګونکي (ادعا کونکي) په غاړه دی.

لکن په شرعي قضاء کې د ټولو فقهاؤ په آند د شاهد لپاره عدالت شرط دی، په دي اړه پرته له امام أبو يوسف رحمه الله څخه هيڅ چا هم مخالفت ندی کړی، د دي وضاحت په لاندي ډول شوی:
**الف : جمهور فقهاؤ وايي :** د شاهد لپاره عدالت شرط دی، پرته له عدالته د شاهد شهادت د منلو وړ نه دی. (١)
لکه چې الله متعال فرمايي : «... وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِنْكُمْ وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلَّهِ ». (٢)
**ژباړه :.....** او دوه انصاف لرونکی کسان پرې شاهدان ونيسئ، او شهادت د الله لپاره أداء کړئ.
**ب : امام أبو يوسف رحمه الله وايي :** که فاسق په خلکو کې وجِيه (مخه ور) وي او همدارنګه د مُرُوت څښتن وي، نو شهادت يې منل کېږي، ځکه پر دې باندې د وجاهت له امله د کذب تور لګولو امکان نشته، او هيڅوک دا جرأت نکوي چې دی د شهادت ترسره کولو لپاره وګماري، او دې د خپل د مروت (درووند والي) له امله له کِذب او دروغ څخه پرته له دې چې هغه ته ګټه ورسېږي ډډه کوي. (٣)
**مختار او غوره رأيه :** لومړی وينا چې د جمهورو فقهاؤو وينا ده غوره ده، البته د لاندې آيت کريمه پر دليل : «... وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِنْكُمْ وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلَّهِ ». (٤)
**ژباړه :.....** او دوه انصاف لرونکی کسان پرې شاهدان ونيسئ، او شهادت د الله لپاره أداء کړئ.
د ذکر شوي آيت غوښـتنه عدالت دی او پر همدي عدالت باندې شهادت ولاړيږي، نو د همدي دليل له أمله، فاسق لپاره د شهادت مجال نشته. او همدا رنګه : « مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ ». (٥)

---

١ - سورة : الطلاق (٢). ابن الهمام : شرح فتح القدير (٧ / ٣٧٦). ابن القدامه : المغني (١٢ / ٣٣).
٢ - سورة : الطلاق (٢).
٣ - ابن الهمام : شرح فتح القدير (٧ / ٣٧٦).
٤ - سورة : الطلاق (٢).
٥ - سورة : البقرة (٢٨٢).

**ژباړه :** له هغو کسانو څخه شاهدان ونیسی چې تاسې یې خوښوی (چې تاسي یې له شهادته راضي یاست).
نو فاسق هغه کس ندی چې خلک د شهادت په اړه پرې رضایت ولري، نو ځکه د شهادت وړ دی.

## د شاهدانو تزکیــه په عرفي قضاء کې :

د تزکیې غوښتنه په هغه وخت کې کېږي چې پر شاهد باندې د مخالف لوري لخوا طعن ولګیږي چې شاهد د شهادت وړ نه دی، او شاهد مستور الحال وي (بې عدالتي یې چاته معلوم نه وي).
شاهدان د متخاصمو ډلو لخوا ټاکل کېږي.

**د تزکیې لغوي تعریف :** پاکول یا نفي کول د هر هغه شي چې قولاً او فعلاً قبیح، بد او د سپکاوي وړ وي. (۱)

**تزکیة په اصطلاح کې :** فقهاؤو د تزکیې اصطلاحي تعریف یې په عمومي بڼه کړي دي، خو د شاهدانون د تزکیې په اړه یې کوم تعریف خاص ندي کړي، خو چې کله د فقهاؤو اقوالو ته کتنه وشي، تزکیه د خپلې لغوي معنی له دائرې څخه نه وځي، چې نفي کول دي د هر هغه شي چې قولاً او فعلاً قبیح، بد، نامناسبه او د سپکاوي وړ وي، او د هغې خبرې او حقیقت جوتول دي چې دې کس کې شتون لري. (۲)

**څلورم : د شهادت نصاب** په عرفي قضاء کې د شهادت لپاره نصاب شتون نه لري، د یوې قضیې د حکم په اړه یو شاهد باندې هم اعتماد کیدلای شي خو چې کم اصله او بې نسبه نه وي.

**مګر شرعي قضاء کې د نصاب اعتبار څو ډوله دی :**

**جمهور فقهاء وایي :** چې د زناء شاهدان له څلورو کسانو کم نه منل کېږي، په قصاص او نورو حدودو کې د شاهدانو شمېر کم وي، د مال په مسأله کې د یو سړي او دوې ښځو شهادت قبلیږي، او همدارنګه د یو سړي او د مدعي په قَسم سره حکم صادریږي، او هغه څه چې نارینه یې نشي لیدلی، لکه د ښځو عیبونه چې په هغې کې عادله ښځه شاهده وي منل کېږي.

د شهادت او د قضیې نوعیت په اړه د اختلاف سره سره، د شهادت نصاب داسې شرط کړی دی، یعني د یو شاهد شهادت نه منل کېږي، مګر په ځینو مستثـنی صورتونو کې، لکه : روایة (خبر ورکول)، یا د ضرورة له امله. (۳)

---

۱ - غیاث اللغة : غیاث الدین محمد د جلال الدین بن شرف الدین رامپوري څوی، دویم چاپ ( ۱۴۰۴ هـ ).
۲ - ابن عابدین : رد المحتار علی الدر المختار (۷ / ۸۱).
۳ - ابن الهمام : شرح فتح القدیر (۷ / ۲۷۰). ابن قدامة : المغني (۱۲ / ٦).

**د دي مذهب دليلونه :**

« وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ». (١)

**ژباړه :** او هغه کسان چې په پاک لمنو ښځو تور ولګوي، بیا څلور شاهدان نشي راوړلای، نو أتیا دُرې یې ووهئ او هېڅکله یې ګواهي مه قبلوئ، او همدوئ فاسقان دي.

« لَوْلَا جَاءُوا عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاءِ فَأُولَئِكَ عِنْدَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ ». (٢)

**ژباړه :** او ولی درواغ جوړونکو څلور شاهدان وړاندې نه کړل ؟ نو چې شاهدان یې رانه وستل نو په ډاګ ده چې همغوی د الله متعال په وړاندي درواغجن دي.

دغه آیتونه د شهادت دنصاب په اړه دلالت کوي، چې څلور شاهدان وي لکه د زنا په شهادت کې، یا دوه شاهدان وي لکه دمالي حقوقو په اړه، یا یو شاهد مذکر او دوه ښځې وي.

**ابن القيم جوزي رحمه الله :** د حق په ثبوت کې نصاب شرط نه ګڼي د دي مذهب دلیل : (٣)

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ». (٤)

**ژباړه :** ای مؤمنانو ! که چېرې کوم فاسق تاسې ته یو خبر راوړي نو ښه یې وپلټی هڅې نه چې په ناپوهي سره کوم قوم ته تاوان ورسوی او بیا پر خپلو کړو پښېمانه واست.

الله متعال د فاسق د خبر د ثابتولو په اړه داسې امر کړی نه د خبر د رَدولو په اړه، تر دې چې د صدق په اړه داسې دلائل پیش کړي چې قبول شي، یا داسې د کذب په اړه چې رد شي.

**د سنتو څخه دليل : أن النبى (صلى الله عليه وسلم) ابتاع من أعرابي فرساً فقال النبي (صلى الله عليه وسلم) ابتعته بكذا فقال الأعرابي بل بكذا فوجدهما خزيمة بن ثابت الانصاري يختلفان فى الثمن فشهد خزيمة للنبى (صلى الله عليه وسلم) فقال له النبي (صلى الله عليه وسلم) أحضرتنا فقال بل علمت أنک صادق لا تقول الا حقا فجعل النبي (صلى الله عليه وسلم) شهادته شهادة رجلين.** (٥)

**ژباړه :** رسول الله (صلى الله عليه وسلم) یو کوچي څخه یې آس أخستی و، رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وویل په دومره مې أخستی، کوچي به ویل چې په دومره، خزیمة بن ثابت الانصاري دغه حالت ولید چې د پیسې پر سر اختلاف لري، نو خزیمة د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) له خوا شهادة ورکړ، رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمایل : آیا ته حاضر وې؟ خزیمة وویل بلکه زه پوهیږم چې ته صادق یې له

---

١ - سورة : النور (٤).

٢ - سورة : النور (١٣).

٣ - بن القيم جوزية : الطرق الحكمية (٩٢).

٤ - سورة : الحجرات (٦).

٥ - أبو داود : سنن أبي داود (٥٤٦) رقم الحديث (٣٦٠٧)، وصححه الألباني . تعليق الذهبي قي التلخيص : على شرط البخاري ومسلم.

حقَ پرته بل څه نه وايي، نو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د هغه شهادت د دوو کسانو شهادت سره برابر کړ.

د يو کس په شهادت باندې دغه دليل اکتفاء کوي، خو چې کله په صداقت باندې يې پوه او علم ولري، رسول الله (صلى الله عليه وسلم) خزيمه ته ونه ويل چې زه له تا سره بل شاهد ته اړتيا لرم، د ده شهادت يې دوه شهادته وګرځول، او دا د يو شاهد حکم د خزيمة لپاره خاص نه دی، ځکه له هغه څخه غوره کسان په صحابه کرامو کې هم شتون لري، که چېرې حضرت أبوبکر صديق، عمر، علي او أبی ابن کعب يواځې يواځې شهادت ورکړي، نو دا کسان به غوره وي چې د دوئ د شاهدی پر بناء قضاوت وکړي.[1]

**عن عبدالله بن عباس قال : جاء أعرابي الى النبي ﷺ فقال رأيت الهلال قال الحسن في حديثه يعني ( هلال ) رمضان فقال « أتشهد أن لا اله الا الله ؟ » قال نعم قال : « أتشهد أن محمداً رسول الله ؟ » قال نعم قال : يا بلال أذن في الناس فليصوموا غداً.** [2]

**ژباړه :** د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی فرمايي : يو کوچی رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته راغئ ويې ويل : ما سپوږمی وليده (د روژې د مياشتې سپوږمی) رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل : آيا ته شاهدي وايې چې « نشته لايق د عبادت مګر همدا يو خدای ؟ » ويې ويل هو، هغه وفرمايل « آيا ته شهادت ورکوي چې محمد د هغه أستازئ دی ؟ » کوچي وويل هو، رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل : أی بلاله خلکو کې اعلان وکړه چې سباته روژه ونيسي.

**مختار او غوره رأية :** د جمهور علماؤو رأيـه داده چې د شهادت لپاره نصاب واجب او ضروري دی، ځکه چې ډېر دلايل د نصاب په وجوب باندې دلالت کوي. او کومې خبرې چې مخکې تيري شو ي په عرفي قضاء کې د شهادت نصاب اعتبار نلري، أما په شرعي قضاء کې د شهادت نصاب د جمهورو فقهاوو له قوله معتبر دی. أما يـواځې د ابن القيم رحمه الله دغه رأيه چې ( لا يشترط في ثبوت الحق النصاب ) [3]، يعني (په شهادت مالي کې نصاب معتبر نه دی) د عرفي قضاء له شهادت سره توافق لري.

## په عرفي قضاء کې د ښځو شهادت:

د وردګو ولايت د جرګو ځينو مواردو کې د ښځې او ماشوم شهادت هم د قبول وړ وي چې د ښځې شهادت تر ډيره د هغې د نږدې نارينه له خوا جرګې ته وړاندې کيږي په دې شرط چې جرګه مار يې سم وګڼي. [4]

[1] - بن قيم الجوزية : الطرق الحكمية (۷۰).

[2] - الترمذي : سنن الترمذي : المسمى بالجامع الصحيح : أبي عيسى محمد د عيســى د سـورة الترمذي ځوی، متولد (۲۰۹ – ۲۷۹ هـ ) سنن الترمذي چې په (الجامع الصحيح) نومول شوی، چاپ خانه مصطفى الحلبي د چاپ کال: (۱۳۹٦ هـ ). د حديث شمېره ، (۱۷۳). روضة المحدثين (۲/ ۳۵۵، بترقيم الشاملة آليا) ، قال الحافظ: فى الفتح ، (۴ / ۲۲٦ ) : صححه ابن حبان.

[3] - ابن القيم الجوزية : الطرق الحكمية (۹۲).

[4] - معلم احمد جان : ميدان وردګ ولايت، دايميرداد ولسوالی د ګلئ د کلی قومي مشر، د مرکې نيټه (۱۴۰۲/۲/۱) .

خو حسن حیران داسې وایي : د دودیزو جوړښتونو او سخت دریځی له کبله معمولاً د ښځو شهادت نه منل کېږي او د ماشوکانو شهادت هم نه منل کېږي. [1]

د لوګر ولایت عرف کې: که چېرته په کومه قضیه کې ښځې حضور ولري او د صحنې شاهدانې وي په عرفي قضا کې د ښځو شهادت په مستقیمه توګه چې ښځې جرګې ته حاضرې شي وجود نلري، خو شهادت یې د یو مَحرم له لارې جرګې ته رسیږي، نو په عرفي قضا کې د ښځې شهادت د نارینه په ژبه چې د جرګې غړوته د قبول وړ وګرځي د اعتبار وړ ګڼل کېږي.

١. که چېرې په قضیه کې نارینه شتون ولري، نو د ښځو شهادت د منلو وړ نه دی.
٢. د ښځو شهادت په ټولو هغو قضایاوو کې د منلو وړ دی، چې یواځې ښځو پورې اړه ولري.
٣. نصاب پکښې شرط ندی، کله کله دیوې دعوا د اثبات لپاره یوه ښځه هم کفایت کوي. [2]

**په شرعي قضاء کې د ښځو شهادت:** شریعت د ښځو شهادت ته جواز ورکوي او د هغې له مخې حکم کوي، د ټولو فقهاوو تر منځ دا ښکاره خبره ده چې ښځه د شاهد په طور نیول کېږي. شریعت کې د ښځې د شهادت جواز په هر رنګه قضیه کې لیدل کیږي، لکه د مال قضیه کې، د حدودو قضیه کې، د قصاص قضیو کې او داسې نور.

په هغو أحادیثو کې چې د ښځو شهادت ښکاره شوی، بیان یې عام دی کوم تخصیص پکښې نشته، عام پخپل عمومیت کې پاته کېږي، نو ځکه یوه قضیه له بلې قضیې څخه نه شوو خاص کولی.

**عن أبي سعيد الخدري (رضی الله عنه) : عن النبي ﷺ قال : « أليس شهادة المرأة مثل نصف شهادة الرجل »، قلنا بلى قال ( فذلک من نقصان عقلها ).** [3]

**ژباړه :** د أبي سعيد الخدري رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي علیه السلام وفرمایل : آیا د ښځې شهادت د نارینه د شهادت په نیمایې نه دی ؟ ښځو وویل هو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل (دا یې د عقل نقصان دی).د ښځو د شهادت په منلو کې عرفي قضاء او شرعي قضاء دواړه متفق دي، خو په عرفي قضاء کې د ښځو شهادت په هغه مسائلو کې منل کېږي چې یواځې ښځو پورې اړوند وي، او همدارنګه شریعت هم دښځو شهادت مني لکن نصاب پکښې لازمي بولي.

**په عرفي قضاء کې د ماشومانو شهادت :** د لوګر په عرفي قضا کې، د ماشومانو شهادت، د ماشومانو حالت د جرګه کونکي له لوري څېړل کېږي، که د جرګې قناعت پرې حاصل شي منل کېږي. خو اکثراً رد کېږي او نه منل کېږي ځکه صاحب د تمیز نه دی. [4]

---

[1] - محمد حسن «حیران» : میدان وردګ ولایت، سید آباد ولسوالی د بادان د کلی قومي مشر، د مرکې نیټه (١٤٠٢/١/٣١) .

[2] - الحاج تاج محمد : لوګر ولایت ، ازرې ولسوالی د اکبرخیلو کلی قومي مشر ، د مرکې نیټه (١٤٠٢/١/١١) .

[3] - البخاري : الجامع الصحيح (٢ / ٩٤١) رقم الحديث (٢٥١٥).

[4] - الحاج قوماندان عزت الله بُـرګئ : لوګر ولایت، محمد آغي ولسوالی د بُرګ د کلی قومي مشر، د مرکې نیټه (١٤٠٢/١/١٨) .

میدان وردگ عرفي قضا کې، په ځینو مواردو کې ماشوم شهادت هم د قبول وړ وي، په دې شرط چې جرگه مار یې سم وگڼي او جرگې ته د منلو وړ وي . ([1])

د غزني د جرگو او عنعناتو له حسابه د ښځو او ماشومانو شهادت او گواهی د قبول وړ دی او منل کېږي.([2])

**شرعي قضاء کې د ماشومانو شهادت :** فقهاء کرام د ماشومانو په شهادت کې مختلف نظریات لري:

**امام مالک او امام احمد (رحمهما الله) :** د ماشومانو شهادت مني لکن په شرط سره. د امام مالک څخه په دې اړه پوښتنه وشوه، هغه وویل : د ماشومانو شهادت چې څېنې یې په څېنو شهادت ورکړي جایز دی، تر هغه پورې چې سره تیت او متفرق نشي، یا کوم سړی یې منځ ته داخل نشي، یا په کوم شي باندې چې آخته وو آخته وي امام مالک صاحب وویل : « په زخمونو کې، په قتل کې (اذا شهد اثنان فصاعدا قبل أن یتفرقا و کان ذلک صبیان کلهم )

**ژباړه :** کله چې دوه او یا زیات ماشومان شاهدي ورکړي مخکې له دې چې جلا شي او دا ټول ماشومان وي شهادت یې صحیح دی ) د یو ماشوم شهادت جایز نه دی، او همدا رنگه په زخمونو کې د جنوکیو شهادت د منلو وړ نه دی. ([3])

**د دې مذهب دلیلو نه : ما رويَ عن مسروق أن ستة ذهبوا یسبحون، فغرق أحدهم فشهد ثلاثة على اثنين أنهما غرقاه و شهد اثنان على ثلاثة أنهم غرقوه، فقضى على الثلاثة خمسي الدية و على الاثنين ثلاثة أخماس الدية.** ([4])

**ژباړه :** د مسروق څخه روایت شوی چې شپږو ماشومانو لامبو وهله، د دوئ څخه یو ماشوم په اوبو کې غرق شو، درې ماشومانو شهادت ورکړ چې دغه ماشوم دې دوو ماشومانو غرق کړی دی ، او دوه ماشومانو شهادت ورکړ چې دغه ماشوم دې دریو ماشومانو غرق کړی دی، فیصله یې وکړه چې (دوه پر پنځه برخې) پر دریو ماشومانو او (درې په پنځمه برخې د دیت) پر دوو ماشومانو باندې وټاکل شو.

د ماشومانو شهادت د منلو په اړه سلف صالح ټولو سره توافق کړی، لکه حضرت علی، حضرت معاویة بن سفیان، عبدالله بن زبیر، او همدارنگه د تابعینو څخه سعید بن المسیب، عروة بن الزبیر او داسې نور. ([5]) که چېرې د دوئ د ځینو شهادت د ځینو نورو په هکله ونه منل شي، د دوی وینې هدر او ضایع کېږي، ځکه شارع د وینې په حق کې ډېر احتیاط کوي.

---

[1] - معلم احمد جان : میدان وردگ ولایت، دایمیرداد ولسوالی د گلئ د کلی قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۲/۱) .

[2] - حاجي سمیع الله : غزني ولایت، اجرستان ولسوالی د سید خیلو کلی قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۲/۷) .

[3] - ابن القدامة : المغني : (۱۲ / ۲۸).

[4] - ابن ابي شیبة : أبـو بکـر عبـد االله د محمـد د أبـي شـیبة العبـسي الکـوفي ځوی، (تولد ۲۳۵ هـ) ، د (أبي شیبة) مصنف، تحقیق محمد عوامة د چاپ ځای: چاپ خانه الدار السلفیة الهندیة. د حدیث شمېره : (۲۷۸۷۳).

[5] - ابن قدامة : المغني : (۱۲ / ۲۸).

**د جمهورو فقهاؤو مذهب :** دوئ وايې چې د ماشومانو شهادت د منلو وړ نه دی.**د دې مذهب دليل :** «...... وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ فَإِنْ لَمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ... ». (١)

**ژباړه :**..... او له خپلو سړيو څخه دوه سړي شاهدان ونيسئ، خو كه دوه سړي نه وو نو يو سړی او دوه ښځې شاهدان ونيسئ...... « مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ....... ». (٢)

**ژباړه :** د هغه كسانو څخه شاهد ونيسئ چې ستاسي يې خوښوی.

**حديث شريف : عن عائشة (رضى الله عنها) أن رسول الله ﷺ قال : « رفع القلم عن ثلاثة، عن النائم حتى يستيقظَ، و عن المبتلَى حتى يبرَأَ، و عن الصبىّ حتى يكبُر ».** (٣)

**ژباړه :** د دري كسانو څخه قلم پورته شوې : د خوبه وړي څخه تر هغه وخته چي راويښ شي، د ناروغ څخه تر هغه چې روغ شي ، د ماشوم څخه تر هغه چي بالغ شي.

و قالوا: انه لا تقبل شهادة مَن ليس بعاقل اجماعاً قال ابن المنذر : و سواء ذهب عقله بجنون او سكر او صغر لأنه ليس بمحصل و لا تحصل الثقة بقوله. (٤)

**ژباړه :** هغه كس چې عاقل نه وي شهادت يې اجماعاً قبول نه دی، ابن المنذر فرمايلي : كه عقل يې په ليونتوت سره تللی وي يا په نېشې سره يا په وړكتوب سره، ځكه چې د هغه په خبرو اطمنان او باور نشي كيدلی.

**عقلي دليل :** د عاقل ماشوم شهادت نه قبليږي، ځكه چې د شهادت أداء په تحفيظ باندې كېږي، او تحفيظ په ياد سره كېږي، او ياد په تفكر سره، او تفكر عادتاً په ماشوم كې نه پيدا كېږي. (٥)

بې له شكه هر هغه څوك چې خبره يې د خپل نفس په هكله نه قبلېږي، نو شهادت يې د بل چا په هكله نه منل كېږي، لكه ليونی. (٦)

**مختار او غوره رأيــه :** قول مختار د جمهورو علماوو وينا ده چې وايې د ماشوم شهادت د قبول وړ نه دی البته د لاندې دلائلو په كتلو سره :

« وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ فَإِنْ لَمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ... ». (٧)

---

١ - سورة : البقرة (٢٨٢).

٢ - سورة : البقرة (٢٨٢).

٣ - الترمذي : سنن الترمذي , د حديث شمېره : (٣٣٦). روضة المحدثين (٣/ ٧٤، بترقيم الشاملة آليا) قال الحافظ فى " البلوغ " ١ / ٢٢٨: صححه الحاكم.

٤ - ابن قدامة : المغني : (١٢ / ٢٩).

٥ - الكاساني : بدائع الصنايع (٦ / ٤٠٦).

٦ - ابن القدامة : المغني (١٢ / ٢٩).

٧ - سورة : البقرة (٢٨٢).

**ژباړه :**..... او له خپلو سړیو څخه دوه سړي شاهدان ونیسئ، خو که دوه سړي نه وو نو یو سړی او دوه ښځې شاهدان ونیسئ...... « مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ....... ». (۱)

**ژباړه :** د هغه کسانو څخه شاهد ونیسئ چې ستاسي یې خوښوی. یو خو دادي چې د ماشوم یاده نه ده شوې او بله خبرده داده چې د ماشوم په شهادت باندی څوک نه راضي کیږي.

**حدیث شریف : عن عائشة (ض) أن رسول الله ﷺ قال : « رُفع القلم عن ثلاثة، عن النائم حتی یَستَیقظَ، و عن المبتلَیّ حتی یبرَأَ، و عن الصبیّ حَتی یَکبُر ».** (۲)

**ژباړه :** د دري کسانو څخه قلم پورته شوي : د خوبه وړي څخه تر هغه وخته چې راویښ شي، د ناروغ څخه تر هغه چې روغ شي ، د ماشوم څخه تر هغه وخته پوري چې بالغ شي.

و قالوا : انه لا تقبل شهادة مَن لیس بعاقل اجماعاً قال ابن المنذر : و سواء ذهب عقله بجنون او سکر او صغر لأنه لیس بمحصل و لا تحصل الثقة بقوله. (۳)

**ژباړه :** هغه کس چې عاقل نه وي شهادت یې اجماعاً قبول نه دی، ابن المنذر فرمایلی : که یې عقل په لیونتوت سره تللی وي یا په نېشې سره یا په وړکتوب سره، ځکه چې د هغه په خبرو اطمنان او باور نشي کیدلی.د دې موضوع په اړه چې څه تیر شول دا خبره جوته شوه، چې عرفي قضاء او شرعي قضاء د جمهور فقهاؤو له آنده، د ماشومانو د شهادت د نه منلو په اړه توافق لري.

## دویـــــم مـبـحــــث : یـمـیــن (قَـسَــــم) :

په دعواگانو او شخړو کې قسم یا لوړه د دعوا د اثبات له مهمو دلایلو څخه شمیرل کېږي، چې د شریعت تر څنگ په عرف کې هم خاص ځای لري او هر کس د خپلې خبرې د اثبات په خاطر، یا د تعهد د تأکید لپاره، یا هم د یو شي یا کوم حق ثابتولو په خاطر، د یو شي عظمت او لوی والي شاهد نیسي او قسم پرې کوي، دا چې قسم ځانته ډولونه او مختلف موارد لري، نو په اړه یې لاندي دریو مطلبونو کې پري بحث ترسره کېږي.

### لـومـړی مـطـلــب : د یـمـین (قَـسَــــــم) تـعــــریـــف

یمین (لوړه یا قسم) په شریعت کې د سترو او قوي دلیلونو څخه شمېرل کېږي، د هري قضیی په اړه د اقرار او شهادت څخه وروسته، قضاء په همدې بناء او بنسټ فیصله او حکم کوي، قسم د هري مسألي په حل او

---

۱ - سورة : البقرة (۲۸۲).

۲ - الترمذي : سنن الترمذي , رقم الحدیث (۳۳۶). روضة المحدثین (۳/ ۷۴، بترقیم الشاملة آلیا) قال الحافظ فی " البلوغ " ۱ / ۲۲۸: صححه الحاکم.

۳ - ابن القدامة : المغني : (۱۲ / ۲۹).

فصل کې پرېکړه کونکی ثبوت ګڼل کېږي، که مدعي د مدعي عليه په اقرار، د شاهدانو شهادت يا داسې نور دليلونه خپله دعوا ثابته کړي نو قاضي د هغه په ګټه فيصله او حکم صادروي، أما که مدعي د دعوا له ثابتولو عاجز پاتې شو، نو کولای شي مدعي عليه ته يمين (قَسم) ورکړي، ځکه چې قسم ورکول د مدعی حق دی.

**يمين په لغت کې :** يمين په ګڼو معنی ګانو باندې راغلی دی :

**الـقوة (طاقت) : « فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِينِ » أي باالقوة. (١)**

**ژباړه :** په خورا زور او قوت سره يې پرې ګوزار وکړ ( د ښي لاس ګوزار مضبوط وي ).

**الـدِين، و الـمـلة :** (دملت او دين ) په معنی « قَالُوا إِنَّكُمْ كُنْتُمْ تَأْتُونَنَا عَنِ الْيَمِينِ » أي : تأتوننا من قبل الدين، فتزينون لنا ضلالتنا. (٢)

**ژباړه :** دوئ يو له بله وايي (کشران مشرانو ته) چې بيشکه، تاسې وئ، چې د دين او ملت له ادرسه مونږ ته راتلئ.

**الـعـــــهـد :** « وَإِنْ نَكَثُوا أَيْمَانَهُمْ مِنْ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوا فِي دِينِكُمْ فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ إِنَّهُمْ لَا أَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُونَ » (٣) د ابن کثير متن : ( وإن نكث هؤلاء المشركون الذين عاهدتموهم على مدة معينة أيمانهم ، أي عهودهم ومواثيقهم) ، (٤)

**ژباړه :** او که يې خپل قسمونه مات کړل وروسته له خپلې ژمنې، او ستاسو په دين يې ملنډې ووهلې، نو د دغو کافرانو مشران ووژنئ، يقيناً دوئ هيڅ داسې لوړه نه لري چې ( له ماتولو يې ډډه وکړي ).

**واليمين، القسم و الحلف :** « لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ..... » (٥)

**ژباړه :** الله ﷻ تاسې په خپلو بابېزو قسمونو سره نه نيسي.

**يمين په اصطلاح کې :** فقهاوو په دې اړه ډېر تعريفونه کړي دي، چې په لاندې ډول بيانيږي، او ټول تعريفونه په حقيقت کې پر يوې مرکزي معنی راڅرخيږي.

يمين له هغه عقد څخه عبارت دی چې په هغې سره قسم خوړونکی د يو کار د کولو او يا نه کولو قوي او کلکه اراده کوي. (٦)

---

١ - سورة الصافات (٩٣). ابن كثير : تفسر القرآن العظيم (٧ / ١٦).

٢ - سورة الصافات (٢٨). القرطبي : الجامع لأحكام القرآن (٨ / ٣٥٨).

٣ - ســــورة الـتوبة (١٢).

٤ - ابن كثير : تفسر القرآن العظيم (٧ / ١٦).

٥ - سورة : الـمائده (٨٩). ابن منظور لسان العرب (١٣ / ٤٥٨).

٦ - ابن عابدين : رد المحتار على الدر المختار (٤ / ٤).

د يوي معاملې ثابتول، لاسته راوړل يا په يو شي باندې ټينګار کولو څخه عبارت دي، د الله متعال د نومونو يا صفاتو په يادولو سره.

**اليمين هو :** تحقيق ما لم يجب بذكر اسم الله أو صفته ». ([1]) د الله پاک په نومونو او صفتونو د هغه څه لازمول چې لازم نه وي. دا ټول تعريفونه په يوي واحدې معنی راڅرخيږي، له دغه تعريفونو څخه د يو تعريف شرح کوو:

**اليمين :** د الله متعال د نومونو يا صفاتو په يادولو سره د هغه څه لازمول چې لازم نه وي.

**تحقيق مالم يجب :** يعني څوک چې قسم خوري، د يو څه د لاسته راوړلو اراده لري، که په تير وخت کې وي يا که په راتلونکي وخت کې، که د نفي لاسته راوړل وي او که د اثبات.

**بذكرالله او صفة من صفاته :** دا چې قسم د الله متعال په نومونو باندې وي لکه ( الله ) يا د هغه په صفاتو وي لکه ( حيّ، عظيم، رحمن ).

**په عرفي اصطلاح کې يمين:** عرف کې د يمين اصطلاحي تعريف په حقيقت کې د يمين شرعي معنى څخه نه وځي، لکن د قسم اړوند عرفي طرزالعملونه شتون لري، چې په لاندې ډول بيانيږي، او وروسته يې مقارنه کوو.

## دويم مطلب : يمين ( قَسم ) په عرف کې

لکه څنګه چې مخکې مو وويل، يمين (قسم) په عرف کې د سترو او قوي دليلونو څخه دی، عرفي قضاء هم پر همدې بناء او بنسټ د هري قضيې په اړه فيصله او حکم کوي، قسم د هري مسألې په حل او فصل کې پرېکنده ثبوت ګڼل کيږي.

**د يمين طرزالعملونه :** کله چې په عرف کې د يوي قضيې د جز ئياتو په اړه داسې کوم خلاف رامنځته شي، چې ثبوت يا نفي ته اړتيا ولري، او پر هغه باندې شاهد پيدا نشي، بيا خبره شرعی اصولو ته چې (قَسم) دی ته ور أوړي.

يمين (قسم) هغه وخت ترسره کيږي، چې د متخاصمينو له جملې څخه يو کس، هغه که مدعي وي يا مدعي عليه وي، د مقابل لوري څخه د قَسم غوښتنه وکړي، که قسم يې وکړ نو حق يې ثابتيږي، تهمت (تور لګول) ترې دفع کيږي، او بيا ځلي د ادعا حق نلري. ([2])

د غزني ولايت عرف کې، د دعوىٰ د اثبات لپاره قسم دليل کيدلی شي، خو طريقهء دادی: چې پر قسم خوړونکې باندې اودس کوي او قرآنکريم د جرګې منځ ته راوړي، کله چې قسم خوړونکۍ قسم خوړلو ته

[1] - الدردير : شرح الكبير على مختصر خليل (٢ /١٢٧).

[2] - الحاج تاج محمد : لوګر ولايت، ازرې ولسوالی د اکبرخيلو کلی قومي مشر ، د مرکې نيټه (١٤٠٢/١/١١) .

چمتو شو، نو ددي چمتو والی په دي معنی دی چې قسم يې وکړ او قسم يې ومنل شو، در حاليکه قسم يې نه دی کړی، بيا نو جرگه ترې تيريږي او د قسم کليمات نه استعماليږي. [١]

**په عرف کې ښځوته قسم ورکول :** که چېري د غلا يا کوم بل شي په هکله چې لوړه يا قسم ايجابوي او ښځې ته راجع کېږي، نو پښتو کې ښځې ته قسم جواز نلري، البته د ښځې پر ځای د هغې مېړه يا نږدې خپلوانو ته لوړه متوجه کېږی. [٢]

په عرفي قضاء کې د يمين (قسم) مشهوره صيـغه همدغه د شرعي قضاء صيغه ده، لکه : ( وَاللّهِ، بِاللّهِ، ثم تَاللّهِ ) ځينی وخت کيدای شي چې په نورو صيغو باندې قسم وکړي.

**په قسم کې د مکان او زمان تعظيم :** د لوگر عرفي قضا کې د شهادت په اړه د مکان او زمان تعظيم په نظر کې نيول کېږي، د مکان تعظيم لکه قسم ورکول په مسجد کې يا د سيند له غاړي، د زمان تعظيم لکه قسم ورکول د جمعی د لمانځه يا د مازديگر د لمانځه څخه وروسته، د ځاي او زمان تعظيم ځکه په نظر کې نيول کېږي، تر څو د حالف (قسم خوړونکي) په زړه کې ويره پيدا شي او د قسم څخه اعراض وکړي (مخ واړوي) که چېري مشکوک يا کاذب وي.[٣]

د ميدان وردگ عرف کې د قسم ورکولو لپاره معين وخت او ځای شتون نلري، قسم يا د جرگي په ځای کې يا هم کله ناکله په مسجد کې ترسره کېږي. [٤]

د غزني عرفي قضا کې، زمونږ په جرگو کې د قسم ورکولو لپاره کوم ټاکلی ځای يا کوم ټاکلی وخت شتون نلري، بلکه په هر ځای کې چې مجلس دايريږي او جرگه ترسره کيږي، همغه ځای کې قسم ورکول کېږي. خو کله ناکله د مسجد يادونه کېږي، ترڅو له قسم څخه انصراف وکړي [٥]

عرفي قاضي قسم خوړونکي څو ورځو پوري مهلت ورکوي، تر څو د (قَسَم) څخه وگرځي يا يو څو کسان مخکې له تحليف (قسم ورکولو) په دي اړه مداخله وکړي او دا مسأله صلح او امن سره پرته له قسم خوړلو حل او فصل کړي. [٦]

---

[١] - حاجي حمدالله (نوري)، غزني ولايت، قره باغ ولسوالی د بهادرگئ کلی ، د اړيکې شمېره : (٠٧٠٠١٨٩٧٨١)، د مرکې نېټه (١٤٠٢/٢/٨) .

[٢] - الحاج سناتور عبدالله : مرکه څلې او نرخونه، (١٢٢) .

[٣] - الحاج تاج محمد : لوگر ولايت، ازرې ولسوالی د اکبرخيلو کلی قومي مشر ، د مرکې نېټه (١٤٠٢/١/١١) .

[٤] - عبدالباري د مولوي محمد انور فيضان زوي، ميدان وردگ ولايت، سيد آباد ولسوالی د شنيز دکلی قومي مشر، د مرکې نېټه (١٤٠٢/١/٣١) .

[٥] - الحاج سميع الله : غزني ولايت، اجرستان ولسوالی د سيد خيلو کلی قومي مشر، د مرکې نېټه (١٤٠٢/٢/٧) .

[٦] - حاجي تاج محمد : لوگر ولايت، ازرې ولسوالی د اکبرخيلو کلی قومي مشر ، د مرکې نېټه (١٤٠٢/١/١١) .

## دریــــــم مـطـلـــب : د عـرفـي قسم او شـرعـي قسم تـر مـنځ پـرتلیزه څـیړنـه

د هغه څه پر بناء چې مونږ وړاندي کړ، اړینه ده چې د عرفي قسم یو څو ټکو ته ژوره کتنه وکړو، لکه :

د یمین (قسم) صیغه :

د حلف (قسم) بدلول :

د مکان او زمان تعظیم :

### لومړی : د یمین (قَسم) صیغه :

**الف : د عـــرفي قسـم الـفاظ :** وړانـدي تیر شول چې عـــرفي قضاء کې هـم د قسـم مشـهوره صیـغه ( وَاللّهِ، بِاللّهِ، ثم تَاللّهِ ) دی، او ځینې وخت نوري صیغیې هم کارول کېږي.

د میدان وردگ عرفي قضا کې، په عرف کې قسم (لوړه) د اثبات دلیل گرځي او لوړه په عرف کې یواځې د الله جلاله د نوم په کارولو سره نه تر سره کیږي، بلکې کله د طلاق په الفاظو سره چې میرمن مې دې رابانديې طلاقه وي که داسې نه وي، او کله هم د یو چا په سر قسم یادوي او کله هم د ځان یا یوه قریب د ژوند د اخیستو په الفاظو تر سره کیږي. (١)

**ب : د شرعي قسم الفاظ :** د ټولو فقهاوو ( امام أبو حنیفه، امام مالک، امام شافعي او امام احمد حنبل ) په نزد د یمین صیغه ( وَ اللّهِ، و بِاللّهِ، و تَاللّهِ ) دي، (٢) او په دې حدیث باندې استدلال کوي :

**(عن ابن عمر رضی الله عنه : أَنَّهُ أَدْرَكَ عُمَرَ بنَ الخَطَّابِ فِي رَكْبٍ وهو يَحْلِفُ بأَبِيهِ، فَنَادَاهُمْ رَسولُ اللَّهِ ﷺ: أَلَا إنَّ اللَّهَ يَنْهَاكُمْ أنْ تَحْلِفُوا بآبَائِكُمْ، فمَن كانَ حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ باللَّهِ، وإلَّا فَلْيَصْمُتْ).** (٣)

**ژباړه :** د ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی، چې هغه عمر (ض) په یوه قافله (کاروان) کې په خپل پلار داسې قَسَم کول، نو رسول الله ﷺ هغوی راوغوښتل، (وویل) « باخبر چې الله پاک تاسو منع کړي یاست، داچې په خپلو پلرونو قسم وکړئ، که څوک قسم کونکی وي، نو په الله دې قسم کوي، او که نه چُـپ دې پاتي شي.په دې اړه هغه څه چې وړاندي تیر شول، دا خبره په ډاگه شوه چې په عمومی توگه عرفي قضاء شرعي قضاء سره د یمین په صیغه کې موافق دي.

---

١ - احمد جان : د میرزا محمد ځوی، میدان وردگ ولایت، دایمیرداد ولسوالی د گلځ د کلی قومي مشر، د مرکې نیټه (١٤٠٢/٢/١) ..

٢ - ابن عابدين: رد المحتار على الدر المختار ( ٨/٤).

٣ - البخاري :صحیح البخاري، د حدیث شمېره (٦١٠٨) د محدث د حکم لنډیز : صحیح .

**دویــم : د حلف (قسم) تبادله**

**په عـرفي قضاء کې :** د لوګرعرفي قضا کې د قسم تبادله شتون لري، او په دې صورت ترسره کیدای شي، چې یو له مخالفو ډلو څخه هغه که مدعي وي او که مدعي علیه، یو له بله د شرعي حلف (قسم) غوښتنه وکړي، که چېري يې قسم وکړ حق يې ثابت یا تهمت او تور تري دفع کېږي. (١)

المغي : ( الحلفُ علیک او عليّ، و أيهما حلف منهما ثبتت له الدعوی ) دا د المغني لفظ دی . (٢)

**په شـرعي قضاء کې : د امام أبو حنیفه او حنابله وو مذهب** قسم په هغه چا ترسره کېږي چې قسم پري ثابت شوی وي، وایي چې یمین (لوړه) بناء پر دلائلو، مدعي علیه باندې ثابت دی مدعي ته نه انتقالېږي، نو ځکه په حلف کې تبادله نشته، چې دا د أحنافو مذهب دی. (٣)

**دلیل : ( عن علقمة بن وائل عن أبيه قال : جاء رجل من حضرموت و رجل من كندة الى النبي ﷺ فقال الحضرمي يا رسول الله ان هدا قد غلبني على أرض لي كانت لأبي فقال الكندي هي أرضي في يدي أزرعها ليس له فيها حقٌ، فقال رسول الله ﷺ للحضرمي ألک بينة قال لا قال فلک يمينه، قال يا رسول الله ﷺ ان الرجل فاجر لا يبالي على ما حلف عليه و ليس يتورع من شيء فقال : ليس لک منه الا ذلک فانطلق ليحلف فقال : رسول الله ﷺ لما أدبر أما لئن حلف على ماله ليأكله ظلماً ليلقين الله و هو عنه معرض. (٤) « فالنبي ﷺ قال ليس منه الا ذالک أی لم يرد اليمين عليه، و أن اليمين تثبت للمدعى عليه )**

**ژباړه :** علقمة بن وائل د خپل پلار څخه روایت کوي وایي چې : یو سړی د حضرموت څخه او بل سړی له کندة څخه رسول الله ﷺ ته راغلل، حضرمي وویل یا رسول الله دغه سړي زما څخه هغه ځمکه چې له پلاره راته پاته شوي قبضه کړي، الکندي وویل : دا ځمکه زما په قبضه کې ده زه يې کرم د دې هیڅ حق پکښې نشته، رسول الله ﷺ حضرمي ته وفرمایل : په دي اړه ستا شاهدان شته ؟ وویل نه، رسول الله ﷺ دې بل سړي ته وویل خیر په تا باندې د دې قسم دی، حضرمي وویل : یا رسول الله ﷺ بې له شکه فاجر انسان د قسم پروا نه ساتي او د هیڅ شي څخه نه وېریږي، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ستا لپاره د قسم څخه پرته نور هیڅ شی نشته، ورشـه چې قسم درته وکړي، رسول الله ﷺ چې کله روان شو و يې ویل : که چېرې د دې پر مال باندې ناحقه قسم کړی وي، نو خامخا به الله سره مخ کېږي په داسې حال کې چې الله متعال به ورڅخه مخ اړونکی وي.

دلته که حدیث شریف ته ځیر شو، نبي علیه السلام وویل : چې د مدعي لپاره پر مدعي علیه باندې پرته له قسم بل څه نشته، او یمین يې مدعي ته رد نه کړ، ځکه چې یمین د مدعي علیه لپاره ثابت دی.

---

١- الحاج تاج محمد، ازرکئ : د اکبرخیلو قومي مشر، د مرکي نیټه (١٤٠٢/١/١١) .

٢ - المغي : الحلفُ علیک او عليّ , و أيهما حلف منهما ثبتت له الدعوی.

٣ - الکاساني : بدائع الصنایع (٦ / ٢٣٠). ابن القدامة : المغني (١٢ / ١٢٤).

٤ - الامام مسلم : صحیح مسلم : د حدیث شمېره . (١٣٩).

**د امام مالک او امام شافعی مذهب :** وايې يمين شونى دى چې مدعي ته واوړي، کيداي شي مدعي په لومړي ځل قسم وکړي، لکه قسم د شاهد سره، ځکه د يمين تبادله يې جايز بللې. [1]

**دليل : عن سلمان بن يسار عن رجال من الأنصار : أن النبي ﷺ قال لليهود و بدأ بهم يحلف منكم خمسون رجلاً فأبوا فقال للأنصار استحقوا قالوا نحلف على الغيب يا رسول الله ؟ فجعلها رسول الله ﷺ دية على يهود لأنه وجد بين أظهرهم.** [2]

**ژباړه :** له أنصارو څخه سلمان بن يسار روايت کوي چې « نبي کريم ﷺ يهودي ته وفرمايل، چې د تاسو څخه به پنځوس کسان قسم کوي، خو هغوى انکار وکړ، رسول الله ﷺ وويل : دوى د دې مستحق دي، هغوى وويل : آيا مونږ په غيبو قسم وکړو ؟ نو رسول الله ﷺ ديت پر يهودو کيښود، ځکه چې (مقتول) د دوئ په منځ کې وموندل شو ».

**عن ابن عمر (ض) أن النبي ﷺ رد اليمين على طالب الحق.** [3]

**ژباړه :** د حضرت ابن عمر څخه روايت دى، چې رسول الله ﷺ قسم يي حق غوښتونکي (مدَعي) ته راجع کړ.

**مختار او غوره رأيه :** د امام شافعي او امام مالک (رح) نظر مختار دى، ځکه چې نبي عليه السلام، مدعين (دواړه مدعيانو) ته حلف ورکړى دى، لکه ( القسامة ) په موضوع کې.

دلته مقصد او موخه د حلف (قسم) څخه د حق تبين (ښکاره کيدل) دي، کله چې مدعي عليه د مدعي پر قسم باندى راضي شو، نو د حق حاصلولو پخاطر د مدعي پر حلف باندې کوم ممانعت نشته. د دې موضوع په اړه څه چې تير شو، دا معلومه شوه چې عرفي قضاء د هغه چا د رأيه سره موافق ده چې په تبادله د حلف باندې قائل دي.

**دريــم : د مــکان او زمـان تعـظـيـم** لکه څنګه چې وړاندې تير شو، په عرفي قضاء کې د مکان او زمان تعظيم او درناوي ته اعتبار ورکول کېږي، خو دا د قاضي ليدلوري او د قضيې څرنګوالي پوري اړه لري چې کومه قضييه د مکان او زمان درناوي ته اړتيا لري. مګر په شرعي قضاء کې د مکان او زمان تعظيم او درناوى ځانته اعتبارات او ملاحظات لري. لکه چې الله متعال فرماداسې :

**(**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِينَ الْوَصِيَّةِ اثْنَانِ ذَوَا عَدْلٍ مِنْكُمْ أَوْ آخَرَانِ مِنْ غَيْرِكُمْ إِنْ أَنْتُمْ ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَأَصَابَتْكُمْ مُصِيبَةُ الْمَوْتِ تَحْبِسُونَهُمَا مِنْ بَعْدِ الصَّلَاةِ فَيُقْسِمَانِ بِاللَّهِ إِنِ ارْتَبْتُمْ لَا نَشْتَرِي بِهِ ثَمَنًا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى وَلَا نَكْتُمُ شَهَادَةَ اللَّهِ إِنَّا إِذًا لَمِنَ الْآثِمِينَ). [4]

---

[1] - ابن رشد : بداية المجتهد: د حديث شمېره . (٢ / ٢٣٠).

[2] - أبو داود : سنن أبو داود : د حديث شمېره . (٤٥٢٦). الدراية في تخريج أحأديث الهداية (٢/ ٢٨٤) إسناد يې صحيح دى،

[3] - الحاکم : المستدرک (٣ / ١١٣). روضة المحدثين (٩/ ٤٢١، بترقيم الشاملة آليا)، إسناد يې ضعيف دى، حافظ په " البلوغ " کې ( ١ / ٢٩٢)، وايې: چې سند يې ضعف دى.

[4] - سورة المائده : (١٠٦).

**ژباړه :** ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، کله چې کوم یو ته مرگ حاضر شي، نو د وصیت له لپاره دوه تنه عادل شاهدان ونیسئ، (که مو په مسلمینو کې داسې کس پیدا نکړ ) د نورو څخه دوه شاهدان وغواړئ، اوکه وربانديې شکمن وئ، نو د لمانځه نه وروسته دې لوړه وکړي، چې مونږ حاضر نه یو چې حق پټ او خرڅ کړو، اگر که زمونږ خپلوان هم وي، او مونږ د الله شهادت نه پټوو، که مو پټ کړ گنهکار به یو.

د دې وړاندې موضوعاتو د څېړنې څخه دا ښکاره شوه چې : شرعي قضاء او عرفي قضاء دواړه، د مکان او زمان تعظیم او درناوي ته اعتبار ورکوي.

## درېـــیم مـبحـــث : اقــــرار

دشرعي قضا او همدا رنگه د عرفي قضا د اثبات له دلایلو څخه یو هم اقرار دي، د قضایاوو د ثبوت په اړه، اقرار تر هر ډول دلیل او سند څخه هم په شریعت کې او هم په عرف کې ډېره غوره او غبنتلی سند بلل کېږي، نو اړینه ده چې نوموړی موضوع تر بحث لاندې ونیول شي، څکه په لاندې لیکل شوي دریو مطلبونو کې دځرگندولو او لا روښانه کولو په پار څېړل کېږي.

### لـومړی مـطـلـب : د اقـــــرار پــېژنــدنــه

**اقـــرار په لغت کې :** اقرار عربي کلمه ده، د « قَـرَّ » یعنی د « ثَـبَـتَ » په معنی دی، و ( مَقر الشئ ) یعنی هغه ځاي چې پکښې قرار لري، و ( أقّـرَ بالحق ) یعني په حق باندې اعتراف وکړ، و ( تـقـرر الأمر ) ځای پر ځاي شو (یا پر خپل ځای شو). (١)

**اقـــرار پـه اصطلاح کې :** فقهاوو د اقرار په اړه گڼ تعریفونه کړي دي چې په لاندې ډول بیانېږي، خو په حقیقت کې دا ټول تعریفات پر یو مفهوم او مقصد باندې راڅرخي، چې د بل چا دحق لپاره اعتراف کول دي.

**ابن الهمام او ابن نجیم :** « اخبار عن ثبوت حق للغیر علی نفسه ». (٢)

**ژباړه :** پر خپل ځان باندې د نورو د حق ثابتولو په اړه خبر ورکولو ته وایې.

**الدسوقي :** « خبر یوجب حکم صدقه علی قائله فقط بلفظه او لفظ نائـبه ». (٣)

---

١ - ابن منظور : لسان العرب (٥ / ٨٢).

٢ - ابن الهمام : شرح فتح القدیر (٨ / ٣١٧).

٣ - الدسوقي: حاشیة الدسوقي علی شرح الکبیر(٣/٣٩٧).

**ژباړه :** هغه خبره ده چې پر قایل (ویونکې) باندې د صدق حکم یواځې د ده په وینا سره یا د ده د نایپ په وینا سره لازمیږي.

دلته یواځې د لومړي تعریف په تشریح کولو بسنه کوو :

**د ( اِخبار ) کلمة :** په تیرو أعمالو دلالت کوي، مثلاً : (لَـهُ عَـلـیّ ) یعني د هغه پر ما باندې، دا د اِخبار لفظ دی، نو د دې لفظ په کاروني سره ملکیت ثابتیږي. او په دې لفظ سره اِنشائې جملات خارجیږي، لکه : (بعتُ) ومی پلورل، قرض مې ورکړل، کیدای شي پرما وي، دغه جملې انشائیه جملې دي، په داسې جملو اقرار نه ثابتیږي.

**د ( بحق للـغیر علی نفسه ) :** په کلماتو سره، د بلچا حَق یې پر خپل ځان، قَید کړ یعني چې باید حق وي، او دعوا یې ورنه خارج کړ، ځکه دعوا هغه ته ویل کېږي چې د ده حق دې پر بل چا وي شهادت هم ورڅخه خارج شول، ځکه شهادت د غیر حق دی په غیر باندې، او که د کوم عام شي تقاضاء او غوښتنه یې وکړه، نو هغه أمر دی، او که د شرعي احکامو څخه وي نو بیا فتوا ده. (١)

**پــه عـرفي اصطلاح کې اقـــرار:** په حقیقت کې د عرفي اقرار اصطلاحي تعریف، له شرعي معنی څخه نه وځي، لکن د عرفي اقرار لپاره ځیني طرزالعملونه شتون لري، چې په وروستی مطالبو کې یې بیانوو.

## دویـــــم مـطـلـــــب : پـــه عـــرفـي قـضـــاء کـــې اقـــرار

د عرفي قضاء د څیړنې په بهیر کې مو څو مسألې پیدا کړې، چې د اقرار پوري اړوند دي، چې بیان یې په لاندې ډول دی :

**لـومړۍ مسأله : اقرار د حق د ثبوت لپاره حجت دی:** د لوګر په عرف کې اقرار په عرفي قضاء کې غوڅ او قاطع حجت دی، اقرار د دلائلو سردار دی، د اقرار له پاسه بل حجت نشته، نو ځکه د اقرار پر بناء حکم کیږې. (٢)

**دویـــمه مسأله : اقرار متعدي حجت دی :** اقرار په عرفي قضاء کې متعدي حجت دی، مجرم که په هره قضیه کې پر چا باندې اقرار وکړي، نو له هغه اتهام څخه چې پر دي لګیدلی دی، د خلاصون یا تیښتې لاره نلري، آن تر دې چې قَسم کول یې نه منل کېږي، مګر داچې د مجرم د اقرار له لارې خپله بې ګناهي ثابت کړي، یا د جاني په اقرار سره تهمت او تور پري ثابتېږي.

**مثـلاً :** کله چې یو جاني داسې اعتراف وکړي، چې زما څخه فلان سړي غلا وکړه، د حق خاوندان یوه ډله متهم ته ورلیږي، کله چې دا خلک متهم ته ورسیدل، نو دا متهم د حق خاوندانو څخه غوښتنه کوي تر څو

---

١ - ابن الهمام : شرح فتح القدیر (٨ / ٣١٧).

٢ - الحاج جمعه خان مشهور په ټنډکۍ د امیر جان زوی، لوګر ولایت، محمد آغي ولسوالی د سوړیا د کلی قومي مشر، د مرکې نیټه (١٤٠٢/١/١٨).

هغه اقرار کونکی له ده سره کښینوي، که چېرې د متهم علیه برأت (بیگناهي) ثابت شوه، نو د حق ورکړه د دې د تهمت پر بناء او همدارنگه د شواهدو او دلائلو پر بناء جانی باندی دی. (۱)

**دریــــمه مسأله : د اقــــرار ډولــــونــــه:**

۱. **د خلکو تر مخ اعتراف :** د خلکو د یوي ډلي تر مخ اعتراف کول دي، که مجلس وي یا دیوان.

۲. **د ویاړ (کلانکاري) لپاره اعتراف :** دا اعتراف د مفاخره، ویاړ او ځان ښودني لپاره وي، یعني د خپلو خپلوانو او ملگرو تر مخ اعتراف کوي، چې دا اعتراف پر ده باندې هیڅ شی نه لازموي تر څو مخالف ډله پرې دعوی وکړي او دا اقرار په اثبات ورسوي او شاهدان پرې راولي، یا اقرار کونکي ته قسم ورکړي، چې تا د خپلوانو او ملگرو تر مخ داسې اقرار نه وو کړی؟ که برأت پیدا کړي، بیا هم د کبر او مفاخري له أمله د قوم لخوا جریمه کېږي. (۲)

۳. **د تقاضي په وخت اعتراف :** یعني اعتراف کول په دیوان کې کله چې قاضي ورڅخه سوال وکړي او مخالف سره مجادله وي، دا هغه اقرار دی چې سړی ملزم دی، د رجوع او انکار امکان نه لري.

۴. **ضمني (پټ) اعتراف :** دا رنگه اعتراف ډَول ډَول صورتونه لري.

**مثلاً :** که یوه کورنی یه قتل تورنه وي، او دغه متهمه کورنی د دې پخاطر چې دغه اتهام او تورونه د جریمه په ورکړي سره رد کړي او پیسې ولگوي، نو دا ضمنی (پټ) اعتراف دی.

**مثلاً :** د قتل څخه وروسته کـډه کول، پر دې دلالت کوي چې د دې کورنی څخه کوم یو په دې قتل کې لاس لري، نو همدې ته ضمني اعتراف وایې.

**مثـلاً :** د دوو کورنیو تر منځ د قتل یا نورې قضیې په اړه، د پخـلاینې خـبرې اترې کول دضمني اعتراف پــه معنی دي. (۳)

**څلورمه مسأله : له اقرار څخه رجوع کول (گرځیدل):**

د غزني په عرفي قضا کې له اقرار څخه گرځېدل: که د اقرا کونکي حواس سالم وي، نو زمونږ جرگو کې، له اقرار څخه یې گرځیدل نه منل کېږي، ځکه چې له اقرار کونکئ څخه په زور او جبر سره اقرار نه دی اخستل شوی، بلکه په خپله خوښه یې اقرار کړی دی. (٤)

د میدان وردگ عرفي قضا کې له اقرار څخه گرځېدل، که د جرگي په وړاندې څوک اقرار وکړي، په هغه باندي ملزم گرځي او گرځېدل ئې اعتبار نلري. (٥)

---

۱ - قومندان عزت الله برگی : لوگر ولایت، محمد آغي ولسوالی، د بُرگ د کلی قومي مشر، د مرکې نیته (۱۴۰۲/۱/۱۸) .

۲ - حاجي تاج محمد : لوگر ولایت ، ازرې ولسوالی د اکبرخیلو کلی قومي مشر ، د مرکې نیته (۱۴۰۲/۱/۱۱) .

۳ - قومندان عزت الله برگی : لوگر ولایت، محمد آغي ولسوالی د بُرگ د کلی قومي مشر، د مرکې نیته (۱۴۰۲/۱/۱۸) .

٤ - الحاج سمیع الله : غزني ولایت، اجرستان ولسوالی د سید خیلو کلی قومي مشر، د مرکې نیته (۱۴۰۲/۲/۷) .

٥ - عبدالباري : میدان وردگ ولایت، سید آباد ولسوالی د شنیز د کلی قومي مشر، د مرکې نیته (۱۴۰۲/۱/۳۱) .

د لوګر عرفي قضا کې، کله چې يو کس د يو عمل په ترسره کولو اعتراف وکړ، نو دا اعتراف ملزم دی، له دې اقرار څخه ګرځېدل په هيڅ حالت کې امکان نلري، که قَسَم هم وکړي، مګر دا چې پر خپل (اعتراف) باندې دلائل پيش کړي ، چې زما اعتراف دروغ دی يا يې د اقرار پر وخت دماغي حالت ښه نه وي. دلائل هم د مختلفو قضاياوو پر بناء مختلف وي، مثلاً د مال په قضيو کې، ممکن دی ووايي ( هغه څه مې چې ويلي زه درواغجن يم ) يا ( ما ټوکې کولې ) نو دا دلائل په عرفي قضاء کې د اقرار په عدم صحت باندې دلالت کوي، او د اقرار څخه ګرځېدل قبلوي.أما د عزت او أبرو په مسايلو کې، لکه زنـا، چې ووايي ( ما د فلانی سره زنا کړي ) او وروسته له خپل اقرار څخه بيرته راوګرځي، بيا هم هغه ته د افتراء، تهمت او بدنامولو په خاطر عرفي قضاء کې سخته سزا ورکول کېږي. او د قتل له اقرار څخه رجوع کول (راګرځېدل) په عرفي قضاء کې نه منل کېږي، بلکه اقرار کونکی قاتل بلل کېږي او هيڅ رنګه شواهد د هغه پر کذب او دروغ باندې نه منل کېږي، مګر دا چې حقيقي قاتل ښکاره شي. (١)

## دريـــــم مـطـلـــــب: د عرفي قضاء اقرار او شرعي قضاء اقرار تر منځ مقارنه

د عرفي اقرار د تعريفونو له لارې دې لاندې څو ټکو ته کتنه کوو :

اقرار پر اقرار کونکي حجت او ثبوت دی، او همدا رنګه پر هغه باندې ملزم او پابند دی، اقرار سيد الادله ( د دلايلو سردار ) دی.

اقرار په عرف کې هم صريح (ښکاره) دی او هم ضمني.

اقرار متعدي حجت (انتقالي يا سرايت کونکی حجت ) دی.

د اقرار څخه رجوع کول ( بيرته راګرځېدل ).

د پورته ليکل شوي څو ټکو په شاو او خوا کې د شرعي اقرار او عرفي اقرار ترمنځ پس له مقارنې (پرتلې) څخه دغه لاندې موضوعات مونږ ته جوت او ښکاره شول.

**اقرار مُلزم (پابند) حجت دی پر مُقِر باندې :**

**اقرار په عرفي قضاء کې :** اقرار مُلزم حجت دی پر اقرار کونکي باندې، اقرار که صريح وي يا ضمني په هره قضيه کې غوڅ او فيصله کونکی دليل دی.

**اقرار په شرعي قضاء کې :** لکه څنګه چې اقرار په عرفي قضاء کې ملزم حجت دی، نو همدا رنګه په شرعي قضاء کې هم مُلزِم حجت دی، د ډيرو دلايلو پر بناء چې په لاندي ډَول يې يادونه کوو:

---

١ - الحاج جعه خان مشهور په ټنډکئ د امير جان زوی، لوګر ولايت، محمد آغي ولسوالی د سوړيا د کلی قومي مشر، د مرکې نيټه (١٤٠٢/١/١٨) .

**قرآنی دلیل :** « وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُمْ مِنْ كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنْصُرُنَّهُ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَى ذَلِكُمْ إِصْرِي قَالُوا أَقْرَرْنَا قَالَ فَاشْهَدُوا وَأَنَا مَعَكُمْ مِنَ الشَّاهِدِينَ » (١)

**ژباړه :** او كله چې الله جَلَّ جَلَالُهُ د نبيانو څخه پخه وعده واخستله چې هر هغه څه چې تاسو ته له كتاب او حكمته دركړم، بيا تاسو ته رسول راشي چې د هغه څه تصديق كونكي وي چې له تاسو سره دي، نو تاسو به خامخا ايمان پرې راوړئ او خامخا به يې مرسته كوي، (الله له دې وعدې وروسته) پيغمبرانو ته وفرمايل : آيا تاسو اقرار وكړ او زما درنه وعده قبوله كړه ؟ هغوى وويل : مونږ اقرار وكړ. (الله) وفرمايل : نو تاسو گواه شئ او زه هم تاسو سره له گواهانو څخه يم.

په دې آيت كريمه كې الله جَلَّ جَلَالُهُ د أنبياوو څخه د اقرار غوښتنه كړې، تر څو په ډاكه كړي چې اقرار حجت دى. (٢)

**د سنت دليل : (عن أبي هريرة قال : « أتى رجل من أسلم رسول الله ﷺ و هو في المسجد فناداه فقال يا رسول الله ان الآخر قد زنى يعني نفسه فأعرض عنه فتنحى لشق وجهه الذي أعرض قبله فقال يا رسول الله ان الآخر قد زنى فأعرض عنه فتنحى لشق وجهه الذي أعرض قبله فقال له ذلک فأعرض عنه فتنحى له الرابعة فلما شهد على نفسه أربع شهادات دعاه فقال هل بک جنون، قال لا، فقال النبي ﷺ اذهبوا به فارجموه ).** (٣)

**ژباړه :** له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې وايې: يو مسلمان سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په داسې حال كې راغى چې هغه په جومات كې و هغه ورته غږ وكړ او ويې ويل : يا رسول الله ﷺ يو سړي زِنـا كړې، خپل ځان يې هدف و نو رسول الله له هغه څخه مخ واړوه نو دا هم هماغه اړخ ته ور مخ شو چې كوم اړخ ته يې تري مخ اړولى و ويې ويل د الله رسوله ! يو چا زنى كړې خپل ځان يې هدف و نو دا هم هماغه اړخ ته ور مخ شو چې كوم اړخ ته يې تري مخ اړولى و همدا وينا يې بيا تكر ار كړه او هغه مبارک تري مخ وا ړوه څلورم وار بيا يې ورته مخ كړ نو چې پر ځان يې څلور ځله اقرار او گواهي وركړه رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه را وغوښت او ورته يې وويل : ليونى خو به نه يې؟ هغه وويل نه بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه وو ته امر وكړ چې ولاړ شئ دا بوځئ او سنگسار يې كړئ.

---

١ - سورة آل عمران (٨١).

٢ - ابن القدامة : المغني (٥ / ٢٧١).

٣ - البخاري : الجامع الصحيح رقم الحديث (٥٢٧١).

دا حديث پر دې دلالت کوي چې اقرار شرعي حجت دی، کله چې اقرار په هغه حدودو کې چې (الحدود تندرئ بالشبهات) دي ، حجت کيدلای شي نو په هغه مسائلو کې چې (لا تندرئ بالشبهات) دي، په طريق اولی سره حجت کيدلای شي. (١)

**د اجماع دليل** : اسلامي أمت د اقرار په حجيت باندې اجماع کړې، اقرار له شهادت څخه کلک او قوي دليل دی، ځکه عاقل سړی پر خپل نفس باندې داسې دروغ نه وايې چې هغه ته پرې ضرر ورسول شي، نو کله چې مدعي عليه اعتراف او اقرار وکړي، بيا پر هغه باندې د شاهدانو شهادت نه آوريدل کېږي، که څه هم دروغ يې ويلي وي. (٢)

**لـنـډيـز :** لنډه دا چې په عرفي قضاء او شرعي قضاء کې اقرار پر اقرار کونکي (مُلزمة) حجت دی، يعني دواړو قضاګانې په دې خبره اتفاق لری، چې اقرار په هره قضيه کې فيصله کونکی او غوڅ دليل دی.

**لـومړی : په عرف کې صريح (څرګند) او ضمني (پټ) اقرار صريح (څرګند) اقرار،س** لکه چې ووايي: اقرار کوم او اعتراف کوم، يا هر هغه کلمه کارول چې په صراحت سره دلالت وکړي، لکه : ومې کړ، تلف مې کړ، ختم مې کړ، يا د سوال په ځواب کې ووايې **(هـو، بلې)** او داسې نور......

**ضمني (پټ) اقرار :** لکه چې بل چا ته ووايې : پر ما باندې ستا (1000) افغانۍ دي، هغه وويل ماته يې راکړه، اقرار که صريح وي او که ضمني همدارنګه په شريعت کې مُلزم دی. (٣)

**سُـکُـوت (چپتيا) :** فقهاوو ويلي دي چې (لا يُنسَبُ اِلَى سَاكِتِ قَـولٌ) د خبري نسبت سکوت کونکي ته نکېږي، مګر دا خبره مطلقه نده، ځکه چې ډيرئ مسائل له هغې څخه مستثنی او وِيستل شوي دي، مثلاً : ( السُكُوتُ فِي مَعرَضِ الحَاجَـةِ بَـيَانٌ ) لکه چې يو کس ستاسو په ملکيت کې تصرف کوي، لکه د مالک په شان، تاسو ورته ګورئ او پرته له عذره چُـپ پاته کېږي، نو ستاسو دغه چُـپتيا اعتراف ګڼـل کېږي چې تاسو داسې مالک نه ياست.بناءً سکوت د اړتيا په صورت کې ضمني اقرار دی. (٤) د پورتنيو ويناوو پر بنسټ لاندې موضوعاتو ته کتنه کوو :

د اقرار په مسأله کې عرفي قضاء او شرعي قضاء دواړه متفق دي چې : صريح (څرګند) اقرار حجت دی، او همدا رنګه ضمني اقرار هم حجت دی، لکن د اقرار په نوعيت کې اختلاف شتون لري، مثلاً : کـډه کول په عرفي قضاء کې د قتل ضمنی اقرار شميرل کېږي، مګر په شرعي قضاء کې کـډه کول اقرار نه شميرل کېږي.

---

١ - ابن قدامة : المغني (١٠ / ١٦٠).

٢ - ابن قدامة : المغني (٥ / ٢٧١).

٣ - ابن نجيم : الأشباه و النظائر « حنفي « (٢٥٥).

٤ - ابن نجيم : الأشباه و النظائر « حنفي « (١٠۴ - ١٥٦).

کله چې علماوو د ضمني اقرار صیغه داسې کارولې ده، نو دا یې نه دي ویلي چې کډه کول ضمني اقرار دی.

کډه کول شک ایجادوي، ویل کېږي چې قاتل له وېرې کډه وکړه، خو په شک باندې قضیه نه ثابتیږي.

د حاجت او اړتیا په وخت کې له چُپـتیا څخه وتل اقرار نه بلل کېږي.

لکن په هغه حالاتو کې چې د ده په تاوان پریکړه کېږي، او دَی چُـپ پاتې کېږي، نو دا چپ پاتې کېدل اقرار دی د عمل په ترسره کولو کې، ځکه په داسې حالاتو کې دفاع ته اړتیا ده، که نوموړئ له خپل ځان څخه دفاع ونکړي او چُپ پاتې شي، نو قضیه پرې ثابتېږي.عرفي قضاء کې د قضیې په اړه، خبرې أترې کول، صلحې ته غاړه ایښودل، تاوان ګالل، یا پیسې ورکول د ضمني اقرار له ډلې څخه بلل کېږي، او په شرعي قضاء کې هم د ضمني اقرار له ډلي شمرل کېږي، ځکه چې دا کار په اقرار باندې دلالت کوي. (1)

## دویـــم : متعدي (انتقالي) حجت:

اقرار په عرفي قضاء کې بل چاته متعدي حجـت دی.

مګر اقرار په شرعي قضاء کې حجـت قاصرة دی.

په مجلة الأحکام کې لیکل شوي چې ( البیّـنة حجة متعدیة و الاقرار حجة قاصرة ) یعني شاهدان حجت متعدی (انتقالي) دی او اقرار حجت قاصره. د اقرار د قصور علت په مُقِر باندې (عدم ولایة علی غیره) دی. (2)

ځکه چې نبي علیه السلام له ماعز څخه پوښتنه ونه کړه، چې له چا سره دې زنا وکړه، نو اقرار قاصر شو په خپل کس باندې هغه چې پخپل جرم باندې اعتراف کړی. (3)

أما که چېرې مُقر اقرار وکړ، نو دی په هغه اقرار باندی چې پخپل نفس یې کړی نیول کېږي، نه د لمړنۍ کس په اقرار باندې، لکه چې د أنیس حدیث په دې باندې دلالت کوي، چې رجم یې معلق کړی وو د ښځې تر اعترافه پوري نه د زاني په اعتراف باندې، نو ویې فرمایل : ( فَـاِنِ اعْـتَـرَفَـتْ فَـارجِـمْـهَا ) یعني که دې ښـځـې اعتراف وکړ رجـم یې کړئ. (4)

نو دلته، دې موضوع ته په کتنې سره، د عرفي قضاء او شرعي قضاء تر منځ اختلاف شتون لري.

**په شرعي قضاء کې :** اقرار د مُـقِـر بل کس ته نه متعدي کېږي (نه انتقالیږي)، که اقرار کونکی د کوم سړي په اړه اقرار وکړي بیا هم هغه کس پوښتل کېږي، که چېرې هغه متهم سړي اقرار وکړ، نو هغه پخپل اقرار باندې نیول کېږي.

1 - الکاساني : بدائع الصنائع (٧ / ٤٠).

2 - الدر المختار ( ٥ / ١٧٨).

3 - البخاري : صحیح البخاري رقم الحدیث (٥٢٧١).

4 - متفق علیه : البخاري رقم الحدیث (٢٣١٤). صحیح مسلم : رقم الحدیث (١٦٩٧).

**په عرفي قضاء کې :** اقرار په عرفي قضاء کې بل چاته انتقالیږي، نو دغه متهم که کولای شي ځان ته برأت ورکړي، که یې ځان ته برأت ورنکړ، نو شوی تهمت پرې نښلي. څوک چې په عرفي قضاء کې اقرار حجت متعدی بولي، د شرعي قضاء سره مخالف او مردود دی.

**دلیل : (عن عایشة (ض) قالت : قال رسول الله ﷺ « مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمرِنَا هَذا مَا لَيسَ فِيهِ فَهُوَ رَدٌ ). [1]**

**ژباړه :** هر چا چې زمونږ په دین کې کوم نوی شی ایجاد کړ چې زمونږ په دین کې نشته، نو هغه رد او باطل دی.

## دریـــیـم : د اقرار څخه رجوع (راګرځیدل) :

د لوګر عرفي قضا کې له اقرار څخه رجوع کول (راګرځیدل) د منلو وړ نه دي، مګر دا چې خپلې خبرې او اقرار برعکس په مؤجه دلایلو سره ثابت کړي. [2]

د وردګو عرفي قضا: که څوک په جرم اقرار وکړي په عرف کې د هغې څخه نشي ګرځدای او ملزم ګڼل کیږي. [3]

د غزني عرفي قضا: عرفي قاضیان د زجر ورکولو حق او صلاحیت نلري، دا چې یو کس پرته له جبر څخه په خپله خوښه او رضایت سره ځان مجرم بولي او په جرم اعتراف کوي نو له خپل اعتراف او اقرار څخه عدول یې د منلو وړ نه دی. [4]

په شرعي قضاء کې، اقرار په دوه ډوله ویشي.

**حقوق العباد :** دا هغه اقرار دی چې وروسته له ثبوت څخه رجوع ترې جایز نه ده، مګر دا چې مقرله هغه درواغجن وبولي. [5]

**حقوق الله :** چې داهم په دوه ډوله ویشل شوي :

هغه حقوق چې یواځې الله ﷻ پورې اړوند وي او په شبهاتو سره دفع کیږي، (تدرأ بالشبهات) لکه : د زنا حد، چې په دې کې د اقرار څخه رجـوع منل کیږي، د دې پخاطر چې کیدای شي پخپل انکار کې صـادق او په اقـرار کې کاذب وي.

هغه حقوق الله چې په شبهاتو سره نه دفع کیږي (لا تدرأ بالشبهات)، لکه : زکاة، کفارات، قصاص چې په دې کې له اقرار څخه رجوع نه منل کیږې، د دې پخاطر چې حق العباد پورې تعلق لري. [6]

---

[1] - متفق : البخاري رقم الحدیث (۲۶۹۷). صحیح مسلم : رقم الحدیث (۱۷۱۸).

[2] - الحاج قوماندان عزت الله : لوګر ولایت، محمد آغي ولسوالی د بُرګ د کلی قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۱/۱۸) .

[3] - احمد جان : میدان وردګ ولایت، دایمیرداد ولسوالی د ګلئ د کلی قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۲/۱) .

[4] - سمیع الله : غزني ولایت، اجرستان ولسوالی د سید خیلو کلی قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۲/۷) .

[5] - الکاساني : بدائع الصنائع (۷ / ۳۴۳).

[6] - الکاساني : بدائع الصنائع (۷ / ۳۴۳).

**د تیرو خبرو پر اساس راتلونکې موضوعات په لاندې ډول څرګند شول :**
عرفي قضاء په حقوق العباد کې له اقرار څخه رجوع قبلوي، په هر دلیل چې وي.
مګر په شرعي قضاء کې د ثبوت څخه وروسته رجوع له اقراره جواز نلری، که په حقوق العباد کې وي او که هغه حقوقو کې وي چې (لا تندرئ بالشبهات) مګر دا چې مقر له هغه دواغجن وبولي.
په عرفي قضاء کې له هغه اقرار څخه رجوع نه مني چې خالصاً حقوق الله وي، مګر په شرعي قضاء کې له داسې اقرار څخه رجوع قبلوي. نو په همدې خاطر عرفي قضاء د شرعي قضاء سره په همدې ټکي کې سره توپیر او اختلاف لري.

## دویـــــم مـبحـــــث : قـریـــنـه (نـښـې او نـښـانـې)

داچې قرینه د قضیې د ثبوت او بالاخیره د قضیې د پریکړې لپاره دلیل ګڼل کېږي، نو اړینه ده چې په اړه یې بحث ترسره شي، نو ددې لپاره چې قرینه لانبه و پیژندل شي او په عرفي قضا کې یې مؤثریت څرګند او روښانه شي نوموړی موضوع به په لاندې دریو مطالبو کې څېړل کېږي.

### لومړی مـطـلـــب : قـــرائـــن

قرائن په لغت کې : قرائن د قرینه جمع ده، د (قرن) له مادې څخه اخستل شوي، په لاندې معانیو استعمال شوي ده :

د جمع پـه معنی .
د وصـــل پـــه معنی .
د تضیق (تنګوالې او فشار) په معنی .
قرن (د پسه دښکر) په معنی .
القرین : مصاحب (ملګري، میرمن) په معنی په ټولو معنی ګانو کې دغه آخري معنی مطلوب ده. (۱).

**قرینه په اصطلاح کې :** فقهاوو په دې اړه ګڼ تعریفونه کړي دي، او ټول تعریفونه په حقیقت کې یوې معنی ته را ګرځي، چې هغه « أن القَـرِينَـة أمْـرُ يَـرشُدُ وَ يَـدُلُ عَـلى الـمَطْـلُوب ». قرینه هغه ده چې لار ښونه او دلالت کوي مطلوب باندې .
**جرجاني وایي :** القرينة « أمرُ يُشِـيرُ اِلَى الـمَطْـلُـوب ». (۲)

۱ - ابن منظور : لسان العرب (۳۳۱/۱۳).
۲ - الجرجاني : التعريفات (۲۲۳).

**ژباړه :** قرينه هغه امر دی چې مطلوب ته لار ښونه کوي.

**الــزرقـــــا وايي :** القرينة « كُـلُّ أَمَـارَةٍ ظَـاهِـرَةٍ تُـقَـارِنِ شَـيْـئًا خَـفِـياً فَـتَدُلُّ عَـلَـيْـه ». [1]

**ژباړه :** هره ښکاره نښه چې پټ شي ته نيږدې وي، او پر هغه دلالت وکړي.

**الموسوعـة الفقهية :** القرينة « مَـا يَـدُلُّ عَـلَى الـمُـرادِ مِـنْ غَـيْـرِ كَـوْنِـهِ صَـرِيْـحـاً ». [2]

**ژباړه :** په غير صريح مراد او مقصد باندې دلالت کولو ته قرينه وايي.

د تعريفونو د ليکنې څخه وروسته مو وليد چې د ټولو تعريفونو محوري او مرکزي ټکئ يو دی، ځکه د يو تعريف په تشريح باندې چې « أمرٌ يُشِـيرُ اِلَى الـمَطْـلُـوب » دی بسنه کوو :

**کلمة : ( الأمر )** ټول قرائن رانغاړي، هغه که لغوي قرائن وي او که قضائي قرائن وي.

**کلمة : ( و يشير الى المطلوب )** کله چې أمر له هغه قريني سره چې مطلوب ته اشاره کوي يو ځای شو، **مثلاً :** د الفاظو مطلوب د معنى مشخص کول دي، کله چې قرينه راځي نو مجتهد ته اشاره او دلالت د مطلوبې معنى کوي، لکه څنګه چې قضائيه قرائن قاضي ته لارښونه کوي مطلوب خوا ته، او قاضي ته د هغې واقعې او حادثې په اړه پوهـه ورکوي چې حکم پرې صادروي.

**قرينه په عرفي اصطلاح کې :** له هغه نښې نښانې څخه عبارت دی چې مدعي د دعوی مطلبي برخې ته رسوي، يا مدعی د دعوی ثبوت ته رسوي. [3]

د وردګو په عرف کې د خپل منځې شخړو، دعواګانو اختلافاتو په اړه، ساحه کې د جرم په وخت د يوه چا ليدل کيدل، دپله نښه، د مرميو پوچک پيدا کېدل، د ويني څاڅکي، د جامو شکيدلي آثار او داسې نو څيزونه چې د مسألې په روښانه کولو کې مرسته کوي قرينه ګڼل کيږي. [4]

کله چې د عرفي او شرعي قرينې اصطلاح ته ګورو، په حقيقت کې د عرفي قرينې او شرعي قرينې د تعريفونو تر منځ کوم توپير نشته، لکن ځينې تفصيلات د عرفي قرائنو په اړه شتون لري، چې په راتلونکي دويم او دريـــم مطلبونو کې بيانيږي.

---

[1] - الزرقاء : المدخل الفقهي العام (٢ / ٩١٨).

[2] - الموسوعة الفقهية (١٥٦/٣٣).

[3] - نصيراحمد د حاجي نوراحمد زوی، د رسالې ليکونکئ.

[4] - معلم احمد جان : ميدان وردګ ولايت، دايميرداد ولسوالۍ د ګلئ د کلی قومي مشر، د مرکې نيټه (١٤٠٢/٢/١) .

## دویـــــم مـطـلــــب : پـــه عـــــرفـــــي قـــضـــاء کـــې قـــــرائـــــن

قرائن په عرفي قضاء کې له معتبرو دلائلو څخه ګڼل کېږي، او د عرفي قضاء حکم پرې بناء کېږي، په دې اړه د جرګه مارانو سره د خبرو أترو پر مهال مونږ ته دغه لاندي موضوعات ښکاره او راپه ګتو شول :

په اختلافاتو، شخړو، دعواګانو یا هره قضیه کې چې وي، د شخړې له یوې خوا څخه د خپلې ویناوې یا عریضې د اثبات پخاطر قرائن وړاندي کوي، لکه : ( خبرې، د لاس خط، د پولیس راپور ) دغه قرائن یا د تحقیق تابع وي چې څیړنې ته اړتیا لري، د قرائنو د تأکید او صحت لپاره، یا د تحقیق تابع نه وي بلکه پخپل ذات کې قرینه قاطعه وي.

د قرائنو د صحت تأکید یا د نه صحت تأکید، د لاندې اموراتو په مرسته کیدلائ شي :

1. قـســـــم خـــوړل :
2. أهـــــل خـــــبـره :
3. شـــــــــــهـادت :

### د قـــــرایـنو ډولـــــو نـــــه :

**د وخت له مخې :**

١. **پخواني قرائن :** لکـه ( أثرات، نښې، نښاني ، داغـونـه )
٢. **نـــوي قرائن :** لکـه ( انځور، د وینې تحلیل، د ګوتو نښې، ځینې کرښې، د پولیسو راپور ).

**د دلالت له مخې :**

١. **قطعي (ثـابت) قـرائن :** دا هغه قرینه ده چې د تحقیق تابع نه وي، بلکه پخپل ذات کې قاطعه قرینه ده.

٢. **ظني (مشکوک) قرائن :** دا قرائن د تحقیق تابع دي، یعنې تحقیق او څیړنې ته اړتیا لري. لکه : د خط لیکلو مثال : د مثال په توګه که ثبوت د مخالف په لاس لیکل شوی کاغذ وي نو هغه څخه پوښتنه کیږي چې ایا دا خط ستا دی؟ که یې ومنله خو سمه ده، او که یې ونه منله، بیا نو شاهدانو ته راجع کېږي چې د دې لیکنې شاهدان دي، او که شاهدان نه وي، نو أهل خبره او متخصیصینو ته وړاندې کېږي ، یا دېته قسم ورکول کېږي چې دی نه پوهیږي چې دا خط د چا دی. که یې قسم وکړ قضیه ختمیږي، که یې قسم و نه کړ مجرم دی.

**د پښې پَـل یا د پښې أثار :** په یوه جنایي صحنه کې مجرم له ځانه متعدد آثار پرېږدي، چې هریو له دې آثارو څخه د جرم د پیژندنې او اثبات لپاره د کریمنالستیک د علم له نظره ځانګړې أهمیت لرونکئ دی او

قانوني قوت لري، چې قاضي د هغه په رويت سره حکم کوي، چې يو له دې آثارو څخه د پښو پل دی، چې يو مجرم د جنائي په صحنه کې له ځانه پرېږدي، د پښو د پل آثار د افغانستان (قانون جزايئ) په اجراأتو کې د يو مجرم د جرم د کشف او پېژندنې په اړه د مادي دلايلو څخه شمېرل کېږي. (١)

د پښو آثار په عِلمي پوليسو کي ځانګړې اهميت لري، د کليو او بانډو د جرايمو وضعيت له ښارياتو سره توپير لري، په کليو کې د جرم په صحنه کې د مجرم د پښو آثار پيدا کولو پلټني محدوده وسيع او پراخه ده، (د پښو آثار د حقيقت د موندنې لپاره تر نورو آثارو څخه مقدم دی) (٢)

که د پښو پل يا أثار که د چا د کور دننه يوړل شول، که يې اعتراف وکړ خو صحيح ده، او که نه نو په داسې دلائلو دې خپل ځان پاک کړي چې خلکو لپاره د قناعت وړ وي ، که يې دا کار ونه کړ محاسبې ته به کښيني. (٣)

## درېـيـم مطلب : د عرفي قرائنو او شرعي قرائنو تر منځ پرتله

د عرفي قرائنو له تعريف څخه څرګنده شوه، چې دغه لاندې ليکل شوي ټکې ورپورې تړاو لري :

قرائن په عرف کې دليل دی که هغه قطعي وي يا ظني خو وروسته له صحت او اثبات څخه.

په عرف کې جادو ګري، فال بيني، اشراق رباني او داسی نور قاطع دليل دي. دا مسأله به په لاندې ډول روښانه کړو :

**لومړی :** له پورتنی يادوني څخه موږ ته دا څرګنده شوه چې قرائن په عرفي قضاء کې دليل او سند دی که هغه قطعي وي او که ظني وي کوم چې صحت يې اثبات ته اړتيا لري نو له همدې امله قرائن په عرف کې دليل ګڼل کيږي.

**قرائن په شرعي قضاء کې، د فقهاوو ترمنځ اختلافي مسأله ده :**

**لومړی مذهب :** ډير فقهاء د قرائنو په حجيت باندې قائل دي لکه : **ابن القيم الجوزية،**(٤) **ابن تيميه ،**(٥) **طرابليسي،**(٦) **ابن فرحون،**(٧) **) ،علي حيدر.**

**دلائل :**

**لومړی : د کتاب الله څخه داسې دليل وړاندي کوي :**

١ - (محمد عمر «ببرکزی» : کريمناليستيک يا جرم شناسي ، لومړی چاپ ، صفحه / ١٣٣) . ببرک زی : تولد ( ١٣٢٩ ) ، په (١٣٨٥) کال کې د افغانستان د سترې محکمې د عالي شوری عضوه وو.

٢ - کشف علمي جرايم : داکتر ولی الله انصاري، تهران سازمان مطالعه و تدوين کتب علوم انساني، تحقيق و توسعهء علوم انساني (١٣٩٣)، پنځم چاپ.

٣ - الحاج سناتور عبدالله خان : مرکه نرخ او ځلې په احمدزيو کې، (٨٠) .

٤ - ابن قيم الجوزية : الطرق الحکمية : صفحه (٩) .

٥ - ابن تيمية : السياسة الشرعية : صفحه (١٣٣) .

٦ - الطرابلسي : معين الحکام : صفحه (٦) .

٧ - علي حيدر : درر الحکام : صفحه ( ٤٨٥/٤) .

(قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِي عَن نَّفْسِيۚ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ أَهْلِهَآ إِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ وَإِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ فَلَمَّا رَءَا قَمِيصَهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٍ قَالَ إِنَّهُۥ مِن كَيْدِكُنَّۖ إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ). (١)

**ژباړه :** ويې ويل همدې زمانه د بدکارى غوښتنه کړې ده او د هغې د کورنى يو شاهد شاهدي ورکړه (داسې چې) که د ده کميس د مخامخ نه څيرې کړی شوی وي نو هغې رينبتيا ويلي دي او دا له دروعجنانو څخه دی. او که د ده کميس د شا اړخ نه څيرې کړی شوی وي نو دې دروغ ويلي دي او هغه (يوسف) له رينبتينو څخه دی نو کله چې هغه (عزيز) د ده کميس وليد چې د شا اړخ نه څيرې کړای شوی دی ويې ويل : بيشکه (ای ښځو) دا ستاسو له فريبونو څخه دي بيشکه هم دا ته له خطا کارانو څينې وي.

**ابن فرحون د دې آيت په تفسير کې وايي :** هرکله چې داسې شواهد وموندل شي چې د ثبوت ځای ونيسي عمل پرې کيږي.فقهاوو د دې په استنباط سره د فقهي په ډيرو مسائلو کې نبنى او قرائن د شواهد او ثبوت په توګه وړاندي کړي ده.(٢) ، الله پاک فرمايلي :

(وَأَلْقَىٰ فِى ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِىَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَٰرًا وَسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ وَعَلَٰمَٰتٍۚ وَبِٱلنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ ). (٣)

**ژباړه :** او هغه په ځمکه کې درانه غرونه غرځولي دي، چې تاسې ته کراره او آرامه وي او (پيدا کړي يې دي) ويالې (نهرونه ) او لاري د دې لپاره چې تاسو لار ومومی. او ( الله تعالى د دوئ لپاره ) نبنى پيدا کړي دي، چې د ستورو په واسطه دوئ ته لارښوونه کيږي.

**شافعي رحمه الله فرمايي :** الله تعالى فرمايي : الله هغه ذات دی چې ستوري يې پيدا کړي دي تر څو د ځمکي او بحر په تيارو کې تاسو ته لارښوونه وکړي. (٤)

**ابن القيم رحمه الله فرمايي :** خدای تعالى موجودات پيدا کړي دي، تر څو د ده په شتون، حقانيت او وحدانيت باندې دلالت وکړي. (٥).

**دويم د سنتو څخه دلائل :**

**(عن زيد بن خالد الجهني (ض) قال : سُئِلَ رَسولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عليه وَسَلَّمَ عَنِ اللُّقَطَةِ الذَّهَبِ أَوِ الوَرِقِ؟ فَقالَ : اعْرِفْ وِكَاءَهَا وَعِفَاصَهَا ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً فإنْ لَمْ تَعْرِفْ فَاسْتَنْفِقْهَا وَلْتَكُنْ وَدِيعَةً عِنْدَكَ فإنْ جَاءَ طَالِبُهَا يَوْمًا مِنَ الدَّهْرِ فأدِّهَا إلَيْهِ وَسَأَلَهُ عن ضَالَّةِ الإبِلِ فَقالَ : ما لكَ وَلَهَا دَعْهَا فإنَّ معهَا حِذَاءَهَا وَسِقَاءَهَا تَرِدُ المَاءَ وَتَأْكُلُ الشَّجَرَ حتَّى يَجِدَهَا رَبُّهَا وَسَأَلَهُ عَنِ الشَّاةِ فَقالَ :**

---

١ - سورة اليوسف : ( ٢٦ - ٢٨).

٢ - ابن فرحون : تبصرة الحكام (١١٩/٢) .

٣ - سورة النحل : ( ١٥ - ١٦).

٤ - الشافعي : أحكام القرآن (٧٠/١).

٥ - ابن قيم الجوزية : الطرق الحكمية ( ٨٦).

خُذْهَا فإنَّما هي لَكَ أَوْ لأَخِيكَ أَوْ لِلذِّئْبِ. وفي رواية : أنَّ رَجُلًا سَأَلَ النبيَّ صَلَّى اللَّهُ عليه وَسَلَّمَ عن ضَالَّةِ الإبِلِ زَادَ رَبِيعَةُ : فَغَضِبَ حتَّى احْمَرَّتْ وَجْنَتَاهُ وَاقْتَصَّ الحَدِيثَ بنَحْوِ حَديثِهِمْ. وَزَادَ : فإنْ جَاءَ صَاحِبُهَا فَعَرَفَ عِفَاصَهَا وَعَدَدَهَا وَوِكَاءَهَا فأعْطِهَا إيَّاهُ وإلَّا فَهي لَكَ). (١)

**ژباړه:** له زيد بن خالد الجهني رضی الله عنه څخه روايت دی چې : له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د ورک شوي طلاء او پيسو په اړه پوښتنه وشوه ويې ويل : زه د دې كانتينر پېژنم يا يې وويل: كنتينر؟.بيا يې يو كال اعلان كوه كه مالک دې يې پيدا نه كړ نو مصرف يې كړه خو تا سره به امانت وي.او كه د هغه مالک راغی نو هغه ته يې وسپاره. هغه وويل د اوښانو كثرت؟ نو هغه په غوسه شو مخ يې سور شو يا يې وويل چې مخ يې سور دی نو ويې ويل: ته له هغې سره څه كوي؟ هغه خپله د اوبو وړانګې او بوټونه لري چې اوبو ته رسېږي او په ونو كې څرېږي؟ نو هغوئ پرېږده تر څو چې د دوئ بادار ورسره ملاقات وكړي هغه وويل: څومره پسونه پاتې دي؟ ويې ويل: ستا لپاره يا ستا د ورور او يا د ليوه لپاره.

**ابن القيم الجوزيه وايې :** سربيره له دې، چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) را اخيستونكي ته امر وكړ چې ورک شوی مال هغه چا ته وركړي چې اوصاف (نښې او نښانې) يې بيان كړي.(٢)، بل حديث شريف : **د ابوجهل د قتل په اړه : عن صالح بن ابراهيم..... ثم انصرفا إلى رسول االله ﷺ فأخبراه فقال : أيكما قتله. قال كل واحد منهما أنا قتلته فقال: هل مسحتما سيفيكما قالا لا فنظر في السيفين فقال : كلاكما قتله (معاذ او معوذ).....**

رسول الله ﷺ كله چې د دوئ په توره كې د وينې نښې او علائم وليد نو ويې ويل چې تاسو دواړو مړ كړی دی.

**دويم مذهب : هغه كسان چې وايې قرائن شرعي دليل نه دی :**

د هغو فقهاوو څخه چې قرائن شرعی دليل او ثبوت نه مني : ابن عابدين - محمد علاء الدين (٣) او القرافي دي.(٤)

د قرائنو نه منونكو دلائل : حديث شريف دی **(عن ابن عباس قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : لو كنتُ راجمًا أحدًا بغيرِ بينةٍ لرجمتُ هذهِ).** (٥)

**ژباړه:** له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: كه ما بې ثبوته كوم څوک سنګسار كولای نو دا به مې سنګسار كړې وای.

**(عن أبي هريرة : أنَّ أَعْرَابِيًّا أَتَى رَسولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عليه وسلَّمَ فَقالَ : يا رَسولَ اللهِ إنَّ امْرَأَتي وَلَدَتْ غُلَامًا أَسْوَدَ وإنِّي أَنْكَرْتُهُ فَقالَ له النبيُّ صَلَّى اللَّهُ عليه وسلَّمَ: هلْ لكَ مِن إبِلٍ؟ قالَ : نَعَمْ**

---

١ - متفقٌ عليه : رواه البخاري (٩١). رواه مسلم : (١٧٢٢).

٢ - ابن قيم الجوزية : الطرق الحكمية ( ١٥).

٣ - بن عابدين(محمد علاء الدين ) : تكملة رد المحتار (٤٣٨/٧).

٤ - القرافي : الفروق (٦٥/٤).

٥ - متفقٌ عليه : رواه البخاري (٥٣١٠). رواه مسلم : (١٤٩٧).

**قالَ: ما أَلْوَانُهَا ؟ قالَ : حُمْرٌ قالَ : فَهلْ فِيهَا مِن أَوْرَقَ ؟ قالَ: نَعَمْ قالَ رَسولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عليه وسلَّمَ: فأنَّى هُوَ ؟ قالَ : لَعَلَّهُ يا رَسولَ اللهِ يَكونُ نَزَعَهُ عِرْقٌ له فَقالَ له النبيُّ صَلَّى اللَّهُ عليه وسلَّمَ : وَهذا لَعَلَّهُ يَكونُ نَزَعَهُ عِرْقٌ له).** (۱)

**ژباړه :** له ابوهريره رضى الله عنه څخه روايت دى چې : يو سړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او ورته ويې ويل : يا رسول الله صلى الله عليه وسلم، زما ښځې يو تور هلک پيدا کړ او زه ترې انکار کوم ويې فرمايل : تا سره کوم اوښ شته؟ ويې ويل : هو هغه وفرمايل : رنګونه يې څه دي ؟ هغۀ وويل : سور رنګ لري، بيا يې وفرمايل : آيا په دې کې تور رنګې (خاکستري) شته هغه وويل هو، بيا يې وفرمايل : دا رنګ له کومه شو ؟ َ هغه وويل: ښايې دا ارثي نښاني او ريښې وي، هغه وفرمايل : ستا د زوی ځوی هم ارثي او مخکيني ريښې او نښاني دي.

**د دليل نقطه :** دا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په ظاهري دليل سره قضاوت نه دى کړی نو په لومړي حديث کې د شک نښې څرګندې شوي. دا د زنا په اړه څرګندې نښې دي خو د حديث پر اساس د حد سزا نه ده ثابته شوي او په دويم حديث کې هم دليل او ثبوت نه ده ګڼل شوي.

په لومړي حديث کې، د زنا مشکوکو علائم ښکاره شول، مګر د دې سره سره حد پرى قائم نشو، ځکه چې قرائن دي، او په دويم حديث کې، د نسَب په ردولو کې چې د ماشوم او پلار تر منځ د رنګ توپير دى، په دې دلالت کوي چې د زنا د ثبوت لپاره نه دي منل شوي. او دا ټول په عدم اعتبار قرائن باندې دلالت کوي.

**غوره او مختار نظر :** کله چې د دواړو مذاهبونو دلائلو ته وګورو، ځيني دلائل پر دې دلالت کوي چې قرائن د دليل او ثبوت په طور منل کېږى او جايز دي. او ځيني دلائل پر دې دلالت کوي چې قرائن نه منل کېږي.ددې په تعقيب:

(۱) - موږ نشو کولى هري قريني ته د ثبوت اعتبار ورکړو او داسې هم نشو کولاى چې په بشپړه توګه يې رد کړو په دې اړه بايد داسې ووايو چې : هرې قريني ته بايد په جلا جلا توګه پام وشي که قرينه روښانه واضحه او قوي وي، چې کولاى شي مسأله ثبوت ته ورسوي، دليل ګڼل کيږي مګر که قرينه ضعيفه وي، واضحه او ښکاره نه وي دليل نه ګڼل کيږي.

(۲) - د شواهدو په نشتوالي کې قرينه په پام کې نيول کېږي، کله چې د قرينې په هکله له جانې څخه پوښتنه وشي او جانې چپ پاتې شي، نو په داسې حالت کې دليل او ثبوب کيدلاى شي، ځکه چې ( فإن السكوت في معرض الحاجة بيان ) د اړتيا په وخت کې چوپتيا بيان دى نو چوپتيا اعتراف ګڼل کيږي.

(۳) - قرائن په هغه حدودو کې چې ( الحدودو تندرء باشبهات ) په پام کې نه نيول کېږي. ځکه لږه شبهه حد منع کوي.

---

۱ - متفق عليه : أخرجه البخاري ، (۷۳۱٤)، و مسلم ، (1500) :

**له پورتني ليکل شوي مطالبو څخه دا څرګندېږي چې :**

عرفي قضاء کې قرينه معتبر ګڼل کېږي هغه که قطعي وي او که ظني وي، چې صحت يې ثابت شوی وي. شرعي قضاء هم قرائن ته اعتبار ورکوي خو چې شرعاً معتبر وي. او حرام نه وي، جادو ګري فال بيني يا کشف رباني چې دا ټول غيب ويل دي. او دا رنګه اعمال زمونږ په سپيڅلي دين کې شتون نلری، چې نه يې لری نو رد دي.

**عَنْ أُمِّ المُؤمِنِينَ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (مَنْ أَحْدَثَ فِيْ أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ) رواه البخاري ومسلم وفي رواية لمسلم (مَنْ عَمِلَ عَمَلاً لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ).** (١).

**ژباړه :** رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي : چا چې زمونږ په دين کې داسې نوی شی پيدا کړ چې له دين څخه نه وي نو هغه مردود دی.

١ - متفقٌ عليه : البخاري (٢٦٩٧)، و مسلم ، (1718) .

# دریـــــم فـصــــــل

## په عرف کې قـضــائي کړنلارې (طـرزالـعـمـلـونـه)،

## او په اړه یې شـرعي حـکـم

دا فـصـــل پـــه دریـو مـبـحـــثـونـو مشتمل دی :

لومړی مـبـحـث: لـمـړنـي طـرزالـعـملـونـه :

دویـــم مـبـحـث: د پریکړې لپاره ناسته :

دریـــم مـبـحـث: د حکم صادرول :

# لـومـړی مـبـحــث : لــومـــړنی کــړنـــي

کړنلاره یا طرزالعمل، د قواعدو یوې ټولګې ته ویل کېږي چې د ځانګړو کارونو او فعالیتونو د اجراآتو او سرته رسولو د آسانتیا په موخه وضع شوی وي، دا چې د هر کار او هر عمل لپاره یوه تګلاره او طرزالعمل شتون لري، نو قضا هم ځانته ځانګړي طرزالعملونه لري تر څو د قضا او پرېکړې کارونه او اجراآت آسانه شي، د قضا کړني او طرزالعمل به په لاندې څلورو مطلبونو کې څرګند او بیان شي.

## لومړی مـطـلـــــــب : د یرغلـګر یا یرغل کـونـکي کـړنـي

د لوګر ولایت عرفي قضا کې د یرغلګر طرزالعمل: د یرغلګر یا تیري کونکې لخوا د څو مخورو کسانو په لېږلو سره تر سره کېږي، او د یوې ټاکلې مودې لپاره غوښتنه کوي، مثلاً : دوه یا درې ورځې، بیا تر هغې وروسته نور اجراآت تر سره کېږي، یا خو د پخلاینې سره پای ته  رسـېږي یا د یو څه تاوان په ورکړې سره. په دې پروسه او کړنه کې څو کارونه شامل دي، لکه : د مخورو کسانو لېږل، ننوات، سَـوغات وروړل او پخلاینه.

د میدان وردګ ولایت عرفي قضا کې د یرغلګر طرزالعمل: عرفي قاضیان وروسته له ټاکنې څخه د شخړې له دواړو خواوو څخه باور او اعتماد ترلاسه کوي، واک ترې اخلی، د فیصلې د منلو تعهد ترې اخستل کېږي، او د دې په خاطر چې خپل عهد څخه تیښته ونکړي (مجلغه یا مچلګه) هم ترې اخستل کېږي.(١)

د غزني ولایت عرفي قضا کې د یرغلګر طرزالعمل: کله چې یو پیښه وشي نو په لومړي سر کې د کلی مخور او سپینږیري اقدام کوي د شخړې دواړه خواوې سره لیدنه کوي، که د اسلیحې د کارونې موضوع وي هغه ترې ټولوي، د دې لپاره چې یوبل باندې برید ونکړي، دواړو خواوو څخه لنډ مهلت او وخت اخلې، تر څو د صلح لپاره تدابیر ونیول شي، او د قوم مشهور جرګه مارانو ته حواله کېږي. (٢)

**لومړی : د مخورو کسانو لېږد :** چې په عربي ژبه کې ورته ( الوجهاء ) ویل کېږي، وجهاء د ټولنې له معروف، شریف  او مخورو خلکو څخه عبارت دي. (٣)

**د مخورو کسانو لېږد :** داسې یوه عملیه ده چې څو تنه مخور، مشهور او مصلح خلک د نزاع د متوقف کولو لپاره اقدام کوي، تر څو د شخړې طرفین یو پر بل څو ورځې (چې مخورو ټاکلې دي) تعدا او تیری ونکړي. (٤)

---

١ - عبدالباري د مولوي محمد انور فیضان زوي، وردګ ولایت د سید آباد ولسوالی د شنیز د کلی قومي مشر، د مرکې نیټه (١۴٠٢/١/٣١) .

٢ - حاجی حمد الله : غزني ولایت، قره باغ ولسوالی د بهادرکئ کلی قومي مشر، د مرکې نیټه (١۴٠٢/٢/٨) .اړیکې شمېره : (٠٧٠٠١٨٩٧٨١).

٣ - ابن منظور : لسان العرب (١٣/۵۵۵).

۴ - ملک عبدالجمیل د عبدالجلیل ځوی د وردګو ولایت سیدآباد ولسولی د باغک د کلی قومي مشر، د مرکې نیټه (١۴٠٢/١/٣١) .

دغه عملیه د شخړي پای ته رسولو او د پخلاینې راوستلو مقدماتې لارې چارې دي. که بالفرض چا تعرض وکړ، نو د هغه سره به مصلحین محاسبه کوي. ( دې عمل ته تیږه ایښودل وایې ) کله چې تیږه کیښودل شوه نو له هغې څخه یوه خوا هم د تېرېدلو حق نلري. د مخورو او مصلحینو له خوا، تیږه کله د متارکې په معنی راځي، او کله د جرګې د قانون په مفهوم راځي په دی اړه دوه صورتونه شتون لري :

١. مخور او مصلح خلک د دواړو خواوو په رضایت سره ټاکل کېږي او د معتدي (تجاوز کونکي) څخه د څو ورځو لپاره مهلت اخلي.

٢. په دې صورت کې، یو له طرفینو څخه یا پخپله ورځي او یا کوم مخور او مشهور سړی ورلېږي، تر څو له تجاوز څخه یې د څو ورځو لپاره منع کړي.

**دویــم : سوغات یا ناغه :** هغه حقوقي، مالي، نقدي جریمه او پور دی چې د جرم په مقابل کې باید د مجرم له خوا ورکړل شي، که چیرې د ځلي او نرخ په مقابل کې کومه سرغړونه ولیدل شي نو سرغړوونکی ناغه کیږي خو د ناغې ټاکنه د جرم او پیښې په ماهیت پورې اړه لري، تر څو د تیري مخه ونیول شي او د صلح لپاره لاره هواره شي. (١)

**دریـم : صلح (پخلاینه :** د لوګر په عرف کې کله چې د دوو خواوو تر منځ شخړه پیدا شي، نو د شخړي د پخلاینې لپاره ډول ډول حالتونه دي :

تیری کونکی مستقیماً زیانمن (معتدي علیه) ته ورځي، او هر ناجایز عمل چې د دې په حق کې د دوی لخوا شوی وي ببښنه او معذرت تري غواړي، نو دلته د زیانمن (معتدي علیه) خوښه ده چې خپل حق تری اخلي او یا یې وربښې.

د تیري کونکي لخوا مخور او مشهور کسان زیانمن ته د صلح غوښتنې پخاطر لېږل کېږي، که چېري متعدي علیه موافقه وکړه، نو کیدای شي موافقه یې مشروط د حق په ورکړي سره وی یا پرته له شرطه، یا یې حق معلوم وی یا نا معلوم، دا رنګه مصالحه په لږ وخت کې ترسره کېږي حتی په یو مجلس او ناستې سره. (٢)

جرګه ماران، دوه دری سپین سرې ښځې، سپین ږیري، یو جلد قرآنکریم او د جومات ملا امام د مجني علیه کورته په ننواتې ورځي، او امکان نلري چې دا ننواتې ونه منل شي. نو له ننواتې سره پخوانی ټولې ناخوالې او بدی له منځه ځي، کله هم دغه بدي په خپلوی بدلیږي. (٣)

---

١ - الحاج عبدالله خان :مرکه نزخ او څلې په احمدزیو کې، (١١١) .

٢ - الحاج تاج محمد : لوګر ولایت ، ازرې ولسوالی د اکبرخیلو د کلی قومي مشر ، د مرکې نیټه (١٤٠٢/١/١١) .

٣ - سناتور عبدالله خان : مرکه نرخ او څلی په احمد زیو کې، (١١٣) .

## دویــم مــطــلـــب : د تيري کونکي (تجاوزگر) عرفي کړنې، د اسلامی شریعت په پرتله

کله چې د برید کونکې ترسره شوي کړنې (طرزالعملونو) ته کتنه وشوه، ومولیدل چې دا طرزالعمل لاندي ډولونه لري :

د مخه وَرو کسانو لېږد.

مهلت یا وخت ورکول.

صلح (پخلاینه).

**لومړی : د وجهاوو (مخه ورو کسانو لېږد) مشروعیت :** مخکې له دي چې د شرعي حکم معلومولو او روښانه کولو ته ولاړ شو، اړینه ده چې د (مخ) واقعیت وپیژنو، مخ د (مخه ور) په معنی ده یعني هغه مسلط کس څخه عبارت دی، چې د متخاصمو ډلو لخوا تاکل کېږي، تر څو یو پر بل تیری ونکړي، د مخ د عزت ساتنه او حفاظت پر دواړو خواوو لازم او واجب ده.

وجهاء (مخه ور) کسان په واقعیت کې د خلکو د حقوقو د ساتني او حمایت لپاره وي، او همدارنگه د خلکو تر منځ د اصلاح لپاره وي، نو دا کار په شریعت کې جایز دی. لکه څنگه چې په حدیث شریف کې راغلي دي :

**(عن أم هاني بنت أبي طالب و فيه.... قلت يا رسول الله زعم ابن أمي أنه قاتل رجلاً قد أجرته فلان بن هبيرة، فقال رسول الله (صلى الله عليه وسلم ) : « قد أجرنا من أجرت يا أم هانئ ».** (١).

**ژباړه :** د هاني مور د أبي طالب له لور څخه روایت دی...... ما وویل : ای د خدای رسوله! زما د مور زوی علي ادعاء وکړه چې هغه یو سړي سره جنگ کړی او تاسو فلان بن هبیره په کار گمارلی وو، رسول الله ﷺ وفرمایل چې : « هغه کس چې تا په کار گمارلی مونږ أجر ورکړ، ای د هاني موري ».

لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا (٢)

**ژباړه :** هېڅ خیر نشته د هغوی په ډېرو پټو مشورو کې،خو یواځې د هغه چا (په پټو خبرو کې خیر شته) چې أمرکوي په صدقه کولو یا نیکي کولو په اصلاح (روغه جوړه) د خلکو تر منځ او څوک چې دا وړ کار د الله د رضاء لپاره وکړي، نو م نږ به ژر ورکړو ده ته اجر او ثواب ډېر.

د دې آیت کریمه پر بناء الله (جل جلاله) خلک اصلاح بین الناس ته هڅولي دي. همدا راز همدا مطلب د رسول الله صلی الله علیه وسلم به حدیث کې هم بیان شوی دی :

---

١ - متفق عليه : البخاري : الجامع الصحيح ، د حديث شمېره : (٣١٧١) ، مسلم : (٣٣٦).

٢ - سورة النساء : (١١٤).

**عن أبي الدرداء قال رسول الله صلى الله عليه وسلم « ألا أخبركم بأفضل مِن درجة الصيام و الصلاة و الصدقة ؟ » قالو بلى يا رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : اصلاح ذات البين و فساد ذات البين هى الحالقة). (١).**

**ژباړه :** رسول الله ﷺ وفرمایل : آیا تاسو ته خبر درکړم (په داسي یو عمل سره چې) د روژي، لمونځ او صدقې څخه په ثواب او درجه کې غوره وي، (صحابه کرامو) وویل هو یا رسول الله صلى الله علیه وسلم، حضرت وفرمایل : د دوو کسانو تر منځ اصلاح راوستل دي او د دوو کسانو تر منځ فساد ایجادول د أجر او ثواب تراشونکی (له منځه وړنکی) دی.او همدارنگه بل حدیث شریف دی چې خلک اصلاح بین الناس ته هڅوئ په هره مشروعه طریقه چې ترسره کیدلی شي:

**(عن سهل بن سعد أن أهل قباء اقتتلوا حتى تراموا بالحجارة فأخبر رسول الله ﷺ بذالک فقال : « اذهبوا بنا نصلح بينهم ». (٢)**

**ژباړه :** د سهل بن سعد رضى الله عنه څخه روایت دی، چې د قباء خلکو په خپل منځ کې سره جگړه وکړه أن تر دي چې یوبل یې په ډبرو وویشتل، نو رسول الله ﷺ ته د دي واقعې خبر راغئ، رسول الله ﷺ وفرمایل « زمونږ سره ولاړ شئ تر څو د دوئ تر منځ صلح وکړو ».

بناء پر هغه دلائلو چې وړاندي ذکر شو، دا خبره ښکاره او واضحه شوه چې عرف او شریعت یو له بل سره د وُجهاوو په لېږد کې موافق دي او په دې کې هیڅ رنگه شرعي مخالفت شتون نلري.

**دویــــم ـ مهلت ورکول :** مهلت هغه نیته یا وخت ورکول دي چې د مجني علیه له خوا جاني (مجرمینو) ته ورکول کېږي، تر څو د ستونزي د حل او د صلح د راوستلو په اړه کوښښ او چټکتیا وکړي. مهلت اخستل هغه عهد دی چې جاني له مجني علیه څخه اخلي تر څو پر جاني باندی د همدې اخستل شوي مهلت په موده کې تعرض او تیری ونکړي، تر څو د تاکل شوي شرطونو پر بناء صلح ترسره شي.

**عهد اخستل شرعاً جایز او په هغه باندي پابندي د لاندې لیکل شوي دلائلو پر بناء واجب دي :**

که چېرې دغه مهلت اخستل یو ډول تړون وي نو التزام او پابندي یې تر ټاکلي مودې واجب دي. لکه چې الله فرمایي:

«........ وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولاً ». (٣)

**ژباړه :** پخپل تعهد او ژمنه وفاء وکړئ، یقیناً بي له شکه د عهد په اړه پوښــتیدل کېږی. الله ﷻ پر عهد باندي د وفاء أمر کړی او واجب یې بللی دی.

---

١ - أبو داود : سنن أبي داود، د حدیث شمېره : (٤٩١٩). تخريج أحاديث الإحياء = المغني د حمل الأسفار څخه (ص: ٦٥٩) رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالتِّرْمِذِيّ وَصَححهُ من حَدِيث أبي الدَّرْدَاء.

٢ - البخاري: الجامع الصحيح ، د حدیث شمېره : (٢٦٩٣).

٣ - سورة الإسراء : (٣٤).

**امام الطبري وايي :** "وأوفوا بالعقد الذي تعاقدون الناس في الصلح بين أهل الحرب والإسلام وفيما بينكم ٌ أيضا والبيوع والأشربة والإجارات وغير ذلك من العقود ( إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا ) يقول : إن االله جل ثناؤه سائل ناقض العهد عن نقضه إياه يقول : فلا تنقضوا العهود الجائزة بينكم وبين من عاهدتموه أيها الناس فتخفروه وتغدروا بمن أعطيتموه ذلك وانما عن بذلك أن العهد كان مطلوبا يقال في الكلام : ليسئلن فلان عهد فلان "([1])

**ژباړه :** امام طبري وايي كله مو چې د صلح په اړه ژمنه وكړه، نو پخپلو ژمنو باندي وفا وكړئ، ژمنه مو كه د حربيانو سره وي او كه د مسلمانانو سره، د پېر او پلور، اجارې يا داسي نورو عقودو او ژمنو په اړه، ځكه چې د خپلې ژمنې په اړه پوښتل كيږئ، الله ﷻ له عهد ماتونكي څخه پوښتونكى دى، او فرمايې له چا سره مو چې جائز عهدونه او ژمني كړې وي هغه مه ماتوئ، او د هغه سره غدر او خيانت مه كوئ.

او كه چيري دغه مهلت د صلح له مسأيلو وي، نو صلح هم بناء پر لاندي ليكل شوي دلائلو جائز ده كه له شرطونو سره وي يا پرته له شرطونو:

لكه چې رسول الله ﷺ فرمايې : **« الصلح جائز بين المسلمين الا صلحاً حرمَ حلالاً أو أحلَ حراماً و المسلمون على شروطهم الا شرطاً حرمَ حلالاً او حَلَّ حراماً »**. ([2])

**ژباړه :** د مسلمانانو تر منځ صلح جائز ده، مګر هغه صلح چې حرام حلال كړي يا حلال حرام كړي، او مسلمانان د خپلو شرطونو په اړه پابند دي، مګر هغه شروطونه چې حرام حلال كړي يا حلال حرام كړي.

**عن سهل بن سعد أن أهل قباء اقتتلوا حتى تراموا بالحجارة فأخبر رسول الله ﷺ بذالک فقال : « اذهبوا بنا نصلح بينهم ».** ([3])

**ژباړه :** د سهل بن سعد څخه روايت دى، چې د قباء خلكو په خپل منځ كې سره جګړه وكړه أن تر دې چې يوبل يې په ډبرو وويشتل، رسول الله ﷺ ته د دې واقعې خبر راغئ، رسول الله ﷺ وفرمايل « زمونږ سره ولاړ شئ تر څو د دوى تر منځ صلح وكړو ».

مهلت اخستل له هغه مباحه أموراتو څخه دي، چې رسول الله ﷺ د دې قول پر بناء « اذهبوا بنا نصلح بينهم » خلک هڅولى دي، او صلح چې په هر ډول وي جائز ده، مهلت اخستل شرعاً جائز دي ځكه چې مهلت د صلحې د راتګ له مرستندويو أموراتو څخه بلل كيږي.

[1] - الطبري : جامع البيان ، أبو جعفر محمد د جرير الطبري ځوى (٣١٠ هـ) جامع البيان عن تأويل القرآن (تفسير الطبري)، چاپ ځاى : دار المعارف – مصر. (٧/ ٧٨).

[2] - الترمذي : سنن الترمذي، د حديث شمېره : (١٣٥٢). رد الجميل في الذب عن إرواء الغليل (ص: ١٥) ، قال الترمذي: حديث حسن صحيح.

[3] - البخاري: الجامع الصحيح ، د حديث شمېره : (٢٦٩٣).

**درېـــيـــم : صلح او د هغې مشروعيت :** لکه څنګه چې وړاندي وويل شو، چې صلح په دوه ډوله ده لومړی: صلح د يو څه شي په بدل کې  دويم : صلح پرته له کوم  شي  خو صلح په دواړو صورتونو کې د دلائلو د عموميت پر بناء جائز ده. لکه چې الله پاک فرمايې :

«.... فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا  وَالصُّلْحُ خَيْرٌ.... ». (١)

**ژباړه :**..... پر دې دواړو ګناه نشته چې پخپلو کې سره صلح وکړي، صلح غوره ده....

**امام قرطبي رحمه الله وايې :** چې د دې حديث شريف په بناء : (٢)

**عن سهل بن سعد أن أهل قباء اقتتلوا حتى تراموا بالحجارة فأخبر رسول الله ﷺ بذالک فقال : « اذهبوا بنا نصلح بينهم ». (٣)**

ژباړه : د سهل بن سعدڅخه روايت دی : چې د قباء خلک پخپل منځ کې جګړه وکړه  آن تر دې پوري چې يو بل يې په ډبرو وويشت  وروسته چې رسول الله  د دې واقعې څخه خبر شو  وفرمايل : راځی چې ولاړ شو تر څو د دوي تر منځ صلح وکړو. ن په دې دليل سره هر ډول صلح مباح ده.

**امام ابن قدامة رحمه الله وايې :** صلح په هر هغه څه جائز ده چې تاوان اخستل يې جواز لري، دا چې بيع يې جائز وي او که نه، صلح صحيح کېږي د قتل عمد په اړه،  د مبيعي د عيب په اړه، آن تر دې چې د قصاص په اړه هم صلح جائز ده، د ديت ډيروالي يا کموالي په اخستلو سره هم صلح کولی شي. (٤)

که صلح په عرفي قضاء کې د هغه عقد او ژمني څخه عبارت وي چې پايله يې د مخالفينو تر منځ صلح وي نو صحيح او جائز ده، لکن يو څه ضوابط پري لازمي دي لکه :

صلح بايد په خوښه او رضايت سره وي، ځکه چې د صلح عقد د خوښی او رضايت عقد دی.

صلح په حقوق العباد کې کېږي، خو په هغه حقوقو کې چې تاوان پرې اخستل جايز وي. (٥)

صلح په حقوق العباد کې کېږي، لکن په حقوق الله کې مجال (امکان) نلري. (٦)

صلح د شرعي أحکامو مخالف نه وي، او همدارنګه د الله ﷻ  له حدودو سرغوړنه نه وي.

**تبصره :** کومه صلحه چې د دوو کسانو تر منځ کېږي، که د دغه دواړه خواوو څخه يو خوا تر بلې غبنتلی وي او په دې کې د ضعيف سړي حقوق ضايع شي نو دا رنګه صلح باطل ده ځکه چې حلال يې حرام ګرځولي دي.

---

١ - سورة النساء : آيت (١٢٨).

٢ - القرطبي : الجامع لأحکام القرآن (٤٠٥/٥).

٣ - البخاري: الجامع الصحيح ، د حديث شمېره :  (٢٦٩٣).

٤ - ابن قدامة : المغني (٢٧/٥).

٥ - ابن قدامة : المغني(٢٧/٥).

٦ - بدائع الصنائع (٧٢/٦ ).          ابن قدامة : المغني( ٢٨/٧ ).

## دریــیـم مـطــلـــب : د مـتـعدي عـلـیـه کـړنـې

متعدی علیه (هغه کس چې تېری پرې شوي وي)، لاندي کړنې تر سره کوي:
معتدي علیه دري ورځي انتظار باسي، بیا تر دري ورځو وروسته په ځیني کارونو لاس پکار کېږي، لکه : مخالف ته د پيښې خبر ورکوي، کېدای شي مخالف له دي پيښې خبر نه وي، يا مخالف ته د ناستي او پریکړي دعوت ورکوي که ځواب يې ورکړ او قضاوت ته حاضر شو نو (فبها و النعمة) ډېره ښه ده، او که نه بیا به خپل حق پخپل لاس په زوره واخلي، که يې وسعه کیدله. [1]
لنډه دا چې په دې کړنلاره کې دوه شیان نغښتي دي : ۱- د ناستي غوښتنه او ۲- معامله بالــمثل.

۱. **د ناستې غوښتنه :** يو څو کسان ورلېږي او د قضيې په اړه خبر ورکوي چې داسې عمل او کړنه دې ترسره کړې څه راسره کوي ؟ راځه زما سره لاره وکړه، خوښه ستا چې راسره کښيني او که کبر کوي؟ تېری کونکی به یا ناستي ته غاړه ږدي یا به اعراض کوي، نو د اعراض څخه وروسته د معتدي علیه له خوا کیدای شي عمل بالمثل یا تر هغه ډیر او سخت عمل ترسره شي.[2]

۲. **عمل بالمثل یا غچ اخستل :** د ناستي له اعراض څخه وروسته متعدي علیه د متعدي د کړني پرضد د خپل حق تر لاسه کولو پخاطر اقدام کوي، یا به بالمثل ځواب او چلند ورسره کوي، یا کیدای شي تر هغې لا ډیر او دروند عمل او چلند ترسره کړي، باید په ډاګه شي چې د ناستي له اعراض څخه وروسته، عمل بالمثل په عرفي قضاء کې ملامتیا نلري. [3]

## څلورم مـطـلـــب : د متـعدي علیه عـرفـي کـړنې پـرتـله له اسـلامي شریعت سره

د متعدي علیه اقداماتو او طرزالعملونو ته په کتو سره، دغه دوه لاندې ټکي په کې مهم دي:
1- د ناستي غوښتنه او 2- معامله بالــمثل غچ اخستل.

### لومړی : تېري کونکي څخه د ناستي غوښتنه، او د جرګې لیږلو مشروعیت :

په حقیقت کې که د تیري کونکي څخه د ناستې د غوښتنې لپاره کسان یا جرګه ورلیږلو ته ځیر شو، نو دغه کړنه د ده د چلند په اړه یا خبر ورکول دي یا هم انذار (ویرول د هغه د چلند د بدې پایلې څخه په بالفعل چلند سره ). او همدارنګه مطالبه او غوښتنه ده لپاره د قضاء، او خلک پري خبرول دي د ده په

---

[1] - الحاج قوماندان عزت الله : لوګر ولایت، محمد آغي ولسوالی د بُرګ د کلی قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۱/۱۸) .
[2] - محمد حسن «حیران» : میدان وردګ ولایت، سید آباد ولسوالی د بادام کلی قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۱/۳۱) .
[3] - الحاج تاج محمد د حاجي ګلان زوي: لوګر ولایت ازره ولسوالی د اکبرخیلو د کلی قومي مشر، د مرکې نیټه ، (۱۴۰۲/۱/۱۱) .

چلند باندي. خبر ورکول د معروف او نیکۍ مبدأ او أساس دی، او همدارنګه د خصوم (مخالف) لوري سره مخامخ کېدلو بنسټ دی تر څو یوبل سره د مخالفت پر وجوهاتو پوه شي. دا رنګه عمل د رسول الله ﷺ د لاندي لیکل شوي ویناوو یو ډَول تطبیق دی :

**(عن علي (ض) قال : قال لي رسول الله ﷺ « اذا تقاضی الیک رجلان فلا تقضِ لأول حتي تسمع کلام الآخر فسوف تدري کیف تقضي قال علي فما زلت قاضیاً بعد ».** (١)

**ژباړه :** د حضرت علي (ض) څخه روایت دی فرمایي : چې رسول الله ﷺ وفرمایل کله چې دوه کسان د قضاوت غوښتنه کوي، نو د لومړی کس په خبرو قضاوت مه کوئ تر څو د بل کس خبرې مو نه وي آوریدلي (کله چې د دواړو خواوو خبري مو واوریدلي) بیا پوهیږئ چې څرنګه قضاوت او فیصله وکړم.

د دي مبارک حدیث څخه دا معلومیږي چې د یوي خوا د خبرو په آوریدلو سره قضاوت جایز ندی، ترڅو بلي خوا ته د دفاع حق ورنکړل شي چې د خپل ځان څخه دفاع وکړي.

## دویم : د بالــمثل عمل مشروعیت :

حقیقت دادی، که چیري حقوق په زور سره واخستل شي، نو دا رنګه کړنه ټولنه کي د بربرت او ګډوډۍ لامل ګرځي، د دې پخاطر چې ټولنه کې بي ثباتي را منځته نشي، اړینه ده چې د حق اخستلو لپاره با صلاحیته واکمن ته مراجعه وشي.

د غصب کونکي څخه د حق بیرته اخستلو په اړه د علماوو أقوال او نظریات :

**لومړی : د مال ترلاسه کول د مغتصب د انکار په وخت کې** فقهاء په دوو نظریو ویشل شوي دي :

**لومړۍ نظریه : مالکیان او حنبلیان وایي :** د حق څیښتن، په هر حالت کې خپل حق باید د قضاء پواسطه تر لاسه کړي، که په مال باندي مُقر او معترف وي او که نه وي. (٢) البته د لاندې دلیلونو پر بناء :

د رسول الله ﷺ وینا ده :

**« عن أبي هریرة قال قال : أدِّ الأمانةَ إلی من ائتمنَك ولا تَخُنْ من خانَک ».** (٣)

**ژباړه :** رسول الله ﷺ فرمایي : « أمانت أداء کړه هغه چا ته چې ته یې أمین ګرځولی یې (أمانت یې درکړی دی) او خیانت مه کوه د هغه چا سره چې تاسره یې خیانت کړی دی ».

رسول الله ﷺ د أبو سفیان د مرمن (هِـنـدَ) په اړه د خپل حق په اخستلو قضاوت وکړ اګرچه میړه یې پري پوه نه شي. **« عن عائشة..... خذي ما یکفیک و ولدک بالمعروف ».** (٤)

---

١ - الترمذي : سنن الترمذي ، د حدیث شمېره : (١٣٣١). روضة المحدثین (٩/ ٢٨١، بترقیم الشاملة آلیا) حافظ په " البلوغ " کې ویلي (١ / ١٧٩) : صححه الترمذی .

٢ - ابن قدامة : المغني (١٢ /٢٢٩).

٣ - أخرجه أبو داود (٣٥٣٥)، والترمذي (١٢٦٤). کشف الخفاء ت هنداوي (١/ ٨٤) ترمذی وایي دا حدیث: حسن او غریب دی .

٤ - البخاري : الجامع الصحیح ، د حدیث شمېره : (٥٣٦٤).

دغه پورتني حديثونه پر دي دلالت کوي، چې د خپل حق د اخستلو لپاره قضاء اړينه او لازمي ده.

**دويـــمه نـــظـــريـــه : امام شافعي او د احنافو متأخرينو علماؤ داسي وايې : امام شافعي (ح)** د حق ثيبنتن کولاي شي خپل حق پخپله ترلاسه کړي په هره طريقه چې وي، که دا حق د ده د مال له جنس څخه وي او يا پرته د ده د مال له جنس څخه. (١)

**امام ابن عــابـديـن :** د حق اخستل جايز دي که د غه حق د ده د مال له جنس څخه وي او که نه وي، دا د حسابي او ورکړي د فساد او همدارنگه د پورونو په ورکړه کې د ځنډ له أمله وي. (٢) د دوئ دليلونه :

**لومړی :** « وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ » (٣)

**ژباړه :** او د بدی بدله د هغې په شان بدي ده، نو هغه څوک چې معافي وکړي او اصلاح وکړي نو د ده أجر په الله دی، بيشکه چې هغه (الله) ظالمان نه خوښوي.

**دويم :** « وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ بِهِ وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِلصَّابِرِينَ » (٤)

**ژباړه :** اوکه تاسو سزا ورکوئ، نو د هغې سزا په مثل يې ورکړئ چې تاسو ته په هغه سره عذاب درکړی، او که تاسو صبر وکړئ، نو يقيناً د صبر کونکو لپاره غوره دی.

رسول الله ﷺ په بل ځای کې بيا فرمايي:

**« عن أبي هريرة..... من أدرك مالَه بعينِه عِندَ رجلٍ أو إنسانٍ قد أفلسَ فهوَ أحقُّ به من غيرِه »** (٥)

**ژباړه :** چا چې خپل مال بعينه له چا سره ومومند، نو دي پخپل مال باندی أحق (حقدار) دی.

د دواړو خواوو دلائلو ته په کتو سره د دوئ تر منځ داسې تطبيق کوو، که چېري مال اخستل پخپل لاس پرته له قضاء څخه د فِتني لامل نگرځي، نو مباح دي، او که چېري د فتني او فساد لامل گرځي نو بايد د خپل د حق ترلاسته کولو لپاره با صلاحيته واکمن ته چې قضاء ده مراجعه وکړي. (٦)

امام وهبة الزحيلي وايي : که چا خپل مال بعينه د چا سره وموند، او هغه د دې مال په ردولو سره ځنډ من وو يا له قرض څخه منکر وو، نو اخستل يې ديانتاً مباح دي نه قضاءً، البته د ضرورت له أمله.

**دويـــم : د ښکنځلو، وهنو، ټکونو، وژنو او قصاصو په مسائلو کې :** د دې مسائلو په اړه هر سړی که قضاء غواړي نو قضاء ته دې مراجعه وکړي، او که صلح غواړي نو صلحې ته دې مراجعه وکړي،که چېرې متعدي عليه پخپله لاسپکار کېږي، نو د وهلو په قضيه کې معاملهء بالمثل ترسره کولی شي خو پرته له

---

١ - ابن عابدين : رد الحتار على الدر المختار ( ٤٠٨/٧).

٢ - ابن عابدين : رد الحتار على الدر المختار ( ٤٠٨/٧).

٣ - سورة الشورى : جزء من الآية (٤٠).

٤ - سورة النحل : جزء من الآية (١٢٦).

٥ - متفق عليه : البخاري : الجامع الصحيح ، د حديث شمېره : (٢٤٠٢) ، او المسلم ، د حديث شمېره : (١٥٥٩).

٦ - ابن قدامة : المغني (١٢ /٢٢٩).

زيادت څخه او پرته له دې چې د فتنې لامل وګرځي. أما د قتل او قصاص په مسائلو کې هيڅ کله چاته اجازه نشته چې خپله لاسپکار شي، ځکه چې دا امام د ځانګړي صلاحيتونو څخه دي.
امام قرطبي د الله متعال د دې آيت په اړه :
«.. فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ » (١)
**ژباړه :** څوک چې په تاسو بريد وکړي په هغه باندې هماغسې بريد وکړئ لکه څنګه چې هغه په تاسو بريد کړی. داسې وايي :
قال تعالى :( فَمَنِ اعْتَدَى) (الاعتداء هو التجاوز قال االله تعالى : (ومن يتعد حدود االله) أي يتجاوزها فمن ظلمك فخذ حقك منه بقدر مظلمتك ومن شتمك فرد عليه مثل قوله ومن أخذ عرضك فخذ عرضه لا تتعدى إلى أبويه ولا إلى ابنه أو قريبه وليس لك أن تكذب عليه وان كذب عليك فإن المعصية لا تقابل بالمعصية فلو قال لك مثلا : يا كافر جاز لك أن تقول له : أنت الكافر وان قال لک : زانٍ فقصاصك أن تقول له : يا كذاب يا شاهد زور ولو قلت له يا زان كنت كاذبا وأثمت في الكذب وان مطلك وهو غني دون عذر فقال : يا ظالم يا آكل أموال الناس.
**ژباړه :** الله ﷻ فرمايي (فَمَنِ اعْتَدَى) اعتداء تجاوز او تېري ته وايي (و من يتعد حدود الله) چا چې د الله ﷻ له حد او پولې څخه تجاوز وکړ، يعنې که چا درباندې ظلم وکړ خپل حق ترې واخله په هغه کچه چې ظلم او تېری يې در باندې کړی، چا چې شکنځلې درته وکړي، همغه شکنځلې بيرته ورواړوه، چا چې بی آبه کړي، بی آبه يې کړه، خو په مور، پلار، زوی او خپلوانو يې تېری مه کوه، دروغ ورپوري مه وايه، که هغه پر تا دروغ وويل نو دا ګناه ده، ګناه د ګناه مقابل يا بدل نشي کيدلئ، که چېري د کافر خطاب يې درته وکړ نو جايز دي چې دغه کلمات ته هم ورته وکاروې،که يې درته وويل أي زناکاره ! نو د دې خبرې بدل يا قصاص دادی چې ورته ووايې أی دروا‌غجنه! او د درواغو شاهده، او تا ورته وويل چې ته زاني يې، ګناه دې وکړه ته درواغجن يې تا دروغ وويل، که چېرې د قرض په ورکړه کې ځنډ کوي ستا قرض نه درکوي، ورته ووايه چې ظالم يې حرام خور يې. رسول الله ﷺ فرمايي : ځان دې وساتي..... او هيچا لپاره پخپل لاس قصاص اخستل جايز نه دي، مګر د پاشاه او زعيم په اجازه.
**قال القرطبي فر تفسيره : اتفق أئمة الفتوى على أنه لا يجوز لاحد أن يقتص من أحد حقه دون السلطان، (٢)**
**ژباړه :** امام قرطبي رحمه الله فرمايي چې : امامانو په دې خبره باندې اتفاق کړي، چې پرته له سلطان څخه هيڅ يو د خپل حق د قصاص يا بدل آخستلو حق نلري.

١ - سورة البقرة : (١٩٤).
٢ - القرطبي : الجامع لأحكام القرآن (٣٦٠/٢). (الشوكاني : فتح القدير (٢٩٥/١).

**څه چې تیر شول لنډیز یې دا دی :** په قضایاوو او مسائلو کې چې راپیښې شي اصل دادي چې قضاء ته رجوع وشي، لکن نن سبا چې ګورو، ټولنه د ملائکو ټولنه نه ده، داسې ټولنه هم نه ده چې ټول خلک په علم سمبال وي او په دې موضوعاتو یې سرخلاص او پوه وي، که څوک په بالمثل غچ اخستلو لاس پورې کوي سمه ده، خو چې د فتنې لامل نشي. او که چېرې معامله بالمثل پخپل لاس او زور سره د فتنې لامل وګرځي، نو په قضایاوو کې أصل قضاء ده نو باید قضاء ته مراجعه وشي.

## دویم مبحث : تقاضي یا فیصلو ته ناسته  دا مبحث دوه مطلبونه لري:

د قضیې د څیړنې څخه وروسته، د ستونزو حل لپاره، تقاضي یا فیصلو ته ناسته حتمي او ضروري دی، تر څو د پېښې یا قضیې په اړه پریکړه ترسره شي، دا چې عرف کې دغه ناسته څنګه ترسره کېږي، په کومو تګلارو روان وي او په کومو کړنو مخته ځي ؟ د دې وضاحت د لاندې دوو مطلبونو په ترځ کې تر بحث لاندې نیول کېږي.

### لومړی مطلب : د پریکړې لپاره د ناستې عرفی کړنلاري

وروسته له دې چې موږ لومړنې طرزالعملونه وړاندې کړل، چې تر څنګ یې د (مخورو کسانو) لېږد وو یعنې دا د هغه چا لخوا لیږل کیږي چې برید پری شوی دی  بیا که مقابل لورئ ځواب ورکړي، نو په ټاکلې ورځ کې د عرفي قاضي (جرګه مارو) تر مخ ناسته ترسره کېږي، پس له ناستې څخه د هرې لورې څخه تضمین (مچلګه) اخستل کېږي  او همدارنګه کله ناکله د جرګه مارو لپاره د خلات په نوم (حق الزحمة) هم ټاکل کېږي، بیا هر لوری خپله دعوی وړاندې کوي، جرګه ماران د دعوی د آوریدلو او دلائلو له وړاندې کولو وروسته د پخلاینې وړاندیز کوي، که د پخلاینې وړاندیز ونه منل شي، نو پریکړه (حکم) صادروي. بناءً په دې طرزالعمل کې یو څو مسألې شاملې دي، چې باید روښانه شي:

د جرګه مارو حق الزحمة.

ضمان (مچلګه).

د دعوا لپاره وکیل مدافع نیول.

**لومړی: مرکچیانو ته حق الزحمة ورکول:** دا هغه پیسې دي چې د شخړې اړخونه یې عرفي قاضي ته ورکوي ترڅو د هغه په وړاندې په قضیه کې د دوئ ترمنځ حکم وکړي، دغه پیسي قاضي لپاره د هغه د هڅو او د وخت د ضایع کیدلو په بدل کې ورکول کیږي.

**غزني ولايت :** په کلي او بانډو کې جرگه ماران د قضاياو د پرکړو په بدل کې اُجوره يا حق الزحمه نه اخلي بلکې د الله د رضا لپاره د دوی ستونزې ورحل کوي. (۱)

د لوگر ولايت عرفي مرکچيان ټاکلئ حق الزحمة نلري، خو کله کله د قضيي د څېړنې او پريکړې څخه مخکې د خلات په نوم پيسې اخلي، او همدارنگه کله کله د پريکړي څخه وروسته د قضيي د ښينتنانو له لوري د لونگئ او تحفې په نوم يو څه ورکول کېږي. (۲)

د ميدان وردگ ولايت عرف کې : د ځينو سيمو کې جرگه ماران، د خلات په نامه پيسې اخلي، کله کله په يو بل نوم ئې يادوي مثلاً، د جرگې د دفتر مصارف، چې اندازه ئې د قضيي په تناسب فرق کوي، البته د قضيي له دواړو خواوو څخه يو مناسب مقدار ترلاسه کوي. (۳)

**دويـــم : دکفالة يا ضمانت تعريف** د ټاکلي مال د ادا کولو ذمه واري يا د أصلي کس حاضرول په ټاکلي وخت کې ذمه واري يا ضمانت ته کفالت وايي.برابره ده چې د کس حاضرول محکمې ته وی يا د قرض ورکړه.

په عرفي قضاء کې د قضيی د حل په اړه، کفالت يا ضمانت په دوه ډوله ترسره کېږي يا به نقدې پيسې په ضمانت کې ږدي چې هغه ته مچلگه وايې يا به شخص په ضمانت (کفالة) کې ورکوي، ځکه چې ضمانت په عرف کې الزامي او تطبيقي جهت دی، که دا ضمانت شتون ونلري نو عرفي پريکړه د الزام حيثيت له لاسه ورکوي.

## په عرف کې د ضمانت ډولونه :

۱. **د مال د ورکړې ضامن :** دا هغه څوک دی چې د ټولو هغو حقوقو د ادا کولو ژمنه کوي چې د تېرى کونکي له لوري يې ضمانت کړی وي، هغه که مادي حقوق وي يا معنوي که چېري د دعوی مقابل لوری د دعوی بل ارخ ته خپل حقوق نه ورکوي نو د دې پر ضامن باندې د ټاکلي حقوقو د أدا کولو په اړه جبر او زور کېدلای شي.

۲. **دفاعي ضامن :** دا هغه څوک دی چې د متضرر له لوري ضامن کېږي، او هغه سره دا ژمنه کوي چې د قضيی تر پايه دې زه تر څنگ ولاړ يم او هيڅ څوک نه پرېږدم چې له تا سره خيانت، غدر او ظلم وکړي.

۱ - الحاج سميع الله : غزني ولايت، اجرستان ولسوالی د سيد خيلو د کلی قومي مشر، د مرکې نيټه (۱۴۰۲/۲/۷)، د ټيليفون شمېره (۰۷۷۶۰۹۹۹۰۸) .

۲ - الحاج تاج محمد : د لوگر ولايت ، ازرې ولسوالی د اکبرخيلو د کلی قومي مشر ، د مرکې نيټه (۱۴۰۲/۱/۱۱) .

۳ - عبدالباري : د ميدان وردگ ولايت، سيد آباد ولسوالی د شنيز د کلی قومي مشر، د مرکې نيټه (۱۴۰۲/۱/۳۱) .

۳. **د سر ضامن :** دا هغه ضامن دی چې محکمه یا مقابل لوري ته ډاډ ورکوي چې خپل مکفول به په ټاکلي وخت او یا په هغه ورځ چې د قاضي په وړاندې حاضریږي حاضروي. خو کله چې دواړه خواوې قاضي ته حاضر شول د دې ضامن ضمانت پای ته رسیږي.

۴. **د ضامنانو ضامن :** دا هغه ضامن دی چې د نورو ضمانانو پر سر ضامن کېږي، د دې پخاطر که چېري أصلي ضامنان د دوئ د کارونو په ترسره کولو کې پاتې راځي نو متخاصمین دې ته مراجعه کوي.

۵. **د خسارې او تاوان ضامن :** دا هغه ضامن دی، چې د تاوان ضمانت کوي، او وایې که چېري په دې معامله کې تاوان وشو، نو ټول تاوان او خساره زما پر غاړه او زه یې أداء کونکی یم.

**یادونه :** که څه هم په عرف کې د ضامن لپاره چې څومره نومونه شتون لري دا ټول د ضامن له محتوا څخه انحراف نه کوي چې په دوه ډوله ویشل شوي دي : چې یو یې د پیسو ضمانت دی او بل یې د شخص ضمانت.

دلته د هر ځانګړي عمل لپاره دغه نومونه اطلاق کېږي ځکه د ضامنانو نومونه متعدد دي، لکه : چې ویل کېږي، مجموعي ضامن یا انفرادي ضامن.

**دریـــم : په عرفي قضاء کې مدافع وکیل :** د لوګر ولایت عرفي قضا کې، وکیل مدافع هغه څوک دی چې د مخاصم په استازیتوب خبري کوي او د دعوی په ژبه او طریقه خبرې کوي اعتراض او استدالال کوي. دوئ په خوله کې تیز دي د ژبې فصاحت لري، او همدا رنګه د خبرو اترو بحث کولو او قانع کولو مهارت لري او اکثراً په پریکړو کې خوله ور او ژبه ور غوره کیږي. مقصد دادی چې پوهه ولري په عدلی او قضایی شوری کې د بحث او اعتراض وړتیا ولري مشر توب او کشر توب پکښې شرط نه دی. (۱)

د میدان وردګ او غزني په عرف کې، عرفي قضا کې وکیل نیول ممکن دی، که چېرې د دعوی لوري ضعیف وي یعني د خبرې اترې او استدلال وړتیا ونلري نو خپل صلاحیت وکیل ته ورکولی شي. خو په قومي جرګو کې اکثراً د قوم په نمایندګی د قوم مشر خبرې کوي.(۲)

د غزني ولایت : دا چې هر عاقل بالغ د وکیل نیولو او وکیل کیدلو حق لري، نو بناءً هر څو کولای شي چې د خپلی قضایاوو د حل په موخه بل کس وکیل مدافع ونیسي. (۳)

---

۱ - الحاج تاج محمد : لوګر ولایت، ازرې ولسوالی د اکبرخیلو د کلي قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۱/۱۱) . محمد علي : لوګر ولایت محمد آغه ولسوالی د آوپران د کلي قومی مشر .

عبدالباري : د میدان وردګ ولایت، سید آباد ولسوالی د شنیز د کلي قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۱/۳۱) . معلم احمد جان : میدان وردګ ولایت، دایمیرداد ولسوالی د ګلئ د کلي قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۲/۱) .

۳ - ا سمیع الله : غزني ولایت، اجرستان ولسوالی د سید خیلو د کلي قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۲/۷) . د ټیلیفون شمېره (۰۷۷۶۰۹۹۹۰۸) .

## دویم مطلب: په عرف کې قضایې کړنې د اسلامي قانون په پرتله

د تیري کونکي لخوا چې کوم طرزالعملونه او کړنلارې چې په پام کې نیول شوي دي، د اسلامي شریعت له قضاء سره ډېر شباهت لري :

١. تضمین او ډولونه یې.
٢. قاضی ته پیسې ورکول.
٣. وکیل مدافع نیول.

موږ غواړو چې په دې اړه، د اسلامی شریعت حکم روښانه او بیان کړو.

**لومړی : تضمین او مشروعیت یې** هغه څه چې په عرفي قضاء کې لیدل کیږي، تضمین په دوه ډوله دی:

١. د نفس (د سَر) ضمانت
٢. د پیسو یا د مال ضمانت

مخکې له دې چې د تضمین د جواز (روا والې) په اړه شرعي حکم روښانه شي اړینه ده چې په شریعت کې د ضمانت ډولونه روښانه شي **تضمین په شریعت کې دوه ډوله دي :**

**الف : د نفس (د سَر) تضمین** دا تضمین عرف کې، د (سَرضمانت) په نوم یادیږي دا هغه تضمین دی، چې د تضمین کونکي لخوا ژمنه کېږي ترڅو تضمین شوی کس د غوښتنې په وخت راولي او حاضر یې کړي. تضمین کونکی وایې : چې زه د فلاني د نفس یا د سر ضامن یم او دغه تضمین شوی کس د ضرورت پروخت هغه ټاکلي ځای ته حاضروم، چې دا کار په شریعت کې روا او جایز دی.

او که چیرې تضمین شوی کس غیر حاضر وي یا عذر ولري نو کفیل ته مهلت وکول کېږي، که تضمین شوی کس حاضر وي او عذر هم ونلري، نو د ده د احضار لپاره پر ضمانت کونکي اجبار وشي، که چېرې له حاضرولو څخه یې عاجز پاتې شو، تاوان دې ورکړي البته د رسول الله ﷺ د دې وینا پر بناء « **الـزعـيـمُ غــارم** ». [1] ( کفیل تاوان ورکونکی وي ). د نفس ( سر) تضمین په لاندې مواردو سره پای ته رسیږي :

(١) د تضمین شوي شخص سپارل د موافقې پر اساس.
(٢) د (مکلفول له) له لوري د ضامن لپاره ابراء او خوشې کول.

[1] - المسند : امام احمد ، أبو عبد الله أحمد د محمد د حنبل د هلال د أسد الشيباني ، ځوی، (تولد ٢٤١ هـ) مسند الإمام أحمد بن حنبل تحقيق شعيب الأرنؤوط عادل مرشد، لومړی چاپ : په ( ١٤٢١ هـ ٢٠٠١ م ) نېټه چاپ ځای: مؤسسة الرسالة. د حديث شمېره : (٢٢٣٤٩).

(۳) د تضمين شوي کس مړينه ځکه اصلي سړی مړ شوی دی ( فاذا بطل الاصل بطل الفرع) ([1]) کله چې أصل باطل شي فرع هم باطلیږي.

**ب : د پیسو ضمانت** دا هغه ضمانت دی چې ضامن د مال د ورکړې تعهد کوي، دا رنګه ضمانت په سنتو او اجماع سره ثابت دی. [2] **د پیسو تضمين د لاندې مواردو سره پای ته رسیږي :**

۱. مکفول له ته حق ورکول دي که د ضامن له خوا وي او که د اصیل له خوا

۲. د مکفول له لخوا د کفیل (ضامن) خوشې کول یا د اصیل خوشې کول

۳. د کفیل او پور ورکوونکي سره پخلاینه

کله چې عرفي یا دودیز کفالت یا ضمانت ته ګورو، نو د شرعي ضمانت له دائري څخه انحراف نه کوي بناءً د عرفي قضاء کفالت او د شرعي قضاء کفالت دواړه یو بل سره موافق دي.

**دويم : د قضاء په بدل کې پیسې ورکول او د هغې مشروعیت** دا په واقعیت کې د قضا په بدل کې د پیسو ورکول دي او یا د یو ځانګړي عمل لپاره، چې دې ته په شریعت کې « الجُعالة » ( د کاريګر مُزد ) ويل کيږي.

**الف : که د قضاء خبره وي :** فقهاوو د قضا په بدل کې د پیسو اخیستلو ته جواز ورکړی دی. ابن قدامه رحمه الله فرمايي : موږ په دې اړه هیڅ اختلاف نه لرو. ([3])

فقهاء فرمايې چې خلک قضاء ته اړتیا لري، که د قضاء پخاطر د پیسو ټاکل روا نه وي ټولنه خرابیږي او د خلکو حقوق ضايع کيږي ځکه چې د مسلمانانو په حقوقو کې ځنډ او محدوديت راځي.

ابن قدامه هم وايي : که د قاضي لپاره پیسي ونه منل شي، نو قاضي مدعیانو ته ويلی شي چې زه فیصله نه کوم تر څو ماته پیسې ونه ټاکئ، او دا جايز دي. ([4])

**ب : که د پخلاینې یا منځګړیتوب خبره وي** د جُعالة ( د مَزدور مُزد ) تعریف ته په کتلو سره، چې د یو ځانګړي کار په بدل کې د پیسو ورکول دي، او دارنګه عمل په شریعت کې جائز دی. په دې مسأله کې قاضي د منځګرتوب یا مصالحې هڅه کوي، او د تحکیم عمل وړاندې کوي، نو ځکه د مال اخستل ورته جائز دي.

ابن قدامه وايي: (أن الجعالة في رد الضالة و الآبق و غيرهما جائزةٌ ) د ورک شوي شي دپیدا کولو په مقابل کې او همدارنګه د تښتیدلي غلام پیدا کولو په بدل کې د پیسو اخستل جائز دي. د دې أصل او دليل د الله متعال قول دی :

---

[1] - الکاساني : بدائع الصنائع ( ٦ / ١٢ ).

[2] - ابن رشد : بدايت المجتهد ( ٢ / ٢٦٩ ).

[3] - المغني : لابن قدامة ( ١١ / ٣٧٧ ).

[4] - المغني : لابن قدامة ( ١١ / ٣٧٧ ).

« وَلِمَن جَآءَ بِهِۦ حِمۡلُ بَعِيرٖ وَأَنَا۠ بِهِۦ زَعِيمٞ ». (١)

**ژباړه :** چا چې د بادشاه پیمانه راوړه ديو اوښ جائزه يې ده او زه يې ضامن يم دا چې قاضي يوه ځانګړې دنده ترسره کوي نو د خپل کار لپاره د فيس مستحق دی، مګر په شرايطو سره :

(١) هغه کار چې د قاضي له خوا ترسره کيږي بايد د شريعت مخالف نه وي

(٢) فيس بايد د ټولې قضيې څخه ډير نه وي ځکه چې پدې کې د خلکو پيسې په ناحقه مصرف کيږي

(٣) د دې کار لپاره بايد معاش ونه لري که د دې کار (دخلکو تر منځ روغې جوړې ) لپاره له يوې ځانګړې ادارې څخه معاش واخلي، بيا هغه ته روا نه ده.

د پورتنيو ويناوو پر بنسټ موږ ګورو چې عُرف د هڅې په بدل کې د پيسو اخيستلو په برخه کې له شرعي قانون سره موافق دی.

**دريـم: مدافع وکيل او د هغه مشروعيت** عرف کې مدافع وکيل هغه سړی دی چې په ديوان کې د د قضيې د يوي خوا استازيتوب کوي او په محکمه کې د خپل مؤکل په استازيتوب استدلال کوي، او دا مسأله د فقهاوو په نزد کې هم شتون لري، چې په ( الوکالة بالخصومة ) ياديږي، او دا هغه وکالت دی چې يو کس د دعوا کونکي له خوا چې له هري لوري وي وکالت او نيابت کوي(٢) او د لاندي دلائلو پر بناء جواز لري :

**( 1 ) عن كعب بن مالك..... وقد قال رسول االله أخرجوا إلي منكم أثني عشر نقيبا يكونون على قومهم فأخرجوا منهم أثني عشر نقيبا.** (٣)

**ژباړه :** د امام احمد په مسند کې د کعب بن مالک رضی الله عنه په يو اوږد حديث کې دي : رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : دولس کسه داسې مشران دې بهر شي، چې د خپلو خلکو مشري کوي، نو دولس کسان له هغوئ څخه را ووتل له دې حديث څخه دا ثابتيږي چې رسول الله ﷺ انصارو ته امر کړی چې د انصارو په نماينده ګۍ خبرې وکړي.

**( 2 ) عن جهم بن أبي الجهم عن عبد االله بن جعفر قال :" كان علي بن أبي طالب رضي االله عنه يكره الخصومة فكان إذا كانت له خصومة وكل فيها عقيل بن أبي طالب..**(٤)

**ژباړه :** د جهم بن ابي الجهم له عبدالله بن جعفر څخه روايت کوي چې ويې ويل : علي بن ابي طالب رضي الله عنه له دعوا کولو څخه کرکه لري نو که يې کومه دعوه درلوده نو عقيل بن ابي طالب ته به يې دنده سپارله....

---

١ - سو رة : اليوسف (٧٢).

٢ - ابن نجيم : البحر الرائق (٧ /١٧٨) ، ابن قدامة : المغني (٢١٨/٥).

٣ - المسند لإمام احمد : د حديث شبره : (١٥٨٣٦). روضة المحدثين (٤/ ٥٦، بترقيم الشاملة آليا) حافظ په " الفتح " کې ويلي دي (٧ / ٢٢١) : چې دا حديث ابن حبان صحيح کړی .

٤ - البيهقي : السنن الكبرى (٨١/٦ ). تخريجه من إرواء الغليل (ص: ٦١) (ضعيف ، ولم أره الآن بهذا اللفظ.

( 3 )    ابن قدامة د علي رضی الله عنه د روایتونو له یادولو څخه وروسته وايي: په دې اړه د صحابه کرامو اجماع ده.([1])

له دې یادو دلائلو څخه دا ثابتيږي چې په اختلافاتو کې د استازیتوب یا وکیل مدافع نیول جواز لري.

د پورتني مطلب پر بنسټ عرفي قضايي قوه له شرعي قضايي قوې سره د هغه څه په اړه موافق ده چې وکيل مدافع (استازيتوب) بلل کيږي.

## دریـــیم مبحث: د پریکړې صادرول

کله چی مرکچیان د مسألې تر څېړنې وروسته نتیجې ته ورسیږي، بیا پریکړه صادروي، د پرېکړې صادرولو لپاره د پیښې دواړه لوري په داسي حال کې چې د کور کلي یا د قوم سپین ږيري آن کشران ورسره ملګرې وي د مرکې ډګر ته رابولي، دا چې په دې اړه کومې کړنې ترسره کیږي ؟ د دې کړنې څرګندونه او د شرعي قضا سره يې پرتله، د لاندې دوو مطلبونو په ترڅ کې تر بحث لاندې نیول کیږي.

### لومړی مطلب :په عرفي محکمو کې د پرېکړو کړنلارې

په عرفي قضاء کې د حکم صادرول د قضيې د بهير له څیړلو وروسته ترسره کيږي او څو بنې لري :

**لومړی: دواړو خواوو ته د پخلاینې وړاندیز:** قاضي وروسته له دې چې د دواړو خواوو دليلونه واوري د فرصت په ورکولو سره د شخړې اړخونو ته د پخلاینې وړاندیز کوي، چې سوله وکړي، که دوی په یو مشخص شي موافقه وکړه، نو په همدې موافقه کیږي، که یې موافقه ونکړه، ترهغې وروسته فیصله (پریکړه) صادریږي.

**دویم : حُکم ( د پریکړې صادرول ):** د حکم د تعریف په اړه مخکې هم یادونه شوی ده چې : (الحُکم لغةً : القضاء، يقال قَضیٰ يَقضي قضاءً فهو قاضي اذا حَکمَ و فصل). ([2])

**الحُکم اصطلاحاً :** « قطع القاضي المخاصمة و حسمه اياها » (قاضي شخړه او دعوی پرې کړه او معامله يې حَل کړه ). ([3])

وروسته له دې چې قضیٰ ته د قضيې په اړه معلومات ورکړل شو او دواړه لوري پخلاینه او صلحي سره موافق نه وي، بیا پریکړه صادریږي. د پرکړې دوه صورتونه دي :

---

[1] - ابن قدامة : المغني (٢٠٤/٥).

[2] - ابن منظور: لسان العرب (١٨٦/١٥).

[3] - علي حيدر: درر الحكام (٤ /٥١٩).

**لومړی صورت:** د قاضي له خوا په تصریح سره حکم صادرول دي، چې د حکم له صادرولو وروسته مدعي علیه سمدلاسه پرته له بحث، دلیل، کمبود یا شفاعت څخه هغه پریکړه مني او حق ورکوي.

**دویم صورت:** د قاضي داسې حکم صادرول دي، چې په هغه کې د یو چا (وقار ، مخ او لحاظ) ځای لري یعني د یو چا لحاظ ته کتل کېږي. او دا صورت دوه طریقي لري :

**لومړۍ طریقه :** دا چې حق د عرفي قضاء له مخې ټاکل کېږي، خو د مخ لپاره پکښې ځای پرېږدي، کیدائ شي د چا د مخ ، وِقار او شفاعت پخاطر څه کمۍ پکښې راشي.

**دویمه طریقه:** داده چې د حکم صادرول مجني علیه (متضرر) ته پرېښودل کېږي، هغه داسې چې مجرم د متضرر کورته ځي د هغه څخه د حق د کمولو درخواست او عذر کوي، کیدلای شي د مخورو کسانو په لحاظ، د حق یوه لویه برخه که مادي وي او که معنوي مجرم ته معاف کړي. ([1])

**یادونه :** ټول صادر شوي قضاوتونه تقدیري دي یعني د عرفي ( دودیز ) حکمونو او فیصلو سره سم.

## دویم مطلب: د حکم صادرولو په اړه دعرفي قضاء او شرعي قضاء تر منځ پرتله

کله چې د عرفي (دودیز) قاضي ترسره شوي طرزالعملونو پام وکړل شي، دغه لاندي موضوعات لاس ته راځي او باید وڅېړل شي :

١. صلح (پخلاینه).
٢. د حُکم صادرولو ظرفیت دې کې ښودل کیږي چې په حقیقت کې عرفي قاضي د قضاوت کولو وړ دی.
٣. په عرفي قضاء کې د حکمونو اساس ټول تقدیري دي.
۴. د حقوقو په کمولو کې د شفاعت رول.

**لومړی : صُلح (پخلاینه)** د پخلاینې یاصلحي د مشروعیت په اړه مخکې څرګندونې شوي دي، په دي موضوع کې د عرفي قضاء او شرعي قضاء تر منځ هیڅ رنګه اختلاف شتون نلري.

**دویم: د قضاوت وړتیا :** لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه چې د دعوا دواړه لوري عرفی قضاء ته، د دعوا د پریکړې صلاحیت او واک ورکوي، او د دوی تر منځ، د حکم د اصدار لپاره له عرفی قضاء څخه مرسته غواړي، دلته د قضاء سلطه او قدرت د دواړو متخاصمو په رضایت باندې ولاړ دی. په شریعت کې، که موضوع قضا پورې اړه ولري، نو د قاضي قوت او واک د امام پر قوت ولاړ دی، او په (منځګړیتوب یا پخلاینه) کې د قضاوت کولو واک یا قوت د دواړو خواوو له رضایت څخه ترلاسه کیږي.

---

[1] - الحاج جمعه خان، مشهور په حاجي ټندکئ، لوګر ولایت، محمد آغي ولسوالی د سوړیا د کلي قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۱/۱۸) .

له پورتني مطلب څخه څرګنده شوه چې عرفي قضاء له شریعت سره د قضاوت په صلاحیت کې موافقه ده او دغه صلاحیت د مدعیانو له خوا د دندې سپارلو پر بناء دی قاضي او مُصلح ته د حکم د اصدار لپاره.

**درېیــم : هغه مستنده منبع چې قضاوت پرې کېږي:** لکه څنګه چې مخکې یاده وشوه، په عرفي قضاء کې مستنده منبع چې قضاوت پرې کېږي، اسلامي او عرفي غیر مدَون احکام دي، او په شرعي قضاء کې د قضاء او حکم منبع یواځې اسلامي شریعت دی، او په صلح یا پخلاینه کې د دعوا کونکو اراده او رضاء ده، خو چې د شریعت سره موافق وي، او شریعت د مدعیانو اراده او رضایت ته درناوی کوي.

له پورتني مطلب څخه دا څرګنده شوه چې عرف له اسلامي شریعت سره په پخلاینه کې مطابقت لري پرته له حرامې پخلاینې څخه، د عرفي قضاء لپاره که لویه دائره او میدان شتون ولري، نو لوي او وسیع میدان یې همدغه د منځګړتوب او مصالحي میدان دی. په داسې حال چې په تحکیم کې یو بل سره توپیر لري، ځکه چې شرعي تحکیم کې أصل شرع ده او عرفي تحکیم کې أصل عرف دی. نو هغه حکمونه چې د عرفي جرګه مارانو (قاضیانو) لخوا صادرېږي، اړینه ده چې د شرعي حکم سره موافق وي.

**راځـئ چې ځینې ضوابط او شرائط وټاکو :**

که د حکم مسأله وي، باید کتاب الله سنت رسول الله او اجماع امت مسلمه سره خلاف نه وي.

په عرفي محکمو کې، باید د دواړو خواوو رضایت وي ځکه چې د پخلاینې تړون د دوه اړخیزه رضایت تړون دی، او همداسې تحکیم.

**څلورم : د حقوقو په کمولو کې د شفاعت رول شفاعت** په عرفي قضاء کې، د مرتکب د سزا د کمولو لپاره یوه وسیله ده.

**په شریعت کې علماوو شفاعت په دوه ډوله ویشلی دی:**

**لومړی ډول : په حدودو کې شفاعت**

**دویم ډول : د هغو کسانو لپاره شفاعت چې اړتیاوې لري یا د هغو حقونو لپاره چې تعزیر پرې لازمي وي.**

**لومړی : په حدودو کې شفاعت** علماء په دې نظر دي کله چې د (حد سزا) امام ته ورسیږي نو د هغه شفاعت روا نه دی د لاندي دلیل پر بناء :

( 1 ) عن عائشة رضي الله عنها : أن قريشا أهمتهم المرأة المخزومية التي سرقت فقالوا من يكلم رسول االله ومن يجترئ عليه إلا أسامة حب رسول الله صلى الله عليه وسلم فكلم رسول الله فقال : أتشفع في حد من حدود الله ؟ ! ثم قام فخطب قال : يا أيها الناس إنما ضل من كان قبلكم أنهم كانوا إذا سرق الشريف تركوه واذا سرق الضعيف فيهم أقاموا عليه الحد وايم الله لو أن فاطمة بنت محمد سرقت لقطع محمد يدها ». [1]

[1] - متفقٌ علیه : ( البخاري ، د حدیث شېره : : ۳۴۷۵ ) , ( مسلم ، د حدیث شېره : : ۱۶۸۸ ).

**ژباړه :** له عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی: قریش د مخزومی ښځې په اړه اندېښمن شول چې غلا یې کړې وه نو ویې ویل : له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره، څوک خبرې کولی شی؟ او له اسامه پرته چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم محبوب دی، څوک دا جرأت کولای شي ؟ هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خبري وکړې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : آیا د خداي په حدودو کې شفاعت کوئ ؟ بیا پاڅېد او خطبه یې وکړه او ویې ویل : اې خلکو! له تاسو نه مخکې کسان گمراه شوي دي ځکه : کله به چې شریف غلا وکړه، معاف کیدل، او کله به چې ضعیف غلا وکړه، حد پری جاري کیدل، او په خدای قَسَم که فاطمه بنت محمد غلا وکړي، محمد به یې لاس پرې کوي.

**( 2 ) عن صفوان بن أمية كنتُ نائمًا في المسجدِ على خميصةٍ لي فسُرِقْتُ فأخذنا السارقَ فرفعناهُ إلى رسولِ اللهِ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ فأمر بقطعِه فقلتُ يا رسولَ اللهِ ! أفي خميصتي ثَمَنُ ثلاثينَ درهمًا ؟ أنا أَهِبُها لهُ قال : فهلَّا كان قبل أن تأتيني بهِ ؟** (١)

**ژباړه :** له صفوان بن امیه رضي الله عنه څخه روایت دی چې : د رسول الله صلی الله علیه وسلم په جومات کې ویده وو په دې وخت کې یې کمیس د سر لاندې غلا شو، غل یې ونیول او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې راوست، رسول الله صلی الله علیه وسلم امر وکړ چې لاس یې پرې کړئ صفوان ورته وویل : زما په کمیس کې دېرش درهم دي زه هغه وربښم، رسول الله ﷺ وفرمایل : مخکې له دې چې ماته دې راوست، پرېښوئ به دې وو.

**امام نووي وايي :** علماوو د هغه حدودو د شفاعت په اړه یې د تحریم اتفاق کړی دی چې امام ته رسېدلې وي. (٢)

**ابن عبدالبر وايي :** داسي یو اختلاف باندي پوه نه یم چې د أهل العلم تر منځ د هغه حدودو د شفاعت په اړه شتون ولري چې سلطان ته رسېدلی وی، نه د دې (مدعي) لپاره عفو شته او نه د بل چا لپاره. (٣)

د صفوان له حدیث څخه دا څرگندېږي چې : سلطان ته د قضیي تر رسـیدلو د مخه، شفاعت جواز لري.

**( 3 ) عن عبدالله بن عمرو بن العاص : أن رسول الله ﷺ قال : « تعافوا الحدود فيما بينكم فما بلغني من حدٍ فقد وجب »** (٤)

**ژباړه :** عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه فرمايي : چې رسول الله صلى الله علیه وسلم وفرمایل : پخپل منځ کې د حدودو عفو وکړئ، خو کله چې ماته ورسید حد پري واجبېږي.

---

١ - أخرجه أبو داود (٤٣٩٤) ، **والنسائي :** أبو عبد الرحمن أحمد د شعيب النسائي ځوی، (تولد ٣٠٣ هـ) سنن النسائي ، لومړی چاپ په (١٤١٧هـ ١٩٩٧م) کال ، د چاپ ځای: مكتبة المعارف للنشر والتوزيع - الرياض. د حدیث شمېره : (٤٨٨٣) باختلاف يسير. البدر المنير (٨/ ٦٥٢) قَالَ الْحَاكِم : هَذَا حَدِيث صَحِيح الْإِسْنَاد .

٢ - إمام نووي : شرح صحيح مسلم (١١/٣٣٠).

٣ - ابن عبد البر : الاستذكار (٥/٥٤٠).

٤ - أبي داود : سنن أبي داود ، د حديث شېره : (٤٣٧٦). روضة المحدثين (٧/ ٦٦)، بترقيم الشاملة آليا) حافظ په " الفتح " کې (١٢ / ٨٧) وايي : صححه الحاكم وسنده إلى عمرو بن شعيب صحيح.

زبیر بن العوام رضی الله عنه یو سړی ولید چې یو غل یې نیولی و او غوښتل یې چې سلطان ته یې بوځي نو زبیر د هغه شفاعت وکړ، هغه سړی وویل : نه، نه یې پرېږدم تر څو سلطان ته مې نه وي رسولی زبیر وویل : کله چې دې سلطان ته دي ورسول، نو بیا خدای لعنت کړی دی، پر شفاعت کوونکي او پر شفاعت قبلونکې باندې. (١)

**درېیم : شفاعت په حقوقو کې یا په هغو حقوقو کې چې تعزیر پرې لازم شوی وي**

**الف : په حقوقو کې شفاعت :** په حقوقو کې شفاعت جایز دی.

**(عن أبي موسى قال : كان النبي إذا أتاه السائل وربما قال جاءه السائل أو صاحب الحاجة قال : اشفعوا فلتؤجروا ويقضي االله على لسان رسوله ما شاء). (٢)**

**ژباړه :** له ابو موسی رضي الله عنه نه روایت دی چې وایي : کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کوم سوالگر یا د حاجت خاوند راغی، هغه به وفرمایل : شفاعت وکړئ اجر درکول کېږي او الله به د خپل رسول په ژبه پرېکړه کوي.

ابو الطیب ( العظیم آبادي ) فرمایي : که یو محتاج ماته خپل حاجت وړاندې کړي، نو شفاعت یې کوم، که چېرې ته شفاعت وکړې، نو اجر درکول کیږي، که ستا شفاعت قبول شي او که نه. (٣)

**ب: هغه حقوق چې تعذیر لازموي** دا رنگه شفاعت شرعاً روا دی امام نووي رحمه الله فرمایي : هغه گناهونه چې ټاکلی حد نه لري او تعزیر یعنی مجازات یې لازمي وي، شفاعت یې روا دی، که امام ته رسیدلی وی او که نه حتی په هغه کې شفاعت مستحب دی. (٤)

بناءً هغه څه چې اصلاح کوونکي او وکیلان یې د حقوقو د شفاعت په برخه کې کوي د شریعت له مخې روا دي.

---

١ - امام مالك : الموطأ (٤٨٩).

٢ - متفق علیه : البخاري : (د حدیث شبره : ١٤٣٢) ، الإمام مسلم : (د حدیث شبره : ٢٦٢٧).

٣ - العظیم آبادي : عوم المعبود (١٤ /٢٨).

٤ - الإمام النووي : شرح صحیح مسلم (٣٣٠/١١).

# څـــــلورم فـــصـل

## په ټولنه کې د مهمو مسائلو په اړه عرفي أحكام

## او د هغې شرعي حكم

دا فصل درې مبحثه لري

لومړی مبحث: د قتل او ديَّـت مسائل.

دويم مبحث: هغه تيری او تجاوز چې د قتل څخه کم وي.

درېـيـم مبحث: د ښـــځـو مســـايـل.

## لومړی مبحث : د قتل پېښې (قضيې)

قتل ډېره لويه گناه ده، ځکه چې ژوند د الله متعال له لوري يوه هديه ده، هېڅ څوک حق نلري چې دغه الهي هديه ورڅخه واخلي، که چېرې بيا هم داسې کومه قضيه منځ ته راځی، الله پرې خفه کېږي او همدارنگه هغه انسان چې ورسره خواښوږي لري پرې خفه کېږي، نو د داسې پيښو د مخنيوي په موخه متقابلې لارې تړاکل شوي دي، دا چې قتل مختلفې بڼې لري، او هره بڼه ئې جلا أغېز او جلا تاوان لري، نو د دې موضوع لنډ وضاحت په لاندې دريوو مطلبونو کې تر بحث لاندې نيول کېږي.

### لومړی مطلب : په عرف کې د قتل ډولونه او اسلامي شريعت سره يې پرتله

**عرف کې د قتل ډولونه :** قتل په عرف کې د ماهيت او وضاحت له مخې په څو ډوله وېشل شوی دی :

( 1 ) **ډزې کول پرته له قتل نه :** لوگر احمدزيو عرف او قضا کې که چېرې په چا باندې بې موجبه عمداً د ټوپک ډزې وکړي، د ډزو په نتيجه کې که سړی مړ شوی هم نوي، خو داچې د هغه د وژلو اراده يې درلوده نو په ډز کونکي د خون (قتل) پور تړل کېږي. (١)

( 2 ) **قتل عمد (قصداً) :** دا د يو کس قصداً او عمداً وژنه ده، دا رنگه قضيې ډېرې وختونه د شخړو وهلو او ټکولو په جريان کې پيښېږي. (٢)

( 3 ) **د چل او خيانت قتل :** د لوگر په عرف کې دا هم قصدي وژنه ده، يعنې په خيانت، چل او فريب سره لکه : د شا له خوا په بی خبرۍ سره يا د ملگرتيا او دوستي په بهانې سره بيول او بيا يې وژل يا.... په ځينو قومونو او ملتونو کې د چل او خيانت د قتل ديت د قتل عمد په څلور چنده حسابېږي. لکن په زمونږ په عرف کې د چل او خيانت قتل يو قتل حسابېږي، خو که چېرې قتل په اثبات رسيدلی وي او مړی ورک وي، يا يې مړی بدرنگه کړی وي بيا د جرگې په لوزوم ديد سره اضافي پور پرې تړاکل کېږي. (٣)

( 4 ) **له ځانه د دفاع په حالت کې قتل :** لکه يو کس د خپل عزت پيسې، ناموس يا د ځان د دفاع په حالت کې بل کس وژني دا قتل د پښتنو په عرف کې د قتل عمد په شان دی، او د قتل پور ورکول کېږي خو د قتل له پور څخه د جرگې په لوزوم ديد سره څه اندازه کميږي.

---

١ - سناتور عبدالله : مرکه ، نرخ او ځلی په احمدزيو کې، (١١٧) .

٢ - الحاج تاج محمد : لوگر ولايت، ازرې ولسوالی د اکبرخيلو د کلي قومي مشر ، د مرکې نيټه (١٤٠٢/١/١١) ..

٣ - الحاج قوماندان عزت الله : د لوگر ولايت، محمد آغي ولسوالی د بُرگ د کلي قومي مشر، د مرکې نيټه (١٤٠٢/١/١٨) .

خو ځيني قومونو او مليتونو کې دارنګه قتل د قتل عمد په شان دی، تر هغه پوري چې د دې مسألې حقيقت ثابت شي، خو چې کله حقيقت يې ثابت شو، پر دفاع کونکي قاتل باندي هيڅ نشته، ځکه په شريعت کې له ځان، مال او ناموس څخه دفاع جايز ده، دا خبره صلح ته وړاندي کېږي.

( 5 ) **خطا وژنـــــه (قتل خطاء) :** (فعل ما لايريد) ته خطاء ويل کېږي. دا غير قصدي او غير ارادي يا سهواً وژنه ده، کومه نتيجه چې پر قتل عمد باندې مرتب کېږي، پر دې باندي هم مرتب کېږي، خصوصاً په هغه حالاتو کې چې دغه غير ارادي وژنه د ډزو پر مهال شوې وي نو دا غير قصدي يا تېروتنه نه ګڼل کېږي.

( 6 ) **سببي وژنه ( چې دی يې د وژلو لامل ګرځيدلی وی ) :** دا هغه قتل دی چې يو کس د قاتل لپاره مقتول ونيسي، او دا سړی هغه کس ووژني يا يې د وژلو امر وکړي. عرفي قضاء کې يې سزاء د قتل عمد پر بناء ورکول کېږي.

که قاتل د مقتول پور لنډ کړي کومک کونکی يا نيونکی خلاص دی، خو چې د قتل له ارادې خبر نه وي. او که د قتل له ارادې خبر وي، د مدعې لخوا قصاص او قتل کېږي، خو مدعې له دواړو ( دوه خونه) نه شي اخستلای.

( 7 ) **قتل انکار :** دا هغه قتل دی چې يو څوک د يو کس په وژلو تورن شي بيا هغه له دې وژنې څخه انکار وکړي بيا د قاضي په وړاندې قضيه ترسره کيږي او هغه يې ردوي، بيا د مقتول ورثه ورته وايي ( ورځه د اثبات تر وخته خوبونه کوه ) يعنې تر څو چې مونږ خپله ادعا نه وي ثابته کړي له تا سره هيڅ کار نشته، که چېرې ثابته شوه، د دې قتل تاوان د څلورو قتلونو تاوان دی. او وايي ( منکر په څلورو حساب دی ). (1)

( 8 ) **د ښځې وژل :** د ښځې د وژلو دوه حالتونه دي :

**لومړی :** د هغې ښځې په وژلو سره چې جنګېږي، او د جنګ په ميدان کې ووژله شي د يو سړي (نارينه) د قتل په توګه چلند کيږي، خو که چېري په کور کې وژله کېږي، نو يو خون څخه زياد پری حسابېږي. (2)

**غزني ولايت :** د ښځې او نر د ديت تر منځ توپير شته، د نارينه ديت پوره ورکول کېږي او د ښځينه ديت نيم ديت دی . (3)

---

1 - الحاج جعه خان مشهور په ټنډکۍ د امير جان زوی : لوګر ولايت، محمد آغي ولسوالی د سوړيا د کلي قومي مشر، د مرکې نيټه (۱۴۰۲/۱/۱۸) .

2 - الحاج قوماندان عزت الله : د لوګر ولايت، محمد آغي ولسوالی د بُرګ د کلي قومي مشر، د مرکې نيټه (۱۴۰۲/۱/۱۸) .

3 - الحاج سميع الله : د غزني ولايت، اجرستان ولسوالی د سيد خيلو کلي قومي مشر، د مرکې نيټه (۱۴۰۲/۲/۷) .

د میدان وردگ عرف کې، د ښځینه او نارینه په قتل کې، ترکومه ځایه چې زمونږ په ولایت کې لیدل کیږي فرق شتون نلري، خو د واقعي پر بناء فرق لري، ځکه چې ښځینه په افغاني ټولنه کې د لوړ مقام څښتنه ده، نو دیت ئې هم کله کله د خپل فزیکي وجود په نظر کې نیولو سره لوړ دی. ([1])

بیا محمد حسن حیران په دې اړه داسې وایي: په عرف کې معمولا د ښځینه او نارینه د قتل تر منځ توپیر دادی چې د نارینه د قتل په صورت کې په بدو کې د دیت په حیث نجونې وکول کیږي، خو د ښځې د قتل په صورت کې د وینې د پور په نوم نغدې پیسې له قاتل څخه اخیستل کیږي او د مقتول ورثې ته ورکول کیږي؛ او یا هم بښنه کیږي. ([2])

**په عرف کې د قتل د ډولونو پرتله له اسلامي شریعت سره :** لکه څنګه چې مو یادونه وکړه چې قتل په عرف کې د ماهیت اوصفت له مخې، په څو برخو و ویشه.په داسې حال کې چې په شریعت کې د قتل ډولونه درې دي: **۱** - قتل عمد یا قصدي ۲ - قتل خطاء ۳ - قتل شبه عمد.

**(۱) قصدي قتل ( قتل عمد ) :** عبارت له هغه قتل څخه دی چې مکلف کس، یو معصوم الدم انسان قصداً او ارادةً ووژني.

**قتل عمد په دوه ډوله دی :**

**الف :** یو هغه قتل دی چې په څیرونکي شي یا پرېکونکي شي باندې چې په بدن کې ننوځي و وژل شي، لکه: توره، چاقو، نَیزه او داسې نور.

**ب :** قتل په هغه څه باندي چې څیرونکی او پرکونکی نه وي، خو په غالب ګمان سره وژونکي آله وي، دا هم قتل عمد دی او قصاص پرې واجبږي. ([3])

**(۲) قـــتـل شـــبه عـــمـد :** دا هغه قتل دی چې مکلف کس د یو بې ګناه انسان د وژلو اراده کوي په داسې یو شي سره، چې معمولاً هغه شي د وژلو شي نه وي. لکه نَری لښته، قمچینه یا کومه لوټه او داسې نور. نو داسې قتل د قتل عمد او قتل خطاء ترمنځ متردد دی، ځکه چې وهل یې عمداً او قصداً دی، خو وژل یې اراده او قصداً نه دي.

د دې پخاطر چې سوچه او خالص عمد نه دی نو (قَـوَد یعني قصاص) ساقطیږي.کله چې قتل په قصد سره نه وي نو قَوَد (قصاص) یې ساقط شو ځکه چې اصلاً په دین کې د وینې ساتنه ده، نو پرته له واضح او

[1] - عبدالباري : میدان وردګ ولایت، سید آباد ولسوالی د شنیز دکلي قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۱/۳۱) .

[2] - محمد حسن «حیران» : میدان وردګ ولایت، سید آباد ولسوالی د بادام د کلي قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۱/۳۱) .

[3] - ابن عابدین : رد المحتار علی الدر المختار ( ٦ / ٥٢٧ ).

ښکاره دلیل څخه د ویني بهول یا (قصاص) روا نه دی. په قتل خطاء کې خطاء محض هم نه دی ځکه چې وهنه یې قصداً او عمداً دي، نه وژنه، د دې لپاره دیت مغلظه لازمیږي. (١)

امام مالک په دې باور دی چې دا رنګه قتل (شبه عمد) دی یعني قتل په دوه ډوله دی قتل عمد او قتل خطاء.البته د لاندې لیکل شوي دلائلو پر بناء شبه عمد شتون لري :

**(عن أبي هريرة (ض) قال : « اقتتلت امرأتان من هذيل فرمت إحداهما الأخرى بحجر فقتلتها وما في بطنها فاختصموا إلى النبي ﷺ فقضى أن دية جنينها غرة عبد أو وليدة وقضى أن دية المرأة على عاقلتها ». (٢)**

**ژباړه :** له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې : د هذیل د قوم دوه ښځو خپل منځ کې سره جګړه وکړه یوې یې بله په ډبره وویشتله او هغه یې ووژله، او د هغې جنین یې هم وواژه د دوی د شخړې مسأله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله، هغه مبارک داسې پریکړه وکړه، چې د هغې د جنین لپاره دیت یو غلام دی او د ښځې دیة پر عاقله باندې دی. دا نص پر دې دلیل دی چې د وژنې دریـیـم ډول (شبه عمد) هم شتون لري.

**(٣) : قتل خطاء :** دا هغه قتل دی چې یو مکلف کس مباح عمل ترسره کړي، مثلاً یو سړی ښکار کوي یا کومه نښه ولي، خو د ده په ډز یا فایر باندې یو معصوم انسان وژل کیږي، یا کومه (څا یا کوئې) یې کیندلې وي او کوم سړی پکښې وغورځي. یعنې داسې یو عمل یې ترسره کړی وي چې د شریعت لخوا اجازه ولري او دهغې په پایله کې کوم سړی ووژل شي.

**له پورتني مطلب څخه څرګندیږي چې د قتل کوم أحکام چې په عرف کې دي، او کوم أحکام چې په شرع کې دي، ځیني توپیرونه پکښې لیدل کیږي :**

په عرف کې د قتل ډیری ډولونه د پیښې په پیل کې په یو نظر سره لیدل کیږي او د قتل عمد په توګه معامله کیږي، پرته له دې چې دا (قتل عمد) دی او که (قتل خطاء)، او پرته له اثباته چې آیا دا (قتل خطاء) دی او که شبه عمد.

په داسې حال کې چې شریعت له لومړی شېبې څخه د وسیلې او ارادې له مخې د وژنې د ډولونو توپیر کوي او د همدې مسائلو پر بنسټ د وژنې ډول معلوم او په ګوته کوي.

عرف کې د قتل ډولونه له ( قتل عمد او قتل خطاء ) څخه انحراف نه کوي، او د (شبه عمد) په نوم څه نشته او همدغه (شبه عمد) د دوئ په آند (قتل عمد) دی. چې په دې کې له امام مالک سره موافق او هم نظره دي.

خو شریعت کې قتل په دري ډولونو چې (قتل عمد)، (شبه عمد) او (قتل خطاء) دی تقسیم شـــوي دي.

---

١ - ابن قدامة : المغني ( ٩ / ٢١٦ ).

٢ - متفقٌ عليه : البخاری : د حدیث شېره : ٦٩١٠) , المسلم : د حدیث شېره : (١٦٨١).

په عرف کې د قتل حکمونه ډېر دي  په تېره بيا که قتل عمد (قصداً) وي، البته د انتقام په طور سره.
قتل پوري چې کوم أحکام مرتب دي په شريعت کې، هغه ( قصاص - ديت - عفو - صلح ) دي.

خو دا بايد په گوته شي چې د قتل په ډولونو کې د عرف او شريعت تر منځ يواځې په اصطلاحاتو کې توپير لري نه په بل څه کې  خو د اصطلاحاتو توپير د قتل په ذات کې أثر نه کوي، د دي خلاف د لايلو په اړه يو څه خبري پکار دي.

## دويم مطلب : په عرف کې د قتل مُرتبه أثار او د هغې پرتليزه څيړنه له اسلامی شريعت سره

په هر ځای او هره توگه چې قتل صورت ونيسي  نو طبعاً د مقتول پر ورثه او خپلوانو باندی يو څه أثرات پر ځای پرېږدي  چې په لاندي ډول يې يادونه کېږي :

### لومړی : په عرف کې د (قتل عمد) اغيز او أثار :

**(۱) د وينې جوش (خون گرمي) :** دا د غضب حالت دی چې د مقتول په کورنی مسلط کېږي چې د دې پر بناء د قاتل پر مال باندی بريد کوي يا د هغه کور سوځوي يا يې چور (لوټ) کوي يا قاتل باندي بريد کوي، دا هغه طبعي پايله ده چې د قتل عمد پر بناء مرتب کېږي،  او دا شيان د قتل په ديت کې نه شميرل کيږي.  ځينی مستثنی شيان شته  لکه په عزت باندې بريد يا په ځمکه باندې بريد، لکه څنگه چې د ښځي قتل د غچ آخستلو په طور روا نده، د خون گرمی (د ويني جوش) ځيني وايې درې ورځې وخت لري او ځينې وايې يو ورځ وخت لري، له دې وروسته پر دې شيانو بريد يا تجاوز روا ندی.

**(۲) غچ اخيستل :**

دا د جاني (مرتکب) د خپلوانو قتل کول دي، چې دا د کورنی د هر غړي حق دی، پرته له دې چې ټاکل شوی وی چې ولي الدم څوک دی.
يا د عفو څخه وروسته د مرتکب وژنـه ده  (د روغې جوړې څخه وروسته تجاوز) : که چېرې کوم سړی بل څوک مړ کړي او موضوع پرته له غچ آخستلو څخه د مَرکې او روغې جوړې له لارې پريکړې ته ورسيږي، بيا دغه سړی خپل مدعي مړ کړي هغه قاتل دی د خون بدو پور به بيرته ورکوي او وروستی قتل به هم گالي. ([1])

**(۳) د بېزاری څرگندونه :** دا هغه وخت دی چې يو سړی د ډيرو ستونزو يا بد شهرت له امله د خپلې کورنی څخه بيزاره شي او انکار وکړي، که چيرې خرابه کورنی وي. يا برعکس، کله چې يوې کورنی د ډيرو ستونزو يا د هغه د بد شهرت له امله يو شخص (خپل د کور غړی) ردوي او ترې بيزاريږي.

[1] - سناتور عبدالله : مرکه نرخ او ځلی په احمدزيو کې ، (۱۱٦) .

**(۴) کږه کیدل:** دا د قاتل او د هغه د کورنی کږه کیدل یا ویستل دي، د ده له استوګن ځای څخه، په ځانګړي توګه له هغه ځای څخه چې قاتل او مقتول دواړه په یوه ځای کې اوسیږي، او دا کږه کیدل د قتل یا د عِرض (ناموس) په قضایاوو کې متعارف دي، چې د قاتل یا متعدي په عِرض (عزت او آبرو) باندې ترسره کیږي.

**(۵) وینه (خون) کې تخفیف :** دا چې د مقتول اولیاء له قاتل سره هواری او خفت کوي او له هغه څخه دیــت نه اخلي په دې شرط چې قاتل او د هغه اولاد د مقتول کورنی پورې اړه ولري، او د مقتول په هر (غم او تاوان) کې شریک وي او په مستقبل (راتلونکي) وخت کې له دوی سره باج ورکوي او تاوان پرې کوي.

**(٦) د جیره (تاوان) انتقال :** د مال د یوې برخې ورکول دي د مقتول اولیاء ته، وروسته له دې چې د دیــت د ورکړي لپاره ضامنان وټاکي، دا پیسې د دیــت له پیسو څخه شمیرل کیږي، او د مقتول اولیاء هم ضامنان ورکوي چې له دې وروسته پر قاتل باندې تیری نکوي.

**(۷) باج ورکول :** دا هغه پیسې دي چې د مجرم خپلوان یې د مقتول کورنی ته ورکوي د دې په بدل کې چې دوی ته زیان ونه رسوي او بېرته خپلو ځایونو ته راستانه شي.

**دوېیم : د خیانت د قتل أثار او اغیزې:** د خیانت د قتل اغیزې د قتل عمد اغیزې او أثارو ته ورته ده.

**دریــم : د قتل بالسبب اغیزې :** د قتل بالسبب اغیزې د قتل عمد له اغیزو سره ورته دي پرته له دې چې عرف د دواړو سره یو شان چلند او معامله کوي. یعنی قاتل او هغه څوک چې د قتل امریې کړی وي او یا یې نیولی وي.

**څلورم : د ناموس په دفاع کې د وژنې اغیزې:** هر هغه قاتل دی چې د خپل د عزت او ناموس په دفاع کې قتل کوي د هغه سره هغه چلند کیږي چې د قاتل قتل عمد سره کیږي، پرته له هغه حالت څخه چې دا خبره پرې ثابته شي، او که چیري ثابته شوه نو پر قاتل باندې څه نشته، ځکه چې دفاع یې مشروع حق دی، او د حل لاره یې صلح او پخلاینه ده.

### دویم : هغه (أثار) چې په عرف کې د قتل پربناء مرتب کیږي او شریعت سره یې پرتله :

**لومړی : هغه أغیز (أثار) چې د قتل عمد پربناء مرتب کیــږي :**

۱. **خون ګرمي او قهر:** وړاندی تیر شول چې دا د غضب حالت دی چې د مقتول په کورنی مسلط کیږي او د قاتل پر مال باندی او کور برید کوي یا هغه سوځوي یا یې چور (لوټ) کوي.او دا هغه شیان دی چې د قتل په دیــت کې نه شمیرل کیږي.

أما په شرع کې لازمي ده چې يو انسان خپل نفس د قهر او غضب پر مهال کنټرول کړي. لکه چې رسول الله ﷺ فرمايې :

**(عن أبي هريرة رضى الله عنه أن رجلا جاء إلى النبي ﷺ قال علمني شيئا ولا تكثر علي لعلي أعيه قال : « لا تغضب ، فردد ذلك مرارا كل ذلك يقول لا تغضب "الناس ). (١)**

**ژباړه :** د حضرت أبي هريرة (ض) څخه روايت دی چې يو سړی رسول الله ﷺ ته راغئ وويل: ماته يو څه را وښايه خو زيات مه راښيه (د دې لپاره چې حفظ يې کړم) حضرت وفرمايل : مه غوسه کېږه، او په مکرر ډول يې ويل : پر خلکو غصه مکوه.

او دا کار جايز ندی. د الله متعال په دې قول سره :

« وَلَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ وَتُدۡلُواْ بِهَآ إِلَى ٱلۡحُكَّامِ لِتَأۡكُلُواْ فَرِيقٗا مِّنۡ أَمۡوَٰلِ ٱلنَّاسِ بِٱلۡإِثۡمِ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ » (2)

**ژباړه :** او خپل مالونه په خپل منځ کې په ناحقه سره مه خورئ، او حاکمانو ته يې د دې لپاره مه ورکوئ (د رشوت په ډول يې مه وروړئ)، چې د خلکو د مالونو څخه يو څه حصه په ظلم سر وخورئ، حال دا چې تاسو پوهيږئ.

او همدا رنګه رسول الله ﷺ فرمايې :

**« عن أبي بكرة نفيع بن حارث..... قالَ: فإنَّ دِمَاءَكُمْ وأَمْوَالَكُمْ وأَعْرَاضَكُمْ وأَبْشَارَكُمْ علَيْكُم حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَومِكُمْ هذا في شَهْرِكُمْ هذا.... » (٣).**

**ژباړه :** رسول الله ﷺ فرمايی : يقيناً چې ستاسو وينې ستاسو مالونه ستاسو عزت او أبرو پر تاسو باندي د دي ورځي د حرمت په شان او د دي ښار د حرمت په شان او همدا رنګه د دې مياشتي د حرمت په شان حرام دي.

نو دغه خون ګرمي چې په عرف کې ترسره کېږي اسلام کې مشروعيت نلري، رسول االله ﷺ فرمايلي:

**(عن عائشة رضى الله عنها..... من أحدث في أمرنا هذا ما ليس فيه فهو رد ). (٤)**

**ژباړه :** څوک چې په دين کې کوم کار ايجادوي او هغه په دين کې شتون ونلري، هغه رد دی.

**٢. غچ آخستل :** وړاندې تير شول چې دا د قاتل يا مجرم د کورنۍ غړي قتل دی، يا د مجرم قتل دی وروسته له عفو يا صلح څخه. خو په شريعت کې حق له جاني او مجرم څخه بايد مطالبه شی، نه د کورنۍ له نورو غړو څخه. الله فرمايې :

---

١ - البخاري : ( د حديث شېره : - ٦١١٦).

2 - البقره : (١٨٨).

٣ - متفق عليه : البخاري : ( د حديث شېره : - ٤٤٠٦). صحيح مسلم : (د حديث شېره : - ١٦٧٩).

٤ - متفق عليه: البخاري : ( د حديث شېره : - ٢٦٩٧). صحيح مسلم : (د حديث شېره : - ١٧١٨).

« وَلَا تَقْتُلُواْ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّۗ وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِۦ سُلْطَٰنًا فَلَا يُسْرِف فِّي ٱلْقَتْلِۖ إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورًا ». (١)

**ژباړه :** او مه وژنئ هغه نفس چې الله ﷻ حرام كړى دى، مگر په حقه سره، او څوک چې ووژلى شي په داسې حال كې چې مظلوم وي نو يقيناً مونږ د هغه ولي (وارث) ته پوره غلبه ور كړې ده، نو هغه دې په وژلو كې اسراف نه كوي، بيشكه دغه (وارث) مدد كړاى شوى دى.له جاني څخه پرته تيرى په بل كس، د بل چا مأخذه ده او د بل چا مأخذه باطل دي « وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰۗ ». (٢) قرطبي وايې : د مخكني آيت ( فَلَا يُسْرِف فِّي ٱلْقَتْلِۖ ) په اړه وايې چې دې كې دري قوله دي: (٣)

(لايُقتل غير قاتله): دا د حسن، ضحاک، مجاهد او سعيد بن جبير قول دى.

(لا يقتل بدل وليه اثنين) : چې دا عمل په عربو كې رواج وو او همداسې يې كول.

(لا يمثل بالقاتل): يعنى قاتل دى نه مثله كوي، ( پزه او غوږ دې نه پري كوي).

د مخكنى ځېړني څخه دا معلومه شوه چې : غچ اخستل اسلام كې مشروعيت نه لري، خو كه چېري د مقتول له خوا څخه كوم يو اقدام يې وكړ او قاتل يې مړ كړ، نو دغه سړي نه پري قصاص كېږي، ځكه چې قصاص د هغه مقتول په جزا كې كېږي چې معصوم الدم وي او دغه كس معصوم الدم نه دى بلكه قاتل دى، خو د تيري په اړه بې امام تصميم نيسي. (٤)

**٣. د بيزاري څرگندونه يا اعلان :** بيزاري يو ډول مقاطعه ده ددې لپاره چې له ستونزو څخه خلاص شي چې سبب يې بد عمله كس دى يا بده كورنۍ ده. مگر شريعت انسانان هڅوى چې له بل انسان سره دوستي او محبت وكړي، او له كفارو څخه بيزاري اختيار كړي. الله ﷻ فرمايي : (٥)

«ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَۚ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ ٱلْعِزَّةَ فَإِنَّ ٱلْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا» .

**ژباړه :** هغه كسان چې د مؤمنانو څخه پرته كافران په دوستى نيسي، آيا دوى د هغوى په خواكې عزت لټوي ؟ نو بيشكه عزت ټول د الله لپاره دى.

بناء پر دې آيت شريف جايز نه دي چې مسلمان له مسلمان څخه بيزار شي، دغه رواج چې په عرف كې شتون لري د اسلامى دين له مبادي سره مخالف دى.

---

١ - الاسراء : (٣٣).

٢ - الاسراء : (١٥).

٣ - القرطبي : الجامع لأحكام القرآن (١٠/٢٥٥ ).

٤ - -الكاساني: البدائع (٧/٢٣٥) ،

٥ - النساء : (١٣٩).

**٤. کډه وربارول :** په عرف کې د جاني د کورنۍ کډه وربارول، د دې لپاره چې د مقتول د کورنۍ له خوا د انتقام له خطر څخه بچ پاتې شي. په شريعت کې د هر انسان ويستل له خپل کور او کلي څخه غټه خبره ده او د سړي په نفس باندې ډېره سخته تماميږي.

« قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُواْ مِن قَوْمِهِۦ لَنُخْرِجَنَّكَ يَٰشُعَيْبُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَكَ مِن قَرْيَتِنَآ أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۚ قَالَ أَوَلَوْ كُنَّا كَٰرِهِينَ ». (١)

**ژباړه :** د هغه له قوم څخه کبرجنو مشرانو وويل : اى شُعيبه ! خامخا به مونږ تا او هغه کسان چې له تاسره يې ايمان راوړى دى، د خپل کلي څخه وباسو، يا به تاسو خامخا زمونږ دين ته راگرځئ، هغه وويل : اگرکه مونږ (دا) بد گڼونکي يو.

قرطبي د دې آيت په تفسير کې وايي : شعيب هغوى ته وويل : (و لو کنا کارهين) يعني که څه هم موږ نه غوښتل خو تاسو موږ په زور او جبر سره جلاوطن کړو. (٢) نو د هر چا ايستل په زور له کور او کلي څخه د خداى تعالى په نزد له لويو گناهونو څخه دى. خو که په خپله خوښه لاړ شي يا د ولى الدم سره په جلاوطني سره جوړه وکړي جايز دى.

**د مال ورکول :** دا هغه پيسې دي چې د مقتول کورنۍ ته وړاندې کېږي چې د ديت يا د صلح له پيسو څخه شمېرل کېږي. د مال ورکړه د مقتول اولياوو ته، په دې شرط چې دا پيسې د ديت د پيسو برخه ده، که په ديت باندې راضي شول، پر مال باندې يې صلح وکړه، نو دغه عمل جايز دى، ځکه چې رسول الله صلى الله عليه فرمايلي دي :

**« عن عمر بن العوف المزمني..... والمسلمونَ على شروطِهم إلَّا شرطًا حرَّم حلالًا أو أحلَّ حرامًا ».** (٣)

**ژباړه :** مسلمانان په خپلو شرطونو پابند دي، پرته له هغه شرط چې حرام حلال کړي يا حلال حرام کړي.

دا معامله مشروعه ده ځکه چې تاديه (ورکړه) د يو څه لپاره ده که هغه د ديت پيسې وي يا د پخلاينې.

ابن قدامه وايي: صلح جايز ده د هر هغه څه په بدل کې، چې د هغه عوض اخستل جايز وي، پرته له دې چې بيع يې جايز وي که جايز نه وي. لکه : د قتل عمد په بدل کې مال د عيب سره ورکول.

**٥. باج ورکول :** دا هغه پيسې دي چې د مجرم خپلوان يې د مقتول کورنۍ ته ورکوي د دې په بدل کې چې دوى ته زيان ونه رسوي او بيرته خپلو ځايونو ته راستانه شي. دا په ناحقه له خلکو پيسې اخستل دي او دا کار د خداى ﷻ له قوله روا نه دى، او ناجايز دى.

---

١ - الاعراف : (٨٨).

٢ - القرطبي : الجامع لأحكام القرآن (٧/٢٥٠ ).

٣ - تخريج : ابن ماجه : أبو عبد االله محمد د يزيد القزويني، ځوى (٢٧٣هـ) سنن ابن ماجة لومړى چاپ، په (١٤١٧هـــ - ١٩٩٧م) کال، د چاپ ځاى: مکتبة المعارف للنشر والتوزيع – الرياض. د حديث شېره : (٢٣٥٣) ، و الترمذي ، د حديث شېره: (١٣٥٢). رد الجميل في الذب عن إرواء الغليل (ص: ١٥) قال الترمذي: حديث حسن صحيح.

« وَلَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ وَتُدۡلُواْ بِهَآ إِلَى ٱلۡحُكَّامِ ». (١)

**ژباړه :** او خپل مالونه په خپل منځ کې په ناحقه مه خورئ، او حاکمانو ته يې (د رشوت په ډول ) مه پيش کوئ.

**دويـــم : د خيانت او فريب د وژلو اغيزې:** لکه څنګه چې مخکې ويل شوي وو، چې د چل او فريب قتل ديت په ځينون قومونو کې له عادي قتل څخه ډېر دی، د نوموړي قتل اغيزي (آثار) د قتل عمد د اغيزو په توګه دي،

**د خيانت د قتل په اړه فقهاوو اختلاف کړی دی :**

**لومړی مذهب:** د اکثرو فقهاوو (حنفيانو شافعيانو او حنبليانو) په نزد. (٢)

دا ډله په دې نظر دي چې د (فريبانه قتل) او نورو قتلونو قصاص يا عفوه برابر دي او کوم توپير نلري او مسأله د مقتول ولي پوري اړه لري، د هغه خوښه ده چې قصاص کوي يې يا يې عفوه کوي، يا د پيسو په بدل کې صلح کوي.

**د دې ډلې دلائل : «... وَمَن قُتِلَ مَظۡلُومًا فَقَدۡ جَعَلۡنَا لِوَلِيِّهِۦ سُلۡطَٰنًا فَلَا يُسۡرِف فِّي ٱلۡقَتۡلِۖ إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورًا ».**(٣)

**ژباړه :**....... او څوک چې ووژلې شي په داسې حال چې مظلوم وي نو يقيناً مونږ د هغه ولې (وارث) ته پوره غلبه ورکړې ده، نو هغه دې په وژلو کې اسراف نه کوي، بيشکه دغه (وارث) مدد کړی شوی دی.

الله ﷻ په دې ځاي کې د ولايت حق ولي ته ورکړی دی نه سلطان ته.

**عن أبي شريح الكعبي قال : قال رسول الله ﷺ ألا إنكم يا معشر خزاعة قتلتم هذا القتيل من هذيل وإني عاقله فمن قتل له بعد مقالتي هذه قتيل فأهله بين خيرتين بين أن يأخذوا العقل أو يقتلوا ).** (٤)

ژباړه : له ابي شريح الکعبي څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : ای د خزاعه خلکو تاسو دا سړی د هوذيل په سيمه کې وژلی. او زه د هغه له کورنۍ څخه يم که چا زما د دې مقالې څخه وروسته څوک قتل کړ، نو کورنۍ يې د دوو لارو څخه بايد يوه لاره اختيارکړي، يا به ديت ورکوي يا به وژل کيږي.

---

١ - البقره : (١٨٨).

٢ - ابن رشد : بداية المجتهد ونهاية المقتصد ( ٣٩٨/٢). - ابن قدامة : المغني (٣٣٦/٩ ).

٣ - الاسراء : (٣٣).

٤ - الترمذي : سنن الترمذي (د حديث شېره :: ٣٣٢) . البدر المنير (٨/ ٤١٠) **الدَّارَقُطْنِيّ** وايي : دا حَدِيث حسن او صَحِيح دی .

نو دلته عام په خپل عموميت کې پاتې کېږي، تر څو چې د تخصيص دليل يې نه وي ذکر شوی. دا ځکه چې له محاربې پرته وژل شوی دی، نو حکم يې د نورو مړو په شان دی. (1)

**دويم مذهب : امام مالک** امام مالک وايې هغه څوک چې په خيانت سره وژل شوی وي، د دې أمر سلطان ته راجع کېږي، او دا د محارب په توګه دی، او سلطان پرې د محارب په توګه فيصله کوي، يا يې غاړه پرې کوي يا يې په دار ځړه وي، او په دې کې ولی الدم کار نلري.

**د دې ډلې دلائل: ( أخبرنا يحی بن سعيد بن المسيب : أن عمر بن الخطاب قتل نفرا خمسة أو سبعة برجل واحد قتلوه قتل غيلة و قال عمر لو تمالأ عليه أهل صنعاء لقتلتهم جميعا )** (2).

ژباړه : د سعيد بن المسيب څخه روايت دی : چې عمر بن الخطاب د يوه سړي په سر يې پنځه يا اوه کسان وژلي دي. هغوی يو تن يې په فريب او خيانت سره وژلي وو، او عمر ورته وويل که د صنعا ټولو خلکو د ده پر ضد سازش کړی وای نو ټول به مې وژلي وای.

**دريــم : د قتل بالتسبيب أثار (اغيزې)** لکه څنګه چې مخکې ياده وشوه، چې کوم أثار پر قتل عمد مرتب کېږي پر قتل بالتسبيب باندي هم مرتب کېږي، سره له دې چې قاتل او نيونکئ دواړه په عرف کې وژل کېږي. او د قتل عمد په اړه مو أحکام بيان کړ، اوس د نيونکي په اړه بايد يو څه وضاحت ورکړ شي.

ځلورم : هغه مقتول چې مثله شوی وي: يعنی چې مړی يې بدرنګه شوی وي نو هغه په دوه قتلو باندي شمېرل کېږي، او دوه خونه تاوان لري. (3)

**۱. کله چې يو کس بل کس د هغه د وژلو لپاره ونيسي :** مخکې مو يادونه کړې ده، چې نيونکی د يو کس په نيولو سره قاتل ګڼل کېږي په داسې حال کې چې په شريعت کې دا مسأله د علماوو تر منځ اختلافي ده، په دې اړه دوه نظرونه شتون لري :

**لومړی : د جمهورو فقهاؤو نظر : (حنفي شافعي او حنبلي).** (4)

دوی وايي که چيرې يو کس بل کس يې د هغه د وژلو لپاره نيولی وي او هغه يې وواژه قاتل بايد محاکمه شي نه هغه څوک چې هغه نيولی دی. البته د لاندي دلائلو پر بناء :

---

1 - بن قدامة : المغني (۹/۳۳٦).

2 - البخاري : الجامع الصحيح ، د حديث شمېره (٦٨٩٥). الإمام مالك : الموطأ ، د حديث شمېره (۱۵۸۰).

3 - الحاج سناتور عبدالله خان : مرکه، نرخ، او ځلی په احمدزيو کې، (۱۱۹) .

4 - ابن قدامة : المغني (۹ /٤۸۰) .. السرخسي : المبسوط (۲٦/۱۲٦).

**عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده قال : قال رسول االله : « وسلم": إن أعتى الناس على الله ثلاثة: من قَتَلَ فِي حَرَمِ اللهِ، أَوْ قَتَلَ غَيْرَ قَاتِلِهِ، أَوْ قَتَلَ بِذُحُولِ الجاهلية »** ([1]).

**ژباړه :** له عمرو بن شعيب رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : په خلکو کې تر ټولو سخت زړی هغه کس دی. د خدای په حرم کې سړی ووژني یا د خپل قاتل پرته بل څوک وژني یا جاهلانه انتقامي قتل وکړي ».

نو دلته د نیونکي وژنه د غیر قاتل وژنه ده.

**عن بن عمر عن النبي ﷺ : إذا أمسك الرجل الرجل وقتله الآخر يقتل الذي قتل ويحبس الذي أمسك».** ([2]).

**ژباړه :** ابن عمر له رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه روایت کوي : « کله چې یو کس یو سړی ونیسي او بل سړی راځي هغه په قتل رسوي، نو قاتل دې ووژلی شي، او نیونکی دې بندي شي ».

**دویم : امام مالک وایې :** که چیري یو کس کوم سړی د قتل لپاره ونیوه، نو دی هم باید د قاتل سره ووژل شي ځکه که یې نه وای نیولی نو کیدای شي قاتل به هغه نشوی نیولی نو همدغه کس (نیونکی) سره له دي چې د قاتل په اراده هم پوهېږی د قتل سبب وګرځېد. ([3]).

**د امام مالک دلایل :** « يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِصَاصُ فِي ٱلۡقَتۡلَىۖ.... » ([4])

**ژباړه :** ای مؤمنانو پر تاسو باندي قصاص فرض کړی شوی دی په قتلونو کې.

د آیت عموم په قصاص باندې دلالت کوي، که ده نه وای نیولای نو قاتل هغه نشوای نیولی. ځکه هغه (نیونکی) په ښکاره توګه د قاتل په شان قاتل دی.

**غوره نظر:** غوره رأیه داده چې په حقیقت کې باید د هغه چا طبیعت او اراده په پام کې ونیول شي چې دا یې نیولی دی که نیونکی پوه وي چې د ده په نیولو سره وژل کیږي، نو له هغه سره د قاتل په څیر چلند کیږي ځکه چې مستقیماً قاتل دی. او که نه پوهېده نو بیا د جمهورو په رأیه باید عمل وشي، او د هغه پر وړاندې دې تعزیراتي مجازات تطبیق شي ځکه چې هغه د جرم لامل نه دی.

---

[1] - الإمام أحمد : المسند (١٨٧/٢) . تعليق شعيب الأرنؤوط : صحيح ، البيهقي : سنن البيهقي الكبرى (٨ /٢٦) ، د حديث شمېره : (١٥٦٧١) هيثمي په مجمع الزوائد ويلي چې راويان يې ثقات دي (٢٦٠/٦).

[2] - النسائي : سنن النسائي الكبرى (د حديث شېره : (١٥٨٠٨). روضة المحدثين (٩/ ٣٣٨، بترقيم الشاملة آليا) راويان يې ثقات دي ، (قال الحافظ فى " البلوغ " ١ / ٢٤٨: رواه الدارقطنى موصولا ، وصححه ابن القطان ورجاله ثقات.

[3] - الإمام مالك : الموطأ : الإمام مالك د أنس الأصبحي خوی، (تولد ١٧٩هـ)، ترقيم اوتعليق: محمد فؤاد عبـد الباقي، چد چاپ ځای : دار إحياء الكتب العربية. دحديث شمېره : (٥١٣.)

[4] - البقره : (١٧٨).

د پورتنیو یادونو پر بنسټ په قتل باالتسبیب کې عرف د امام مالک له نظر سره موافق دی  د جمهورو له رأیې سره توپیر لري.

**۲. که یو کس بل ته د وژلو امر وکړي :** که یو کس چاته د قتل امر وکړي  نو په عرف کې قاتل ګڼل کیږي په داسې حال کې چې په شریعت کې د آمر أمر ته په کتو سره مختلف حکم لري.

**که أمر کونکی حاکم وي :**  که یو حاکم په ناحقه د وژلو امر وکړي  که مأمور په دې پوهیده چې دا ظلم دی او یا نه پوهیده، خو که پوهده او سره له پوهې د دې حکم یې پلې کړی  نو قصاص پرې واجب دی  او که د مقتول د ولي له طرفه معاف شي  بیا دیـت پرې واجب دی  ځکه چې هغه نېغ په نېغه سره له دې چې پوهیده چې دا ظلم دی، سړی یې قتل کړ، نو دلته عذر مجال نه لري. ځکه چې د مخلوق اطاعت نشته د خالق په نافرمانۍ کې. ( لا طاعة للمخلوق في معصية الخالق ). (١).

**که أمر کونکی حاکم نه وي :** شافعیان  حنفیان او حنبلیان  وایې څوک چې قاتل دی مستقیماً دې قتل کړای شي، خو متسبب (د وژولو لامل) یعنی هغه څوک چه أمر یې کړی، هغه په معصیت باندې أمر کړی دی، نو هغه ته تعزیرا سزا ورکول کېږي. (٢)

او مالکیان وایې : چې آمر او مأمور دواړه قصاص کیږي.

**غـــوره نـــظـر :** په دې اړه مالکیان یوه ځانګړي فلسفه لري هغه دا ده : « کله چې قتل او علت سره مل وي  نو د دواړو قصاص کېږی، قاتل او نیونکی، اشاره کونکی (ښوونکی)، آمر او مأمور دواړه په ضمان کې شریک دي.

خو جمهور وایې : که قاتل او عامل سره یوځای شي  نو د ټول بار متحمل قاتل دی، او لامل ته تعزیر ورکول کېږي،خو که متسبب (نیونکی، ښونکی اومأمور) پلان یو وي او یا یې پیسي خوړلي وي، نو بیا دواړه په قتل کې شریکان دي او دواړه قصاص کېږي.

د پورتنیو ویناوو پر بنسټ  عرف د آمر په قصاص کې د مالکیانو له نظر سره موافق دی  خو د جمهورو له نظر سره توپیر لري.

**څلورم : د عزت او آبرو په دفاع کې د قتل آثار (أغیز)**  لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، په عرف کې د عِرض اړوند قاتل تر هغه وخته د قتل عمد په توګه ګڼل کیږي تر څو خپله ادعاء ثابته کړي. خو په شریعت کې که یو کس بل کس قتل کړي، او دا دعوی وکړي چې دا سړی مې خپلې ښځې سره ولید، د دې خبرې او دعوی پرته د شاهدانو له شهادته د منلو وړ نه دي، او قصاص پرې لازمیږي، که داسې نه وي نو د قتل دروازه د خلکو په مخ خلاصیږي، چې په پایله کې هر یو د یو کس د قتل اراده به

١- السرخسي : المبسوط (٢٤/٨٩).

٢- السرخسي : المبسوط (٢٤/٨٩).

کوي، دعزت او ابرو د تيري د اتهام په بهانه، نو بايد شواهد شتون ولري. دليل يې د صحابه کرامو اجماع ده.

امام شافعي رحمه الله فرمايي : زه په ياد نه لرم چې علماوو په دې اړه اختلاف کړی وي.

دا ځکه چې اصلي (عدم) يعنی نه شتون دی، که څوک دعوی کوي د هغه څه په اړه چې (عدم) نه شتون دی، نو داسې خبرې يواځې د ادعا په واسطه نه ثابتيږي. که يې شاهدان راوړل بيا سمه ده. (١).

له حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې يوه ورځ يې ډوډۍ خوړله يو سړی په منډه راغی چې توره يې په وينو ککړه لاس کې وه راغی او له عمر سره کېناست تر شا يې نور کسان راغلل او ويې ويل : اې د مؤمنانو مشره ! دغه سړي زموږ ملګری وواژه عمر رضی الله عنه ورته وويل : دوی څه وايی؟ هغه وويل : اې د مؤمنانو مشره ما د خپلې ميرمنې دواړه ورنونه ووهلې. که د دې ورنونو په منځ کې څوک وو نو هغه ما وواژه عمر رضی الله عنه وويل : څه وايي؟ هغوی وويل : اې د مؤمنانو سرداره هغه چې کله په توره ولګېده، نو د سړي او د ښځې ورنونه په منځ کې ولوېد نو عمر رضي الله عنه خپله توره راواخيستله او ښکته او پورته يې کړه بيا يې ورته ودروله او ويې ويل: که دوی بيرته راګرځي نو تاسی هم بيرته راشئ. (٢).

عرف له قاتل سره د قتل عمد په توګه چلند کوي مګر دا چې د دې پر خلاف وضاحت وشي، او شرعي قضاء هم همداسې ده.

## دريـيـم مطلب : په عرف کې د ديـت ډولونه او اسلامي شريعت سره يې پرتله

د خون بدوپور، هغه ټاکلي اندازه پور دی، چې د مقتول د خون په نامه د نرخيانو له خوا د قاتل په ذمه، هغه وخت ټاکل کيږي، چې د مقتول ورثـه غـچ نه اخلي او قاتل وبخښـي. په عرفي نرخ کې د خون پور د قتل عمدي (قصدي) خون او قتل خطاء (غير ارادي او سهوي) خون په نظر کې نيولو سره په لاندي ډول دی :

**په خـون کې د جينکو ورکړه:** د لوګر عرفي قضا کې، که چيرې کوم سړی د چا له خوا عمداً پرته له پخواني بد پور څخه، ووژل شي او پيښه پرته له غچ اخستلو، د روغي جوړې او مرکې له لارې حل شي، نو د خون پور، پوره ( يوخون ) ټاکل کيږي د نرخ او ځلي له مخې پوره خون درې خـلاصې جينکی چې عبارت له :

« سپـين پـايـځی »، « ګـوتـه لـکـه »، « او ورنـــی ».

---

١ - ابن قدامة : المغني (٣٣٩/٩).

٢ - ابن قدامة : المغني (٣٣٩/٩).

**لومړی : « سپین پایځی » :** سپین پایځی هغه بالغه او رسیدلې پیغله ده چې په سپینو پایځو، له مرکچیانو، یو څو سپین ږیرو او یوه پسه سره د وژونکي (قاتل) له کوره د (مقتول) کورته وروستل کیږې، بیا دغه سپین پایځی د وژل شوي زوې یا د دورڅې کوم بل چاته په نکاح کیږي. چې په دې سره د احساساتو او ناوړو پیښو مخنیوی کیږي، خوابدي په خواخوږیو او دښمني په دوستی بدلیږي.

**دویم : « گوته لکه » :** گوته لکه هغه نا بالغه پیعله ده چې لا د بلوغ حالت ته نه وي رسیدلې، یعني چې عمر یې د (۹ تر ۱۳) کلونو پورې وي، د سپین پایځی سره یوازنی توپیر دادی چې سپین پایځی له مرکې سره یو ځای د مقتول کور ته وروستل کیږي، خو گوته لکه دوه، دری کاله وروسته له رواج سره سم ودیږي، اما د ولور پیسې نه لري، یوازې د ډاگ لوگی یا دودي په نامه یوڅه نغدي پیسې او خوراکې شیان ورکول کیږې، خلک راغوښتل کیږې او دواړو خواوو ته ډوډی ورکول کیږې، دغه لگښت د گوته لکې د مړه په غاړه وي. (۱)

**دریـیـم : « او رنـــی » :** ورنی د شودو خوړلو هغه وړه انجلی ده چې د ورنی په موده کې وي، دا انجلی د وړکتوبه تر پیغلتوبه پورې د پلار په کور کې وي کله چې پیغله شي، لکه گوته لکه (بی ولوره) ودیږی.

د قتل په مسایلو کې د دې لپاره چې سوله دوامداره او تر ډېره موده پاتې شي، خښني کوي، ځکه چې پیسې که هر څومره ډېر وي، نشي کولای یو پښــتون د غچ اخستلو څخه واړوي، د انجلی ورکړه په بدو کې سره له دې چې د هغې طبعي آزادي او رضایت سلبوي بیا هم مثبت توصیف شوي، ځکه چې د دوښمني لړۍ پرې پایته رسېږي او د نکاح په وجهه دښمنی یې په دوستی بدلېږي، بیا خو چې کله له دوی څخه اولاد پیدا شي نو د دوی دوستي لا ټینگه او کلکه شي.که چېرې دغه دوستي حقیقي بڼه غوره نکړي لږ تر لږه د غټ ضرر دفع کول دی په کوچني ضرر سره، (الضررالاشد یدفع بالضرر الاخف) - (یدفع أعظم المفسدتین بارتکاب أدناهم) نو ځکه یو مثبت گام گڼل شوی دی. (۲)

خو د حالاتو د بدلون پر بناء په دې نرخونو کې یو لړ بدلون په نظر کې نیول شوی دی. مثلاً : هغه کومې انجونې چې د بدوپور په نامه د مقتول ورثې ته ټاکل کیدې، اوس په نغدو پیسو ماتیږی او بدلیږي.

د غزني ولایت په عرف کې، جرگه ماران نشي کولای چې څوک قصاص کړي، نو په تېرو وختونو کې د قتلونو په دیت کې به یې جنوکۍ ورکولې، خو اوس نه ورکول کېږي.(۳)

د وردگ ولایت په عرف کې، د عمدي قتل دیت ټاکلی حد نلري، د جرم د کمیت او کیفیت یا د قاتل او مقتول تقصیر ته په کتو سره کله کله پورته او ښکته کېدای شي، مثلاً : یو وخت کې د یو مقتول دیت «۱٦۰۰۰» شپالس زره افغانی وټاکل شو، ځکه چې د مقتول تقصیر ډېر وو، او که قضیه برعکس وي نو تر

---

[۱] - عبدالجلیل «وجدي» : په افغانستان کې عنعنوي جرگو نن او پرون / ۴۳) .

[۲] - عبدالجلیل «وجدي» : په افغانستان کې عنعنوي جرگو نن او پرون / ۴۳) .

[۳] - الحاج سمیع الله : د غزني ولایت، اجرستان ولسوالی د سید خیلو کلي قومي مشر، د مرکې نیته (۱۴۰۲/۲/۷) .

شلو لکو (۲۰۰۰۰۰) پوري هم تاکل شوی، او د ښځو ورکول د قتل په بد کې اوس له منځه تللی، چې مثال یې اوس مهال په خپل ولایت کې نلرو، چې داهم د عرف یو ډول تحول دی. (۱)

په عرف کې د دیـت ډولونه، د أحکامو پایلې ته په کتو سره مختلف ډولونه لري :

**لومړی : د وینې (قتل) دیـت** دا ډول دیت په دوو حالتونو او قضیو کې ورکول کېږي :

**الف :** دا دیت د کورنی یا قبیلې لخوا په هغه صورت کې ورکول کیږي چې : د دوی په کلي کې یو مقتول وموندل شي، او قاتل یې معلوم نه وي، او د سیمي خلک یې هم قاتل نه پیژني.

**ب :** دا چې په مغلوبه جنګ کې وژل شوی وي خو قاتل یې معلوم نه وي. عرف کې په دې دواړو حالتونوکې دیت لازمیږي، او قصاص پرې نشته.

**دویم : د یو خون د دیت له اندازې څخه زیات اخستل :** له یو خون له دیّــت څخه زیات اخستل، پر دې لاندې لیکل شوي حالاتوکې ورکول کېږي :

۱. دا هغه وخت اخستل کېږي چې تورن کس (متهم) د وژنې څخه انکار کوي، چې دېته (دیة انکار) وایي.

د مثال په توګه : یو کس د قتل په جرم تورنیږي، خو هغه انکار کوي، بیا د شخړې دواړه خواوې موافقه کوي، که چېري دا عمل (قتل) په تورن کس باندې ثابت شي. بیا به هغه څو چنده پور اداء کوي.

۲. د ښځې وژنه په خپل کور کې پرته له دې چې جګړې ته وتلې وي او په مغلوبه جنګ کې یې برخه اخستي وي.

۳. هغه قتل کې چې په خیانت، چل او فریب سره ترسره شوی وي.

۴. که چېرته مقتول مُـثله شي یا بې حجابه شي، دوه چنده خونبها اخستل کېږي. (۲) .

**دریـم : عادي دیت (شرعي دیت)** دا هغه دیت دی چې د شریعت مطابق ټاکل کېږي، او د مقتول أولیاء پري راضي کېږي، خو په دې صورت کې قضیه د دیت د ټاکلو لپاره شرعي محکمې ته وړاندې کېږي.

## د اسلامي شریعت سره د عرفي دیت پرتله :

**لومړی: د (د وینې دیت) مشروعیت :** موږ ووېل چې د دیت پیسې په دوه حالتونو کې ورکول کیږي :

۱. په شخړه کې چې بیا یې قاتل معلوم نه دی.

---

۱ - عبدالباري : میدان وردګ ولایت، سید آباد ولسوالی د شنیز د کلي قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۱/۳۱) .

۲ - (عبدالجلیل «وجدي» : په افغانستان کې عنعنوي جرګو نن او پرون / ۵۰) .

۲. په سیمه کې د مړی پیدا کول چې د هغه قاتل معلوم نه وي

موږ به په دې دوو قضیو کې قانوني حکمونه تشریح کړو :

**لومړی صورت ، په شخړه کې چې د هغه قاتل معلوم نه وي :** علماوو پر دې خبره اتفاق لري چې په داسې صورتونو کې، پرته له اثباته قصاص نشته، دیت به ورکوي.

دا چې دیت پر چا لازمېږي اوڅوک باید دیت ورکړي په دې اړه د علماوو په لاندې ډول اختلاف دی : ([1])

**امام مالک رحمه اللّه فرمايي :** دیت هغه کس باید ورکړي چې شخړه یې کړې ده.

**امام احمد فرمايي :** چې دیت پر (عاقله) باندې لازم دی، مګر داچې پر یو خاص سړي دعوه وکړي، بیا په داسې حالت کې قُسامه ګرځي.

**ابن ابی لیلی ابو یوسف او اوزاعی وایی :** چې دیت د هغو دواړو ډلو پر (عاقله) باندې دی چې جنګېدلې دي.

**امام شافعي وايي :** که چېرې پر معلوم کس یا معلوم قوم باند دعوا وکړه، نو قسامه ده، او که یې دعوا ونه کړه، نو بیا نه (عاقله) شته او نه قصاص.

**امام ابوحنیفه رحمه الله وايي :** چې دیت د هغې قبیلې پر عاقله باندې دی چې مړی پکښې موندل شوی، مګر داچې په بل چا یې ادعا نه وي کړې.

**غـوره نـظـر :** د امام ابوحنیفه قول دی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ډول قتل په خطاء باندې توصیف کړی او قتل خطا خو معلومه خبره ده دیت یې په عاقله باندې دی. او څوک چې په مغلوبه جنګ کې وژل شوی وي د هغه دیت هم پر عاقله دي. ([2])

د پورتنیو ویناوو پر بنسټ دا څرګنده شوه چې د دیت په ټاکلو کې عرفي قضاء له شرعي قضاء سره په داسې صورتونو کې چې بیان شول موافق ده.

**دویم صورت ، کله چې په یوه سیمه کې مړی وموندل شي او قاتل یې معلوم نه وي :** په دې صورت کې قُسامه (قسم خوړل) واجب دي هغه دا چې د مقتول ولي د همغه سیمې یا کلي څخه چې مقتول پکښې موندل شوی، پنځوس تنه غوره کړي او قسم ورته ورکړي، چې دوئ نه قتل کړی، نه خبر دي او نه یې قاتل پېژني، که یې قسم وکړل دیت ترې ساقطیږي، که یې له قسمه انکار وکړ بیا دیت پرې واجب کېږي.

په مخکني دواړه صورتونو کې چې د مقتول قاتل معلوم نه دی، ظاهراً سره ورته والی لري، خو دواړه صورتونه سره بیل دي، په دې وجهه چې په لومړی صورت جنګ مغلوبه پیښ شوی، او په (جنګ مغلوبه) کې قاتل د هغو کسانو تر منځ ورک دی چې عملاً په جنګ کې برخمن دي، او (دویم صورت) کې پرته له

[1] - العظیم آبادي :عون المعبود (۱۲/۱۸۳).

[2] - العظیم آبادي :عون المعبود (۱۲/۱۸۳).

جنګ او جګړې څخه په یو کلي کې د مقتول جسد موندل کېږي، او د ساحي خلک د دیت په ورکړه ځکه ملزم ګڼل کېږي چې (مړئ) د دوي په ساحه کې پیدا شوی .

**لومړی قضیه :** دا دیت هغه وخت آخستل کېږي چې تورن کس (متهم) د وژنې څخه انکار کوي، بیا د شخړې دواړه خواوې موافقه کوي، که چېري دا عمل (قتل) په تورن کس باندې ثابت شي، بیا به هغه د خون تاکلي پور به زیات تاوان ورکوي، دارنګه شرطونه د عرف په باب کې شتون لري، (المعروف عرفاً کالمشروط شرطاً). مونږ وایو چې داسې شرطونه په صلح کې کیدونکي دي، کله چې شرط ثابت شي نو صلح ثابتیږي، او صلح د قصاص په صورت کې جایز ده، البته دې لاندې لیکل شوی دلیل پر بناء :

**ما روي من طريق عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده : أن رسول الله ﷺ قال من قتل مؤمنا متعمدا دفع إلى أولياء المقتول فإن شاءوا قتلوا وان شاءوا أخذوا الدية وهي ثلاثون حقة وثلاثون جذعة و أربعون خلفة و ما صالحوا عليه فهو لهم وذلك لتشديد العقل.** (١)

**ژباړه :** له عمرو بن شعیب رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : څوک چې یو مؤمن په قتل عمد سره ووژني، نو قاتل دې د مقتول اولیاء ته تسلیم کړای شي، که یې خوښه وي قصاص دې کړي، او که یې خوښه وی دیت دې تري واخلي، چې دیت یې (۳۰ – حُـقه)، (۳۰ – جِذعه) او (۴۰ - خلفه) دي، یا په هر شي باندې چې دواړه جنبه راضي شول دوئ لپاره همغه ده.

**ابن قدامه وايي :** هغه کس لپاره چې د قصاص حق دی، د هغه لپاره د صلح حق هم شته، که د دیت له اندازي څخه په زیاته صلحه کوي یا په کمه، په دې اړه مې کوم اختلاف نه دی لیدلی. (٢).

**وروي أيضا أن هدبة بن خشرم قتل قتيلا، فبذل سعيد بن العاص والحسن والحسين لابن المقتول سبع ديات ليعفو عنه فأبى ذلك وقتله )** (٣).

**ژباړه :** روایت دی چې هدبه بن خشرم یو کس قتل کړ ، سعید بن العاص، حسن او حسین د مقتول د ځوی په اړه یې ډیر کوښښونه وکړل چې (۷) چنده دیت واخله او دا سړی معاف کړه، خو معاف یې نکړ او قصاص یې کړ.

## د ښځي وژل په خپل کور کې :

**لومړی :** که چا ښځه په خپله کور کې ووژله، بیا یې صلح وکړه او پخلا شول، نو هماغه د صلح د جواز خبره ده که په ډېرو پیسو وي صلحه راغلی وي یا په لږو، او یا هم په عفوي سره.

١ - ابن ماجة : (د حديث شمېره : ٢٦٢٦) , و الترمذي : د حديث شمېره : (١٣٨٧). الجامع الصغير وزيادته (ص:١١٤٠١، بترقيم الشاملة آليا)(صحيح) انظر حديث رقم: ۶۴۵۵ في صحيح الجامع.

٢ - ابن قدامة : المغني (٤٧٨/٩).

٣ - ابن قدامة : المغني (٤٧٨/٩).

**دويم :** که چيري په يوه ټاکلي مال باندې مصالحه او پخلاينه ونه شي، نو ديت ورکول کېږي خو د ښځې په ديت کې اختلاف شتون لري.

**ابن علية او الاصم وايي :** چې د ښځينه ديت د نارينه ديت سره يوشان او مساوي دى. د دې لاندې دليل پر بناء. (1)

**عن عبدالله بن أبي بكر بن محمد بن عمرو عن رسول الله ﷺ اِنه ذكر في الكتاب الذي كتبه لعمرو بن حزم « وفي النفس المؤمنة مائة من الإبل » (2).**

**ژباړه :** د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت دى چې هغه په خپل مکتوب کې عمرو بن حزم ته ليکلي وو چې د مومن نفس لپاره سل اوښان دي.

د نفس په کلمه کې نارينه او ښځينه دواړه شامل دي نو دا ثبوت روښانه دى چې د نارينه او ښځينه لپاره يو شانته ديت دى، او د دوى تر منځ کوم تفاضل او بهتروالى شتون نلري.

**دريــيــم : عادي ديت ( شرعي ديت ):** دا هغه ديت دى چې د اسلامي شريعت له خوا ټاکل شوى او د مقتول اولياء پرې راضي کېږي.

**ديت په لغت کې :** عِـوض او بدل ته وايي.

**په اصطلاح کې :** عبارت له هغه ټاکل شوي مال څخه دى چې قاتل يې د مقتول اولياوو ته د هغه وژل شوې نفس په بدل کې ورکوي.

**مشروعيت يې:**

« وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَـًٔا ۚ وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ....» (3).

**ژباړه :** او نه دي جايز د يو مؤمن لپاره دا چې يو مؤمن قتل کړي مگر په خطا سره، او چا چې قتل کړ يو مؤمن په خطاء سره، نو يو مؤمن غلام دي آزاد کړي او ديت دې ورکړي د مقتول أهل ته.

**ما روي من طريق عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده : أن رسول الله ﷺ قال من قتل مؤمنا متعمدا دفع إلى أولياء المقتول فإن شاءوا قتلوا وان شاءوا أخذوا الدية وهي ثلاثون حقة وثلاثون جذعة و أربعون خلفة و ما صالحوا عليه فهو لهم وذلك لتشديد العقل.** (4)

---

[1] - ابن قدامة : المغني (۵۳۲/۹).

[2] - البيهقي : سنن البيهقي الكبرى (د حديث شمېره : (١٦١١٥). روضة المحدثين (۹/ ۳۴۳، بترقيم الشاملة آليا) حافظ په " البلوغ " کې وايي : (۱ / ۲۵۰ : چې ابن حبان صحيح کړي دى.

[3] - النساء : (۹۲).

[4] - ابن ماجة : (د حديث شمېره : ٢٦٢٦) , و الترمذي : د حديث شمېره : (١٣٨٧). الجامع الصغير وزيادته (ص: ۱۱۴۰۱، بترقيم الشاملة آليا) (صحيح)، په صحيح الجامع کې (۶۴۵۵) شمېره حديث وگوره.

**ژباړه :** له عمرو بن شعيب رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : څوک چې يو مؤمن په قتل عمد سره ووژني، نو قاتل دې د مقتول اولياوو ته تسليم کړای شي، که يې خوښه وي قصاص دې کړي، او که يې خوښه وي ديت دې تري واخلي، چې ديت يې (۳۰ – حـقه)، (۳۰ – جـذعه) او (۴۰ - خِلفة) دي (خِلفه يعني ناقه د حمل سره يا مخاض د ولادت سره يي )، يا په هر شي باندې چې دواړه جانبه راضي شول دوئ لپاره هماغه دي.

**اجماعي دليل :** د ديت په وجوب باندي اجماع هم شوي ده. ([1]).

## ديت پـر چـا واجـب دی؟

**کلــه چې (قتلِ عمد) وي:** د قتلِ عمد ديت د مجني عليه پر مال باندي واجب دی. ([2]).

**کله چې (قتل خطاء) وي:** ابن رشد وايي : په دې کې اختلاف نشته چې د قتل خطاء ديت پر (عاقله) باندي واجب دی. او دا د الله متعال له عموم قول څخه يو ځانګړی حکم دی.

د الله ﷻ وينا ده ( ولا تـزر وازرة وزر أخـری) او د رسول الله ﷺ وينا ده، ( لا يجنـي عليك ولا تجني عليه ). **ژباړه :** پر تا دې هم جنايت نه کيږي او ته هم پر چا جنايت مه کوه.

**کله چې قتل (شبه عمد) وي:** فقهاء په دې اړه اختلاف لري چې د (شبه عمد) ديت څوک په غاړه اخلي ؟

۱. **امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايي:** د پورده ديت د لسمي برخې نيمايی (نصف عشر الدية الکاملة) د مجرم په غاړه دی او باقي نورې بايد عاقله پر غاړه واخلي. ([3]).

۲. **امام مالک فرمايي :** چې د ديت دريـيـمه برخه ( ثلث) د (عاقله) پر غاړه دی، او نور يې د مجرم په غاړه دی. ([4]).

۳. **امام شافعي فرمايي :** چې ديت ټول د (عاقله) پر غاړه دی، که ډېر وي يا لږ وي.

---

[1] - ابن قدامة: المغني (۹ /٤٨١) وګوری.

[2] - الکاساني : بدائع الصنايع (٤٥٨/٧).

[3] - الکاساني : بدائع الصنائع (۷ /٤٧٥).

[4] - ابن قدامة : المغني (۹ /٥٠٣).

## دویم مبحث: د وژلو څخه ټیټ جرم (د وهـلو او ټـپی کولو) قضیې

دا چې د وهلو او ټکولو اسباب مختلف وي، هدارنګه د وهلو أثرات مختلف وي، د بیلګې په ډول سطحي پرهر، عمیق پرهر ، ماتېدل، لنډمهال معیوبیت، أبدي معیوبیت ، له منځه تلل او ... قضا کې د هر پرهر یا زخم او ماتېدل جلا جلا نرخونه او تاوانونه دي، نو ځکه د دي په اړه وضاحت لازمي ده، چې په لاندې دري مطلبونو کې تر بحث لاندي نیول کېږي .

### لومړی مطلب : په عرف کې وهل ټکول او له اسلامي شریعت سره پرتله

**لومړی : عرف کې د وهلو او ټکولو پر بناء تیری :** عرفي قضاء (وهل ټکول) د ځای آثار او أغیز له مخې او همدارنګه د اهانت (سپکاوي) له مخې په څو ډوله ویشي.

په عامه او عادي ځای کې وهل د حکم د نوعیت پر وړاندې ځانته أغیز او أثار لري، او پر مخ باندې وهل اهانت او سپکاوی بلل کېږي بالخصوص چې په سپېړه ووهل شي. همدارنګه هغه وهل او زخم چې بدن باندې یې نښې پاتې شي، دروند حکم لري، تر هغه وهلو چې أثرات یا نښې یې پاتې نه شي. په دې اساس د ضرب (وهلو) ډولونه د پورته ملاحظاتو له مخې په لاندې ډول ویشل کیدای شي :

**د مثال په توګه:** د تور سپین زخم په بدن کې چې د ( پوره خون )، ( نیم خون )، ( دخون لسمه )، ( دخون شلمه )، ( د خون دوه دیرشمه ) حصه چې د نرخیانو له خوا پور ورته ټاکل کیږې، او د ټولو اندامونو لپاره د خون مقرره کې نرخ موجود دی.

١- په تـــن کــې : پښې او لاسونه.

٢- په سر کې : سترګې او غوږونه.

٣- په مـــخ کې : پـوزه او شونډې.

٤- په خوله کې : ژبـه او غاښونه.

٥- په لاســونو او پښو کې : ګوتې.

٦- په ټول بدن کې : ټپ یا پرهار.

که چیرې کوم څوک د بل چا له خوا کلک ټپي شي او یا هډ ماتې واقع شي په دغه وخت کې د تور سپین ټپونه په سترګو کې نیول کیږې، یعني هغه ټپ چې د چا په سپینې ناحیې کې وي ګه څه هم ټپ جوړ شي خو د پرهار (نښه) یي باقي پاتې کیږې، چې سړی یې وربانديې عیبجن بریښي، نو د تور سپین تر نامه لاندې پور ورته ټاکل کیږې.

د بدن د غړو (اندامونو) او صورت د پریکولو او ټپ پور په لاندې ډول ټاکل کیږې.

١- سترګې : یوه سترګه که ړنده شي نیم خون، او د دواړو سترګو پوره یو خون.

۲- غوړونه : یو غوږ که قطع شي نیم خون، د دواړو غوږونو پوره یو خون.

۳- ژبه : پوره یو خون.

۴- شونډې : یوه یا دواړه پرې شي، پوره یو خون.

۵- پښې : یوه پښه چې له بنده پرې شي نیم خون، او دواړه پوره یو خون.

٦- لاسونه : یو لاس نیم خون، دواړه لاسونه پوره یو خون.

۷- پزه : نیم خون.

۸- غاښونه : د مخې غاشونه، لسمه حصه د خون، او نور وروسته غاښونه (شلمه) او (دیرشمه) حصه د خون.

۹- ګوتې : هغه ګوتې چې دوې بنده لري یعنې عتې، د هر بند مقابل کې (شلمه حصه) او هغه ګوتې چې له دوبندو زیات لري (دیرشمه) حصه د خون پور لري. (۱)

**په ټول بدن کې ټپ چې جراحات بلل کیږي :**

۱- هغه زخم چې : د سر پوستکی سولیدلی وي.

۲- هغه زخم چې : وینه ترې جاري شوې وي.

۳- هغه زخم چې : پوټکی واضحه قطع او غوښه یې ښکاره شوې وي.

۴- هغه زخم چې : هډوکی ښکاره شي.

۵- هغه زخم چې هډوکی یې مات شوی وي، یعنی هډوکی د خپل اصلي ځایه ځخه بې ځایه شوی وي د دې نرخ، نرخي یا مرکچي پوري اړه لري.

٦- که چیرته په سر باندې وار لګیدلی وي او د دې ضرب له امله انسانی عاقله قوه یې زائله شوې وي، نو پوره خون دی.

۷- که چیرې څوک امیدواره ښځه په لغته یا بل شي باندې ووهي او د هغه په اثر باندي بچی مړ پیدا شي یعني سقط جنین وشي، نو (شلمه حصه) د خون پور تاکل کیږي، او شرم په نامه له ضاربه پور آخستل کیږي. (۲)

**دویـم : د حادثې د ځای په لحاظ :** په عرف کې داسې انګیرل کیږي چې په عامه ځایونو او د خلکو تر مخ وهل رواني او اخلاقي أغیز او أثر لري.

(۱) - عبدالجلیل وجدي : په افغانستان کې د عنعنوي جرګو نن او پرون، (۵۱) .

(۲) - الحاج سناتور عبدالله خان: مرکه، نرخ، او ځلی په احمدزیو کې (۱۰۴) .

عرفي احکام د نورو احکامو په تړاو سخت دي  په ځانګړي توګه که چیرې په مخ باندې په سپېړه ووهل شي، دا عمل ګران پریوزي تر هغه عمل چې یو کس په کوتک یا لرګي باندې ووهل شي، ځکه چې په سپیړه وهل اهانت، تحقیر، توهین او سپکاوی دی.

**د وهلو د ځای په اړه :** عرفي قضاء کې د وهلو ځای په نظر کې نیولو سره، مجرم لپاره د سختې یا نرمې سزاګانې تنظیم کړي. یعني که ضربه له سر څخه لیرې وه  نو خبره اسانه ده  خو ضربه په مخ،سترګه، غوږ او هغه ځایونه چې مهم او حساس وي، جزا، پور او تاوان یې شدید او سخت دي.

**درېیـم :  په بدن باندې د أثر له مخې :** همدارنګه په بدن باندې د أثراتو او نخښې پرېښودلو په صورت کې هغه ضربه (وهل) چې په بدن باندې یې نښه پاتې شي په عرف کې یې أحکام سخت دي، تر هغه وهلو چې أثرات یې په جسم او بدن باندی نه پاتې کېږي.

**عرفي قضاء کې د وهلو ټکولو او ټپونو د قصاص څرنګوالی :** وهل ټکول د عرفي قاضي لخوا څیړل کیږي د واقعې له محل څخه کتنه او همدارنګه د مخکیني مسائلو یادونه کیږي، بناءً په همدي مسائلو قصاص پلي کېږي، خو په عرف کې هدف له قصاصه د وهلو لپاره د پیسو د کچې (تاوان) ټاکنه ده، او هر وهل ټکول ځانګړي اندازه او مقدار لري.   مثلاً : په مخ باندي وهل، په سر باندي وهل، سر مات ، لاس مات او...

د پیسو یا د تاوان اټکل د ټولنې شرایطو ته په کتلو سره، یعنې یو ځای له بل ځای سره او یو وخت له بل وخت سره توپیر کوي.

**دویم : په عرف کې وهل ټکول، د اسلامي شریعت په پرتله :**

**الف :** له پورته یادو موضوعاتو څخه دا روښانه کیږي چې عرفي قضاوت د وهلو ټکولو پر څرنګوالي تکیه کوي  او د اندازې ټاکنه چې دوی یې مناسبه ګڼي د مخکنې موضوعاتو  پر بنسټ ولاړ دي.

**ب :** په شرعي قضاء کې  فقهاوو د وهلو ټکولو په اړه چې مات او زخم نه وي اختلاف لري.

**د جمهورو فقهاوو مذهب :** د سُوک، څپېړې، قمچین چې داغ پرې نږدي، قصاص نه لري، لکن تعزیر پکښې شته، امام مالک قمچینه استثنا کړې ده او وایې چې د قمچینې په وهلو سره قصاص شته که أثر یې پرېښئ هم نه وي. ([1]).

**دلیل یې دادی :** ورته والی ناشونی دی، چې ورته والی ناشونی شي قصاص متعذره کېږي، نو قصاص پرېښودل کېږی  او کار امام او پاچا ته سپارل کېږي، تر څو مناسب تعزیر ورته وټاکي.

**امام احمد  ابن تیمیه او ابن القیم رحمهم الله وایې :** په سُوک او څپېړه قصاص شته. دلیل یې :

---

[1] - الکاساني : بدائع الصنائع (٣٥٧/٧).

« فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَٱعۡتَدُواْ عَلَيۡهِ بِمِثۡلِ مَا ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡۚ ». (١).

**ژباړه :** څوک چې په تاسو برید وکړي په هغه باندې هماغسې برید وکړئ لکه څنگه چې هغه په تاسو برید کړی.

وایې قصاص د الله أمر او واجب دی، که چېری مماثلت یې ممکن نه وي بیا واجب نه دی، دلته سُوک او څپېړه یو بل سره ورته والئ لري د دوی تر منځ مماثلة ممکن دی.

أبوبکر، عثمان، علي او ابن ولید څپیره قصاص کړې ده او امام ابن تیمیه هم د همدې نظر تأید کوي.

**د پورتنیو موضوعاتو پر بنسټ لاندې څو ټکي روښانه کیږي :** د وهلو قصاص د امام په واک کې ده نه د عرفي قضاء په واک کې، لکه څنگه چې مخکې یادونه وشوه : عرفي قضاء د مصالحې پر بنسټ ولاړ ده، که چیري متخاصمین د مال په بدل کې یوبل سره یې صلح کوي، نو په هر هغه شي باندې چې صلحه راتله سمه ده.

د پورتني ټکو پر بناء عرفي قضاء د شرعي قضاء سره د مجرم د مجازاتو په برخه کې د جمهورو له رأیه او نظر سره موافق ده که څه هم د تعزیر په طبیعت کې اختلاف شته. او له امام احمد له نظر سره چې هغه قصاص بالمثل غواړي اختلاف لري.

## دویم مطلب : عرف کې د ټپونو او پرهرونو أحکام او اسلامي شریعت سره یې پرتله

**لومړی : په عنعنوي قضاء کې پرهر (زخم)** عرفي قضاء د وهلو او زخمونو قصاص (تاوان او دیت)، په بدن کې د زخم موقعیت ته په کتلو سره او د زخم له جوړېدو وررسته، د زخم د أثراتو پاتې کیدلو پر بناء اټکل کوي او ټاکي.

**د بیلگې په توگه د مخ زخم :** د بدن د نورو زخمونو په پرتله د مخ زخم خورا درونډ او با ارزښته تعریفېږي ځکه چې دا یو ښکاره بدوالی لري. د مخ څخه پرته د نورو زخمونو لپاره اټکل لږ دی په ورته ډول هغه زخمونه چې ډیر اغیز لري د هغې د قصاص (تاوان) اټکل ډیر دی.

هغه زخمونه چې ظاهراً لږ اغیز ولري، نو د باطني او وروستني اغیزې د معلوملو لپاره ډاکټر سره مشوره کېږي.

**په عرفي قضاء کې د زخمونو د قصاص څرنگوالې:** وړاندې هم په دې اړه خبرې وشوې چې : عرفي قضاء زخمونه په نښه کوي او د انسان په بدن کې د وهلو موقعیت او د دې اغیز او أثراتو پاته کېدل په پام کې نیسي. د هر پرهر او زخم لپاره ځانگړی تاوان ټاکي ، هغه ټپونه چې د معیوبیت او تخریب لامل کېږي

١ - البقره : (١٩٤).

د نورو ټپونو په پرتله ډېر تاوان لري. او د تاوان کچه د وخت او زمان په لحاظ او همدارنګه د هرې ټولنې او شرائطو پر بناء بدلېږي او تغير کوي.

## دويم : په عرف کې پرهرونه او پرتله يې د اسلامي شريعت سره :

**الف :** د پورتني موضوعاتو له يادونې څخه دا څرګنده شوه چې : عرفي قضاء د زخمونو په تقدير او اندازه کولو سره، او همدارنګه د هغه څه له مخې چې مناسب يې وګڼي په تدبير سره چلند کوي. خو البته دا اټکل ټولنيزو تغيراتو پورې اړوند او تابع دي.

**ب :** شرعي اسلامي قضاء زخمونو ته په کتلو سره مختلف چلند کوي : يا يې (قصاص کوي) يا (ديت ټاکي) يا د تاوان (أټکل او تقدير) کوي.

فقهاء د مخ او سر د زخمونو او د بدن په نورو برخو کې د زخمونو تر منځ توپير کوي :

چې لومړۍ برخې ته يې **( الشجاج )** وايي. او دويمي برخې ته **( الجراح )** وايې. (1).

**١. لومړی : قصاص الشجاج :** که د فقهاوو نظرونه او ويناوې په دې اړه وڅېړل شي نو ډېر توپيرونه پکښې ليدل کيږي د دوی د اختلاف سبب او لامل، د پوره مماثلة امکان او احتمال موندل دي، چې پوره مماثلة پکښې موندل کېږي او که نه.

**د جمهورو فقهاوو په اند :** که ( الشجاج ) صريح او ښکاره وي، نو د دې زخم د پوره مماثلة پر بناء قصاص کېږي، او که چېري موضح او ښکاره نه وي، بيا قصاص پرې نه کېږي ځکه چې پوره مماثلة پکښې متعذر دی. (2).

**٢. دويـــم : (الجروح) د زخمونو سزا** زخمونه په دوه ډوله ويشل شوي دي :

**لومـړی ډول : (الجائـفه) :** هغه زخم دی چې د نـنه (خيـټه يا سينې) ته رسېدلی وي.

**دويـم ډول : (غير جائـفه) :** هغه زخم دی چې د نـنه (خيـټه يا سينې) ته نه وي رسېدلی.

ټول فقهاء د (الجائـفه) په اړه متفق دي چې قصاص پري نشته. د دې لاندي ليکل شوی حديث په دليل :

**عن العباس بن عبد المطلب قال ( أن رسول ﷺ لاَ قَوَدَ فِي المَأْمُومَةِ وَلاَ الجَائِفَةِ وَلاَ المنقلة ، ولأنه يخشى منها الموت، و انما فيها الدية). (3).**

---

1 - الكاساني : بدائع الصنائع (٤٣٧/٧).

2 - الكاساني : بدائع الصنائع (٣٧٠/٦) , ابن قدامة : المغني (٩ / ٦٥٨).

3 - ابن ماجه : د حديث شمېره : (٢٦٣٧). الجامع الصغير وزيادته (ص: ١٣٥٠٣، بترقيم الشاملة آليا)، (هـ) عن العباس. الباني حکم کړي چې: (حسن) دی، په صحيح الجامع کې دا (٧٥٤٥ / ١) شمېره حديث وګوره .

**ژباړه :** رسول الله ﷺ قصاص يې رفع (اوچت) کړی دی، دهغه زخمونو څخه چې په سر لګيدلی وي، يا يې هډوکی ميده ميده شوی وي يا يې چاقو خېټې ته رسېدلی وي ځکه چې د مرګ خطره يې وي، نو د دې لپاره ديت دی.خو د دويم ډول په اړه چې (غير الجائـفه) زخمونه دي، د فقهاوو اختلاف دی :

**جمهور فقهاء وايي :** که د مماثلة امکان شتون ولري، او د مرګ وېره نه وي نو په (جروح) کې قصاص واجب دی. «... وَٱلْجُرُوحَ قِصَاصٌۚ... ». ([1])

**ژباړه :** ټول زخمونه د بدلی والا دي.

**حنفي مذهب وايي :** چې په (الجراح) کې قصاص نشته که زخم الجائفه (عميق او خېټې ته رسيدلی وي) او که الجائفه نه وي (خېټې ته نه وي رسيدلی) سمه ده. ځکه چې دلته د مماثلة امکان نشته. او قصاص د مماثلة له رويه کېږي. ([2])

**غـــوره نـظـــر:** حقيقت دا دی : چې د دواړو خواوو نظرونو ته په کتو سره، ليدل کېږي چې د ( مماثلة يعني ورته والي ) مسأله پريکړه کونکۍ ټکۍ دی، که څوک د مماثلة امکان پکښې ليدلۍ شي، نو حکم پر قصاص کوي، که څوک وايې چې د مماثلة پوره والۍ او اکمال ناشونی دی، نو حکم په عدم قصاص کوي. خو په حقيقت کې واجب دی چې دقيقه ځيرنه پکې وشي، که د مماثلة امکان وو قصاص او که نه وو قصاص دې ترک شي.

**دويـــم : د ديت معامله (چلند) :**

**١. د ( الشجاج ) د ديت کچه : ځيني احاديثو کې د ديت اندازه ټاکل شوې ده :**

**عن الزهري قال جاءني أبو بكر بن حزم بكتاب في رقعة من أدم عن رسول اﷲ ﷺ : هذا بيان من ِ اﷲ ورسوله ( يأيها الذين آمنوا أوفوا بالعقود ) فتلا منها آيات ثم قال في النفس مائة من الإبل وفي العين خمسون و في اليد خمسون و في الرجل خمسون و في المأمومة ثلث الديت و في الجائفة ثلث الديت و في المنقلة خمس عشرة فريضة و في الأصابع عشر عشر و في الأسنان خمس خمس و في الموضحة خمس. ([3]).**

**ژباړه :** له زهري څخه روايت دی چې وايي: ماته ابوبکر بن حزم د څرمن په يوه ټوټه باندې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څخه يو کتاب (خط) راوړی وو چې فرمايي : دا د الله او د هغه رسول وينا ده ( يأيهـا الـذين آمنـوا أوفـوا بـالعقود) نو يو آيت يې تلاوت کړ، بيا يې وويل چې د نفس په بدل کې سل اوښان دي او د سترګي په بدل کې پنځوس، او د لاس په بدل کې پنځوس، او د پښې په بدل کې پنځوس د

---

[1] - سورة المائيده : (٤٥).

[2] - الکاساني : بدائع الصنائع (٢٩٦/٧).

[3] - النسائي : سنن النسائي (د حديث شمېرهِ : (٤٨٥٧). شيخ البانی دغه حديث يې ضعيف بللی، په جامع الصغير کې (٢٣٣٣) شمېره حديث وګوره.

سر په ماتيدلوکې د دية ثلث(دريـيـمه)، په جائفه کې د دية ثلث (دريـيـمه)، د هډوکو په ماتېدو سره د پنځه لس، د گوتو لس لس، د ښاغونو پنځه پنځه او په ښکاره زخم پنځه.

**۲. د الجراح (زخمونو) لپاره د ديت کچه :** د فقهاوو له نظره قاعده دا ده چې په هغه صورت کې چې د ديـة د مقدار په اړه نص نه وي راغلی، نو هغه دية د عادل حَکم (عادل فيصله کونکي ) له لوري ټاکل کېږي، او که نص پرې صادر شوی وي، نو بيا يې اندازه محدد او ټاکل شوې ده.

**دريم : د تقدير او أټکل چلند :** يعني د زخمونو په بدل کې د تاوان أټکل او ټاکل. د هغه زخمونو په اړه چې د شارع له لوري کوم نص نه وي راغلی او مقدار يې ټاکل شوی نه وي، د څېړنې څخه وروسته دا څرگنده شوه چې په دې اړه فقهاء په دوو مسلکونو ويشل شوي دي :

**لومړی مسلک :** فقهاء د هغو غړو د ټپونو په اړه يوه قاعده يې ټاکلې ده چې د هغه په اړه شريعت کې کوم ټاکلي حکم شتون نلري. دغه قاعده د غړي د گټې ضياع ده ( چې له دې غړي څخه په له دې وروسته گټه نشي آخستلی).

د بيلگې په ډول : يو غلام دی چې ټپی شوی نه دی، يا که ټپي شوی وي نو ټپ يې جوړ شوی دی، نو دغه زخمی توب د دې په قيمت کې (۱۰۰۰۰۰) افغانی ده کوم کمی نه راولي، او که داسې غلام وي چې هغه ټپ ولري او په بازار کې د دې قيمت د ټپ له لحاظ (۹۵۰۰۰) افغانی وي، نو د هغه ټپ ديت (۵۰۰۰) افغانی دی، يعني کومه اندازه چې د دې زخم پربناء د غلام په بيه کې کمی راغلی دی. ([1])

**دويـم مسلک :** ځينو حنفيانو او شافعيانو ويلي دي:

د زخمونو يا ضعف الاجزاء (معيوبيت) تقدير او أټکل، د نفس په ديت باندې نه کېږي بلکه د مجنی عليه پر عضو (غړي) باندي کېږي.

**د مثال پـه توگه :** که چيرې معلوليت په لاس کې واقـع شي او دا معلوليت د لاس د فعاليتونو لس سـلـنه (۱۰ ٪) فعاليت له لاسه ورکوي نو د لاس د ديت (۱۰ ٪) برخه تاوان ټاکل کېږي، يعني د لاس د معيوبيت دية د لاس د دية (عُشر) ده نو دلته پنځه اوښان ټاکل کېږي، د دې پخاطر د لاس دية (نصف ديت) دی، نو دغه ټپونه دې د هغه نږدې مثالونو سره مقايسه او پرتله شي.

**دليل يې دادي :** که چيرې د نفس په ديت باندې يې اعتبار ورکړو، داسې نشي چې فيصله کونکې د غړی له اصلي دية څخه ډير أټکل نکړي. ([2]).

**غـــوره نـظـــر :** موږ دويـمه نظريه انتخابوو، ځکه چې اټکل نږدې کوي هغې نږدې مثالونو ته.

---

[1] - ابن قدامة : المغني (۹ / ٦٦١).

[2] - الكاساني : بدائع الصنائع (۷/٤۷۸).

۱. دا مسأله د تقدیر او أټکل مسأله ده او د اټکل لپاره هیڅ نص نشته او نن ورځ د عجز او معیوبیت مسأله د ډاکټرانو د معایناتو پر بناء ښه تشخیص او ثابتېږي.

۲. او دا چې مجنی علیه له غلام سره مقایسه کړو، دا نا ممکنه خبره ده، ځکه چې نن سبا غلامیت او مریې توب هم نشته.

## له پورتني مطالبو څخه لاندې لیکل شوی مضوعات څرګندېږي :

۱- عرفي قضاء د ټپونو د مسائلو په حلولو کې، پر هغه موضوع تکیه کوي چې هغه أټکل (التقدیر) دی.

۲- په داسې حـــال کې چې شـــرعي قضاء دریو أموراتو ته چې قصاص، دیت او تقدیر دی اعتبار ورکوي.

۳- په عرفي قضاء کې أټکل یا تقدیر د قاضي نظریه ده څه چې غواړي، که په اړه یې نص راغلی وي او که نه وي راغلی.

۴- په شرعي قضاء کې تقدیر او أټکل د زخمونو په اړه د شریعت له لوري تنظم کېږي، د قاضي تقدیر او أټکل په منصوص علیه موضوعاتو کې پرېښودل کېږي.

په دې اساس لکه څنګه چې موږ مخکې وویل عرفي قضاء د تقدیر او أټکل پر بنسټ ولاړه ده نو لازمه داده چې تقدیر او ټاکنه په هغه مقادیرو او معیارونو وشي چې اسلامي شریعت ټاکلي دي.

## دریــم مطلــب : عرف کې د اعضاوو تخریب او ماتېدل، او له اسلامي شریعت سره یې پرتله

**عرفي قضاء کې د ماتیدلو او تلف کېدلو د جزا د أټکل څرنګوالې :** په لوګر کې د احمدزیو عرفی قضاء د ماتیدلو او تلف کیدلو جریمه په دري ډوله ویشي :

**لومړی :** که په مغلوبه جګړه کې د یوې خوا ټپیان او له بلې خوا قتل منځ ته راغلی وي، د قتل په مقابل کې ټپیان پور نلري، (کوچنی جرم د لوی جرم په بدل کې بلع کېږي او له منځه ځي) . ([1])

**دویــم :** هغه وهل چې په پایله کې د عادي او نورمال کسر (ماتیدل) رامینځته کیږي کوم چې یو څه موده وروسته خپل طبیعي حالت ته بیرته راګرځي.

**درییم :** هغه وهل چې په د معلولیت یا معیوبیت لامل ګرځي.

[1] - سناتور عبدالله : مرکه نرخ او ځلی په احمدزیو کې ، (۱۱۷) .

د لومړۍ شميري أټكل د نورمال اندازې سره سم اټكل کيږي چې زغم او تخفيف پکې شامل دي نو تاوان يا بدل يې لږ دی، لکه څنګه چې مخکې مو هم ياده کړې وه چې أټكل د ټولني د حالاتو او تغيراتو تابع دی. لکن هغه کسر او ماتيدل چې پايله يې يو ډول معلوليت او معيوبيت وي د هغه لپاره داسې سخته سزا ټاکي چې د دې پيښې سره مناسب وي. په داسی حالاتو کې أټكل او بدل آخستل ډير وي. مثلاً : كه يو لاس د وهلو په نتيجه کې شَل شو نو نيم ديت ورته ټاکل کيږي، او كه دواړه لاسونه شل شو نو پوره ديت دی همدارنګه په نورو أټكلونو کې. (١)

**په عرف کې د اعضاوو معلوليت او معيوبيت، او د اسلامي شريعت سره يې پرتله :**

**الف :** مونږ وړاندې دا خبره وکړه چې د تقدير او أټكل په بهير کې عرفي قضاء د هغه ضرب او وهلو په اړه چې معلوليت او معيوبيت پيښوي د شريعت تقدير او أټكل په نظر کې نيسي، لکن په هغه کسر او ماتيدلو کې چې معلوليت او معيوبيت نه پيښوي د قاضي اجتهاد او أټكل ته مراجعه کوي.

**ب :** أما په شرعي قضاء کې کوم ډول وهل چې پايله او نتيجه يې ماتيدل دي او هغه ډول وهل چې پايله يې معلوليت او معيوبيت دی د دې دواړو تر منځ پوپير کړی :

**لومړی : هغه ډول وهل چې پايله يې عادي ماتيدل وی** علماء د ماتيدلو په اړه اختلاف لري چې أټكلي فيصله وشي او که قصاص ؟

**لومړی مذهب :** جمهور فقهاء په دې نظر دي چې له غاښ نه پرته د هډوکو قصاص نشته پر نورو کسورو اجتهادي فيصله لازم ده. (٢).

**دليل يې دا دی :** چې تر هډوکې وړاندې، پوستکی غوښه او عصبی ريشتې شتون لري چې هډوکې لپاره يو ډول حائل او پرده ده، چې د خنډ سبب ګرځي، او مماثلة (پرتله) کول يې ناشوني دي که امکان يې درلودلی، موږ به په قصاص حکم ورکړی وو. (٣)

**حديث : عن نمران بن جارية عن أبيه" أن رجلا ضرب رجلا على ساعده بالسيف من غير المفصل فقطعها فاستعدى النبي ﷺ فأمر له بالدية فقال يا رسول االله إني أريد القصاص فقال خذ الديت بارك االله لك فيها ولم يقض له بالقصاص". (٤).**

**ژباړه :** نمران بن جاريه له خپل پلار څخه روايت کوي چې :«يو سړي د توري په واسطه بل سړی په مټ وواهه، نو ددي مټ يې ورمات او پري کړ، دغه سړی رسول الله ﷺ عارض شو، نو رسول الله ﷺ په

---

١ - الحاج قوماندان عزت الله : د لوګر ولايت، محمد آغي ولسوالی د بُرګ د کلي قومي مشر، د مرکې نيټه (١٤٠٢/١/١٨) .

٢ - الكاساني : بدائع الصنائع (٤٧٨/٧) , ابن قدامة : المغني (٩ /٦٦١).

٣ - العسقلاني : فتح الباري (٣١٤/١٢).

٤ - ابن ماجة : سنن ابن ماجة (د حديث شمېره :: ٢٦٣٦). مصباح الزجاجة في زوائد ابن ماجه (٣/ ١٢٣) ضعفه أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيّ وَابْن عدي وَالْعجلِي وَالدَّارَقُطْنِيّ وَتَركه أَحْمد بن حَنْبَل ، رَوَاهُ الْبَيْهَقِيّ فِي سننه الْكُبْرَى من طَرِيق سعيد بن يحيى .

ديت وركولو حكم وكړ، نو دې سړي وويل زه قصاص غواړم، رسول الله ﷺ وفرمايل ديـت واخله الله دې درته پکښې برکت واچوي، خو د قصاص قضاوت يې ونکړ.

**دويم مذهب :** امام مالک په هډوکو کې د قصاص اخيستلو په نظر دی پرته له ورون څخه د ويرې څخه يا د عدم مماثلة څخه. (۱)

د دوئ دليل دغه حديث دی : **أن أنسا حدثهم أن الربيع وهي ابنة النضر كسرت ثنية جارية فطلبوا الأرش وطلبوا العفو فأبوا فأتوا النبي ﷺ : « فأمرهم بالقصاص فقال أنس ابن النضر أتكسر ثنية الربيع يا رسول الله ؟ لا والذي بعثك بالحق لا تكسر ثنيتها فقال: يا أنس كتاب االله القصاص فرضي القوم وعفوا فقال النبي ﷺ : إن من عباد االله من لو أقسم على االله لأبره »**. (۲).

**ژباړه :** انس وايې : ربيع چې د نضر لور وه د يوي وينزى غاښ يې مات کړ بيا يې د تاوان ورکولو يا د عفوې غوښتنه وکړه، خو هغوی انکار وکړ، پس له هغې دوی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغلل، هغه د قصاص حکم وکړ نو انس بن النضر رضي الله عنه ورته وويل: يا رسول الله صلی الله عليه وسلم آيا د ربيع غاښ ماتوې ؟ نه په هغه ذات قسم چې ته يې په حقه رالېږلی يې د ده غاښ مه ماتوه. رسول الله وفرمايل : ای أنسه د الله په کتاب کې قصاص دی، پس له هغې قوم په عفو کولو راضي شول او ښښنه يې وکړه، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : يقيناً د خدای بنده گان که پر خدای باندې قسم وکړي، نو الله به يې پوره کړي.

**غــوره نـظــر :** موږ د جمهورو د نظر لوري ته ځو چې د هډوکو لپاره هيڅ قصاص نشته، ځکه چې:

۱. له هډوکو څخه د قصاص آخيستلو په اړه له غاښ نه پرته بل کوم حديث نه دی ثابت شوی خو د غاښ په اړه اتفاقي خبره ده چې قصاص واجب دی.

۲. امام مالک هم په ټولو هډوکو کې پر قصاص باندې نظر نه ورکوی، لکه د ورون، د غاړې يا ارمېږ هډوکی او د ده د مذهب أصلي عقيده داده : په هر هغه هډوکو کې چې د مرگ خطر وي قصاص نشته او يا هم چې مماثلة پکښې ممکن نه وي، نو دغه د عدم مماثلة موضوع په هر هډوکي کې موجود ده، ځکه د جمهورو نظر ته ورتگ ښه ښکاري. (۳)

**دويم : هغه ډول وهل چې پايله يې معلوليت يا معيوبيت وي** فقهاوو معلوليت په دوه ډوله ويشلی دی چې له گټو (منفعت) څخه محروميت ورته وايي :

---

۱ - ابن رشد : بداية المجتهد و نهاية المقتصد (۴۰۸/۲).

۲ - البخاري : الجامع الصحيح (د حديث شميره :: ۲۷۰۳).

۳ - العسقلاني : فتح الباري ، (۱۲ / ۳۱۴).

**لومړی : پوره معلولیت** په دې کې دیت کامله دی ځکه چې منفعت یې له منځه تللی دی. او دا په پنځه ډوله دي :

١. یو هغه غړي دي چې په بدن کې چې هیڅ مثل نلري. لکه : پزه، ژبه، ذکر، د بول لاره، د غائط لاره، پوستکی، د سر ویښته، د ږیرې ویښته.
٢. دویم هغه غړي دي چې په بدن کې دوه دي. لکه : دوه لاسونه، دوې پښې، دوه سترګې، دوه غوږونه، دوې وریځې، دوه تیونه، دوې شونډې،....
٣. درېیم هغه غړي دي چې په بدن کې څلور دي لکه : د ستوګو لاندني او پاسني بانه.
۴. څلورم هغه غړي دي چې په بدن کې لس دي. لکه : د لاسونو لس ګوتې، د پښو لس ګوتې.
۵. د غړي کار نکول یا ګټه نه ترې آخستل کېدل، سره له دې چې غړی باقی او پر ځای دی. لکه : عقل، د سترګو دید، بوی نه حس کول، په خوند نه پوهیدل، جماع نه کیدل، تګ نه کیدل، خبري نکیدل. (١).

**دویـــم : جزیي معیوبیت** په دې کې تقدیر او أټکل لازم دی، د دې لپاره چې ځینې ګټې او منفعتونه یې له منځه تللي او ځینې یې پاتې دي لکه د یو لاس تلف یا د یوې ګوتې تلف یا د لاس یوه برخه تلف شوي وي. (٢).

د فقهاوو په نزد قاعده دا ده که غړي یې په ټوله معنا له لاسه ورکړې وي نو دیت پرې واجب دی. که چېرې ځیني برخې یې تلف شوي وي، نو په نسبت د (مَافَـاتَ) بعض دیت لازمیږي، لکه : یوه سترګه یې له لاسه ورکړې وي یا یو غوږ یې له لاسه ورکړی وي، بیا په اجتهاد سره یې دیت أټکل کېږي.

**له پورتني مطالبو څخه داسې څرګندونې کېږي:**

عرفي قضاء د دیت اندازه د هغه څه له مخې چې قاضی یې د ټولنې د بدلونونو له مخې مناسب ګڼي اټکل کوي. عرفي قضاء د اسلامي شریعت په تقدیر سره قید شوې ده. او همدارنګه عرفي قضاء د شرعي قضاء سره د دیاتو په تقدیر او أټکل کې متفق دي.

---

[١] - الكاساني : بدائع الصنائع (٤٥٨/٧). - ابن قدامة : المغني (٩ /٤٨١).

[٢] - الكاساني : بدائع الصنائع (٤٦٣/٧) - بداية المجتهد ونهاية المقتصد (٤٠٨/٢).

## درېيــم مبحث: د ښځو مسائل دا درې مطلبونه لري

لکه څنګه چې ښځینه په افغاني ټولنه کې د لوړ مقام څښتنه ده، افغاني ټولنه کې بیا په تېره د پښتنو عرفي قضا د هغه چا لپاره چې د دوي د بې عزتي او سپکاوی هڅه وکړي ډېره او درنه سزا ورته ټاکې، د دې پخاطر چې دغه مضوع په ښه بڼه روښانه شي، نو لاندې دریو مطالبو کې توضیح کیږي.

### لومړی مطلب : عرف کې د جنسي تېري ( فحشا کولو ) أحکام او پرتله یې له اسلامي شریعت سره

**لومړی : عرف کې جنسي تېری ( فحشاکول )** جنسي تېری د عرف له مخې یو له لویو جرمونو څخه بلل کېږي په عرف کې یو سړی کولی شي چې د عرض (ناموس) د دفاع لپاره هرڅه وکړي. تېری پر ناموس باندې د عرف له نظره په دوه برخو ویشل شوی :

**لومړی : فحشاء د رضاء (خوښي) په دائره کې :**

**۱.** د لوګر عرفي قضا حکم د هغې ښځې په اړه چې په قصدي توګه له څرڅایونو یا پولې او پټي څخه په بیرته راستنیدلو کې ځنډ کوي، یعنی په قیقت کې له چا سره یې د فحشاء لپاره نېټه ټاکلې وي. د دې حکم په عرفي قضاء کې د شرم ختمول دي ( د هیچا خبره نه آوریدل کېږي) بس یوه خبره ده چې دواړه وژل کېږي. (۱)

د میدان وردګ عرفي قضا کې، وایي: د پښتو په قاموس کې د زانې ژوند ختمول دی، حتی د پښتنو په جرګه کې د زنا د قضیې یادول او مطرح کول بې ننګي ده، یعني جزا ئې وژل دی، او څوک د زنا د جرم په صحنه کې ووژل شي پوښتنه نلري. (۲)

د غزني عرفي قضا کې، د زنا پور قتل دی. (۳)

**۲.** هغې ښځې چې پرته له جبر څخه یعني پخپل رضایت سره فحشاء (زنا) کوي، چې لاندې أعمال پرې مرتب کېږي.

د خپل کورنی له خوا وژله کېږي. یا له زانــي سره په نکاح کېږي.

که چېري د عرفي قضاء په وړاندې دعوا وکړي او عارضه شي، نو د هیڅ ډول حق مستحق نه ده، پرته له یوې جوړې جامې څخه چې صرف یې عورت پرې پټ شي.

---

[1] - الحاج جمعه خان، مشهور په ټنډکئ د امیرجان زوی، لوګر ولایت، محمد آغي ولسوالی د سوړیا د کلي قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۱/۱۸) .

[2] - عبدالباري : د میدان وردګ ولایت، سید آباد ولسوالی د شنیز کلي قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۱/۳۱) .

[3] - حاجي حمدالله (نوري) د غزني ولایت د قره باغ ولسوالی د بهادرګئ کلئ ، د اړیکې شمېره : (۰۷۰۰۱۸۹۷۸۱)

**۳.** دا هغه ښځه ده چې د زنا واقع کیدلو مسأله د اوږدې مودې لپاره پټوي، او بیا وروسته خپلې کورنۍ ته خبر ورکوي، یا د امیندوارۍ نښې پرې ښکاره شي، وروسته ادعا کوي چې جنسي تېری پرې شوی. پر دې باند هم د دویمې شمېرې حکم پلې کېږي.

**۴.** هغه ښځه ده چې پرته له جبر څخه پخپل رضایت سره یې زنا کړې وي ، او څوک یې نه دي خبر کړي، مګر وروسته د حمل له ښکاره کیدلو سره خبره ښکاره کېږي. په پایله کې دغه لاندې أعمال پرې مرتب کېږي. (۱)

**الف :** د خپل کورنۍ له خوا وژله کېږي.

**ب :** یا له زانـي سره په نکاح کېږي. حقیقت دا دی چې که نومونه او صورتونه یې څو ډوله دي خو معنی او مفهوم یې یو دی.

که چیري جاني یعنی مجرم وتښتي او د ده خپلوان ورته پناه ورکوي نو د (تور) پر ځای د (سپین) وژل هم د پښتو قانون مني. (۲)

## دویـــم : د تاوتریخوالي او جبر دائره :

۱. **د ورځې له خوا تېری :** هغې ښځې چې پر عزت یې تیری کېږي، پداسې حال کې چې هغې د مرستې لپاره فریاد کوي او چیغې یې د ګاونډیانو لخوا اوریدل کیږي په دې شرط چې جنسي تېری شوی وي. په عرفي قضاء کې د دې عمل سزا تر ټولو زیاته سزا ده.

۲. **د شپې له خوا تېری :** هغې ښځې چې د شپې له خوا تېری پرې وشي، نو لازمه ده چې سم له لاسه چیغه او فریاد وکړي، که چېرې په چغه او فریاد کې ځنډ وکړ نو سزاء یې کمه ده، ځکه چې د دې د رضایت په اړه شک پیدا کېږي، او که یې في الحال فریاد وکړ، نو د لومړۍ شمیري حکم پري مرتب کېږي. او د چیغې اثبات په شاهدانو کېږي، چې شاهدانو آوریدلې وي. او که نه د رضاء په حلقه کې شاملیږي.

۳. **اختطاف (تښتول) شوی ښځه :** دا هغه ښځه ده چې تښتول شوې وي، که هغه میړوښه وي یا پیغله وي، ښځه تښتونه په څو ډولونو ویشل شوي دي :

**لومړی : جبري تښتونه** دا هغه تښتونه ده چې د یوې ځانګړې کورنۍ یو کس یوه ځانګړی ښځه په زوره او د هغې د کورنۍ له خبرتیا پرته ترسره کړي په عرف کې د دي په اړه حکم، وینه تویول (وژل) دي.

---

۱ - عبدالجلیل وجدي : په افغانستان کې د عنعنوي جرګو نن او پرون (۵۴) .

۲ - عبدالجلیل وجدي : په افغانستان کې د عنعنوي جرګو نن او پرون (۵۴) .

د میدان وردگ عرفي قضا کې، د مجردې ښځې د تښتونې په صورت کې معمولا د (د دروازې د بدو) په نوم ورنه نغدې جریمه له تښتونکي نارینه څخه اخیستل کېږی او د میړوښې ښځې د تښتونې په صورت کې بېرته ښځه ترې راوستل کېږي او هم د دروازې بد ترې اخیستل کېږي. (۱)

بیا په دې اړه عبدالباري داسې وایي، د يوي انجلی تښتونه د دروازي ترشا بد او پیغور لري، خو د مېړوښی ښځې تښتونه بیا د دروازې له بدو سره د ناموس نا آشنا او جدي مسأله ده چې أثار او پایله ئې قوم او کلي ته راجع کېږي. بناءً پور يې هم درونډ دی. (۲)

د غزني ولایت عرفي قضا کې، د مېړوښې ښځی د تښتونې پور قتل دی، او د مجردې ښځې د تښتونې لپاره داسې کوم ټاکلی معیار او حد نشته خو دوخت د تقاضا پر نباء درونډ پور پرې ټاکل کېږي. (۳)

**دویـــم : په خپله خوښه تښتونه** دا په څو حالتونو ویشل شوي دي :

**لومړی حالت :** دغه تښتونه د دواړو خواوو په رضایت ترسره کېږي لکن هغه يې د دې لپاره تښتوي چې کورنی يې مجبوره کړي، ترڅو تښتونکي ته يې په واده ورکړي او هغه د هغې د تښتولو په ټولو مرحلو کې وفا دار او أمین وی.

**وفاداري او أمانت داري په دې معنی چې :**

د شاهدانو شاهدي د اختطاف له پیله، چې هغې ته يې هيځ رنګه لاس نه دی وروړی.

له تښتولو وروسته يې د هغې د ساتنې لپاره د یو قومي مشر په کور کې ځای پر ځای کړې، او دا هغه څوک دی چې د تښتونکي او جلی د کورنی تر مینځ د مسألي حل لپاره هڅه کوي.

شاهدان دې ګواهي ورکړي چې تښتوونکي د تښتول شوې ښځې لاس نه دی نیولی.

## دغه صورت لاندې پایلې لري :

یا د دوی کورنی د دوي پر شرعي نکاح باندي راضي کېږي.

یا محکمې ته عارض کېږي او دعوا چولوي، خو د جبري تښتونې په پرتله د دي جرم کم دی، او جزا ورته د تقدیر او أټکل پر بناء ټاکل کېږي.

**دویم حالت :** اختطاف د دواړو خواوو په رضایت سره وي مګر د هغې سره د واده کولو لپاره نه بلکې د غیر اخلاقي عمل او فحشاء په خاطر. د دې په اړه عرفي احکام په لاندې ډول دي :

په عرفي قضاء کې د دي حکم قتل دی.

ځینې وختونه کیدای شي یو له بل سره واده وکړي.

۱ - محمد حسن «حیران» : د میدان وردگ ولایت، سید آباد ولسوالی د بادام کلي قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۱/۳۱) .

۲ - عبدالباري : د میدان وردگ ولایت، سید آباد ولسوالی د شنیز کلي قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۱/۳۱) .

۳ - حاجی حمد الله : د غزني ولایت، قره باغ ولسوالی د بهادرکئ کلي قومي مشر، د مرکې نیټه (۱۴۰۲/۲/۸) . د اړیکې شمېره : (۰۷۰۰۱۸۹۷۸۱)

**جنسي تيرى :** دا هغه صورت دى چې ښځه زوروال کيږي او زنا ته اړ کيږي  که هغه پيغله وي يا واده شوې ښځه. دې مسألې پورې په  عرف لاندې احکام تړاو لري:

**الف :** له غاصب سره د انجلۍ واده کول.

**ب :** يا هغه انجلۍ وژني کله چې د هغه سره له واده کولو انکار وکړي  او غصب کوونکی بايد د انجلۍ د ديت ورکړي.

**دويـــم : عرف کې د جنسي تېري أحکام او اسلامي شريعت سره يې پرتله**

له پورتني يادو موضوعاتو څخه دا روښانه کيږي چې د ښځو دغه ياد مسائل په دوه ډوله تر سره کېږي، يا به په خپله اراده او رضاء سره وي، يا به غير ارادي او پرته له رضاء څخه. چې په دې اړه عرفي أحکام او فيصلې هم بيان شول.اوس راځو چې اسلامي شريعت په دې اړه کوم أحکام وړاندې کړې :

**د تښتونې احکام :** تښتونه په دوه ډوله ويشل کيږي : ارادي او غير ارادي.

**ارادي (د رضاء) تښتونه:** دا ډول عمل د تښتونې له دائرې څخه مستثنی ده  د ښځې ارادي تګ له تښتونکي سره، د جبر او اکراه له دائرې څخه د رضاء په دائره کې داخلېږي، او هر انسان د خپلو اعمالو مالک او حساب ورکونکی دی، په دې اړه د لوګر عرفي قضا حکم، (ښځه او سړی) پټکی او ټيکرۍ کېږي، يعني دواړه وژل کېږي. (١)

شريعت په دې اړه داسې حکم کوی : که چېرې د دوئ تر منځ زنا شوي وي نو د زنا حکم جاري کېږي، ( چې رجم يا جلد ) دی، او که زنا نه وي شوي نو د قاضي له خوا تعزيري جزا ټاکل کېږي، خو دا په هغه صورت کې چې قضيه قاضي ته وړاندې شي، او که وړاندې نه شي نو شريعت د ( ستر ) يعني د قضيې پټولو مانع نه دی.

**غير ارادي (جبري) تښتونه :** مخکې له دې چې د تښتونې په اړه حکم صادر کړي  اړينه ده چې د پېښې او تښتوونکي حالت وڅېړل شي.

**لومړی حالت :** دا چې تښتوونکی دومره قوت او واکمني لري چې د ښځې  کورنۍ پر هغه هيڅ نشي کولی او داسې با قوته کورنۍ په قومونو کې شتون لري، نو دغه ډول حالت د (محارب) او (قطاع الطريق) په مثال دی.

**دويم حالت :** دا چې تښتوونکی ډير قدرت او قوت نلری، يعني د ښځې کورنۍ کولای شي خپله ښځه د تښتولو وروسته بېرته راولي، خو تښتونکي پر ښځه جبر کړی او تښتولې يې ده، په دې اړه د لوګر عرفي قضا حکم دادی چې: که ښځه مېړوښه وي او قوم د دښمنۍ لمنه ټوله کړي نو د مېړوښې ښځې په ونج (بدل) کې

١ - سناتور عبدالله : مرکه نرخ او ځلی په احمدزيو کې ، (١١٩) .

به مېرونه ښځه ورکوي، يعني تښتونکئ له يوي خلاصې انجلئ سره به نکاح تړي بيا به يې طلاقوي، او له دې سره به يوه پېغله د جرم او خيانت په خاطر هم ورکوي. (١)

**لومړی : د جبري تښتونې شرعي حکم:** اسلامي شريعت له نظره، جبري تښتونه د لوټماري يا قطاع الطريقي يوه بڼه ده چې له سختو گناهونو څخه شمېرل کېږی، او سخته جزا پرې مرتب کېږي. الله جل جلاله فرمايې:

**(إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوۡ يُصَلَّبُوٓاْ أَوۡ تُقَطَّعَ أَيۡدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم مِّنۡ خِلَٰفٍ أَوۡ يُنفَوۡاْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِۚ ذَٰلِكَ لَهُمۡ خِزۡيٞ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ).** (٢)

**ژباړه :** بيشکه أصل خبره داده، چې څوک دالله او د هغه له رسول سره جنگ کوي او په ځمکه کې د فساد لپاره کوښښ کوي د هغوی سزا داده : چې دوئ دې قتل کړای شي، يا دې په دار کړائ شي، يا دې دوی لاسونه او پښې ادل بدل پرې کړای شي، يا دې دوی له دغې ځمکې څخه وشړل شي، دا د دوی لپاره په دنيا کې رسوايې ده او د دوی لپاره په آخرت کې لوی عذاب دی.

**ابن کثير وايي :** د جگړې نښه مخالفت او ضدييت دی، چې د کفر تصديق او څرگندونه کوي، او فساد په ځمکه کې، قطاع الطريقي، او خلک ويرول د شرارت له ډولونو څخه دي، او تښتونه هم د شرارت له ډولونو څخه دي. (٣)

**د پورتنيو موضوعاتو په اړه لاندې څرگندونې شوي دي :**

تښتونکی د (الحرابه) تر موضو لاندې راځي. امام القرطبي وايي : څوک چې لارې ته ووځي او د وسلې په ښودلو سره خلک وېروي او زوروي نو دا ډېر بد او أفحش دي تر هغه عمله چې د خلکو نه مالونه واخلي. (٤) او دا عمل د خدای تعالی د دې ارشاد (وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَسَادًا) په معنی کې داخلېږي ( او دوی په ټوله ځمکه کې د فساد د خپريدو هڅه کوي ).

**د پورتنيو ټکو پر بنسټ لاندې مسايل روښانه کيږي :**

**الف :** عرفي قضاء د تښتونې يا د جنسي تېري په اړه سخت اقدامات کوي چې حکم يې وينه تويول (قتل) دی.

**ب :** شرعي قضاء هم د تښتوني په اړه د (الحرابه) حد عملي کوي، چې په اسلام کې دا تر ټو لو سخته سزا ده.

١ - سناتور عبدالله : مرکه نرخ او ځلی په احمدزيو کې ، (١٢٠) .
٢ - سورة المائده : (٣٣).
٣ - ابن کثير : تفسير القرآن العظيم (٥٧/٣).
٤ - القرطبي : الجامع لأحکام القرآن (١٥٦/٦).

**ج :** د شرعي قضاء او عرفي قضاء أحكام د ويني تويولو (قتل كول د عرض او ناموس پخاطر) په صورت کې سره متفق دي.

رسول الله ﷺ په دې اړه فرمايې : **«عن سعيد بن زيد....... من قاتل دون ماله فقتل فهو شهيد ومن قاتل دون دمه فهو شهيد و من قاتل دون أهله فهو شهيد »**. (١).

**ژباړه :** رسول الله ﷺ فرمايې : څوک چې د خپل مال پر وړاندې جګړه وکړي او ووژل شي شهيد دی، او څوک چې د خپلې وينې پخاطر جنګیږي هغه شهيد دی او څوک چې د خپلې کورنۍ (ناموس) لپاره جنګیږي هغه شهيد دی.

**دويــم: د جنسي تېري احكام :**

جنسي تيری د ټبنتونې په قضيو کې شاملې دي د جنسي تيري شوې ښځې حكم او د تېري كوونكي حكم به بيان کړو.

## ١. د هغې ښځې حكم چې په جبر يې زنا کړې وي:

فقهاء په دې متفق دي : کومه ښځه چې زنا ته مجبوره شي، هيڅ گناه پرې نشته، چې گناهكار نه وي نو حد هم پرې نشته. (٢).

**(عن ابن عباس عن النبي ﷺ قال إن الله وضع عن أمتي الخطأ والنسيان وما استكرهوا عليه).** (٣).

**ژباړه :** د ابن عباس څخه روايت دی چې : رسول الله ﷺ وفرمايل : الله جَلَّ زما د امت څخه يې خطاء،نسيان او اكراه معاف کړي. له دې حديث څخه معلوميږي چې د جبر احكام له امت څخه ايستل كيږي.

«.... وَمَن يُكۡرِههُّنَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ مِنۢ بَعۡدِ إِكۡرَٰهِهِنَّ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ». (٤).

امام بخاري رحمه الله په دې اړه يې يو باب ايښی، « باب إذا استكرهت المرأة على الزنا فلا حد عليها ». (٥).

**ژباړه :** باب دی كه چېرې ښځه باندې په زور زنا وشي د هغې لپاره هيڅ حد نشته.

---

١ - رواه النسائي : ( د حديث شمېره : ٤٠٩٤) وصححه الألباني. الترمذی ، (١٤٢١).

٢ - ابن نجيم : البحر الرائق (٢١/٥).

٣ - ابن ماجة : سنن ابن ماجة (د حديث شمېره : ٢٠٤٥).

٤ - سورة النور : (٣٣).

٥ - البخاري : الجامع الصحيح (٢١/٩).

**۲. د زناکار په اړه حکم :** د زناکار حکم په دې اړه، د زنا کار له حالت سره سم په دوه ډوله وېشل شوې دي که زناکار غیرمحصن (ناواده) وي نو سزا یې جلد (دُري) دي، البته د الله متعال د دې قول پر بناء :

(ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِي فَٱجۡلِدُواْ كُلَّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا مِاْئَةَ جَلۡدَةٖۖ وَلَا تَأۡخُذۡكُم بِهِمَا رَأۡفَةٞ فِي دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۖ وَلۡيَشۡهَدۡ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٞ مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ). ([1]).

**ژباړه :** هغه ښځه چې زنا یې کړې وي او هغه سړی چې زنا یې کړې وي، نو تاسو (ای قاضیانو او حاکمانو) هر یو د دې دواړو سل دُرې ووهئ او تاسو د الله په دین کې (د الله د حکم په تنفیذ کې) پر دغو زړه سوئ مه کوئ، که چېرې په الله او په ورځ د آخرت باندې ایمان لرئ، او د دوئ سزا ته دې د مؤمنانو یوه ډله حاضر وي. خو که زناکار محصن (واده یې کړی وي) نو د سنگسار حکم پرې کېږي. البته د ابن عباس په روایت سره :

**عن ابن عباس : أن النبي ﷺ قال لماعز بن مالك أحق ما بلغني عنك قال وما بلغك عني ؟ قال أنك وقعت بجارية آل فلا فقال نعم قال فشهد أربع شهادات ثم أمر به فرجم »** ([2]).

**ژباړه :** د ابن عباس (ض) څخه روایت دی : رسول الله صلى الله علیه وسلم ماعز بن مالک ته وفرمایل : په هغه څه چې ما ته ستا په اړه ویل شوي دي هغه سمه ده : هغه وویل : زما په اړه تا ته څه ویل شوي دي ؟ آنحضرت وفرمایل چې تا د فلاني لور سره جماع کړې هغه وویل : هو وېې فرمایل : چې څلور شهادتونه ورکړې بیا یې د سنگسارولو امر وکړ.

## له پورتني موضوعاتو څخه دا روښانه کېږي چې :

**الف :** عرفي قضاء د مجنی علیه لپاره دوه حکمه وړاندې کوي، چې د جاني قتل غواړي او که ورسره واده کوي. خو په شرعي قضاء، ښځه د جبري زنا په صورت کې مجرم نه گڼي چې د جرم سزا ورکړل شي.

**ب :** عرف له جاني سره په قتل محاسبه کوي البته د انجلی د کورنی له خوا.

په داسې حال کې چې شرعي قضاء مجرم ته د هغه حالت ته په پام سره، یا په دورو یا په سنگسار سزا ورکوي سربیره پر دې مهر هم ترې غوښتل کېږي، سره له دې چې په دې اړه د علماؤو اختلاف دی.

---

[1] - سورة النور : (۲).

[2] - مسلم : صحیح مسلم (د حدیث شمېره : ۱۶۹۳).

## دویم مطلب : عرف کې د ښځې د بې عزتۍ أحکام ( پرته له زنا څخه ) او شریعت سره یې پرتله

په دې اړه ګڼ مسائل شتون لري چې په لنډه توګه د څو مسائل یادونه د مثال په ډول وړاندی کوو :

### ۱. د ښځې څخه غوښتنه یا د فحشاء هڅه (سترګګ وهل توخی کول او ژبه وېستل) :

د سړي کوښښ او هڅه ده، ترڅو له ښځې سره اړیکه ونیسي، یا په خبرو کولو یا په اشاره کولو، یا په سترګګ وهلو یا په ژبه ویستلو، یا د جان او قربان په الفاظو یا په ردي الفاظو سره.

**په دې اړه د عرفي قضا حکم څه دی ؟** په عرفي قضاء کې د هغه حکم د غوږ پرې کول یا یې بې حجابه کوي یا یې د غوږ په بدل کې پیسې آخستل کېږي، یعني مجرم خپل غوږ د ښځې له کورنۍ څخه د پیسو په بدل کې چې څومره یې ورته ټاکلي وي واخلي. ([1])

**۲. قذف (تهمت په زنا) :** که یو سړی د یوې انجلۍ عزت ته سپکاوی وکړي او د زنا تهمت پرې وکړي، هغه باید د دې تور لپاره دلیل او ثبوت وړاندې کړي، که یې خبره ثابته نه شي نو حکم یې په لاندې ډول دی :

**۱.** د داسې حالت حکم د ژبې پرې کول یا د غاښونو ماتول او پرې کول دي، یا د پیسو په بدل کې خپله ژبه او غاښونه خپل کړي (یعنی د پیسو په مقابل کې ژبه او غاښونه آخلي).

**۲.** په دریو کورونو کې سپین بیرغ پورته کول چې دا د برأت او پاکی نښه ده.

### دویـم : عرف کې د ښځې د بې عزتۍ أحکام ( پرته له زنا څخه ) او شریعت سره یې پرتله :

#### ۱. هڅه یا غوښتنه کول ( سترګګ وهل توخی کول ژبه ایستل، اشاره کول ) :

لکه څنګه چې مو یادونه وکړه په دې مسایلو کې د عرفي قضاء حکم د ژبې پرې کول او د غاښ ماتېدل دی، او یا یې په بدل کې فدیه (مال) ورکول دي.

خو په شرعي قضاء کې د دې په اړه لکه څنګه چې موږ مخکې وړاندې کړل هغه مسائل چې حد (ټاکلی مجازات نلري) د امام له خوا چې څه مناسب ګڼل کېږي، سزا ورکول کېږي، یا په وهلو ټکولو سره یا په حبس سره یا نورې داسې سزا ګانې چې محکمه یې مناسب ګڼـي. د ژبـې پرې کولو حکم په کتاب او سنت کې نه دی ذکر شوی، نو دا حکم ځکه مردود دی، چې د عائشې رضی الله عنها په حدیث کې رد شوی دی.

---

[1] - عبدالجلیل وجدي : په افغانستان کې د عنعنوي جرګو نن او پرون ، (۵۵) .

(عن عائشة رضي االله عنها قالت : قال رسول االله ﷺ :( من أحدث في أمرنا هذا ما ليس فيه فهو رد ). ([1]).

**ژباړه :** رسول الله ﷺ فرمايلي دي : ( څوک چې زموږ په دې (دين) کې داسې څه پيدا کړي چې په دين کې نشته هغه رد دي ).

**۲. قذف ( تهمت په زنا سره ) :** د قذف د حکم په اړه وړاندې هم وويل شو چې : دغه تور او تهمت ثابت کړي يا دې د جرګي فيصله ومني. په شريعت کې د قذف (تهمت په زنا سره) حکم په لاندې ډول دی :

اسلامي دين قذف لويه ګناه بللي او د قذف د حکم په اړه الله تعالی داسې فرمايي :

(وَٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَأۡتُواْ بِأَرۡبَعَةِ شُهَدَآءَ فَٱجۡلِدُوهُمۡ ثَمَٰنِينَ جَلۡدَةٗ وَلَا تَقۡبَلُواْ لَهُمۡ شَهَٰدَةً أَبَدٗاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ). ([2])

**ژباړه :** هغه کسان چې په پاکو ښځو تورونه لګوي او بيا څلور شاهدان حاضر نه کړي نو دوی په اتيا دُرو ووهئ او د هغوی شهاد ت د تل لپاره مه منئ، او همدغه خلک دي فاسقان. په اسلامې شريعت کې د قذف حکم په دُرو وهل دي.

**ابن قدامه وايي :** د علماوو په اجماع سره قاذف (تهمت کونکی) په درو وهل کېږي، خو چې قاذف مکلف وي، او تور لګيدنکئ د (احصان) په هغو پنځو شرايطو برابر وي، لکه : ( عقل، بلوغ، حريت، اسلام او عفت ) ([3]).

**خو پوښتنه دا ده چې آيا په قذف کې پخلاينه روا ده يا د هغه د خلاصون په بدل کې د پيسو ورکول جايز دي ؟**

**حنفي مذهب وايې :** کله چې قذف ثابت شو بيا د هغه ښښل معاف کول او يا پخلا کول روا نه دي. ([4])

**مالکي مذهب وايې :** کله چې امام خبر کړي نو بيا بخښنه روا نه ده او که عارض شوی نه وي بخښنه روا ده. ځکه دغه کار تر هغه مدعي پورې اړه لري چې سلطان يې نه وي خبر کړی، کله چې سلطان خبر شو نو د مدعي صلاحيت قطع کيږي. ([5])

**شافعي او حنبلي مذهب وايې :** دوئ په دې نظر دي چې د قذف سزا د بنده له حقونو څخه ده که هغه مخکي دسلطان له خبريدلو څخه وي يا وروسته له خبريدلو.

---

[1] - متفق عليه : البخاري : (د حديث شمېره : ٢٦٩٧) - صحيح مسلم : (د حديث شمېره : (١٧١٨).

[2] - سورة النور : (۴).

[3] - ابن قدامة : المغني (١٩٢/١٠).

[4] - الكاساني : بدائع الصنائع (٧٢/٦).

[5] - ابن رشد : بداية المجتهد ونهاية المقتصد (٤٤٢/٢).

**دلته د شافعيانو او حنبليانو نظر غوره ده :** په دې اړه احاديث هم راغلي دي چې عرض (عزت او أبرو) د بنده حق دی او د هغه په اړه پخلاینه روا ده.او همدارنګه، امام نووي رحمه الله او ابوجعفر الطحاوي رحمه الله په همدې نظر دي.

د پورتنيو احکامو پر بنسټ د (مقذوف) او (مقذوف عليه) تر منځ د پيسو او يا د بل څه په بدل کې روغه کول روا دي، خو په دې شرط چې حلال وي. نو په همدې اساس چې عرفي قضاء کومه پريکړه د قذب د صلح او پخلاينې په اړه کوي جواز لري. والله اعلم.

**عرف کې د غلا أحکام :** د لوګر ولايت عرفي قضاکې، کله چې يو سړی له چانه غلا وکړي او غلا پرې اثبات شې نو (نهه ګون) به ورکوي يعني د غلا شوي شئ قيمت چې څومره وي د هغه نهه چنده تاوان به پرې کوي او د مال څيښتن ته به يې ورکوي. ([1])

د غزني عرفي قضا د غلاشوي مال او غل په اړه داسې حکم کوی، کله چې غلا پر چا باندی ثابت شي، نو غلا شوی مال خپل څيښتن ته مسترد کېږي، علاوه له دې د جرګې له لوري، د حالاتو تقاضا سره سم يو څه پور پرې ټاکل کېږي، خو ټاکلی حد نلري. ([2])

د ميدان وردګ عرفي قضا د غلاشوي مال او غل په اړه داسې حکم کوی، عرف کې د غله مخ ورتوروي او په کيلو کې د نورو د عبرت لپاره ئې ګرځوي، او غلا شوی شی بيرته خپل مالک ته ورګرځول کېږي. ([3])

په دې اړه عبدالباري داسې وايې: اګرچه د دولتونو د حاکميت له امله عرفي قضا له واک څخه د وتلو په حالت کې دی، خو بيا هم د غل او غلا شوي شئ حکم دادی چې له غل څخه غلا شوي مال بيرته اخستل کېږي او د دروازي د شرم په نوم بد او پور ترې اخستل کېږي، او کله کله د مجرم کورته اور هم اچول کېږي.

**شريعت کې د غلا أحکام :** کله چې يو سړی له چانه غلا وکړي او غلا پرې اثبات شي که چېرې خبره محکمې ته رسيدلئ وي نو بيا څوک پکښې سفارش او مصالحه نشي کولی که د غلا دحد نصاب سره برابر وي نو په شريعت کې يې حکم د لاس پرې کول دی لکه چې فرمائي :

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ. ([4]).

**ژباړه :** د نارينه غل او ښځينه غله لاسونه (وروسته د غلا له ثبوته) د هغې سزا په بدل کې چې کړي ئې دي پرې کړی دا (عبرت ورکونکئ ) عذاب د الله له لوري دی او الله غالب او باحکمته دی.

او که چېرې د غلا د حد نصاب يې نه وو پوره کړی نو د محکمې له لوري تعزيري سزا ورکول کېږي.

[1] - الحاج سناتور عبدالله خان : مرکه، نرخ، او څلی په احمدزيو کې، (۱۲۲) .

[2] - الحاج سميع الله : د غزني ولايت، اجرستان ولسوالی د سيد خيلو کلي قومي مشر، د مرکې نيټه (۱۴۰۲/۲/۷) .

[3] - محمد حسن «حيران» : د ميدان وردګ ولايت، سيد آباد ولسوالی د بادام کلي قومي مشر، د مرکې نيټه (۱۴۰۲/۱/۳۱) .

[4] - سورة المائيده : (۳۸).

## دويم مطلب : په عرف کې د ودونو ډولونه او اسلامي شريعت سره يې پرتله

د نکاح او ودونو ډلونه چې کوم په پښتنو کې رواج لري لکه عام يا عادي واده، د بدل واده، پټ واده او د زناکارانو واده يو له بل سره ( د حادثې د پټولو په خاطر )، چې ان شاء الله په لنډو ټکو کې به ذکر شي.

**لومړی : عام يا عادي واده** عام يا عادي واده همدغه ودونه دي چې يو کس د يوي انجلی د شرعي نکاح لپاره جرگه ورلېږي او دمهر په مقابل کې هغې سره واده کوي چې دا يو معروف او مشهور واده دی.

**دويم : د بدل واده** دا ډول ودونه له ډېرو پخوا وختونو څخه تر اوسه رواج لري، خو البته په دې اوسني عصر او وختونو کې خورا کم شوي دي.

دا هغه ډول واده ده چې يو ورور يا پلار د خپلې لور يا خور واده د بل چا سره په دې شرط کوي چې د هغه لور يا خور د ده په بدل کې پرته د مهر له ټاکلو څخه دې ته په نکاح ورکړي. او دوی به ويل چې دا ښځه د بلې ښځې لپاره مهر دی، أن تر دي چې، هغه چا به واده نشو کولائ چې خوربه يې نه درلوده. په هر صورت د ځيرنې په پايله کې معلومه شوه چې ميرمنې ته د هغې د مهر په توگه ځينې جامې او څادر ورکول کېده.

**يادونه :** دا موضوع چې ښځه د ښځې لپاره مهر وي، اوس مهال وجود نه لري، هو بدل شته خو د هري ښځې لپاره ځانته مهر ټاکل کېږي.

**دريـــم : د بَـــــد نکاح** دا هغه ډول واده ده چې د ديت په بدل کې تر سره کېږي او د مقتول له اولياوو او خپلوانو سره په نکاح کېږي، د هغې لپاره د واده مراسم نه ترسره کيږي، او هغی ته د يوې وينزی په نظر کتل کېږي او د کورنی د هيڅ غړي لخوا ښه چلند ورسره نه کېږي. خو اوس مهال دا رسم او رواج تقريباً کم شوی دی، خو بالکل له منځه نه دی تللئ او په ځينو ساحاتو کې شتون لري. (١).

**څلـورم : پـــټ واده :** دا ډول واده کله نا کله د زنا د جرم د پټولو لپاره ترسره کيږي او کله نا کله هم د دې لپاره چې کورنی کې د ناکراري لامل نه شي، په دې خاطر چې کيدلی شي بله ښځه ولري او د هغې د جنجال له امله، يا هم د کورنی د نارضايتی له امله پټه نکاه تر سره کوي.

**پنځم : د مَين واده :** چې دا واده په دريو ښځو حسابيږي، يعني دري ښځې دې ورکړي او دا دې واده کړي، يا د دريو ښځو په اندازه دې ولور ورکړي او بيا دې واده کړي.

---

١ - الحاج تاج محمد : د لوگر ولايت ، ازرې ولسوالی د اکبرخيلو کلي قومي مشر ، د مرکې نيټه (١٤٠٢/١/١١) .

## په عرف کې د نکاح ډولونه، د اسلامي شريعت په پرتله

**لومړی : په بدل سره واده** دغه ډول نکاح ته د شغار نکاح ويل کيږي، او د شغار نکاح هغه نکاح ده چې يو سړی بل سړي ته ووايي چې زه به مې خور تاته په نکاح درکړم په دې شرط چې ته دې خور ماته په نکاح راکړې، او يوه ښځه به د بلې ښځې مهر وګرځي.

جمهور فقهاء په دې نظر دي چې د (الشغار) نکاح باطله ده او بايد فسخ شي. د دوی دليل : هغه حديث دی چې ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی :

**(عن ابن عمر رضي االله عنهم : أن رسول االله صلى الله عليه و سلم نهى عن الشغار).** [1]

**ژباړه :** رسول الله صلی الله عليه وسلم د شغار (د بدل واده) څخه منعه کړې ده.

**ابن قدامه رحمه الله وايي :** که دغه دواړه عقدونه يو د بل پر وړاندې مهر وګرځوي نو سمه نه ده. [2]

**امام ابوحنيفه رحمه الله وايي :** چې نکاح صحيح ده خو شرط يې فاسد دی، د شرط فساد نکاه نه باطلوي، نو د دې لپاره مهر مثل ثابتيږي. [3] او وايي چې د ټولو امامانو په اتفاق سره، په باطل مهر سره نکاح صحيح ده، د مثال په ډول که چيرې د ښځې مهر يو مردار شوې څاروي يا خنزير وي نو نکاح يې صحيح ده، خو شرط يې فاسد دی کله چې مهر فاسد وي نو د هغې لپاره مهر مثل ټاکل کيږي، او په دې صورت کې هم همداسې ده. [4]

**غــوره نـظـريـــه :** هغه نظريه چې موږ يې غوره کوو د امام ابوحنيفه نظر دی د دې له امله چې نکاح د ارکانو په صحت سره صحيح کيږي ځکه چې شرطونه د عقد له ماهيت سره تړاو نه لري او دلته عقد صحيح دی، يواځې شرط لغوه او فاسد دی، او کيدای شي دغه فساد وروسته سم شي.

هر هغه شرط چې د خدای له کتاب سره په ټکر کې وي باطل دی، او که شرطونه د عقد له غوښتني او مقتضی سره په ټکر کې وي نو دا عقد صحيح دی او شرط فاسد دی.

**څلورم : پټ واده** د دې موضوع مشروعيت لکه څنګه چې موږ مخکې وړاندې کړل، د مسلمانانو د امام په غياب کې د جزا او مجازاتو د تطبيق لپاره هيڅوک نه شي کولی چې د ګناه له امله دغو کسانو ته سزا ورکړي. علماء کرام فرمايي چې د زناکار نکاح له زناکارې سره جايز ده که څه هم په شرطونو کې اختلاف لري :

د پورتنی ويناوو پر بناء دا روښانه شوه چې عرفي قضاء د بدکاری (فاحشې) د مرتکبينو سره د واده کولو او د عَيب پټولو په برخه کې کوم عمل ترسره کوي ، د اسلامي شريعت له مخې جواز لري.

---

[1] - البخاري : الجامع الصحيح (د حديث شمېره : ۵۱۱۲).

[2] - ابن قدامة : المغني (۵۷٦/۷).

[3] - الكاساني : بدائع الصنائع (٤٠٤/٢).

[4] - السرخسي : المبسوط (١٠٥/٥).

**(عن عطاء قال كان بن عباس يقول في الرجل يزني بالمرأة ثم يريد نكاحها قال أول أمرها سفاح وآخره نكاح).** (۱)

**ژباړه :** له عطاء نه روايت دی وايې چې : ابن عباس رضي الله عنهما د يو سړي په اړه ويل چې له يوې ښځې سره زنا کوي او بيا غواړي له هغې سره واده وکړي هغه وويل : د هغې د نکاح پيل له زنا څخه دی.

**(عن عبيد الله بن عبد الله بن عتبة قال سئل أبو بكر الصديق رضي الله عنه عن رجل زنى بامرأة ثم يريد أن يتزوجها قال ما من توبة أفضل من أن يتزوجها خرجا من سفاح إلى نكاح).** (۲)

**ژباړه :** له عبيدالله بن عبدالله بن عتبه نه روايت دی وايې چې : له ابوبکر صديق رضي الله عنه نه د يو سړي په اړه پوښتنه وشوه چې له يوې ښځې سره يې زنا وکړه، بيا يې غوښتل چې له هغې سره واده وکړي هغه وفرمايل : « له هغې سره له واده کولو څخه غوره توبه نشته » چې دوئ له بدکارۍ څخه واده ته لاړل.

**و من الله التوفيق**

۱ - عبد الرزاق : (رقم الأثر : ۱۲۷۸۵).

۲ - عبد الرزاق : (رقم الأثر : ۱۲۷۹۵).

۱۴۰۲ / ۱ / ۱۸

# پـــــوښـــتـن پـانــــه

## پـــــېـژنــــد



| | | | |
|---|---|---|---|
| نــــــوم : | الحاج قوماندان عزت الله | ولايــت : | لـــوګــر |
| د پلار نوم : | حاجي محمد حسين | ولسوالي : | محمد آغـــه |
| ټليفون شميره : | +93 767213064 | كلـــئ : | بُـــرګ |

ښاغليه ! هيله ده د عرفي قضا د أحکامو او پريکړو په اړه ، د لاندې پوښتنو مطابق معلومت راکړي ؟

۱. د عرفي قضاياوو د پرېکړو په اړه څو ډوله مرکچيان ياجرګه ماران شتون لري ؟

۲. دعرفي قاضيانو يا جرګه مارانو لپاره کوم شرطونه شتون لري ، يعني يو سړی چې د کومو شرايطو سره برابر وي عرفي قاضي يا جرګه مار کيدلی شي ؟

۳. عرفي قضا کې د دعوی اثبات لپاره له کومو دلايلو څخه ګټه اخستل کېږي ؟

۴. په عرف کې د ماشومانو شهادت د منلو وړ دی او که نه ، لږ وضاحت ورکړئ ؟

۵. د قسم ورکولو لپاره کوم ځانګړي وخت يا ځانګړي ځای شتون لري ؟ يا کولای

۱. زمونږ په عرف کې معمولاً دري ډوله قاضيان يا مرکچيان شتون لري:

**الف:** (کورنی قاضي) : هغه قاضي دی چې (پرته له خبر ورکولو په قضيه پوه وي)، او د متخاصمو ډلو تر منځ په کښيناستلو سره اتفاق راولي، او موضوع داسې خلاصه کوي.

- د دعوا کونکو ډلو ته اجازه نه ورکوي چې په خپلو دعواو کې مخکې ولاړ شي، په لنډوو کې يې قضيه فيصله کوي.
- د مدعيانو د قضې راجع کول اړوند او متخصص قاضي ته. او که د باصلاحيته قاضيانو له خوا په ادعا کې کوم توپير شتون ولري، نو دوی ته مراجعه او پوښتنه  تري کېږي.

**ب :** لوړ پوړی قاضيان (جرګه ماران) : هغه قاضي دی چې په ټولو قضيو کې د پريکړې حق لري، د مخالفانو تر منځ هر ډول لانجې هوارولای شي، داسې کسان په هره ټولنه او هر کلی او باندو کې د خلکو له لوري ټاکل شوي او پېژاندل شوي څېرې دي، دوی هغه کسان دي چې د موجوده شرايطو سره سم د حق او حقيقت کيفيت ټاکي.

**ج :** د قومونو په سطحه قـاضيان (جرګه ماران) : دا هغه مشهور او پېژاندل شوي جرګه ماران دي چې د غټو او خطرناکو معاملو فيصلې کوي،  کله چې د کلي او باندې مشران او مرکچيان په داسې مسايلو کې پاتې راشي نو خلک دوئ ته مراجعه کوي.

۲. د لوګر عرفي قضاء کې، د شاهد لپاره داسې کوم مدون يا ليکل شوي شرطونه شتون نلري، خو کوم سړی چې په خلکو کې د عدالت، تقوا او

| | |
|---|---|
| شـي په وخت او هر ځای کې قسم ورکړي؟<br><br>٦. که یو سړی په یو جرم اقرار او اعتراف کوی ، بیا ورسته له خپله اقرار څخه راګرځي ، آیا په عرف کې له اقرار څخه ګرځیدل د منلو وړ دی ؟<br><br>٧. عرفي جرګه ماران د یوي قضیی د حل لپاره کومې کړنې تر سره کوي . یعني لومړی څه کوی بیا څه کوي بیا ..... ؟<br><br>٨. ستاسو په عرفي قضا کې د قتل په اړه څه حکم لری، او ډول چلند کوئ ؟<br><br>٩. ستاسو په عرف کې په قتل عمد په دیت کې د جنوکیو ورکړه شتون لري ؟<br><br>١٠. عرف کې د ښځینه او نارینه د قتل تر منځ څه توپیر شته ؟<br><br>١١. په جنګ کې د وهلو ، ټکولو او معیوبیت په اړه د خپل عرفي قضا پور، نرخ او | اصلییت صفت ولري، شهادت یې د منلو وړ دی.<br><br>٣. زمونږ په عرف کې، د یو جرم یا دعوی د اثبات لپاره لیکلې خط ګوته لګول، امضاء، شاهدان اقرار او نوري نبښې نښاني دي، خو اقرار غوڅ او قاطع حجت دی، د اقرار له پاسه بل حجت نشته، نو ځکه د اقرار پر بناء حکم کیږي. آن تر دې چې اقرار په عرفي قضاء کې متعدي حجت هم کیدلی شي، مجرم که په هره قضیه کې پر چا باندې اقرار وکړي، نو له هغه اتهام څخه چې پر دي لګیدلی دی، د خلاصون یا تېښتې لاره نلري، مګر داچې د مجرم د اقرار له لارې خپله بې ګناهي ثابت کړي، یا د جاني په اقرار سره تهمت او تور پري ثابتیږي.<br><br>٤. زمونږ عرفي قضا کې، د ماشومانو حالت د مرکچیانو له لوري څېړل کېږي، که د جرګې قناعت پرې حاصل شي نو شهادت منل کېږي، او په مشکوک حالت کې ردیدلی شي.<br><br>٥. دا چې زمونږه جرګې معمولاً په جومات، زیارت، ډاګ، چوتره، درمند ځای، کې ترسره کېږي، او هر یو ځای ځانته ځانګړی ارزښت لري، نو قَسم یا لوړه په همدي ځایونو کې ترسره کېږي.<br><br>٦. د لوګر عرفي قضا کې له اقرار څخه رجوع کول (راګرځیدل) د منلو وړ نه دي، مګر دا چې خپلې خبرې او اقرار برعکس په مؤجه دلایلو سره ثابت کړي.<br><br>٧. په سرکې د شخړې یو لوری یا دواړه لوري مرکچي ته واک ورکوي، که واک ورنکړي پیښه تر څېړنې لاندې نه نیول کېږي، بیا تر څېړنې ورسته له دوی څخه د پابندۍ په موخه مچلګه (ضمانت) اخلي، د پېښې ځای ګوري، شاهدانو څخه پوښتنه کوي، له اهل خبره څخه نظر اخلي، بیا د صلحي وړاندیز کوي، بیا پریکړه صادروي.<br><br>بیا که چېرې متعدي یعني تېرې کونکئ ځان پري پوه نکړي، او هیڅ زنګه اقدام ونکړي، متعدي علیه دري ورځې انتظار باسي، بیا وروسته په ځیني کارونو لاس پکار کېږي، لکه : مخالف ته د پېښې خبر |

| | |
|---|---|
| ورکوي، کېدای شي مخالف له دي پيښني خبر نه وي، یا مخالف ته د ناستي او پريکړي دعوت ورکوي که ځواب يې ورکړ او قضاوت ته حاضر شو نو (فبها و النعمة) ډېره ښه ده، او که نه بيا به خپل حق پخپل لاس په زوره واخلي، که يې وسعه کيدله.<br><br>۸. دا چې قتل مختلفي بني لري، نو زمونږ په عرفي قضا کې، د قتل سزا د قتل بنې ته په کتلو سره سم قاتل ته سزا ټاکل کېږي، مثلاً: د چل او خيانت قتل : دا هم قصدي وژنه ده، يعنې په خيانت، چل او فريب سره، لکه د ملګرتيا او دوستي په بهانې سره بيول او بيا يې وژل په ځينو ملتونو چې اوريدلي مو دي (د عربانو په عرف) کې د چل او خيانت د قتل ديت د قتل عمد په څلور چنده حسابېږي. لکن زمونږ په عرف کې د چل او خيانت قتل يو قتل حسابېږي، خو که چېرې قتل په اثبات رسيدلی وي او مړی ورک وي، یا يې مړی بدرنګه کړی وي بيا د جرګې په لوزوم ديد سره اضافي پور پري ټاکل کېږي، حتي دوه قتله حسابېږي.<br><br>۹. د قتل عمد په ديت کې د ښځو ورکړه مخکې شتون درلود، خو اوس مهال دغه چلند کم رنګه شوي ده، په اکثرو ځايونو کې جنوکۍ په پيسو بدليږی او ديت ورکول کېږي.<br><br>۱۰. د ښځې وژل : د ښځې د وژلو دوه حالتونه دي :<br><br>د هغي ښځي قتل چې جنګېږي، او د جنګ په ميدان کې ووژله شي ديو سړي (نارينه) د قتل په توګه چلند کيږي، خو که چېري په کور کې وژله کېږي، نو يو خون څخه زياد پری حسابېږي.<br><br>۱۱. هر وهل ټکول يا هر پرهر، تور او سپين لري، چې د سپين زخم پور دروند وي، بيا هغه وهل چې د معلوليت يا معيوبيت لامل ګرځي، نو هر معلوليت ځانګړي پور او نرخ لري، او سزا يې د پيښې مناسب ټاکل کېږي، مثلاً : که يو لاس د وهلو په نتيجه کې شَل شو نو نيم ديت ورته ټاکل کېږي، او که دواړه لاسونه شل شو نو پوره ديت دی همدارنګه په نورو أټکلونو کې. | احکام راته بيان کړی ؟ |

۱۴۰۲ / ۱ / ۱۸

پـــــوښــــتـن پـــانـــه

| پـــــېـژنـــــد | | | | |
|---|---|---|---|---|
| نـــــوم : | الحاج ...... «تندکۍ» | ولايـــت : | لـــوګـــر | حاجي تـنـدکـۍ |
| د پلار نوم : | الحاج امــيــرجـــان | ولسوالي : | محمد آغـــه | |
| ټليفون شميره : | +93 776428137 | کـــلـۍ : | ګـــسـفـنـد دره | |

**ښاغليه ! هيله ده د عرفي قضا د أحکامو او پريکړو په اړه ، د لاندې پوښتنو مطابق معلومت راکړي ؟**

| پوښتنې | ځوابونه |
|---|---|
| ۱. دعرفی قاضيانو يا جرګه مارانو لپاره کوم ځانګړې شرطونه شتون لري ، يعني يو سړی چي د کومو شرايطو سره برابر وي عرفي قاضي يا جرګه مار کيدلی شي ؟ | ۱. د مرکچيانو صفتونه : د عزت لوټونکی او بد اخلاقه نه وي. خير خواه سړی وی، کم سياله نه وي او د خلکو په عنعناتو او رواجونو پوه او د حکمت او تدبير خاوند وي. |
| ۲. په عرف کې د ښځينه او ماشومانو شهادت د منلو وړ دی او که نه ، لږ وضاحت ورکړئ ؟ | ۲. د ماشومانو شهادت، د ماشومانو حالت د مرکچيانو له لوري څېړل کېږي، که د جرګې قناعت پرې حاصل شي منل کېږي، خو اکثراق رد کېږي. مګر ښځه مجلس ته د شهادت په موخه نه حاضريږي، بلکه شهادت يې د بل چا په لاس انتقاليږي. |
| ۳. عرفي قضا کې د يو دعوی د اثبات لپاره له کومو دلايلو څخه ګټه اخستل کېږي ؟ | ۳. په عرف کې د دعوی د اثبات لپاره، اقرار، خطونه، شاهدان، او داسې نوري نښې لکه: د پښو پل، د کاليو آثار، په ساحه کې د اړوند کس د سامان موجوديت د مظنون کس په سر او صورت کې تازه أثار او زخمونه او داسي نوري نښې نښاني دي، زمونږه په جرګو کې قوې او غښتلې حجت دی، اقرار د دلائلو سردار دی، د اقرار بل قوي حجت شتون نلري، نو ځکه د اقرار پر بناء حکم کيږي. او له اقرار څخه تيښته د منلو وړ نه دی. |
| ۴. عرفي قضا کې د شاهدانو لپاره ټاکلي نصاب شتون لري که نه ؟ که لري نو څو تنه دي ؟ | ۴. د شاهدانو لپاره کوم ټاکلي نصاب شتون نلري، جرګه د قضيې حالت او بڼې ته په کتو سره د يو شاهد شهادت هم مني. |
| ۵. په دعوی په قضايا کې قسم چاته راجع کېږي، او په کومو | ۵. د دعوی هر لوري چې قَسم وکړي، جرګې ته د منلو وړ دی، په قسم کې له شرعی کليماتو څخه (والله وبالله وتالله) کته اخلی، او کله کله د طلاق کليمات هم کارول کېږي. |

| | |
|---|---|
| کلماتو قسم ورکول کېږي ؟ | |
| ٦. کله چې مرکچیانو جرګه کې پریکړه وکړه، بیا کومې کړنې ترسره کېږي؟ | ٦. زمونږ د جرګو د پرکړې صادرولو دوه صورتونه دي : لومړی صورت: د حکم له صادرولو وروسته مدعي علیه سمدلاسه پرته له بحث، دلیل، کمبود یا شفاعت څخه هغه پریکړه مني او حق ورکوي. دویم صورت: په پریکړه کې د یو چا (وقار ، مخ او لحاظ) ځای لري یعني د یو چا لحاظ ته کتل کېږي (تخفیف پکښې راتلی شي). او همدارنګه مجرم د متضرر کورته ځي د هغه څخه د حق د کمولو درخواست او عذر کوي، کیدلای شي د مخورو کسانو په لحاظ، د حق یوه لویه برخه که مادي وي او که معنوي مجرم ته معاف کړي. |
| ٧. آیا د قضیې د پریکړې په بدل کې جرګه مارانو ته حق الزحمة ورکول کېږي ؟ | ٧. د مرکچیانو حق الزحمة د قضیي بڼې پورې اړوند دی، او مختلف صورتونه لري، که چېږي د قضیي حل اوږده پروسه ولري او زمان ګیره وي، نو د وخت د ضیاع په بدل کې حق الزحمة اخلي، ځینی وختونو کې د خلات په نوم یو څه اخلي، او ځینی وختونو کې، د مچلګی څخه یو څه پیسي ورکول کېږي، یا د مدعیانو له لوري د لونګې په نوم یو څه ورکول کېږي. |
| ٨. آیا مدعی یا مدعي علیه عرف کې کولی شي چې وکیل مدافع ونیسي ؟ | ٨. زمونږ عرفي جرګو کې د دعوی هرې لوري ته د وکیل نیولو اجازه شته چې د خپلې دعوی د مخکې بیولو لپاره وکیل ونیسي. |
| ٩. عرف کې د قتل عمد سزا څه ده ، آیا د جنوکیو ورکړه د قتل په دیت کې شتون لري ؟ | ٩. زمونږ په نرخ او اصول کې، د قتل سزا د قتل د بڼې او حالاتو پر بناء یوبل سره متفاوت دي: مثلاً د عادي قتل عمد پور یو خون دی، خو که یو څوک د یو کس په وژلو تورن شي  او هغه له دې وژنې څخه انکار وکړي، بیا د مقتول ورثه ورته وایي ( ورځه د اثبات تر وخته خوبونه کوه )، که چېږې ثابته شوه، د دې قتل تاوان او پور له یو خون څخه ډیر حسابیږي. او وایې ( منکر په څو حساب دی ). |
| ١٠. عرف کې د ښځینه او نارینه د قتل تر منځ څه توپیر شته ؟ | ١٠. عرفي قضا کې د هغې ښځې د زنا په اړه چې په قصدي توګه وي یا پولې او پټې څخه په بیرته راستنیدلو کې ځنډ کوي، یعنی په قیقت کې له چا سره یې د فحشاء لپاره نېټه ټاکلې وي. دلته د شرم ختمول دي. ( د هیڅا خبره نه آوریدل کېږي) بس دواړه وژل کېږي. |
| ١١. د مجردې ښځې تښتونه او د مېړوښې ښځې تښتونه حکم لري ، ؟ | |
| ١٢. عرف کې د زنا لپاره څه حکم دی ؟ | |
| ١٣. عرف کې د غل او غلا شوي شئ  په اړه څه ډول پریکړه کېږي. | |

پـــــوښـــتـن پــانـــه — ۱۴۰۲ / ۱ / ۱۱

## پـــــيـــــــژنــــــــد



| | | | |
|---|---|---|---|
| نــــــوم : | حاجی تاج محمد | ولايـــت : | لــــوگـــر |
| د پلار نوم : | حاجي گلان | ولسوالي : | أزره |
| ټليفون شميره : | +93 770806586 | کلی : | اکــبــر خــيــل |

ښاغلیه ! هیله ده د عرفي قضا د أحکامو او پریکړو په اړه ، د لاندی پوښتنو مطابق معلومت و... 

۱. په عرف کې د ښځینه شهادت د منلو وړ دی او که نه، لږ وضاحت ورکړئ ؟

۲. آیا عرفي قضا کې د قسم تبادله شتون لري، یا داچې په عرفي قضا کې قسم د دعوی کوم یو لوري ته راجع کېږي؟

۳. د قسم ورکولو لپاره کوم ځانګړی وخت یا ځانګړی ځای شتون لري ؟ یا کولای شي په وخت او هر ځای کې قسم ورکړي؟

۴. که یو سړی د توکې په بڼه یا د فخر کولو په بڼه په یو جرم اقرار او اعتراف کوی ، بیا ورسته له خپله اقرار څخه راګرځي ، آیا په عرف کې له اقرار څخه ګرځېدل د منلو وړ دی ؟

۵. ستاسو په عرفي قضا کې صلح او

---

۱. که چېرته په کومه قضیه کې ښځې حضور ولري او د صحنې شاهداني وي، شهادت ورکولی شي، خو د ښځو شهادت په مستقیمه توګه چې ښځې جرګې ته حاضرې شي وجود نلري، شهادت يې د يو مَحرم له لارې جرګې ته رسيږي، نو په عرفي قضا کې د ښځې شهادت د نارينه په ژبه چې د جرګې غړوته د قبول وړ وګرځي د اعتبار وړ ګڼل کېږي. که چېرې په قضيه کې نارينه شتون ولري، نو د ښځو شهادت د منلو وړ نه دی. د ښځو شهادت په ټولو هغو قضاياوو کې د منلو وړ دی، چې یوازې ښځو پورې اړه ولري. نصاب پکښې شرط ندی، کله کله دیوې دعوا د اثبات لپاره یوه ښځه هم کفایت کوي.

۲. زمونږ په عرف کې د یمین (قسم) تبادله شتون لري، یعني د متخاصمینو دواړه لوري، هغه که مدعي وي یا مدعي علیه وي، کد د خپل مقابل لوري څخه د قَسم غوښتنه وکړي کولی شي، که چا قسم وکړ نو حق يې ثابتېږي، تهمت (تور لګول) ترې دفع کېږي، او بیا ځلې د ادعا حق نلري.

۳. د لوګر عرفي قضا کې د قسم په اړه کله کله د مکان او زمان تعظیم په نظر کې نیول کېږي، لکه قسم ورکول په مسجد کې یا د سیند له غاړې، د زمان تعظیم لکه قسم ورکول د جمعې د لمانځه یا د مازدیګر د لمانځه څخه وروسته، د ځاي او زمان تعظیم ځکه په نظر کې نیول کېږي، تر څو د حالف (قسم

| | |
|---|---|
| پخلاینه څرنگه ترسره کېږي ؟<br><br>٦. آیا د قضیې د پریکړې په بدل کې جرگه مارانو ته حق الزحمة ورکول کېږي ؟<br><br>٧. آیا مدعی یا مدعي علیه عرف کې کولی شي چې وکیل مدافع ونیسي ؟<br><br>٨. د بد نکاح کوم ډول نکاح ته ویل کېږي، آیا اوس مهال شتون لری او که نه.<br><br>٩. آیا ستاسو په عرفي قضا کې عمل بالمثل یعني غچ اخستنه شتون لري، یا غچ اخستل روا ده ؟ | خوړونکي) په زړه کې ویره پیدا شي او د قسم څخه اعراض وکړي (مخ واړوي) که چېري مشکوک یا کاذب وي.<br><br>حتی عرفي قاضي قسم خوړونکي ته څو ورځې مهلت ورکوي، تر څو د (قَسَم) څخه وگرځي یا یو څو کسان مخکي له تحلیف (قسم ورکولو) په دي اړه مداخله وکړي او دا مسأله صلح او امن سره پرته له قسم خوړلو حل او فصل کړي.<br><br>۴. دا اعتراف د مفاخره، ویاړ او ځان ښودني لپاره وي، یعني د خپلو خپلوانو او ملگرو تر مخ اعتراف کوي، دا اعتراف پر ده باندې هیڅ شی نه لازموي تر څو مخالف ډله پرې دعوی وکړي او دا اقرار په اثبات ورسوي او شاهدان پرې راولي، یا اقرار کونکي ته قسم ورکړي، چې تا د خپلوانو او ملگرو تر مخ داسې اقرار نه وو کړی؟ که احیاناً برأت پیدا کړي، نو بیا هم د قوم لخوا جریمه کېږي.<br><br>۵. کله چې د دوو خواوو تر منځ شخړه پیدا شي، نو د شخړې د پخلاینې لپاره ډول ډول حالتونه دي :<br><br>تیری کونکی مستقیماً (معتدي علیه یا زیانمن) ته ورځي، او هر ناجایز عمل چې د دې په حق کې د دوی لخوا شوی وي ببښنه او معذرت تري غواړي، نو دلته د زیانمن (معتدي علیه) خوښه ده چې خپل حق تری اخلي او یا یې وربښي.<br><br>د تیري کونکي لخوا مخور او مشهور کسان زیانمن ته د صلح غوښتنې پخاطر لېږل کېږي، که چېري متعدي علیه موافقه وکړه، نو کیدای شي موافقه یې مشروط د حق په ورکړې سره وی یا پرته له شرطه، یا یې حق معلوم وی یا نا معلوم، دا رنگه مصالحه په لږ وخت کې ترسره کېږي حتی په یو مجلس او ناستې سره.<br><br>٦. د لوگر ولایت عرفي مرکچیان ټاکلئ حق الزحمة نلري، خو کله کله د قضیې د څېړنې او پریکړې څخه مخکې د خلات په نوم |

| | |
|---|---|
| پیسې اخلي، او همدارنگه کله کله د پریکړې څخه وروسته د قضیې د ښیښتنانو له لوري د لونگۍ او تحفې په نوم یو څه ورکول کېږي.<br><br>۷. د لوگر ولایت عرفي قضا کې، وکیل مدافع هغه څوک دی چې د مخاصم په استازیتوب خبري کوي او د دعوی په ژبه او طریقه خبرې کوي اعتراض او استدالال کوي. دوئ په خوله کې تیز دي د ژبې فصاحت لري، او همدا رنگه د خبرو اترو بحث کولو او قانع کولو مهارت لري او اکثراً په پریکړو کې خوله ور او ژبه ور غوره کیږي. مقصد دادی چې پوهه ولري په عدلی او قضایی شوری کې د بحث او اعتراض وړتیا ولري مشر توب او کشر توب پکښې شرط نه دی.<br><br>۸. دا هغه ډول واده ده چې د دیت په بدل کې تر سره کېږي او د مقتول له اولیاوو او خپلوانو سره په نکاح کېږي، د هغې لپاره د واده مراسم نه ترسره کیږي، او هغی ته د یوې وینزی په نظر کتل کېږي او د کورنۍ د هیڅ غړي لخوا ښه چلند ورسره نه کېږي. خو اوس مهال دا رسم او رواج تقریباً کم شوی دی، خو بالکل له منځه نه دی تللئ او په ځینو ساحاتو کې شتون لري.<br><br>۹. که چېرې متعدي (تېری کونکئ) د جرگې له ناستي څخه اعراض وکړي، او وروسته (متعدي علیه) د متعدي د کړنې پر ضد د خپل حق تر لاسه کولو په خاطر اقدام وکړي، یا بالمثل چلند ورسره کوي، یا کیدای شي تر هغې لا ډیر او درونډ عمل او چلند ترسره کړي، باید په ډاگه شي چې د ناستي له اعراض څخه وروسته، عمل بالمثل په عرفي قضاء کې ملامتیا نلري. | |

۱ / ۲ / ۱۴۰۲

# پـــوښـــتـن پـانـــه

## پـــېـژنـــد



| | | | |
|---|---|---|---|
| نـــوم : | احـمـد جــان | ولایـــت : | وردگ |
| د پلار نوم : | مــیـزا مـحـمـد | ولسوالي : | دایـمـیـرداد |
| ټلیفون شمیره : | +93 744159809 | کلـــی : | ګلئ |

ښاغلیه ! هیله ده د عرفي قضا د أحکامو او پریکړو په اړه ، د لاندې پوښتنو مطابق معلومت راکړي ؟

۱. رفي قضایاوو د پریکړو په اړه څو ډوله جرګه ماران شتون لري ؟

۱. د عرفی پریکړو له پاره په ټوله کې درې ډوله جرګه ماران شتون لري چې یوه ډله یې د کورنی په سطحه وي چې د کورنی مشکلاتو ته رسیدنه کوی. دویمه ډله یې ولسي جرګه ماران دي چې پریوه ساحه پورې اړوند وي او دهماغه ساحې مشکلات حلوي او دریمه ډله جرګه ماران قومي جرګه ماران دي چې خاص قواعد لري او د قومونو او هر ډول ستونزو ته چې په مختلفو ساحو کې منځ ته راغلې وي رسیدنه کوي.

۲. دعرفی قاضیانو یا جرګه مارانو لپاره کوم شرطونه شتون لري ، یعني یو سړی چې د کومو شرایطو سره برابر وي عرفي قاضي یا جرګه مار کیدلی شي ؟

۲. یو څوک د عرف له نظره هغه مهال جرګه مار کیدای شي چې د تصمیم نیونې وړتیا ولري او خلکوته د اعتماد وړ وي.

۳. عرفي قضا کې د یو دعوی د اثبات لپاره له کومو دلایلو څخه ګټه اخستل کیږي ؟

۳. په عرفي قضا ( جرګه) کې اقرار شهادت ، لوړه او هره قرینه چې د جرګه مار قناعت حاصل کړي د لیل ګڼل کیږي، د ویلو وړ ده چې پورته دلایل د رسمي رسیدنې په شان شروط او تشریفات نه لري مهمه دا ده چې د جرګه مار قناعت حاصل کړي،

۴. عرفي قضا کې د شاهدانو لپاره ټاکلي نصاب شتون لري کنه ؟ که لري نو څو تنه دي ؟

۴. په عرفي قضا (جرګه) کې د شاهدانو له پاره نصاب شتون نه لري او نه هم کوم تشریفات په نظر کې نیول کیږي مهمه دا ده چې د جرګه مار قناعت حاصل کړي.

۵. په عرف کې د ښځینه او ماشومانو شهادت د منلو وړ دی او که نه ، لږ وضاحت

۵. په جرګه کې په ځینو مواردو کې د ښځې او ماشوم شهادت هم د قبول وړ وي چې د ښځې شهادت تر ډیره د هغې د نږدې نارینه له خوا په جرګه وړاندې کیږي په دې شرط چې جرګه مار یې سم وګڼي.

| | |
|---|---|
| ورکړئ ؟<br><br>٦. په عرف کې د دعوی د اثبات لپاره قسم دلیل کیدلی شي ؟ که کیدلی شي نو له کوم کلیماتو څخه ګټه اخلی او د قسم ورکړلو تګلاره کوم ډول دی ؟<br><br>٧. د قسم ورکولو لپاره کوم ځانګړي وخت یا ځانګړي ځای شتون لري ؟ یا کولای شي په وخت او هر ځای کې قسم ورکړي؟<br><br>٨. که یو سړی په یو جرم اقرار او اعتراف کوی ، بیا ورسته له خپله اقرار څخه راګرځي ، آیا په عرف کې له اقرار څخه ګرځیدل د منلو وړ دی ؟<br><br>٩. په عرف کې کومي قریني (نښې او نښانې) د جرم یا د دعوی د اثبات دلیل کیدلی شي که لږ وضاحت ورکړی ؟<br><br>١٠. عرفي جرګه ماران د یوي قضیې د حل لپاره کومې کړنې تر سره کوي، یعني | ٦. په عرف کې قسم (لوړه) د اثبات دلیل ګرځي او لوړه په عرف کې یواځې د اسم جلاله په کارولو سره نه تر سره کیږي بلکې کله د طلاق په الفاظو سره چې میرمن مې دې رابانديې طلاقه وي که داسې نه وي او کله هم د یوه چا په سر قسم یادوي او کله هم د ځان یا یوه قریب د ژوند د اخیستو په الفاظو تر سره کیږي.<br><br>٧. په عرف کې د قسم له پاره ټاکلی وخت شتون نه لري، بلکه هروخت قسم یادیدای شي.<br><br>٨. که څوک په جرم اقرار وکړي په عرف کې د هغې څخه نشي ګرځدای او ملزم ګڼل کیږي.<br><br>٩. په عرف کې د خپل منځې شخړو، دعواګانو اختلافاتو په اړه، ساحه کې د جرم په وخت د یوه چا لیدل کیدل، دپله نښه، د مرمیو پوچک پیدا کېدل، د ویني څاڅکي، د جامو شکیدلي آثار او داسې نو څیزونه چې د مسألې په روښانه کولو کې مرسته کوي قرینه ګڼل کیږي.<br><br>١٠. جرګه ماران د قضیې د حل له پاره اول کوښښ کوي چې د دواړو خواوو لید لوری سره نږدې کړي تر څو د اعتماد فضا رامنځ ته کړي او د دې کار له پاره د دواړو خواوو سره ناستې کوې په هغې پسې بیا هغه کسان پیدا کوې چې په یوه لوري باندې نفوذ ولري او د لفظي تشویق څخه نیولې تر نقدي وعدو ورته ورکوي تر څو تر نفوذ لاندې لوری جرګې ته حاضر او د جرګې په غړو باور وکړي، کله چې دا مرحله پای ته ورسیږي بیا د دواړو خواوو څخه اختیار اخلي او د سرغړوونکي لوري له پاره جریمه ټاکي.<br><br>١١. سره له دې چې جرګه ماران د خپل کار په بدل کې مشخصه حق الزحمه نه غواړي خو په عرف کې د قوم مخور جرګه مارانو ته د درناوي تر عنوان لاندې یو څه امتیازونه ټاکي چې د شخړې د خواو له خوا ورکول کیږي. |

| | |
|---|---|
| لومړی څه کوی بیا څه کوي او بیا ..... ؟<br><br>۱۱. آیا د قضیې د پریکړې په بدل کې جرگه مارانو ته حق الزحمة ورکول کیږي ؟<br><br>۱۲. آیا مدعی یا مدعي علیه عرف کې کولی شي چې وکیل مدافع ونیسي ؟<br><br>۱۳. عرف کې د قتل عمد دیت څه ده ، او د جنوکیو ورکړه په دیت کې شتون لري ؟<br><br>۱۴. عرف کې د ښځینه او نارینه د قتل تر منځ څه توپیر شته ؟<br><br>۱۵. د مجردې ښځي تبنتونه څه حکم لري او د مېړوښې ښځې تشتونې سره څه توپیر لري ؟<br><br>۱۶. عرف کې د زنا لپاره څه حکم دی ؟<br><br>۱۷. عرف کې د غل او غلا شوي شئ په اړه څه ډول پریکړه کیږي ؟ | ۱۲. په عرف کې د وکیل په نامه کوم څه شتون نه لري خو په قومي جرگو کې د قوم په نمایندگی په ډیره کې د قوم مشر خبرې کوي.<br><br>۱۳. په عمد قتل کې دیت تر ډیره د مقتول د ورثې په خوښه ټاکل کیږي چې نسبت شرعي دیت ته زیات وي، او جرگه ماران کله ناکله د عذر په کولو سره د مقتول ورثه دې ته هڅوي چې خون بها کمه کړي، او په دیت کې د نغدو پیسو تر څنگ ژوندی مال اسلحه او نورې قیمتې متاعې ټاکل کیږي او د جینکیو ورکړه د بدو تر نامه لاندې چې د مقتول ورثې ته ورکول کیږي د خون بها بدل نه وي بلکې د شخړې د هوارۍ د یوې وسیلې په توگه استفاده کیږي.<br><br>۱۴. په عرف کې د نارینه او ښځینه د قتل تر منځ تو پیر دا دی چې د ښځینه په قتل کې نسبت نارینه ته تر ډیره دبدی کچه کمه وي او خون بها یې هم کمه ټاکل کیږي چې تر ډیره د نارینه خون بها د ښځې د خون بها څو برابره وي.<br><br>۱۵. په عرف کې د مجردې ښځې تبنتونه او د میړوښې ښځې تبنتونه سره توپیر لري، که څوک کومه مجرده ښځه وتبنتوي نو کیدای شې د نجلی خپلوان د درانده ولور په مقابل کې چې د نجلی د خپلوانو له خوا ټاکل کیږي روغه وکړي او تبنتوونکي ته ببنه وکړي او نجلی ورته په نکاح کړي چې کله ناکله د د بدو په مقابل کې د د تبنتوونکی څخه د یوې نجلی غوښتنه هم کوي، خو د میړوښې ښځې تبنتونه هیڅکله د جوړجاړي وړ نه ده بلکې د ښځې خپلوان کوښښ کوې چې ښځه او تبنتوونکی دواړه ووژني.<br><br>۱۶. په عرف کې د زنا په قضیو کې اکثرا د دزنا دواړه لوري وژل کیږي بالخصوص چې کله د ښځې د خپلوانو له لوري ولیدل شي خو که چیرته بیا دا موضوع د ادعا په مرحله کې وي او نجلی مجرده وي بیا کوښښ کیږي تر څو نجلی هماغه شخص ته په نکاح ورکړي او نارینه د بدگمانی تر عنوان لاندي بلې ساحې ته شړل کیږې او په گرځیدو یې هم |

| | |
|---|---|
| محدودیتونه وضعه کیږي.<br><br>۱۷. په عرف د غلا اړوند لومړی غل باید د مال د خاوند د بښنې رضایت تر لاسه کړي او مال يې پرې وسپاري علاوې پر دې غل د خلکو له خوا د دوهلو تر څنګ د مخ په تورولو او یا نورو ورته کړنو سره تشهیریږي. | |

# پــــوښـــتـن پـــاڼـــه

۱۴۰۲ / ۱ / ۳۱

## پـــېـژنــــد



| | | | |
|---|---|---|---|
| نـــــوم : | عبدالباري | ولايـــت : | مـيدان وردگ |
| د پلار نوم : | محمد انور فيضان | ولسوالي : | سـيد آبـاد |
| تليفون شميره : | 0779525485 | كلـــــى : | شـــنيـز |

ښاغليه ! هيله ده د عرفي قضا د أحکامو او پريکړو په اړه ، د لاندې پوښتنو سره سم معلومت راکړي ؟

۱. د عرفي قضاياوو د پرېکړو په اړه څو ډوله جرگه ماران شتون لري ؟

۲. دعرفی قاضیانو یا جرگه مارانو لپاره کوم شرطونه شتون لري ، يعني يو سړی چې د کومو شرايطو سره برابر وي عرفي قاضي يا جرگه مار كيدلی شي ؟

۳. عرفي قضا كې د يو دعوی د اثبات لپاره له كومو دلايلو څخه گټه اخستل كېږي ؟

۴. عرفي قضا کې د شاهدانو لپاره ټاکلي نصاب شتون لري کنه ؟ که لري نو څو تنه دي ؟

۵. په عرف کې د ښځینه او ماشومانو شهادت د منلو وړ دی او که نه ، لږ وضاحت

۱. عرفي قواعد او احكام د ټولنې د حالاتو په بدلون سره بدلون مومي، د هرې جغرافيا عرفي قواعد او احكام د بلې جغرافيا سره توپير لري، نو د پوښتنې مطلب ته په کتو سره جرگه ماران په دوه ډوله دي :

**الف:** ځينې جرگه ماران د يوه مسلكي او مسئول ټولكي په حيث تبارز كوي او د قضاياووحل لپاره مشئوليت په غاړه اخلي، مشهور خلک دي او ښكاره ځای لري او د قضاياوو د پريكړو په موخه ځينې قواعد او اصول هم لري.

**ب:** دويم ډول يې د ټولنې هغه با نفوذه پوهان، مشران، او سپينږيري دي چې د يوې قضيې دواړه لوري هغوی ته د شخړو د پريكړې په موخه مراجعه كوي.

۲. جرگه مارا د عرفي قواعدو په شان ټولنه کې ظهور كوي، د دوي د حكمت، فصاحت، په ټولنه كې د ښه موقف لرل، د قضاياوو د پركړې توانمند، او همدارنگه د پريكړو د تطبيق توانمندي په بناء د خلكو ذهانو كې ځای نيسي، د ټولنې افرا پرې باور پيدا كوي او خپلې قضيې د پريكړو په موخه ورسپاري.

۳. په عرفي قضا كې د يوې قضيې د اثبات او نفي لپاره د قاضي قناعت حاصلول مهم دی، يعني د دعوی ثبتن بايد د قاضي يا جرگه مار قناعت حاصل كړي، او قناعت هغه مهال حاصليدلی شي چې: سند، شاهد او ځينې نښې او نښانې شتون ولري.

| | |
|---|---|
| ورکړئ ؟ | ۴. په عرفي کې د شاهدان لپاره ټاکلئ نصاب نشته، د شاهدانو نصاب د قضایاوو د بنې پر بنسټ فرق کوي، په فامیلي حقوقو کې هماغه د شریعت ټاکل شوی نصاب معتبر دی، او په نورو قضایاوو کې د قضیې حالت ته په کتو سره او د جرگه مارانو د ذهني قناعت حاصلولو پوري اړوند دی. |
| ٦. په عرف کې د دعوی د اثبات لپاره قسم دلیل کیدلی شي ؟ که کیدلی شي نو له کوم کلیماتو څخه گټه اخلی او د قسم ورکړلو تگلاره کوم ډول دی ؟ | ۵. د ښځو شهادت د قضایاوو د بنې پر بنسټ فرق کوي، په فامیلي حقوقو کې منل کېږي، خو په تجارتي او جزایې مسایلو کې د منلو وړ نه دی. د ماشومانو شهادت همدارنگه د حالاتو په کتو سره هم قبول او هم ردیدلی شي . |
| ۷. د قسم ورکولو لپاره کوم ځانگړي وخت یا ځانگړي ځای شتون لري ؟ یا کولای شـي په وخت او هر ځای کې قسم ورکړي؟ | ٦. دا چې افغاني ټولنه یو سوچه اسلامي ټولنه ده، که چېرې یو کس د دعوی اثبات لپاره مدارک ونلري نو قسم د قضایاوو د اثبات لپاره دلیل کیدلی شي، او د اجراء بڼه يې هماغه شرعي بڼه ده. |
| | ۷. عرف کې د قسم وړکولو لپاره معین وخت او ځای شتون نلري، قسم یا د جرگې په ځای کې یا هم کله ناکله په مسجد کې ترسره کېږي. |
| ۸. که یو سړی په یو جرم اقرار او اعتراف کوی ، بیا ورسته له خپله اقرار څخه راگرځي ، آیا په عرف کې له اقرار څخه گرځیدل د منلو وړ دی ؟ | ۸. که د جرگې په وړاندې څوک اقرار وکړي، په هغه باندې ملزم گرځي او گرځېدل ئې اعتبار نلري. |
| ۹. په عرف کې کومې قرینې (نښې او نښانې) د جرم یا د دعوی د اثبات دلیل کیدلی شي که لږ وضاحت ورکړی ؟ | ۹. په عرف کې، د پښې پل، د واقعې محل څخه د کالیو او سامان ترلاسه کول، او داسې نور. |
| | ۱۰. عرفي قاضیان وروسته له ټاکني څخه د شخړې له دواړو خواوو څخه باور او اعتماد ترلاسه کوي، واک ترې اخلی، د فیصلې د منلو تعهد ترې اخستل کېږي، او (مجلغه یا مچلگه) هم ترې اخستل کېږي. |
| ۱۰. عرفي جرگه ماران د یوې قضیې د حل لپاره کومې کړنې تر سره کوي . یعني لومړی څه کوی بیا څه کوي بیا ..... | ۱۱. ځینو سیمو کې جرگه ماران د خلات په نامه پیسې اخلي، چې اندازه ئې د قضیې په تناسب فرق کوي، او کله کله په یوبل نوم ئې یادوي مثلاً ، د جرگې دفتر د مصارفو په نوم د قضیې له دواړه خواوو څخه یو مناسب مقدار ترلاسه کوي. |
| | ۱۲. عرفي قضا کې د وکیل نیول ممکن دی، که چېرې د دعوی لوری |

| | |
|---|---|
